د افغانستان د ملکیت حقوقو مبادي
لومړی چاپ
۲۰۱۵

**Afghanistan Legal Education Project (ALEP)**
at Stanford Law School
http://alep.stanford.edu
alep@law.stanford.edu

Stanford Law School
Crown Quadrangle
559 Nathan Abbott Way
Stanford, CA 94305-8610
http://law.stanford.edu

**Protected by Creative Commons License (No Derivative Works)**

**ALEP – STANFORD LAW SCHOOL**

**Authors**
*Tres Thompson (Student Director, 2014-15)*
*Marta Darby*
*Michelle Hillenbrand*
*Trevor Kempner*
*Mansi Kothari*
*Andrew Lawrence*
*Ryan Nelson*
*Tom Wakefield*

**Editors**
*Tres Thompson (Student Director, 2014-15)*
*Jason Fischbein*
*Tom Wakefield*

**Faculty Director**
*Erik Jensen*

**Rule of Law Program Executive Director**
*Megan Karsh*

**Advisors**
*Rolando Garcia Miron*
*Rohullah Azizi*

**Translation**
*Elite Legal Services, Ltd.*

**AMERICAN UNIVERSITY OF AFGHANISTAN**

**Contributing Faculty Editors**
*Naqib Khpulwak*

**Chair of the Department of Law**
*Taylor Strickling, 2012-13*
*Hadley Rose, 2013-14*
*Mehdi Hakimi, 2014-*

## سریزه او کورودانی

د افغانستان د قانوني تعلیماتو پروژې د ستانفورد مکتب (ALEP) کار د ۲۰۰۷ کال په مني کې د محصلینو د نوښت پروګرام په توګه پیل شو چې د افغان حقوق پوهانو د راتلونکې نسل په ښوونه کې د افغانستان د پوهنتونونو سره مرسته وکړي.د ALEP ماموریت د څېړنه، لیکل او د لوړ کیفیت درسي کتابونو چاپول او د افغانستان په امریکایي پوهنتون (AUAF) کې د حقوقي لوړو زده کړو پروګرام برابرول دي. د AUAF د حقوقو دیپارټمنت او د ستانفورد حقوقو د مکتب محصلینو د ALEP پوهنځۍ د رییس او اجرایوی رئیس تر لارښووني لاندې او د افغان پوهان او مدافع وکیلانو په ملاتړ، نصاب برابر کړ.

د افغانستان د ملکیت حقوق پر مبادي سربېره (لومړی چاپ)، ALEP همدارنګه د : د افغانستان حقوق (درېیم چاپ)؛ د افغانستان د سوداګری حقوق (دوهم چاپ)؛ د افغانستان د جزا حقوق (دوهم چاپ)؛ د افغانستان اساسي حقوق (دوهم چاپ)؛ د افغانستان لپاره بین المللي حقوق (لومړی چاپ)؛ د افغانستان د وجایبو حقوق (لومړی چاپ)؛ په افغانستان کې قانونی اخلاق (لومړی چاپ) په هکله درسي کتابونه چاپ کړي دي. د حقوق پوه په توګه فکر کول، قانوني میتودونه: قانوني پراکتیک، او د بین المللي عامه حقوقو نوي نسخه د چاپولو لپاره راتلونکي کتابونه دي. د ALEP زیاتی کتابونه د افغانستان پر ملي ژبو، دري او پښتو باندې ژباړل شوي او په وړیا توګه په: alep.stanford.edu بربښنایي پته د لاس رسي وړ دي. پر دې سربېره، ALEP د افغانستان د مدني قانون او د افغانستان تجارتی قوانین په مسلکي ژبه ژباړلي او د کاروبار په کلینیک کې د کاروبار لارښود د افغان محصلینو پواسطه تألیف شوی دی.

ALEP غواړي له هغو افرادو او موسسو څخه مننه وکړي چې بشپړه پروژه یې شوني کړه. ALEP په امریکا متحده ایالتو د بهرنیو چارو په وزارت کې د مخدره توکو له بین المللي بېرو او قانون پلي کوونکي (INL) له سخاوتمندانه مرستي څخه مننه وکړي. د ستانفورد د حقوقو د مکتب د اوسني رییس الیزابت ماګیل، پخواني رئیس لاري کرامر، او دیبورا زوموالت، د ستانفورد پوهنتون له عمومي شورا او د AUAF د....... بورد، د ALEP سره مهمه او دوامداره مرسته کړې ده.د AUAF مشرتابه سره د ALEP شراکت د وروستیو ۶ کلونو په اوږدو کې دوام درلود: داکتر شریف فایز (بنسټ اېښودونکی)، داکتر مارک ا. انګلش (سرپرست رئیس)، داکتر مایکل سمیتث (پخوانی رئیس)، او داکتر تېمور سفري (عالي علمی مامور).

د ستانفورد نورو ټولو درسي کتابونوپه شان، د افغانستان د ملکیت د حقوقو د مبادي منځپانګه یا محتوا(لومړی چاپ) د زیاتي همکاری حاصل دی. که چېرې په دې هکله د الیت د قانونی خدماتو شرکت ماهرانه کاراو د محمد فهیم برمکي له لوري پر انګلیسي باندې د افغانستان د مدني قانون ژباړه نه وی، ددې درسی کتاب لیکل به ناشوني وی. موږ د ALEP له لیکوالانو: ترېس تامپسون، مارتا در بي، مایکل هیلینبراند، ترېور کېمپنر، مانسي کوتاري، اندرې لاورېنس، ریان نېلسون، او توم وېک فیلد څخه د دوی د څېړنیز، مسوده کولو او د څېړکیو د بیا کتني له کار څخه مننه کوو. د ALEP د نصاب جوړوني سلاکار، روح الله عزیزي، او د AUAF پخوانی پروفیسور نقیب خپلواک محصلینو ته د کار په اوږدو کې د کتني وړلارښوونه وکړه. ترېس تامپسون، توم وېک فیلډ او جسون فیشبین له ستړیا پرته د مسودې پر ایډیټ باندې کار وکړ او د ALEP د پروګرام د سلاکار، رولاندو ګارسیا میرون، په مرسته یې هغه د درسي کتاب اوسنۍ بڼې ته ورساوه. بلآخره، مېګان کرش، د د قانونو د حاکمیت پروګرام اجرائیو رئیس، چې ددې درسي کتاب له پیل څخه تر بشپړېدو پورې د کتاب په اړه لوی او کوچنی کارونه څارلي، د ځانګړي شکراني وړ ده.

ALEP په راتلونکي کې هم هغو مرستو ته سترګې په لار دي چې دا کتاب یی شوني کړ. مهرباني وکړی، دکتاب په هکله خپل نظر زموږ سره زموږ د وېب پاڼي په: alep.stanford.edu پته شریک کړئ.

اریک جینسن، د پوهنځۍ رئیس، ALEP
پالو التو، کلفورنیا، د ۲۰۰۱۵ ز کال دسمبر

# د موضوعاتو فهرست


لومړی څپرکی: د ملکیت اصول

دوهم څپرکي: قانوني چوکات او د شخړو حل

دریم څپرکی: مالکیت

څلورم څپرکي: د ملکیت لیږد

پنځم څپرکي: له اجازې پرته د ملکیت لیږد

شپږم څپرکي: د ملکیت د کارولو محدودیتونه

اووم څپرکي: د کرنی او اوبو قوانین

اتم څپرکی: کانونه او هایدروکاربونونه

# لومړی څپرکی: د ملکیت اصول

"هيڅ داسي يو عمومي ځيز نشته چي د ملکيت د حقوقو په شان يي انګيرني نه وي اغيزمني کړي، او د بشري ټولني عاطفه يی نه وي را پارولي." ويليام بلکستون [1]

ددي درسي کتاب په پيل کي، د کتاب ليکونکي غواړي د ملکيت د حقوقو د مطالعي کولو د څرنګوالي په هکله دوه وړانديزه وکړي.
لومړی، ملکيت داسي يوه موضوع ده چي زموږ ورځنی ژوند اغيزمنوي، موږ په دي هکله ډير فکر کوو، او همدارنګه په دي اړه موږ جدي نظريات لرو. په دي دليل، تاسو بايد د ملکيت د حقوقو په هکله د يو سوچه علمی مضمون په توګه فکر و نه کړی. ددي په ځای، تاسو بايد د ملکيت د حقوقو په هکله د يو داسي پراتيکی مضمون په توګه فکر وکړی چي تاسو يی په هکله ډېر معلومات لری. دا درسي کتاب به د ملکيت د حقوقو په هکله ستاسو معلوماتو ته سمون او رسمي بڼه ورکړي خو په ورته وخت کي د مضمون په اړه د کتاب لوستلو په مهال تاسو بايد له خپلو شته معلوماتو څخه هم کار واخلی.
دويم، ملکيت يوه اختلافي موضوع ده چي د ځان سره ټولنيزي او سياسي پايلي لري. دا درسي کتاب دا په ګوته کوي چي د ملکيت حقوق له څه شي څخه بحث کوي ( حقوقي پوښتنه). يوه بله پوښتنه هم شته هغه داچي د ملکيت حقوق بايد څنګه وي ( يوه نورماتيفی پوښتنه يا د ټولنيز ارزښت په هکله پوښتنه). د مثال په توګه، يوه داسي حقوقي پوښتنه چي څرنګه کولای شو د ځمکي د يوې ټوټي ملکيت تر لاسه کړو، او يا يوه نورماتيفي پوښتنه چي يو کس څومره ځمکه تر لاسه کولای شي، طرح کيږي. د ويلو وړ ده چي نورماتيفی پوښتنه ددي سره تړاو لري چي څنګه کولای شو د ځمکي د ملکيت فردي حقوق د ځمکي په ملکيت کي د نسبي برابری د ټوليزي موخي سره انډول يا سر ورکړو. دا پوښتنه په خپله ددي فرضيي وړاندوينه کوي چي کيدای شي تاسو ددي سره موافق نه وی. د مثال په توګه، کيدای شي تاسو د ځمکي ملکيت پر فردی حقوقو باندې باور و نه لری. يا ، په بل عبارت کيدای شي تاسو دا فکر رد کړی چي ټولنه بايد د ځمکي په ملکيت کي د نسبي برابری لپاره کوښښ وکړي. پرته له دې ، خبره په دې کې هم ده چي د ملکيت حقوق د بحث وړ يوه موضوع ده چي تاسو يي بايد په ځير سره مطالعه کړی. که څه هم ددې درسي کتاب تمرکز په حقوقي پوښتنو باندې دی، داهم مهمه ده ترڅو د موضوع نورماتيفي اړخ هم مهم وګڼو او بحث پرې وکړو. کيدای شي چي دا موضوع د محصلينو د خبرو اترو بڼه موضوع جوړه شي، ځکه چي ددې نورماتيفو پوښتنو سره زياته علاقه شتون لري.

د وروستی يادوني په توګه، دا مقدماتي څپرکی د ملکيت اصول وړاندي کوي. دا څپرکی تاسو د ملکيت حقوقو په هکله د لا زياتو نظرياتو د مخيني سره آشنا کوي چي دا به ستاسو سره د هغو ځانګړو موضوعاتو په پوهيدلو کي مرسته وکړی چي په وروستيو څپرکيو کي پرې بحث شوی دی. دا لاندي پوښتنو ته ځواب وايي: ملکيت څه شی دی؟ د ملکيت حقوقو ته اړتيا په څه کي ده؟ کوم نظريات د ملکيت د حقونو بنسټ جوړوي؟ بالاخره، دا څپرکی د وروسي څپرکيو په لنډي پيژندګلوی سره پای ته رسيږي.

## 1 . د ملکيت اصول

### ۱.۱ مال څه ته وايی؟

#### ۱.۱.۱ د مال تعريف

**د افغانستان د ۱۹۷۷ کال مدني قانون[2]**
**۴۷۲ ماده: مال عبارت د عين يا د هغه څخه دی چي د خلکو په نزد مادي قيمت ولري.**

[1] William Blackstone, *Commentaries on the Laws of England*, volume II, p. 2.
[2] 1977 Civil Code of the Republic of Afghanistan, Article 472.

فکر وکړی چي تاسو یوازې داسي یو کور ویپرود چي یوه ټوټه ځمکه هم لري. اوس تاسو کولای شئ خپل نوي کور ته ور کډه شئ. ددې سره جوخت تاسو نور دا ډول حقونه هم تر لاسه کوی. د مثال په توګه، تاسو حق لری چي خپل ګاونډې ته له دې ځمکي څخه د تیرېدو د لارې اجازه ورکړی. یا داچي بل ګاوندي په دې ځمکه د فوټبال له لوبي کولو څخه منع کړی. کیدای شي تاسو ډېر ښه آشپز وی او په دې توګه پرېکړه کوی چي یو نوی او ښه پخلنځی ولري ترڅو په هغه کي د خپلي کورنۍ او دوستانو لپاره خوندور خواړه برابر کړی: تاسو کولای شئ زوړ پخلنځئ و نړوی او پر ځای باندې یي نوی جوړ کړی. همدارنګه، تاسو کولای شئ ددې په ګاونډ کي بل ځای ته کډه وکړی : تاسو کولای شئ کور وپیرئ. دا ټول د حقونو مثالونه دي چي د کور د فزیکی شتون له ملکیت څخه رامنځ ته کیږي. خو باید ووایو چي دا حقونه محدود دي او وروسته به په د ې درسي کتاب کی د هغو په هکله په تفصیل سره بحث وشي[3].

یوساده مثال چي زموږ سره د ملکیت د تعریف په څرنګوالي کي مرسته کوي. ملکیت د څیز سره تړاو لري، لکه کور. ملکیت همدارنګه د ملکیت د حقونو سره تړاو لري، لکه د خپل کور په اړونده ساحه کي د فوټبال له لوبي کولو څخه د ګاونډې منع کول. څیزونه فزیکي شیان دي چي موږ یې خپلولای شو. حقونه هغه قانوني چتر دی چي پرفزیکي شیانو باندې له ملکیت څخه را منځ ته کیږي. د حقوقي اصطلاحاتو یوه مشهوره دیکشنري، ملکیت داسي تعریفوي: " د یو ټاکلي څیز خپلول، کارول او له هغو څخه ګټه اخیستل." .[4] وګوری دا تعریف د مدني قانون تعریف ته څومره ورته والي لري. دا هم په یاد ولری چي څرنګه دا دواړه تعریفونه دواړه مفاهیم یعني څیزونه یا فزیکي شیان او حقونه د ځان سره لري.

ځیني پوهان مال یوازې د یو څیز په توګه تعریفوي[5]: لکه کور، بایسکل، ساعت او داسي نور. دا د مال لغوي مفهوم دی. نور پوهان بیا مال د حقونو په توګه تعریفوي. ددوی له نظره[6]، مال بشري اړیکه ده چي زیاتره د وګړو ترمنځ له کړکیچ څخه را منځ ته کیږي. پدې توګه، یو سړی کولای شي په یوه <u>بیدیایي جزیره</u> کي څیزونه لکه کور، بایسکل، او یا ساعت خپل کړي، خو هغه مال نشي خپلولای. دا نظري بحث دی. که څه هم دا یو اکادمیک بحث دی، زموږ د مقصد په اړه د مال تر ټولو ښه تعریف دواړه، هم څیزونه او هم حقونه په بر کي نیسي.

د مال د تعریف په هکله بحث – یعني، چي کوم شی مال دی او کوم شی مال نه دی – په اسلامی فقه کي هم څرګند دی. د اسلامي شرعي حنفي مذهب د مال تعریف په فزیکي څیزونو پورې محدودوي. له دې نظره ددې لپاره چي کوم څیز په مال بدل شي، هغه " باید دوه شرطونه پوره کړي: (i) له فزیکي لحاظه د څیز د خپلولو شونتیا، او (ii) د هغو کارول ګټه ولري." [7]

داسي معلومیږي چي د لومړي شرط پوهیدل آسانه دي. ددې لپاره چي څیز مال شي، هغه باید خپل شي او یا هم په یو او بل ډول د خلکو له خوا زېرمه شي. [8] د مثال په توګه، آسمان مال نشي جوړېدای ځکه هغه خپلیدای نشي.

په دویم شرط پوهیدل یو څه ستونزمن دي. داسي فکر کول چي د یو څیز" کارول ګټه لري" په دې معني دي چي آیا اړونده څیز ارزښت لري او که نه. که چیرې ارزښت ولري، بیا نو د هغه کارول باید ګټه ولري او باید د مال په توګه ومنل شي. خو ددې معلومول چي کوم څیز ارزښت لري هومره آسانه نه دي. د ارزښت په معلومولو کي عرف هم رول لوبولاي شي. په عادي توګه، ځیني څیزونه لکه په یو موټي رېګ باندې د اوبو تویول کوم ارزښت نه لري. په دې دلیل، دا توکي د حنفي فقهي له نظره مال نه ګڼل کیږي. له دې امله، د اسلامي شریعت د حنفي فقهي له نظره ددې معلومول چي کوم څیزونه مال ګڼل کیږي، تاسو باید په دې هکله فکر وکړی چي آیا اړونده څیزارزښت لري او که نه او همدارنګه د هغه په هکله عرف څه نظر لري. [9]

---

[3] *See, e.g.*, Civil Code, Book 3, Title 1, Chapter 1, Section 3—Restrictions of Ownership.
[4] Bryan A. Garner, editor, *Black's Law Dictionary*, 9th edition, p. 1335.
[5] Laura S. Underkuffler, *The Idea of Property: Its Meaning and Power* (Oxford University Press, 2003), pp. 11-12.
[6] *Id.*
[7] Afghanistan Legal Education Project, Commercial Law (2d ed.), pp. 11-12.
[8] *See* Mohammad Hashim Kamali, *The Right to Life, Security, Privacy, and Ownership in Islam*, (Turkey: Islamic Texts Society 2008), 259
[9] For different definitions of property in Islamic law, *see*, Muhammad Wohidul Islam, Al-Mal: The Concept of Property in Islamic Legal Thought, Arab Law Quarterly, Vol. 14, No. 4 (1999), pp. 361-368.

آیا تاسو ویلای شی چې د مدني قانون له مخې کوم توکي مال ګڼل کیږي خو په ورته وخت کې د اسلامي شریعت حنفي فقه هغه مال نه ګڼي؟

په داسي حال کې چې کیدای شي دا پوښتنه څو ځوابونه ولري، د حنفي فقهي له نظره یو مهم څیز چې مال نه ګڼل کیږي، د ګټې اخیستنې حق یادیږي. د ګټې اخیستنې حق د مال د یوې برخې د ښېګڼو څخه ګټې اخیستلو ته ویل کیږي.[10] د مثال په توګه، فرض کړي تاسو یو کور لري او په دې کور کې یو اضافي اتاق شته. ددې لپاره چې له اتاق څخه ګټه واخلئ، تاسو پریکړه کوی هغه د پوهنتون یوه محصل ته د اوسېدو لپاره په کرا یه ورکړي. په دې توګه نوموړی په اتاق کې د اوسېدو له امله تاسو ته باید هره میاشت د کرایي پیسې درکړي. د کرایې دا پیسې د ګټې اخیستنې د حق په نوم یادیږي. دا عاید تاسو د اتاق د ملکیت له امله تر لاسه کوی.[11]
د حنفي فقهي له نظره د ګټې اخیستنې حق مال نه ګڼل کیږي ځکه چې په راتلونکې کې له خپل مال څخه ګټه اخیستل داسې څه نه دي چې تاسو یې په راتلونکې کې د استفادې لپاره و سپموی.[12] یو ځل بیا د پوهنتون محصل ته د اتاق د کرا ورکولو په هکله فکر وکړی. هغه کرایه چې تاسو به یې په راتلونکې میاشت کې تر لاسه کړی داسې څه نه دي چې اوس مهال یې تاسو درلودلی شئ. په دې دلیل، دا راتلونکې کرایه چې تاسو یې خپله کړی، مال نه ګڼل کیږي.

اوس چې تاسو د هغو توکو یا څیزونو په هکله چې د حنفي فقهي له نظره مال نه ګڼل کیږي، معلومات لری، آیا د هغو څیزونو په هکله هم فکر کولای شئ چې د حنفي فقهي له نظره مال ګڼل کیږي؟ په لاندې جدول کې د څیزونو هغه عام ډولونه وګورئ چې دحنفي فقهي له نظره مال ګڼل کیږي. تاسو د حنفي فقهي له نظره د مال د تعریف په هکله څه فکر کوی؟

**د حنفي فقهي له نظره د مال د عامه ډولونوبیلګې**

| | |
|---|---|
| منقول مال | هغه مال چې" له یوه ځای څخه بل ځای ته د لیږدېدو وړ وي."[13] |
| عقار مال | هغه مال چې" بل ځای ته د لیږدېدو وړ نه وي." د مثال په توګه، یو کور[14]. |
| پیسې | نغده، سیکې، او سره زر[15]. |
| سوداګریز توکي | توکي" له نغدې، څارویو او هغو څیزونو پرته چې د اندازه کېدو او تللو وړ وي."[16] |
| عام توکي | هغه څیزونه چې تاسو یې د بېې د کوم توپیر پرته په بېلا بېلو مارکېټونو کې موندلی شئ[17]. |
| کمیاب توکي | هغه څیزونه چې تاسو یې په مارکېټ کې نشی تر لاسه کولای ، یا که یې پیدا هم کړی نو بیه به یې توپیر ولري.[18] |

[10] "Usufruct," Merriam-Webster, accessed 2/9/14, http://www.merriam-webster.com/dictionary/usufruct
[11] Mohammad Hashim Kamali, *The Right to Life, Security, Privacy, and Ownership in Islam*, (Turkey: Islamic Texts Society 2008), 259.
[12] *Ibid.*;Wael B. Hallaq, *Sharī'a: Theory, Practice, Transformations*, (Cambridge UP: Cambridge 2009), 298.
[13] Al-Majalla Al Ahkaam Al Adaliyyah (The Ottoman Courts Manual (Hanafi)), Article 128, *available at http://legal.pipa.ps/files/server/ENG%20Ottoman%20Majalle%20(Civil%20Law).pdf*
[14] *Ibid* at Article 129.
[15] *Ibid* at Article 130.
[16] *Ibid* at Article 131.
[17] *Ibid* at Article 145.
[18] *Ibid* at Article 146.

**۱ تمرین**

د لاندې ځیزونه په هکله فکر وکړی: وینه، اوبه، او قبیلوي نوم. آیا دا ځیزونه په افغانستان کې مال ګڼل کېږي؟ ولې او ولې نه: له ځانه وپوښتئ: آیا دا ځیزونه دي؟ او ددې ځیزونو په اړه درست یا سم فکر وکړی؟

**د ۱ تمرین لپاره احتمالي ځوابونه**

وینه یو ځیز دی. خو دا داسې ځیز نه دی چې تاسو پر هغو باندې مالي حق مرتب کړی. په دې توګه، د افغانستان د قوانینو له مخې وینه مال نه ګڼل کېږي.
اوبه هم یو ځیز دی. او اوبه داسې یو ځیز دی چې تاسو پر هغه باندې مالي حق مرتب کولای شئ. د مثال په توګه، که چېرې تاسو د ځمکې یوه ټوټه ولرئ او د هغه په اوږدو کې د چینلو وړ پاکې اوبه بهېږي، تاسو کولای شئ دا اوبه په بوتلونو کې واچوئ او بیایې په مارکېټ کې خرځې کړی. په دې توګه، د افغانستان د قوانینو له مخې اوبه مال ګڼل کېږي.

قبیلوي نوم یو ځیز نه دی – یعني د وینې او اوبو په شان په ځرګند ډول دا یو فزیکي موجود نه دی. لکه چې ددې ځپرکي په وروستیو کې به تفصیل سره پرې بحث وشي، دا فاکت چې قبیلوي نوم ځیز نه دي په دې معنی نه دي چې هغه مال نه دی. خو یو قبیلوي نوم هم کوم حقوق له ځانه سره نه لري. په دې توګه، ددې تمرین د مقصد په اړه، ویلای شو چې د افغانستان د قوانینو له نظره قبیلوي نوم مال نه ګڼل کېږي.

## ۱.۱.۲ عقار مال او منقول مال

**مدني قانون** [19]

۴۷۸ ماده : عقار عبارت د هغو شیانو ځخه دی چې ثابت اصل لري او وړه او راوړه یې بې د تلفېدو ممکن نه وي. کوم شیان چې دا صفت و نه لري، منقول شیان ګڼل کېږي.

مدني قانون د مال دوه ډولونه ټاکي: عقار مال او منقول مال. افغانستان ته د ورته هېوادونو په مدني قوانینو کې، عقار مال او منقول مال اصطلاحات غوره شوي دي. د انګلستان په شان په کامن لاو هېوادونو کې په دې اړه بیا ثابت یا واقعي مال او د شخصي مال اصطلاحات غوره ګڼل کېږي. په اصل کې عقار مال او واقعي یا ثابت مال په عین ځیز دلالت کوي. همداشانې، منقول یا شخصي مال هم یو مفهوم افاده کوي. ددې درسي کتاب په اړه د عقار او منقول مال اصطلاحات غوره شوي دي. د واقعي یا ثابت مال او شخصي مال اصطلاحات یوازې په هغه صورت کې کارول کېږي چې تاسو د مقایسوي یا بین المللي حقوقو د بحث سره مخامخ شئ. اوس دا بنسټیز وېش د ملکیت په حقوقو کې تر بحث لاندې نیسو.

**عقار مال** هغه مال دی چې نه لېږدول کېږي. که چېرې عقار مال د لېږد وړ وی نو دا کار به د هغه د له منځه تلو سبب شي. د عقار مال تر ټولو ځرګنده بېلګه ځمکه ده. پر ځمکې سربېره، عقار مالونه د ځمکې سره مل ځیزونه هم په بر کې نیسي. د مثال په توګه، دایمي ودانۍ عقار مال دی ځکه هغه د ځمکې سره تړاو لري. بل موقعیت ته دې لېږدولو په صورت کې به دواړه ځمکه او دایمي ودانۍ له منځه ولاړ شي. په ځمکه کې به ژورې رامنځ ته شي او دایمي ودانۍ به ونړېږي.

**منقول مال** هغه مال دی چې د لېږدېدو وړ وي. په بل عبارت، منقول مال هغه مال دی چې د ځمکې سره تړاو نه لري. یو کتاب، کاشوغه، او جاکټ ټول د منقول مال بېلګې دي. خو د کېږدی، ځېرو یا نورو مؤقت ودانیو په اړه څنګه؟ دا یوه ستونزمنه پوښتنه ده. دا پوښتنه ځکه د دقت وړ ده چې هغه ودانۍ دي، خو په ورته وخت کې هغه داسې ودانۍ نه دي لکه چې موږ یې د عقار مال په اړه د بېلګو یادونه وکړه. ځواب یې دادی چې دا لنډ مهاله ودانۍ منقول مال دی ځکه چې پرته د ویجاړېدو د لېږد وړ دی. د مثال په توګه، داسې انځور کړی چې تاسو د ځمکې په یوه ټوټه باندې په یوه کېږدی کې ژوند کوی. بیا تاسو پرېکړه کوی تر خو یو بل ځای ته ولېږدئ. په دې صورت کې تاسو په اړونده ځای کې کېږدی راخلاصوی

---

[19] Civil Code, Article 478.

او په بل موقعيت کې يې له سره ترې. کېږدی په دې صورت کې له منځه نه ځي. په دې دليل کېږدی د منقول مال مثال دی.

د عقار مال ځيني داسې ډولونه هم شته چې پر منقول مال باندې بدلېدلای شي. کښت، ونې، او وابنه ټول د عقار مال مثالونه دي. خو کله چې غوڅ او وربېل شي، بيا نو د ځمکې سره د دوی تړاو له منځه ځي او په منقول مال اوړي او د پېر او پلور وړ گرځي. د مثال په توگه، ستاسو په ځمکه کې ونه عقار مال دی، خو کله چې تاسو هغه راچپه کړی او څانگې يې غوڅې او د اور د لرگيو بستې ترې جوړې کړی، دا د اور لرگي بيا نو منقول مال دی چې تاسو يې پلورلای شی.
په ټوله کې، د عقار مال او منقول مال تر منځ د توپير په اړه له ځانه دا لاندې ساده پوښتنه وکړی: آيا کېدای شي چې مال د له منځه تللو پرته ولېږدول شي؟ که ځواب مثبت وي نو دا منقول مال دی. که نه هغه عقار مال دی.

د عقار مال او منقول مال ترمنځ د بنسټيز توپير په يا د ساتل مهم دي ځکه چې تاسو به اساسي قانون او مدني قانون ته مراجعه کوی. ددې قوانينو ټاکلې حکمونه کېدای شي په عام ډول د ملکيت سره تړاو و نه لري. ددې پرځای، ټاکلې حکومنه يا به په عقار مال او يا په منقول مال پورې تړلې وی، خو نه په دواړو پورې.

د مثال په توگه، د مدني قانون ۱۹۸۶ مادې ته مراجعه وکړی چې وايي: " که د منقول مال مالک د هغې د ملکيت څخه صرف نظر وکې، نو په مباح مال بدلېږي."[20] دا حکم د منقول مال په هکله دی نه د عقار مال. فکر وکړی چې تاسو د کرکټ د لوبې مينه وال ياستئ. له بده مرغه، تاسو خپل لاس ټپي کوی او په دې توگه بايد لوبه پرېږدی. بيا تاسو پرېکړه کوی چې د کرکټ توپ ډنډې له ملکيت څخه تېر شی او د کارولو په مقصد هغه د بل لوبغاړي لپاره د کوڅې په څنډه کې پرېږدی. اوس آيا بل لاروی دا ډنډه په وړيا توگه اخيستلای شی؟ هو کې، ځکه چې د کرکټ توپ ډنډه منقول مال دی. دا هغه حالت دی چې په ځرگند ډول د مدني قانون په ۱۹۸۶ ماده کې بيان شوی دی.
ددې د مخالف مثال په اړه د اساسي قانون ۴۱ مادې ته مراجعه وکړی: " بهرني اشخاص په افغانستان کې د عقاري مالونو د ملکيت حق نه لري. د عقار اجاره د پانگې اچونې په منظور د قانون له حکمونو سره سم جواز لري. د بهرني ملکونو پرسياسی نمايندگيو او پر هغو بين المللي موسسو چې افغانستان يکې غړيتوب لري د عقاري مالونو پلورل د قانون له حکمونو سره سم جواز لري".[21] دا حکم د عقار مال په هکله دی نه د منقول مال په هکله. فرض کړی چې ستاسو دوست له ترکيې څخه دی. هغه د خپلو زده کړو يو سمېستر په کابل کې پای ته ورساوه. نوموړي پرېکړه کړې چې په کابل کې کار پيداکړي او دلته دايمي هستوگنه غوره کړي. آيا هغه کور اخيستلای شي؟ نه، ځکه چې (۱) ستاسو دوست بهرنی دی او (۲) کور عقار مال دی. ستاسو دوست بايد کور په کرايه ونيسي. دا موضوع په ځرگند ډول د اساسي قانون په ۴۱ ماده کې بيان شوې ده. خو په افغانستان کې د منقول مال په خپلولو کې ستاسو د ترکيې دوست په وړاندې هېڅ خنډ نشته. پدې توگه نوموړی کولای شي د کوڅې په څنډه کې د کرکټ ډنډه پورته کړي.

د وروستئ يادونې په توگه، تاسو بايد د عقار مال او منقول مال ترمنځ په توپير باندې وپوهېږی ځکه چې تاسو دا درسي کتاب او همدارنگه مدني قانون لولی.

### ۱.۱.۳ معنوي حقوق

**مدني قانون**[22]

۴۹۱ ماده : معنوي حقوق چې په غير مادي شي واردېږي د خاصو قوانينو د حکمونو تابع دي.

[20] Civil Code, Article 1986 (emphasis added).
[21]
[22] Civil Code, Article 491.

دا درسي کتاب د مال په هغو ډولونو باندې متمرکز دی چې مخکې ترې یادونه وشوه: عقاري او منقول مالونه. کله چې موږ د مال په هکله فکر کوو، موږ د همدې مالونو په هکله فکر کوو ځکه چې زموږ ورځنی ژوند دوی محاصره کړی دی. د مثال په توګه، موږ په کورونو کې ژوند کوو (د عقاري مال بېلګه) چې په موبل او فرنیچر مجهز شوي دي ( د منقول مال بېلګه ). مال په دې مفهوم د لمس وړ دی. هغه د یو فزیکي جنس په توګه شتون لري چې موږ یې لیدلای او لمس کولای شو. ددې په څنګ کې بل ډول مال هم شته چې د لمس وړ نه دی. دا ډول مال د لیدلو او لمس وړ فزیکي جنس په توګه، شتون نه لري.

دا ډول مال د معنوی مال په نوم یادېږي. **معنوي مال** د ذهن د خلاقیت یا محصول حقوق تامینوي. دا یو عام یا انتزاعي تعریف دی، خو که موږ یو شمېر فرضیې په پام کې ونیسو، په آسانی سره به پر هغو باندې وپوهېږو. فرض کړی تاسو یو ډاکتر یاستئ او د خطرناکو ناروغیو د درملنې لپاره یو ډول دارو اختراع کوی. پدې مثال کې د درمل کمیاوي فورمول د ذهن محصول دی. یا بل مثال تاسو یو هنرمند یاستئ او د رادیویي خپرونې لپاره یوه سندره لیکی. په دې مثال کې د سندرې آواز او موسیقي د ذهن محصول دي.  یو بل مثال، تاسو یو لیکوال یاستئ او د ننداری لپاره متن لیکی چې په تیاتر کې د زیات شمېر نندارکوونکو د پام وړ ګرځي. په دې مثال کې د ذهن محصول د ننداری متن دی.

د معنوي ملکیت حقوق د ایدیاوو د غلا څخه مخنیوی کوي. دا حقوق یو شخص ته د هغو د ایدیاوو د ساتنې بشپړ حقوق ورکوي. په بل عبارت هغه شخص ته د خپلو ایدیاوو انحصار ورکوي. انحصار یو اقتصادي مفهوم دی چې  دې داسې یو مارکیت وضعیت بیانوي په کوم کې چې یوازې یو پلورونکی وي. په ټولنه کې د معنوي ملکیت شتون د ښو ایدیاوو له پنځونې یا خلقت څخه ملاتړ کوي. ټولنه هله ښه والی مومي چې پکې ښه درمل، ښې سندرې، او ښې ننداری شتون ولري. وګړي هغه مهال د ښو ایدیاوو د پنځونې لپاره لېوالتیا ښیي چې وپوهېږي د ټولنې په رغبدو کې د دوي ونده شخصي ګټه هم له ځان سره لري.

پورتنې پاراګرافونه ښیي چې معنوي ملکیت د شیزونو د ساتنې نه بلکه د ایدیاوو د ساتنې په هکله دی. دا د لمس وړ او نه لمسېدونکي تر منځ توپیر دی. ښایي دا عجیبه معلومه شي چې کېدای شي خلک داسې ملکیت ولري چې د نه لمس وړ ایدیا وي. خو سره ددې هم تاسو دا حالت تر کتنې لاندې ونیسئ. تاسو یو هوښیار محصل او د خپلو هم صنفیانو په منځ کې د درناوي وړ یاستئ. تاسو صنف ته د تللو په مهال د اختر په نوم د خپل یو هم صنفي سره ګوری او د کورني کار په هکله خبرې کوی. په دې ترڅ کې تاسو اختر ته د کورني کار په اړه له یوې ښې ایدیا یادونه کوی او غواړی چې په صنف کې د کورني کار په اړونده بحث کې له هغې څخه یادونه  وکړی. په دې توګه ددې تمه لری چې ستاسو پروفیسور او هم صنفیان به ستاسو ایدیا ښه و ارزوي. خو مخکې تر دې چې دا کار تاسو وکړی، اختر ستاسو ایدیا په صنفي بحث کې یادوي. اوس پروفیسور او ستاسو هم صنفیان فکر کوي چې اړونده ایدیا د اختر ده نه ستاسو. آیا په دې حالت کې تاسو له اختر څخه د خفګان احساس نه کوی؟ که څه هم دا مثال له قانوني نظره د معنوي ملکیت څخه سرغړونه نه ده، داسې یو حالت ددې ښکارندوی دی پر ایدیاوو باندې چې د لمس وړ نه دي د افرادو معنوي ملکیت هومره د تعجب وړ نه دی لکه چې هغه په لومړي نظر برېښي.

### ۱.۲ د ملکیت حقوقو ته اړتیا په څه کې ده؟

په ۱.۱ برخه کې موږ معلومه کړه چې له قانوني نظره مال څه ته وایي. اوس موږ په دې موضوع بحث کوو چې د ملکیت حقوقو اړتیا په څه کې ده. دا پوښتنه ساده معلومېږي. خو دا داسې پوښتنه ده چې د ملکیت حقوق پوهانو په منځ کې د تاودو بحثونو سبب شوې او د هغو توجیه د نورماتیف قضاوت غوښتونکې ده. یعنې دا چې د ملکیت د حقوقو لپاره توجیه له ځانه سره داسې مهمې ټولنیزې، اخلاقي  او سیاسي پوښتنې لري چې په هکله یې باسواده وګړی بېلابېل نظرونه لري. لاندې مطلب د ملکیت حقوقو لپاره عامه توجیه ده.

د ملکیت د حقوقو توجیه: ۱) د ملکیت حقوق  د امنیت سره مرسته کوي او اختلافونه راکموي، او ۲) د ملکیت حقوق د کمیابو سرچینو برابر وېش شونی کوي.

کله چې تاسو د ملکیت د حقوقو لپاره لاندنی توجیه لولی، له ځانه پوښتنه وکړي چې تر کومه بریده هغه متقاعد کوونکي ده او که نه ده. همدارنګه د ملکیت د حقوقو د اړتیا د نورو دلایلو په هکله هم فکر وکړئ.

### ۱.۲.۱ د ملکیت حقوق د امنیت سره مرسته کوي او اختلافونه راکموي

د ملکیت حقوقو لپاره یوه توجیه داده چې هغه د امنیت سره مرسته کوي او اختلافونه را کموي. په هغه هېواد کې چې ملکیت حقوق شتون و نه لري، هلته مالکیت رسمیت نه لري. په داسې یو هېواد کې تاسو یقین نه لرئ چې ستاسو پرشتمنې باندې به ستاسو ګاونډي دعوا و نه کړي. په دې حالت کې که چېرې ستاسو پر شتمنې باندې ستاسو ګاونډی دعوا وکړی، تاسو نشی کولای په حقوقي سیستم کې موضوع د حل په مقصد وړاندې کړی. په حقوقي سیستم کې د موضوع وړاندې کول، په محکمه یا نورو حکومتي ادارو کې د قانون په رڼا کې د لانجې د حل و فصل په معنې ده. په بل عبارت، تاسو باید خپل اختلاف د حقوقي سیستم څخه بهر حل کړئ.

دا د دوو دلایلو له مخې د پوهېدو وړ توضیح ده . لومړی، تاسو د خپلې شتمنۍ هیڅ ډول امنیت نه لرئ. تاسو له دې څخه بېرېږئ چې هره شېبه کېدای شي ستاسو ګاونډی ستاسو پر شتمنې باندې ادعا وکړي. دویم ، کېدای شي تاسو د هغو چا سره چې ستاسو په مال یې دعوا کړې ، په تقابل کې راشي آن تر دې که هغوی دا کار له نېک نیته هم کړی وي. د مثال په توګه، کېدای شي ستاسو ګاونډي فکر کوي چې د نوموړي ځمکه ستاسو په ځمکه کې در ننوتلې ده. په دې حالت کې کومه ناوړه اراده نشته ولې بیا هم ستاسو ترمنځ د اختلاف د رامنځ ته کېدو احتمال شته. ددې خلاف، نور کولای شي چې له ناوړه نیته ستاسو پر مال باندې ادعا وکړي. د مثال په توګه، کېدای شي ستاسو ګاونډي په آګاهانه ډول ستاسو د ځمکې حاصل غلا کړي. بې له شکه داسې کړنه شخړې رامنځ ته کوي. خبره په دې کې ده، پرته له دې چې اختلاف د یو معمولي نافهمي څخه را منځ ته کېږي او یا هم له بده نیته، د ملکیت د حقوقو له شتون پرته کېدای شي چې تاسو او ستاسو ګاونډي په لانجه کې راشي. دا لانجه کېدای شي د اوږدو او دردوونکي دلایلو سبب شي چې په به ډېر بد حالت کې پر زورزیاتی باندې هم بدلېدای شي.

یو داسې هېواد چې د ملکیت حقوق او کارنده حقوقي سیستم ولري، انځور کړی. په دې هېواد کې تاسو د خپلې شتمنی مالکیت په اثبات رسولای شی. لومړی، داچې تاسو به د مالکیت له امله مطمن یاستئ. دویم ، ددې احتمال کم دی چې د حقوقي سیستم څخه بهر به تاسو لانجه ولري. د مثال په توګه، تاسو په داسې یو هېواد کې چې د ملکیت د حقوقو په درلودونکي هېواد کې د خپل کور قباله تر لاسه کوی. قباله د عقار مال د درلودونکي سره د ملکیت یو لیکلی سند دی [23]. که چېرې ستاسو ګاونډی ستاسو د کور د ملکیت ادعا وکړي، تاسو د قبالې په وړاندې کولو سره د خپل کور مالکیت ثابتولای شی. که بیاهم ستاسو ګاونډی ستاسو د کور د مالکیت پر ادعا باندې ټینګار کوي، تاسو اړونده ادارو ته د ملکیت قباله وړاندې کولای شی.

یادشوي مثالونه دا ښیي چې څرنګه د ملکیت حقوق د امنیت سره مرسته کوي او شخړې راکموي. په دې برخه کې راوړل شوي مثالونه د یو فرد په توګه ستاسو په هکله دي. اوس یو بل وضعیت انځور کړی. د یو وګړی په توګه د ځان په هکله د فکر کولو په ځای، ځان د یو سوداګر په توګه چې د کاروبار په هکله پرېکړې کوي، فکر وکړی.د امنیت نشتوالی او د شخړې احتمال د کاراو بار په هکله ستاسو پر پرېکړو باندې اغېز ولري. د کار او بار خاوندان باید د خپلې پانګونې لپاره له امنیت څخه برخمن وي. دوی همداشانې نه غواړي د لویو لانجو سره مخامخ شي. د مثال په توګه، په هغه صورت کې چې د کار او باري سیالی یا د حکومتي ادارو له خوا د مصادره کېدو وېره شتون ولري، تاسو به د نوې کارخانې جوړېدو ته زړه ښه نه کړی. په همدې ترتیب، که چېرې نور سوداګر هم ورته فکر کوي، نو بیا به په پرتله ایزه توګه په هېواد کې د پانګونې کچه ټیټه وي او د پانګونې ورو بهیر د یوه هېواد د اقتصاد په ګټه نه دی. هر څومره چې په اقتصاد کې پانګونه کمه وي، په همغه اندازه اقتصادي وده هم ورو وي. هر څومره چې اقتصادي وده ورو وي، په همغه اندازه کارموندنه هم کمه وي. په دې توګه په هغه هېواد کې چې د ملکیت حقوق نه وي، د هغه هېواد اقتصاد د کمزورتیا سره مخامخ کېدای شي.

په افرادو او کار او بار سربېره، دا منطق چې د ملکیت حقوق د امنیت سره مرسته کوي او اختلافونه راکموي، د ځمکو په سر د قبایلي اختلافونو په اړه د پلي کېدو وړ دی. کېدای شي په افغانستان کې د ځمکې اړوند شخړو په هکله چې د

[23] *Black's Law Dictionary*, p. 475.

ملکیت د حقوقو په مرسته حل او فصل او یا یی مخنیوی کېږي، معلومات ولري.  دلته د مثال په توګه د افغانستان په مرکزي لوړوکي د کابل لویدیځ ته د لومړی برخې په بهسودو کې د کوچیانو او د ځايي مېشتو هزاره ګانو ترمنځ اختلاف ته اشاره کوو.[24] دا یوه پېچلې شخړه ده چې د ۱۸۰۰ کلونو په وروستیو کې د امیر عبد الرحمن خان د واکمنی سره پخوانی ریښي لري. په لنډه توګه ویلای شو چې دا شخړه د هغو ځمکو له لارې د کوچیانو د تېرېدو د حق سره تړاو لري چېرې چې د کال په اوږدو کې هزاره وګړي مېشت دي. په داسي حال کې چې دلته د شخړې تمرکز پر ځمکه باندې دی، خو پاروونکي او آن مذهبي – اتنیکي انګېزنې یی هم په اړه وړاندې کېږي. د کوچیانو – هزاره ګانو شخړه ډېر ځله په تاوترخوالي اوړي ځکه قبایل د زور له لارې غواړي د ځمکې اړونده دعوا ثابته کړي. لکه چې ستاسو او ستاسو د ګاونډیانو په اړه په مخکنیو مثالونو کې یادونه وشوه، د ملکیت د پیاوړو، د پوهېدو او پلې کېدو وړ حقوقو شتون چې پر ځمکه باندې د قبایلو حقوق  په واضح ډول بیان کړي، ددې شخړو مخنیوی کولای شي.

په ټوله کې، د ملکیت د حقوقو د شتون یوه توجیه داده چې هغه د امنیت سره مرسته کوي او اختلافونه راکموي. دا توجیه په انفرادي توګه د وګړو په اړه مطرح ده. دا توجیه د کار او بار او قبیلو په شان د لویو اداور په هکله د اثبات قوي دلایل له ځانه سره لري. د اثبات قوي دلایل یوه حقوقي اصطلاح ده چې د عین دلیل له مخې خو د لا زیاتي منطقي نیرو معنی لري.[25]

**اساسي قانون [26]**

۴۰ ماده: ملکیت له تېري څخه خوندي دی. هېڅوک د ملکیت د ترلاسه کولو او په هغه کې له تصرف کولو څخه نه منع کېږي، مګر د قانون د   حکمونو په حدودو کې. د هیچا ملکیت د قانون د حکم او د باصلاحیته محکمې له پرېکړې پرته نه مصادره کېږي. د شخص د ملکیت استملاک یوازې د عامه ګټو د تامین په مقصد، د مخکني او عادلانه بدل په ورکولو، د قانون له مخې مجاز دی. د شخص د شتمنی پلټنه او اعلان یوازې د قانون په حکم کېدای شي.

**II تمرین**

داساسی قانون ۴۱ ماده؟

آیا کولای شئ د اساسي قانون (په یاده شوې) ۴۰ ماده کې یوه داسې جمله وموموی چې ددې توجیه ملاتړ وکړي : د ملکیت حقوق د امنیت سره مرسته کوي او شخړې راکموي؟

**د II تمرین لپاره احتمالي ځوابونه**

د اساسي قانون په ۴۱ (؟) ماده کې د ملکیت د حقوقو ددې توجیې تایید چې هغه د امنیت سره مرسته کوي او شخړې راکموي، څو جملې شتون لري. اساسي قانون یو حکومتي منشور دی چې د حقوقو یوه لړۍ او آرزوګېدونکي څرګندونې لري. په دې دلیل، دا د حیرانتیا خبر نه ده چې په هغه کې دواړه هم حقوق او هم د حقوقو لپاره توجیه شتون لري. لاندې دوه جملې په ځانګړي توګه په پورتنی برخه کې تر بحث لاندې د دوو جملو توجیه تاییدوي.

"ملکیت له تېري څخه خوندي دی." [27] دا جمله وایي چې ملکیت له زورزیاتي څخه خوندي دی. پدې توګه هغه د امنیت سره مرسته کوي.

---

[24] *See, e.g.*, Nastrat Esmaty, *The Kuchi & Hazara Land Dispute Conflicts—An Endless Struggle for Land Ownership*, KHAAMA PRESS, Sept. 7, 2013; Maiwand Fida, *UN Steps in to Resolve Kuchi-Hazara Dispute*, PAJHWOK AFGHAN NEWS, June 13, 2012; *Fighting for Land and Water*, ECONOMIST, June 26, 2007.
[25] *Id.* at p. 69.
[26] Constitution, Article 40.
[27] *Id.*

" د هیچا ملکیت د قانون د حکم او د باصلاحیته محکمې له پرېکړې پرته نه مصادره کېږي."[28] دا جمله ددې څرګندویې کوي چې ملکیت د تاوتریخوالي له ټاکلو ډولونو څخه خوندي دی: د حکومت له لوري پخپل سر د ملکیت مصادره کول. دا له یاد شوو جملو پرته نورو ټاکلو جملو ته هم ورته والی لري. پدې ترتیب هغه د امنیت سره هم مرسته کوي.

### ۱.۲.۲ د ملکیت حقوق د کمیابه سرچینو برابر وېش شونی کوي.

د ملکیت د حقوق لپاره بله توجیه داده چې هغه د کمیابه سرچینو برابر وېش شونی کوي.

#### ۱.۲.۲.۱ د ملکیت حقوقو ته په هغه ځای کې اړتیا لیدل کېږي چېرې چې د سرچینو له عرضې څخه تقاضا لوړه وي.

په پیل کې، د عرضې او تقاضا په اړه د اساسي مفاهیمو یادول مهم دي. عرضه په مارکېټ کې د یوټاکلی مال په شتون باندې دلالت کوی. تقاضا بیا د هغو وګړو په شمېر پورې تړلې چې په مارکېټ کې د ټاکلي مال غوښتنه لري. ددې خبرې یاد ساتل مهم دي چې ټولنه یوازې هغه مهال د ملکیت حقوقو ته اړتیا لري کله چې د مال لپاره تقاضا د مال له عرضې څخه لوړه وي.[29] یعنی په زیاتره مواردو کې ټولنه یوازې هغه مهال د ملکیت حقوقو ته اړتیا پیدا کوي چې زیات شمېر وګړي تر لاس رسي وړ مال څخه زیات مال وغواړي. په یاد ولرئ چې دا اساسي فرضیه د سرچینو په اړه هم د اعتبار وړ ده. دا ټکی د لاندې دوو فرضي سناریوګانو په واسطه ښودل کېږي.

په لومړی سناریو کې، په یوه لوی ځنګل کې د یوې ښځې په هکله فکر وکړئ. اجازه راکړئ د هغې نوم فوزیه غوره کړو. په دې سناریو کې، د مال لپاره تقاضا ټیټه ده: فوزیه یوازې یو کس دی. د مال عرضه زیاته ده: شاوخوا لوی ځنګل د زیاتو سرچینو سره شتون لري. فوزیه کولای شي ټوله ځمکه، د خوړو توکي، او اوبه له ځنګل څخه تر لاسه کړي. په دې سناریو کې د ملکیت د حقوقو شتون زیات مهم نه دی.

په دویمه سناریو کې، د یوه داسي ښار په هکله چې د وګړو شمېر یې لس میلیونه،مساحت یې لږ او اوبو محاصره کړې وي، فکر وکړئ. ددې ښار نوم اتلانتیس فرض کوو. په دې سناریو کې، د مال لپاره تقاضا لوړه ده: ځکه د اتلانتیس په ښار کې د وګړو شمېر لس ملیونه دی. د عرضې کچه ټیټه ده: اتلانتیس کوچنی ښار او اوبو محاصره کړی دی. ددې سناریو په اړه د ملکیت د حقوقو شتون ډېر مهم دی.
ولې په دویمه سناریو د ملکیت حقوق مهم دي او په لومړئ سناریو کې هومره مهم نه دي؟ فکر وکړئ څه به پېښ شي که چېرې په هره سناریو کې د ملکیت حقوق شتون و نه لري.

په لوی ځنګل کې، فوزیه به د سرچینو لپاره د چا سره سیالي و نه کړي. هغه آزاده ده پرته له دې چې د چا سره شخړه وکړي ځمکه، خوراکي توکي، او اوبه لاس ته راوړي. د سرچینو عرضه د هغو له تقاضا څخه لوړه ده. په دې ځای کې د چارو د سمون لپاره د ملکیت حقوقو ته اړتیا نشته.

په اتلانتیس کې، داسي انځور کړی چې ددې ښار په منځ کې د ځمکې، خوراکي توکو او اوبو سره یو کوچني پارک شته. ددې سرچینو لپاره به ښاریان یو د بل سره سیالي کوي. ښکاره خبر ده، چې په دې کوچني ښار کې د لس ملیونو وګړو لپاره توکي بسنه نه کوي. له عرضې څخه تقاضا لوړه ده. لدې امله دلته د ملکیت د حقوقواړتیا رامنځ ته کېږي تر څو دې سناریو ته سمون ورکړي. خو فکر وکړئ د ملکیت د حقوقو د نشتوالي په صورت کې به په دې سناریو کې څه پېښ شي؟ دا هغه موضوع ده چه په راتلونکي بحث کې وړاندې کېږي.

#### ۱.۲.۲.۲ د " ګډې ځمکې د حق تراژیدي" پرابلم

---

28

29 Alison Clarke & Paul Kohler, *Property Law: Commentary and Materials*, p. 60.

که چېرې د کمیابو سرچینو په صورت کې د ملکیت حقوق شتون و نه لري او تقاضا تر عرضې لوړه وي، ډېر ژر به هېڅ سرچینې پاته نه شي.[30] دې ډول پرابلم ته د " ګډې ځمکې د حق تراژیدي" ویل کېږي.[31] لومړی، دا پرابلم د یوې نظریې په توګه وړاندې کېږي. وروسته، به دا پرابلم د مثال پواسطه واضح شي.

ګډه ځمکه د ځمکې هغې ټوټې ته وايي چې د ټول کلي ملکیت ګڼل کېږي. هر کلیوال په برابره توګه د ګډې ځمکې د کمیابه سرچینو ادعا لري. هر کلیوال ددې هڅه هم کوي تر څو د هغو سرچینو اندازه هم محدوده کړي چې نور کلیوال یی له اړونده ځمکه څخه تر لاسه کولای شي. که نه ټولې سرچینې به پای ته ورسېږي. خو د ملکیت د حقوقو د نشتوالي په صورت که به دا ډېره ستونزمنه وي چې د هغو سرچینو اندازه محدوده شي کومه چې نور کلیوال یی د لاس ته راوړلو په هڅه کې دي. په دې ترتیب، ددې کار عملی اغېز دادی چې هر یو کلیوال کوښښ کوي ترڅو هرڅومره چې شوني وي سرچینې لاس ته راوړی. او په دې حالت کې ډېر ژر ټولې سرچینې پای ته رسېږي.

د یادې شوې نظریې یو مشخص مثال تر کتنې لاندې ونیسئ. سعید په یوه داسې کلي کې ژوند کوي چې ګډه ځمکې لري او په دې ځمکه کې د پسونو رمه په آزاده څري. سعید او د هغه کلیوال له محدودیت پرته له رمې څخه پسونه راولي. سعید په دې پوهېږي چې هر څومره له رمې څخه د هغه کلیوال پسونه بیایي، د رمې د پسونو شمېر ورو ورو کمېږي. سعید پخپل وار مخکې له دې چې د رمې پسونه پای ته ورسېږي، هر څومره چې کولای شي پسونه له ځان سره بیایي.

**له واقعي نړۍ څخه یو مثال : د فاریاب په ولایت کې د پېستو د پیداوارو راټولول[32]**

په افغانستان کې د پېستې د پیداورو د راټولولو په هکله لاندې کیسه ولولئ. له کومه اړخه هغه د " ګډې ځمکې د حق تراژیدي" ته ورته او له کومه اړخه له هغو څخه توپیر لري؟

افغانستان په نړۍ کې یوازنی هېواد دی چې پېسته په طبیعي بڼه حاصل کوي.او دا هم د حیرانتیا وړ نه ده چې افغانستان په نړۍ کې د پېستو له ډېرو لویو تولیدوونکو څخه دی: په ۲۰۱۲ کال کې افغانستان په نړۍ کې د پېستې اتم تولیدوونکی هېواد و.[33] د افغانستان پېسته د کوچنوالي او د زړې د پاخه زرغون رنګ له مخې پېژندل کېږي، او د نورو هېوادونو د پېستې په پرتله د کافي لوړ نرخ کشش لري.
په دودیزه توګه، حکومت د سپټمبر په میاشت کې د پېستې له پخېدو وروسته د شلو ورځو مودې لپاره د پېستې د راټولولو اجازه ورکوي. ددې کلنې حاصل راټولو د شوله ای پېسته په نوم د جشن په ترځ کې لمانځل کېږي. په دې شلو ورځو کې ځایي اوسېدونکي هر څومره چې کولای شي، پېسته راټولوي. د پېستې راټولوونکي د حاصل یوه اندازه د ځان لپاره ساتي او پاته برخه د عاید د ترلاسه کولو په مقصد پلوري. داچې د حاصل د راټولولو موده محدوده ده، د حاصل راټولونکي ځینې وختونه ونو ته ضرررسوي او یا هم اومه پېسته راټولوي ځکه کوښښ کوي چې ډېر پېسته را ټول کړي.

د پېستې د حاصل د راټولولو لپاره د شل ورځنۍ مودې عملي کول د " ګډې ځمکې د حق تراژیدي" څخه مخنیوی کوي. خو ددې شلو ورځو په اوږدو کې د حاصل د راټولولو لپاره آزادي دا هم ښیي چې له محدودیت پرته د حاصل راټولول سرچینو ته ضررهم رسوي. له محدودیت پرته د حاصل راټولول، ونو ته ضرررسوي او اومه پېسته له ونو راشکول کېږي. په دې توګه فکر وکړی چې ژر به په افغانستان کې د پېستې باغونه په تدریجي ډول راکم شي.

---

30 *Id.*
31 Garrett Hardin, *The Tragedy of the Commons*, SCIENCE, Dec. 13, 1998.
32 Mohammad Saber, *Badghis Pistachio Forests Face Destruction*, INSTITUTE FOR WAR & PEACE REPORTING, May 13, 2010, *available at* http://iwpr.net/report-news/badghis-pistachio-forests-face-destruction; Sayed Yaqub Ibrahimi, *Pinning Hopes on Pistachios*, INSTITUTE FOR WAR & PEACE REPORTING, Nov. 17, 2005, *available at* http://iwpr.net/report-news/pinning-hopes-pistachios.
33

### ۱.۲.۲.۳ د " ګډې ځمکي د حق تراژيدي" لپاره د حل لاره

تر ۲.۲.۱ فرعي عنوان لاندې، د هغو سناريو په اړه چې د مال تقاضا تر عرضې زياته وي، د ملکيت د حقوقو په اړتيا وپوهېدو. تر ۲.۲.۲ بغلي عنوان لاندې د هغو سناريو په اړه چې تقاضا تر عرضې زياته وي د ملکيت د حقوقو د نشتوالي له امله د پرابلم په رامنځ ته کېدو باندې هم وپوهېدو. په دې فرعي برخه کې، د پرابلم د حل لاره لټوو. د حل لاره د ملکيت د حقوقو شتون دي. د ملکيت حقوق د کمیابه سرچينو برابر وېش شوني کوي. برابر وېش منصفانه او د عدالت له مخې وېش ته ويل کېږي.

ددې مثال په دوام بايد ووايو چې سعيد او د هغه کليوال کولاى شي د هغو لارو چارو په هکله خبرې وکړي چې په عامه څرځاى کې له پسونوڅخه پر ګټه اخيستلو باندې محدوديت وضع کړي. که چېرې دوي دې دا ډول محدوديت په ټاکلو بريالي شي، بيا به ټول پسونه او مېږې له منځه نه ځي. ددې په ځاى، دوى به ددې کمیابه سرچينې په ساتلو بريالي شي. همداشاني، دوى کولاى شي د کمیابه سرچينو ساتنه په داسې ډول تر سره کړي چې ټولو کليوالو ته برابره او د منلو وړ وي. په دې مثال کې، سعيد او د هغو کليوال د ملکيت د حقوقو موضوع تر بحث لاندې نيسي.
د ملکيت د حقوقو مختلف سيستمونه شتون لري. د لاندې وړاندې شوو سيستمونو په هکله فکر وکړئ.

#### ۱.۲.۲.۳.۱ خصوصي ملکيت



ګډه ځمکه له خصوصي ملکيت مخکې



ګډه ځمکه په خصوصي ملکيت له وېش وروسته

د ملکيت د حقوقو يو سيستم **خصوصي ملکيت** دى. کليوالو ځمکه سره شريکه کړې ده. خو هغوى دا ځمکه پخپل منځ کې په خصوصي ټوټو ويشلى هم شي. اجازه راکړئ داسې فرض کړو چې کليوال په همدې ډول کار تر سره کوي. يو وخت چې ګډه ځمکه لويه وه اوس په وړو ټوټو له وېش وروسته د هغو هره کوچنۍ برخه  د هر يو کليوال په خصوصي ملکيت بدله شوې ده.

بياهم، د سعيد په هکله فکر وکړئ. اوس د ټولو کليوالو سره د ځمکې د شراکت په ځاى، هغه د ځمکې د يوې ټوټې خاوند او د ځمکې پخپله برخه کې د خپلو پسونو په روزنه بوخت دى. هغه اوس له دې څخه نه وېرېږي چې د پسونو حلالول به هغوى ختم کړي. نور کليوال هم په دې صورت کې خپله ځمکه او پسونه لري او ورته  عمل کوي. هر يو کليوال د کمیابو سرچينو يوه برخه په واک کې لري. همدارنګه، دې کمیابو سرچينو به ساتنه کېږي. په دې ترتيب، د خصوصي ملکيت سيستم ددې امکان رامنځ ته کوي چې کمیابه سرچينې په برابره توګه ووېشل شي.

#### ۱.۲.۲.۳.۲ شريک ملکيت

د ملکيت د حقوقو بل سيستم **شريک ملکيت** دى. شريک ملکيت د خصوصي ملکيت بديل دى. د کليوالو ترمنځ د خصوصي ملکيت په توګه د شريکې ځمکې د وېشلو په ځاى، کليوال له هغو څخه ګډې ګټې اخيستنې ته دوام ورکوي. دوى له کمیابو سرچينو څخه د ګټې اخيستنې لپاره کولاى شي د چارو د سمون يو سيستم رامنځ ته کړي. د مثال په توګه، هغوى کولاى شي هر يوه کليوال ته د کمیابو سرچينو څخه کلنۍ ونډه وټاکي. **ونډه** هغه حد اکثر اندازه ده چې نه بايد ترې تجاوز وشي.

بیا هم د سعید په هکله فکر وکړی. هغه او د نوموړي کلیوال د عامه ځمکې د شریکولو پرېکړه کولای شي.
هغوی همدارنګه پرېکړه کولای شي چې د هر یوه کلیوال کلنۍ ونډه دری پسونه دي. پدې توګه به هر یو کلیوال د کمیابو سرچینو ونډه ولري. همدارنګه، کمیابه سرچینې به ساتل کېږي. په دې ترتیب، د شریک ملکیت سیستم د کمیابو سرچینو برابر وېش شونی کوي.

### ۱.۲.۲.۳.۳ دولتي ملکیت

د ملکیت د حقوقو وروستی سیستم **دولتي ملکیت** دی. دولتي ملکیت د حکومتي ملکیت په معنی هم دی. حکومت کولای شي ګډه ځمکه خپله او پارک ترې جوړ کړي. پارکونه د دولتي ملکیت مثال دی. حکومت د پارکونو د سمون چارې په غاړه لري. په هغو کې کېدای شي ځینو فعالیتونو ته اجازه ورکړل شي. د مثال په توګه، د ګودي پران الوزول. خو بیا د نورو کارونو لکه دخانیات، ممانعت کېږي. حکومت د سیاسی یا اداري پروسې له لارې پرېکړه کولای شي چې کوم کارونه اجازه لري او کوم کارونه منع دی.

.
دولتي ملکیت شریک ملکیت ته ورته دی، خو له هغو څخه په دوه لحاظه توپیر لري. لومړی توپیر یی د ملکیت مالک سره تړاو لري یعني داچې د ملکیت مالک څوک دی. د دولتي ملکیت په اړه باید وویل شي چې حکومت د ملکیت مالک دی. د شریک ملکیت په اړه داچې وګړي د ملکیت مالکان دي. دویم توپیر په دې کې دی چې د ملکیت د سمون چارې د چا په غاړه دی. د دولتی ملکیت په اړه حکومت ددې واک لري چې د خپل ملکیت چارې څرنګه تنظیم کړي. او د شریک ملکیت په اړه بیا وګړي ددې کار تر سره کول په غاړه لري. په ټوله کې، د موضوع په اړه دا توپیر د پرېکړو کوونکو یعني حکومت او د محلي قبایلو ترمنځ دي.

په وروستي ځل د سعید په هکله فکر وکړی. داسې و انګېری چې ګډه ځمکه په دولتي ملکیت بدله شوه. سعید او د هغه کلیوال نور د ځمکې مالکان نه دي. همدارنګه نوموړی او کلیوال نور د ځمکې د سمون د چارو مسوولیت نه لري. ځکه چې د ملکیت خاوند حکومت دی. او حکومتي مامورین که سیاستوال وي او یا هم اداري چارواکي د ځمکې د سمون مسوولیت لري. سعید او دهغه کلیوال د حکومتي چارواکو اوامرو څخه باید پیروي وکړي. فرض کړی چې حکومت دا کار په ښه توګه تر سره کوي. که داسې وي، بیا نو سعید او د هغه کلیوال به هر یو د کمیابو سرچینو څخه برخه ترلاسه او دا سرچینې به ساتل کېږي. په دې ترتیب ، د دولتي ملکیت سیستم دا شونی کوي چې کمیابه سرچینې په برابره توګه ووېشل شي.

### ۲.۲.۴.۱ نتیجه

په نتیجه کې باید ووایو چې د ملکیت د حقوقو لپاره یوه توجیه داده چې هغه د کمیابو سرچینو د برابر وېش شونی کوي. لومړی، موږ ولیدل چې د ملکیت حقوق هغه مهال ضروري دي کله چې د مال تر عرضې تقاضا لوړه وي.دویم ، موږ دا هم ولوستل چې پرابلم هغه مهال رامنځ ته کېږي کله چې (۱) د ملکیت حقوق هېڅ شتون و نه لري او (۲) د مال تر عرضې تقاضا لوړه وي. خو پرابلم د " ګډې ځمکې د حق په تراژیدي" کې دی. دربیم، موږ په دې وپوهېدو چې د ملکیت حقوق د " ګډې ځمکې د حق تراژیدي" پرابلم ته دحل لاره ده. موږ د ملکیت په دریو ډولونو باندې بحث وکړ: خصوصي ملکیت، شریک ملکیت، او دولتي ملکیت. د ملکیت ټول دری سیستمونه د کمیابو سرچینو برابر وېش شو نی کوي.

**له واقعي نړۍ څخه یو مثال : د صالح پروژه**

د " ګډې ځمکې د حق تراژیدي" د ملکیت د حقوقو د شتون لپاره یوه نظري توجیه ده. دا په دې معنی نه ده چې هغه یوازې یوه ایدیا ده په کتاب کې لیکل شوې او په درسي صنفونو کې پرې بحث کېږي.بلکه د " ګډې ځمکې د حق تراژیدي" موضوع په واقعي نړۍ کې د کتنې وړ ده. د مثال په توګه، په افغانستان کې د ملکیت په هکله لاندې موضوع ولولئ. له

لوستلو وروسته له ځانه وپوښتئ چې دا ببینه د " ګډې ځمکې د حق تراژیدي" نظري توجیې ته څومره ورته والی لري. د هغوی ځینې ورته والی په څه کې دی؟ او همدارنګه د هغوی ځینې توپیرونه په څه کې دي؟

د ملکیت د حقوقو یو افغان کارپوه د بامیانو په ولایت کې د " ګډې ځمکې د حق تراژیدي"[34] تر عنوان لاندې د څړځایونو او درو حالت بیان کړی دی. حکومت پرېکړه وکړه چې د بامیانو په ولایت کې هزاره ګان د هغو ځمکو د خپلولو اجازه نه لري چې دوی د اوږد مهال لپاره ترې ګټه اخلي. ددې پرځای پخپله حکومت ددې ځمکو د خپلولو پرېکړه کړې ده. پدې توګه هغه ځمکه چې شریک ملکیت ګڼل کېده اوس دولتي ملکیت دی. د دولت د اوسني ملکیت دا ځمکه د هزاره مختلفو ټولنو ترمنځ موقعیت لري. پرابلم په دې کې دی چې حکومت د دولتي ملکیت چارې هسې نشی سمبالولی تر څو د کمیابو سرچینو برابر وېش شونی کړي. په بل عبارت، حکومت ځمکه خپله کړه خو د هغو سره یې هېڅ کار هم تر سره نه کړ. په دې دلیل سره دولتي ملکیت په اصطلاح د *هېچا په ځمکه* بدل شو. له دې وروسته، هزاره ټولنو له دولتي ملکیت څخه د لاس ته راوړلو وړ بېلې شوې سرچینې ، را اخیستلې. خو په ورته وخت کې د هزاره ټولنو په منځ کې کومه داسې لاره نه وه چې له مخې یې دوی وکولای شي له دولتي ملکیت څخه د سرچینو چارې تنظیم کړي. ددې کار نتیجه د " ګډې ځمکې د حق تراژیدي" ته ورته والی لري. لکه چې حقوقي کارپوه لیکي، " کلیوالي ټولنو ته د دودیزو څړځایونو د عرفي مالکیت اجازه ورنه کړل شوه. نتیجه دا شوه چې دا ډول سیمې د *ټولو لپاره د سرچینې* په توګه ومنل شوې. د ځایي ټولنو خپلمنځي سیالی، لانجې او آن د تاوتریخوالي شخړې د هغو نتیجه شوه." [35]

د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان (FAO) د صالح په نوم یوه پروژه تر کار لاندې نیولې ده تر څو دا ستونزه حل کړي. ددې پروژې د یوې برخې په توګه، افغان حکومت د هزاره ټولنو سره په ګډه ددې ستونزې د حل لپاره کار پیل کړ. لکه چې د ملکیت د حقوقو کارپوه لیکي دا پروژه ۱۰۰ کیلومتره مربع ساحه چې د *هېچا ځمکې* په نوم مو یاده کړه،" تر ټاکلې اجارې او ځایي ټولنیزې اداري لاندې راځي. د هغو رسمي چوکات د سټلایت پواسطه اخیستل شوې او لاسي نقشې دي. د ځایي ټولنو استازي د اړونده څړځایونو د پولو د ټاکلو لپاره د لاسلیک شوې هوکړه لیکونو سره یو ځای د ولسوالي (د ځمکنیو چارو ریاست) اداري او د ولسوال دفتر ته راځي. د ولسوالی ولسوال د هوکړه لیک یو لوری دی او د هوکړه لیک په اړه د ګډونوالو بحثونه ډېر لانجمن وو. له دې وروسته ، هرې ځایي ټولنې د څړځایونو څخه د پایښت وړ ګټه اخیستنې په موخه مقررات جوړ کړل. تر ټولو مهم مقررات د ژمنې سون موادو لپاره د څرځای بوټو د قطع کولو د کمښت د مخنیوي او د بیا رغونې په موخه د څو کلونو لپاره د زیانمونونکو سیمو د تړلو په هکله و. دا کار د خبرو اترو دودیز هزاره چلند *ایغل* پر بنسټ باندې تر سره شو خو وروسته له هغه چې د دوې څرځایونه دولتي ملکیت اعلان شو، زیات شمېر ټولنې له هغو څخه ووتې...".[36]

دا مثال تر ډېره د " ګډې ځمکې د حق تراژیدي" سره تړاو لري. هغه د ملکیت د حقوقو د نشتوالي څخه رامنځ ته شوې نیمګړتیا په ګوته کوي. همدارنګه دا ښیي چې څرنګه د ملکیت حقوق د کمیابو سرچینو برابر وېش شونی کوي. په دې مثال کې، د حکومت اود ځایي ټولنو ترمنځ خبرې اترې دا نتیجه تر لاسه کړه او د بلې تراژیدي مخنیوی یې وکړ.

### ۱.۳ کومې نظریې د ملکیت د حقوقو بنسټ جوړوي؟

اوس موږ د مال تعریف په ۱ برخه کې وکړ او په ۲ برخه کې مو د ملکیت حقوقو توجیه وړاندې کړه. په دې برخه کې موږ د ملکیت د حقوقو پر بنسټ باندې نظرېې وړاندې کوو. لومړی، موږ داسې پوښتنه طرح کړه: مال څه ته وایي؟ بیا، مو داسې پوښتنه وکړه : د ملکیت حقوقو لپاره اړتیا په څه کې ده؟ اوس، دا پوښتنه کوو : د ملکیت حقوق له څه شي څخه رامنځ ته کېږي؟ لکه چې و به لیدل شي، ددې پوښتنې یو ځواب داسې دی چې د ملکیت حقوق له قانون څخه را پیداکېږي. ددې پوښتنې بل ځواب داسې دی چې د بشري موجود په توګه د ملکیت حقوق زموږ په ختې کې دي.

ددې پوښتنې ځوابونه هغه نظریې دي چې د ملکیت د حقوقو بنیاد جوړوي. د ملکیت دحقوقو بر بنسټ باندې له دوو نظریو څخه یوه یې حقوقي پوزیتیویزم او بله یې طبیعي قانون او طبعي حقوق دي.

له هغه وروسته چې د ملکیت د حقوقو له مخې تاسو د لاندې نظریو په هکله ولولئ، نو بیا له ځانه پوښته وکړئ چې تر کومه بریده هغه ستاسو د باور وړ دي.

---

[34] Liz Alden Wily, *Land, People, and the State in Afghanistan: 2002-2012* (United States Institute for Peace, 2013).
[35] *Id.* at 62.
[36] *Id.* at 62-63.

### ۱.۳.۱.۱ قانوني پوزيتيويزم

قانوني پوزيتيويزم يوه ساده نظريه ده. همدارنګه قانوني پوزيتيويزم يوه داسې نظريه هم ده چې **په مستقيمه توګه د درک وړ نه** ده. په دې معنی چې دا نظريه د موضوع په هکله زموږ د غريزې سره په تقابل کې واقع کېږي. قانوني پوزيتيويزم يوه داسې ايديا ده چې له مخې يې قوانين شتون لري ځکه چې هغه تصويب شوي او بيا په درسي کتابونو کې ليکل شوي دي. په بل عبارت، زموږ قوانين پر داسې يوه بنياد باندې ولاړ دي چې د هغو په مرسته يې د قانون حيثيت غوره کړی.[37] په پايله کې يو ژور بنسټ چې زموږ حقوق پرې ولاړ وی، شتون نه لري.

په دې توګه، قانوني پوزيتيويزم پر دې باندې ټينګار کوي چې قانون له اخلاقي نظره بی طرفه دی. [38] يعني، قانوني پوزيتيويزم دا دوه پوښتنې سره وېشي: لومړی، حقوق څه شی دی؟ دويم اخلاق څه شی دي؟ په دې توګه، حقوقي پوزيتيويزم، ددې تاييد کوي چې د حقوقو او اخلاقو ترمنځ ضروري رابطه نشته. خو دا په دې معنی نه ده چې حقوق د اخلاقو مخالف دي. دا يوازې په دې معنی دي چې حقوق ضرورتاً د اخلاقو سره مل نه وي.

د ملکيت له حقوقو څخه د مثال راوړل به ددې نظريې په پوهېدو کې زموږ سره مرسته وکړي. اجازه راکړی چې د قانوني پوزيتيويزم له نظره د قانون يوه ټاکلي اصل ته نظر واچوو. د مثال په توګه، د مدني قانون په ۱۹۰۰ ماده کې د ملکيت په اړه راغلي دي: " ملکيت داسې حق دی چې د هغې په مقتضا شی د شخص د ارادې او تسلط لاندې واقع کېږي. يوازې مالک کولای شي چې د قانون د حدودو په حکمونو کښې د هغې استعمال، ګټه اخيستل او هرډول مالکانه تصرف ته اقدام وکړي."[39]

په دې حکم يا اصل کې د توضيح شوو مواردو څخه څه شی د ملکيت د حق بنسټ جوړوي؟ د قانوني پوزيتيويزم له نظره، د ملکيت د حق بنسټ ۱۹۰۰ ماده ده. په بل عبارت، د ملکيت حق ځکه شتون لري چې ۱۹۰۰ماده شتون لري. که چېرې ۱۹۰۰مادی شتون نه درلود، نو د ملکيت حق به هم شتون نه درلود.

تاسو د قانوني پوزيتيويزم په هکله څه فکر کوئ؟ د توضيح وړ موضوع په توګه، دا به ستونزمنه وي چې دا مطلب تر پوښتنې لاندې راولو چې قانون قانون دی. خو ځينې کسان فکر کوي چې قانوني پوزيتيويزم د حقوقو تدبير شوې بڼه ده. ددې خبرې په تصديق سره چې قانون د قانون ځای حالت غوره کوي، هغوی پر دې باندې ټينګار کوي چې قانون دا حالت د پوهېدو وړ دلايلو لکه د اخلاقي اصولو او يا اقتصادي انګېزو له مخې غوره کوي. قوانين، بالآخره، د قانون جوړوونکو پواسطه چې بشري موجودات دي، په ځير سره ليکل کېږي.

## ۱.۳.۲ طبعي قانون او طبعي حقوق

### ۱.۳.۲.۱ طبعي قانون

طبعي قانون هم يوه ساده نظريه ده. دا له قانوني پوزيتيويزم څخه په آسانه توپير لري. لکه چې مخکنی برخه کې واضح شوه، قانوني پوزيتيويزم يوه داسې ايديا ده چې له مخې يې قوانين شتون لري ځکه چې د قانون حالت خپلوي. په بل عبارت، قانون قانون دی. دا د قانوني پوزيتيويزم د تحليل لپاره د پای ټکی دی. د طبعي قانون تحليل د قانوني پوزيتيويزم اساس مني خو بحث ته نور دوام هم ورکوي.[40] د دوه پړاويز تحليل په توګه د طبعي قانون په هکله فکر وکړی. د لومړي پړاو په توګه، طبعي قانون دا مني چې قانون قانون دی. د دويم پړاو په توګه، طبعي قانون په اړه دا پوښتنه مطرح کېږي چې آيا قانون د بشری عقل سره سمون لري او که نه. يعني دا چې طبعي قانون دا وايي چې آيا قانون معقول دی او که نه. [41]

---

[37] Leslie Green, "Legal Positivism," *Stanford Encyclopedia of Philosophy*, first published Jan. 3, 2003, available at http://plato.stanford.edu/entries/legal-positivism/ (defining legal positivism as "the thesis that the existence and content of law depends on social facts and not on its merits.").

[38] James B. Murphy, "Legal Positivism," available at http://www.nlnrac.org/critics/legal-positivism.

[39] Civil Code, Article 1900.

[40] *See generally* Anver M. Emon, *Islamic Natural Law Theories* (Oxford University Press, 2010); John Finnis, "Natural Law Theories," *Stanford Encyclopedia of Philosophy*, first published Feb. 5, 2007, available at http://plato.stanford.edu/entries/natural-law-theories/.

[41] *See* Finnis, *supra* note 42 ("Natural law theory accepts that law can be considered and spoken of *both* as a sheer social fact of power and practice, *and* as a set of reasons for action that can be and often are sound as reasons and therefore normative for reasonable people addressed by them.").

اوس په یو مثال سره د قانوني پوزیتیویزم او طبعي قانون ترمنځ توپیر بیانوو. د لاندې څرګندونې په هکله فکر وکړئ: "غيرعالانه قوانین، قوانین نه دي " [42]. آیا دا څرګندونه د قانوني پوزیتیویزم له نظره کوم مفهوم افاده کوي؟ او آیا دا څرګندونه د طبعي قانون له نظره کوم مفهوم افاده کوي؟ د لومړئ پوښتنې په اړه ځواب منفي او د دوهمې پوښتنې په اړه ځواب مثبت دی. قانوني پوزیتیویزم په ساده ډول وایي چې قانون قانون دی. قانوني پوزیتیویزم دا نه څېړي چې قانون عادلانه او یا هم غیر عادلانه دی. د هغه خلاف، طبعي قانون بیا دا څېړي چې آیا قانون عادلانه دی او که غیر عادلانه. په لومړي ګام کې طبعي قانون به دا ومني چې قانون قانون دی. په دوهم ګام کې، طبعي قانون دا معلوموﻻی شي چې قانون د بشري عقل سره اړخ نه لګوي او په دې وجه غیر عادلانه دی.

تاسو کېدای شي تعجب وکړی : ولې دا طبعي قانون نومېږي؟ له "طبعي" څخه مطلب څه دی؟ قانون د هغو فیلسوفانو لپاره چې د طبعي قانون څخه دفاع کوي، ځکه "طبعي" دي چې د بشري عقل پواسطه د پوهېدو وړ دی. یعني، دا "طبعي" ده چې د خپل عقل په کارولو سره ددې پرېکړه کوو چې آیا قانون عادلانه دی او که غیر عادلانه.

### ۱.۳.۲.۲ طبعي حقوق

طبعي قانون د طبعي حقوقو سره نژدې تړاو لري. طبعي حقوق ټاکلي حقوق دي چې له قانون څخه په خپلواکه توګه شتون لري. په بل عبارت، د طبعي حقوقو مفهوم وایي چې تاسو ټاکلي حقوق لری ځکه چې تاسو بشري موجود یاستئ. دا ذاتي حقوق دي په دې معنی چې هغه د قانون په شان په خارجي حالاتو پوري تړلي نه دي. دا ډول حقوق پرته له دې چې په قانون کې پېژندل شوي وي، شتون لري. ځینې قانون پوهان د ملکیت حقوق د طبعي حقوقو په توګه پېژني.

بیا هم، یو مثال به ددې نظریې په پوهېدو کې زموږ سره مرسته وکړي. یو ځل بیا د مدني قانون ۱۹۰۰ مادې ته مراجعه کوو: " ملکیت داسې حق دی چې د هغې په مقتضا شی د شخص د ارادې او تسلط لاندې واقع کېږي. یوازې مالک کولای شي چې د قانون د حدودو په حکمونو کښې د هغې استعمال، ګټه اخیستل او هرډول مالکانه تصرف ته اقدام وکړي." [43]مخکې مو د قانوني پوزیتیویزم له نظره دا موضوع یاده کړه چې د ملکیت حقوق شتون لري ځکه ۱۹۰۰ماده شتون لري. د حقوقو شتون په قانون پورې تړلي دي.اوس ۱۹۰۰ ماده د طبعي حقوقو له نظره څېړو. که فرض کړو چې پر مال باندې د ملکیت طبعي حق شتون لري نو ۱۹۰۰ ماده په آسانی سره د ملکیت د حق مخکنی شتون په رسمیت پېژني. ۱۹۰۰ ماده د ملکیت حق نه رامنځ ته کوي. دا حق ذاتي دی. دا حق په قانون پورې تړلی نه دی.

### ۱.۳.۳ اسلامي حقوق

اسلامي حقوق د ملکیت د حقوقو لپاره بنسټ جوړوي. د اسلامي حقوقو له مخې په نهایت کې د هرڅه خاوند الله (ج) دی. د انسانانو په توګه، موږ ته الله (ج ) د مال درلودلو حق راکړی دی .[44] په اسلامي فقه کې دوه عمومي نظریې شته چې د الله (ج)، انسان او ملکیت ترمنځ اړیکه بیانوي.

لومړئ نظریه سید قطب وړاندې کړې ده. د هغه له نظره انسان د ځمکې په مخ د الله (ج) یوازنی امین مخلوق دی.[45]

د ملکیت ددې ایدیا له مخې انسان پر خپل ملکیت باندې بشپړ حق نه لري او په رېښتیني ډول د ملکیت خاوند نه دي. ددې په ځای، انسانان یوازې د الله (ج) د ملکیت ساتونکي دي . الله (ج) د هغو رېښتینی مالک یا خاوند دی. دا په دې معنی دي چې د وګړو د ملکیت حقوق د الله (ج) په ارادې پورې تړلي دي. یعني ځینې داسې مکلفیتونه شتون لري چې په سرته رسولو سره یې انسان د ملکیت په اړه د الله (ج) رضا تر لاسه کوي.[46]

---

[42] *Id.*, where Finnis also uses the "unjust laws are not laws" example to distinguish legal positivism and natural law.
[43] Civil Code, Article 1900.
[44] Wael B. Hallaq, *Sharīʿa: Theory, Practice, Transformations*, (Cambridge UP: Cambridge 2009), 296.
[45] Ibid;
[46] *See* Wael B. Hallaq, *Sharīʿa: Theory, Practice, Transformations*, (Cambridge UP: Cambridge 2009) 296-97; Mohammad Hashim Kamali, *The Right to Life, Security, Privacy, and Ownership in Islam*, (Turkey: Islamic Texts Society 2008), 254-56.

کله چې کوم څوک د ملکیت په اړه د الله (ج) رضا تر لاسه کړي، نوهغه ته ښايي چې درې مکلفیتونه تر سره کړي. لومړی داچې شخص دا مني چې د مال سره به د ټولنيز مسووليت له مخې چلند کوي. دا په دې معني دي چې شخص دا مني ترڅو مال په داسې ډول ولګوي چې نورو ته يې تر اندازې زيات ضررو نه رسيږي. دوهم، مالک موافقه کوي ترڅو تر ټاکلو شرايطو لاندې نور خلک هم د هغو له مال څخه ګټه واخلي. دا په دې معنی دي چې مالک خلکو ته د خپلې ځمکې له لارې څخه د تېرېدو اجازه ورکوي. دریيم، مالک موافقه کوي چې په مشروع ډول به مال کاروي. يعنې دا چې مالک به مال نه ضايع کوي، هغه به د اړو کسانو سره مرسته کوي، او هغه به ډېر مال نه زېرمه کوي.[47]

دا درې غوښتنې له دې څخه سرچينه اخلي چې الله (ج) د مال رښتينی مالک دی او انسان بايد دا مال د هغو د اوامرو سره سم وکاروي.که چېرې يو شخص ددې مکلفيتونو سره سم عمل و نه کړي، امام بايد په چاره کې مداخله وکړي. امام کولای شي داسې اقدامات ترسره کړي تر څو يادشوي مکلفيتونه په ځای شي.[48]

د مثال په توګه، انځور کړی چې رحيم د ښوونځي تر څنګ يوه ټوټه ځمکه لري. هغه پرېکړه کوي په ځمکه کې خطرناک کيمياوی توکي زېرمه کړي. کيمياوی توکي په يوه سوروي کانتينر کې ځای په ځای کېږي او رحيم د کانتينر د سوروي بندولو لپاره هېڅ چاره نه سنجوي. کمياوي توکي د ښوونځي احاطې ته نفوذ کوي او په نتيجه کې يو شمېر زده کوونکي ناروغه کېږي. په دې مثال کې، اسلامي قانون امام ته اجازه ورکوي تر څو په دې کار کې مداخله وکړي. په دې صورت کې د امام مقصد دادی تر څو يقيني کړي چې مال د الله (ج) د اوامرو سره سم کارول شوی دی. ددې مقصد لپاره نوموړی بايد رحيم ته ووايي چې کمياوي توکي راټول او بيا يې په سم کانتينر کې واچوي او يا هغه کوم بل ځای ته يوسي. د امام د خبرو تر اورېدو وروسته، رحيم بايد مال د الهي اوامرو سره سم وکاروي.

د ملکيت د حق دوهمه او ترټولو زياته د منلو وړ نظريه د سعد بن وقاص ده. د نوموړي له نظره، انسان نه يوازې امين دی، بلکه د الله (ج) خليفه مخلوق هم دي.[49] ددې نظريې له مخې خلک بايد په ياد ولري چې الله (ج) د هر څيز خالق او د هرڅه يوازني مالک دی، خو انسان ته ددې وړتيا ورکړل شوې تر څو په مستقيمه توګه مال خپل کړي.[50] دا نظريه وايي چې انسان پخپل مال باندې زيات کنترول او د ملکيت زيات حقوق لري ځکه چې په واقعي توګه د هغو مالک دی. په دې دليل، ددې نظرې پلويان په دې باور دي چې امام او حکومت بايد د خلکو په مال کې لږ مداخله وکړي او مال يې ترې وا نه اخلي.[51] يعنې دا چې د مال يا ملکيت په اړه خلک هر څه چې وغواړي هغه تر سره کولای شي. په دې اړه ځينې محدوديتونه شته. په ځانګړې توګه، مال بايد نورو ته ضرراو يا هم د فساد وسيله نشي. [52]

## نتيجه

دا څېرکي د ملکيت حقوقو د اصولو په پېژندنې سره پيل شو . لومړی، موږ مال يا ملکيت له حقوقي نظره تعريف کړو. موږ پر دې باندې وپوهېدو چې د ملکيت بېلابېلې کټګورۍ شتون لري: عقار او منقول ملکيت، د لمس وړ او نه لمسېدونکې ملکيت. دوهم، موږ د ملکيت د حقوقو د توجيې په هکله هم خبرې وکړې. لکه چې مو وليدل، د ملکيت حقوق د امنيت سره مرسته کوي او اختلافونه راکموي. دا منطق هم په انفرادي کچه او هم په لويه پيمانه د طرح کولو وړ دی، لکه په واقعي نړۍ کې د کوچيانو – هزاره ګانو د لانجې او د کاروبار د خاوند د فرضيې په مثالونو کې. همدارنګه د ملکيت

[47] Mohammad Hashim Kamali, *The Right to Life, Security, Privacy, and Ownership in Islam*, (Turkey: Islamic Texts Society 2008), 256.
[48] *IBID*.
[49] Mohammad Hashim Kamali, *The Right to Life, Security, Privacy, and Ownership in Islam*, (Turkey: Islamic Texts Society 2008), 256-57.
[50] Mohammad Hashim Kamali, *The Right to Life, Security, Privacy, and Ownership in Islam*, (Turkey: Islamic Texts Society 2008), 256.
[51] Mohammad Hashim Kamali, *The Right to Life, Security, Privacy, and Ownership in Islam*, (Turkey: Islamic Texts Society 2008), 258.
[52] Mohammad Hashim Kamali, *The Right to Life, Security, Privacy, and Ownership in Islam*, (Turkey: Islamic Texts Society 2008), 258.

حقوق د کميابو سرچينو برابر وېش شونی کوي چې دا موهم د " ګډې ځمکې د حق تراژيدي" په نظريې او په واقعي نړۍ کې د باميانو په ولايت سره مثال راوړ. درېيم، موږ د هغو نظريو په هکله هم و غږېدو چې د ملکيت د حقوقو بنسټ جوړوي. قانوني پوزيتيويزم وايي چې وضعی حقوق د حق ټاکونکي دي. طبعي حقوقو بيا د هغو خلاف، وايي چې حقوق ذاتی او په وضعي حقوقو کې له تسجيل پرته شتون لري.

اوس د درسي کتاب نورو برخو ته اشاره کوو. دا ترتيب زموږ سره مرسته کوي چې د ملکيت دحقوقو په اړه له ډېرو نظرياتوخخه لنډيز راوړو.[53] په ټوليزه توګه د څانګو يوه بنډل په توګه د ملکيت د حقوقو په هکله فکر وکړی. په بنډل کې هره يوه څانګه د ملکيت د حقوقو د يوې ځانګړې برخې استازيتوب کوي. په دې ډول په هغو کې د مالکيت څانګه ، د لېږد څانګه او داسې نورې څانګې شته. په جلا ډول هره يوه څانګه، موږ د ملکيت د حقوقو په اړونده څانګه کې د حقونو او مکلفيتونو په هکله معلومات تر لاسه کوو. په دې توګه تاسو ددې درسي کتاب هر څپرکي د بنډل د يوې څانګې په توګه ګڼلای شئ. او کله چې تاسو دا درسي کتاب پای ته ورسوي، تاسو به د څانګو يو بشپړ بنډل ولری.

اوس نو تاسو د بنډل د کومې څانګې سره په مخ ځئ؟

په دويم څپرکي کې، تاسو به د قانوني چوکات او د شخړو د اواری له سيستم سره آشنا شی. دا موضوعګاني په افغانستان کې د ملکيت د حقوقو د پلي کېدو د پوهېدو لپاره مهمې دي.

په درېيم څپرکي کې به تاسو د مالکيت او د مالکيت د مستند سازي په هکله معلومات تر لاسه کړی. البته مالکيت د ملکيت په حقوقو کې تر ټولو مهم بحث دی. کله چې تاسو کوم څيز د ځان کړئ، نو ستاسو مالکيت تاسو ته حق درکوي. خو ستاسو مالکيت د مکلفيتونو سره هم مل دی. دا څپرکی به د ملکيت په اړه حقوق او مکلفيتونه دواړه تر مطالعې لاندې ونيسي. د مالکيت مستند سازی يو بهير دی چې د هغو پواسطه مالکيت ثابتېږي.

په څلورم څپرکي کې به تاسو د لېږد يا انتقال په هکله ولولئ. دا څپرکی دا په ګوته کوي چې نورو ته ستاسو ملکيت په کوم ډول لېږدول کېدای شي. لېږد داسې يو بهير دی چې د هغه په ترڅ کې تاسو خپل ملکيت نورو ته ورکوی. دا لېږد کېدای شي د پلورلو، ډالۍ کولو، اجارې او يا هم د مړيني له لارې تر سره شي.

په پنځم څپرکي کې، تاسو ته د خپلولو په هکله معلومات وړاندې کېږي. خپلول همدارنګه د ځمکې د غصب په معنی هم دي. دا موضوع په معاصر افغانستان کې خورا مهمه ګڼل کېږي.

شپږم څپرکي د ملکيت د کارولو د محدوديتونو په اړه دی. د يوې عمومي موضوع په توګه، قانوني حقوق په ندرت نامحدود وي. دا ځکه که چېرې موږ خپل حقوق له محدوديت پرته وکاروو، کېدای شي د نورو په حقوقو تېری وکړو. په دې ډول، د حقوقو څخه پر ګټه اخيستنې محدوديت دا په ګوته کوي چې حقوق او مکلفيتونه يو د بل سره څرنګه تعامل لري. په ځانګړې توګه، دا څپرکی د خصوصي او عامه منفعت پر اړونده محدوديتونو باندې بحث کوي.

په اوم او اتم څپرکيو کې به تاسو ته د ملکيت د حقوقو اړونده سرچينو په هکله چې په افغانستان کې په ځانګړي ډو ل مهمې دي، معلومات وړاندې شي. اوم څپرکي پر اوبو او کرنه باندې تمرکز کوي او اتم څپرکي پر کانونو او هايدروکابونو باندې.

[53] The bundle of sticks analogy will be presented in detail in the second chapter on ownership.

## دویم څپرکی : د شخړو د حل قانوني چوکات

په دې څپرکي کی، موږ په افغانستان کې د ملکیت اړوندو شخړو د حل د څرنګوالي بنسټیز قانوني چوکات در پیژنو. دا چوکاټ دوه مهمې برخې لري: د ملکیت د حقوقو منابع او د شخړو د حل بهیر. موږ دا بحث په افغانستان کې د ملکیت د حقوقو په منابعو سره پیلوو.دا منابع هغه ځایونه دي چې د ملکیت د حقوقو اړوند مقررات ترې راولاړیږي. د ملکیت د حقوقو د بېلابېلو منابعو له زده کړې وروسته، موږ به خپل تمرکز د افغانانو له خوا د شخړو د حل پر بهیر باندې وکړو.

### ۱.۴ د ملکیت د حقوقو منابع

تصور وکړی چې تاسو د ملکیت یوه شخړه لري. ددې شخړې د حل لپاره تاسو چیرته قانون لټوی؟ په دې هکله د حقوقو دری غوره منابع شته چې د هغو په مرسته تاسو شخړه حل کولای شئ: موضوعه حقوق، شریعت، او عرفي حقوق. دا درسي کتاب د ملکیت په هکله پر موضوعه حقوقو باندې تمرکز کوي، ځکه په ټوله کې د درسي کتابونو ددې لړۍ مقصد د موضوعه حقوقو تدریس او تحلیل دی. سره ددې، شریعت او عرفي حقوق د حقوقو مهمې منابع دي چې د شخړو د حل لپاره یې افغانان کاروي او ددې درسي کتاب په ترڅ کې به په پرله پسې توګه ترې یادونه وشي. په دې څپرکي کې به موږ د حقوقو د دری واړو منابعو په هکله فکر وکړو او دا به څرګنده کړو چې دوی یو دبل سره څه ډول تعامل لري. ددې تر څنګ، په یاد ولرئ چې د ساده کولو په مقصد، دا بحث یوازی کورني حقوق تر کتنې لاندې نیسي.

### ۱.۴.۱ موضوعه حقوق

موضوعه حقوق د ملکیت حقوق دي چې د حکومت له خوا د رسمي چارو د سرته رسولو په موخه خپریږي. خپرول په رسمي توګه د قوانینو، فرمانونو، حکمونو او داسې نورو سندونو د تصویب او خپرولو په معنی دي. په دې کې اساسي قانون، مدني قانون، فرمانونه، حکمونه او داسې نور راځي. په ټوله کې دا بیلابیل یوځای شوي سندونه اساسي موضوعه حقوق جوړوي. له یو بل سره ددې یوځای شوو بېلابېلو سندونو ترمنځ اړیکي به د حقوقو د مراتبو تر سرلیک لاندې په راتلونکې برخه کې وړاندې شي. د روښانه او منظمو قواعدو د رامنځ ته کېدوپه موخه هغه په ګډه عمل کوي. د پام وړ خبره داده چې د ملکیت د حقوقو کارپوهان داسې دلیل راوړي چې د ملکیت اړونده مسلې د ۲۰ پېړۍ په افغانستان کې د یوه بنسټ په توګه د محکمو د اهمیت غوره دلیل وو.[54] تر هرڅه د مخه افغانان محکمو ته ددې لپاره ورتلل تر څو داسې تحریری سندونه ترلاسه کړي چې د هغو په مرسته پر ځمکه باندې د خپل مالکیت دعوا ثابته کړي. دا فاکت ښیي چې د ملکیت حقوق د کل په توګه د موضوعه حقوقو په سیستم کې د حقوقو د بحث یوه ځانګړې برخه ده. نن ورځ د ملکیت اړوند شخړو کې د موضوعه حقوقو رول د شخړو حل او د مالکیت په اړه د مخکنیو یاد شوو سندونو ساتنه ده. او په یاد ولرئ: موضوعه حقوق ددې درسي کتاب غوره تمرکز دی. ددې کتاب په لوستلو سره به تاسو د ملکیت په اړه په موضوعه حقوقو وپوهیږئ.

### ۱.۴.۲ شرعي قانون

**شریعت** الله (ج) ته درسېدو لار ده چې د بشریت لپاره د الله (ج) له طرفه پر محمد (ص) باندې نازل شوې.[55] په دې لاره د روانېدو لپاره ټاکلي اصول شتون لري چې خلک یې باید مراعات کړي.[56] دا اصول په سپېڅلي قران کې د الله (ج) ارشادات دي.همدارنګه، ددې اصولو ډېری له **سنتو**، یا د محمد (ص) له اقوالو او اعمالو څخه تر لاسه کېدای شی.[57] په ځانګړې توګه، د سنتو اړوند اصول د حضر ت محمد (ص) له ویناوو (**اقوالو**) او **کړنو** ( اعمالو) څخه تر لاسه کېدای شي، یا د آنحضرت (ص) په حضور کې له ردېدو پرته (**تقریري**) د ځیني اعمالو او طریقو د تایید له مخې.[58]

---

[54] Wily at p. 17 (citing Vertan Gergorian, "The Emergence of Modern Afghanistan," *Politics of Reform and Modernization 1880-1946*).
[55] Abdur Rahmān I. Doi, *Sharīʿah: The Islamic Law*, (London: Ta Ha Publishers 1984), 2.
[56] *See Ibid.* at 4-5 (describing a conflict solved via Shari'ah and the path's law like nature).
[57] *Ibid.* at 7.
[58] *See* Mohammad Hashim Kamali, *The Principles of Islamic Jurisprudence* (Cambridge: Islamic Texts Society, 1991).

په ګډه، سپېڅلی قرآن او سنت هغه دوه منابع دي چې شریعت تشکیلوي.[59] دا منابع په مستقیم ډول د الله تعالی (ج) احکام انتقالوي او د شریعت د غوره منابعو څخه ګڼل کېږي.

## ۱.۲ اسلامي حقوق

اسلامي حقوق او شریعت یو د بل سره تړلي دي، خو د حقوقو تاکلي برخې دي. داچې شریعت له الله (ج) څخه مستقیماً را نازشوی دي ، نو هغه باید واوړېدل شي، وپوهېدل شي او د انسانانو پواسطه ولیکل شي. انسان اشتباه کوي او د خپلو امکاناتو په محدوده کې مکلف دی. دا په دې معنی دي چې د شریعت تفسیر زموږ د اشتباه کېدونکي پوهېدنې سره مل دی. په دې هکله چې شریعت څه وایي، رامنځ ته شوي باور اسلامي حقوق جوړوي.[60] ددې دوو منابعو له مخې اسلامي حقوق دوه منابع لري چې په عام ډول د اسلامي فقهاوو له خوا منل شوي.

د اسلامي حقوقو له دغو منابعو څخه یوه هم اجماع ده.**اجماع** یا د اسلامي فقهاوو د نظر یووالی، د اسلامي حقوقو له منابعو څخه ګڼل کېږي ځکه چې هغه د اسلامي کارپوهانو په منځ کې منل شوی باور رامنځ ته کوي. که د قرآني آیاتونو یا د پیروي وړ قانون د تفسیر په اړه د کارپوهانو ترمنځ تفاهم موجود وي، ددوی توافق د اړونده قواعدو پر سموالي باندې دلالت کوي. په دې دلیل، اجماع په اسلامي حقوقو کې یوه بله منل شوې منبع ده.

د اسلامي حقوقو یوه بله عامه منل شوې منبع قیاس دی. دا منبع له قیاسي استدلال څخه جوړه شوې ده. دا داسې دکترین دی چې خلکو ته اجازه ورکوي چې له یو متن څخه قاعده را واخلي او په بل ورته وضعیت کې هغه وکاروي. ددې کار د ترسه کولو لپاره دوه شرطونه دي: لومړی هغه قاعده چې یو څوک یې د هغو د غزولو ارداه لري، باید له سپېڅلي قرآن یا سنت څخه وي. دویم، عین اغېزمن سبب (Illah) یا قانوني استدلال باید په دواړو مواردو کې پلی شي. که چېرې دا دواړه شرطونه محقق شي، نو اړونده قاعده نورو قضیو ته هم غزول کېږي.[61]

د اسلامي حقوقو دا منابع نژدې ټولو مسلمانانو منلي. د اسلامي حقوقو نور داسې منابع هم شته چې د ټولو مسلمانانو لپاره د منلو وړ نه دي. په افغانستان کې، د اسلامي حقوقو له اضافي منابعو څخه د استحسان نوم اخیستل کېږي. دا منبع ځکه کارول کېږي چې افغانستان د اسلام د دین له حنفي مذهب څخه پیروي کوي.

### ۱.۲.۱ د اسلام د دین حنفي مذهب او اسلامي حقوق

داچې د شریعت قانون د انسانانو پواسطه تفسیر کېږي، دا په آسانه د درک وړ ده چې د غوره تفسیر په هکله د خلکو ترمنځ توپیر شتون لري. پداسې حال کې چې په عام ډول د شرعي قانون د تفسیر د څرنګوالي په هکله توافق شته ، خو د اسلام د فقهاوو زیات شمېر وتلي پوهان د شریعت د قانون د ځینو تاکلو برخو په هکله د نظر توپیر لري. د نظر دا توپیر د اسلامي حقوقو په اړه د مختلفو مکتوبونو د رامنځ ته کېدو سبب شوی. ددې مکتوبونو هر یو د اړونده امام ځانګړي نظریات وړاندې کړي دي. همدارنګه دې مکتبونو د شریعت د قانون د تفسیر په اړه بېل چلند لري او د پیروي مختلف قواعد لري.[62]

په افغانستان کې قانوني نظام د اسلام د دین له حنفي مذهب څخه پیروي کوي. د قانوني تعلیماتو دا مکتب د سني مذهب څخه پیروي کوي چې د ابو حنیفه نعمان بن ثابت له خوا یې بنسټ اېښودل شوی. دا مذهب تر هر یو بل مکتب څخه زیات پیروان لري.[63] له نورو مذهبونو څخه د حنفي مذهب یو غوره توپیر په دې کې دی چې هغه د اسلامي حقوقو په زیاتو اضافي منابعو یعني استحسان باندې تکیه کوي.[64]

---

[59] Hamid Khan, *Practitioner's Guide: Islamic Law*, July 2013. http://inprol.org/sites/default/files/publications/2013/islamic_law_guide-july_2013_final_0.pdf
[60] *Ibid. at 16.*
[61] *Ibid.* at 24.
[62] Mohammad Hashim Kamali, *Shari'ah Law: An Introduction*, (Oxford: Oneworld 2008), 68-70.
[63] *Ibid.* at 70-73.
[64] *Ibid.*at 94.

استحسان منصفانه حل ته د رسېدو لپاره يوه ترجيح ده آن که هغه په مستقيم ډول د ليکل شوو قواعدو سره اړخ هم ونه لګوي. کله چي د قواعدو سختګيرانه کارول ستونزې يا د تمي خلاف پايلي رامنځ ته کوي استحسان د منصفانه حل لپاره د انتخاب اجازه ورکوي. [65] د قياس د لږ سختوالي نسخي په توګه، د استحسان په هکله فکرکول به ګټور وي . د قياس په شان، استحسان، د پرېکړې يا حل په برخه کي اجازه ورکوي چي ليکل شوي قواعد نوي وضعيت ته وغزوي.د قياس پر خلاف، د غزولو بهير سختي غوښتني نه لري او له قواعدو څخه غوره اصل په مستقيم ډول په نوي وضعيت کي د کارولو وړ بولي. ددې پر ځای، داسي فکر چي د ناوړه پايلو مخنيوی وکړی، د قضيي حل ته لوری ورکوي.[66]

**په افغانستان کي د اسلام د دين د شيعه مذهب په اړه يوه يادونه**

لکه چي ددې څپرکي په وروستی برخه کي مو وويل، د افغانستان اساسي قانون او نور قوانين موږ ته د داسي حالت يادونه کوي چي محکمي د اسلامي حقوقو پر بنسټ باندې پرېکړې وکړي.اوس پر دې خبره باندې پوهېدل مهم دی چي په ځينو محدودو قضيو کي اسلامي حقوق کارېدلای شي.

کله چي اسلامي حقوق کارول کېږي زياتره وختونه محکمي په افغانستان کي د حنفي مذهب له مخي پرېکړې کوي. ډېر کم ځله دا حالت استثناء کېږي. د هېواد په ځينو برخو کي په محدودو حالاتو کي د شرعي قانون شيعه تفسير د پلي کېدو وړ دی.

لکه په سني مذهب کي، د شيعه مذهب پيروان هم هميش د شرعي قانون د تفسير د څرنګوالي په سر موافق نه دي. لدې امله، په شيعه مذهب کي هم د فقهي مختلف مکتبونه شتون لري.په افغانستان کي کله چي په محکمو کي د شيعه مذهب احکام کارول کېږي، محکمي د جعفري مذهب له فقهي حکمونو څخه پيروي کوي.[67] د استدلال په اړه دا مکتب د شخص پر وړتيا او پر دې فکر باندې ولاړ دی چي اخلاقي پرابلمونه څرنګه حل شي.[68]

موږ به دا موضوع په راتلونکي برخه کي، کله حنفي فقه د پلي کېدو ړ ده د جعفري فقهي په وړاندې تر سرليک لاندې مطالعه کړو

۱.۱.۱ داچي نژدې ټولی قضيي د اسلام دين د حنفي مذهب څخه پيروي کوي، ددې کتاب پاته برخه به قوانين د همدې مذهب په رڼا کي څېړي. په دې معنی په داسي حال کي چي ددې څپرکي زياتره قواعد د اسلام د ټولو پيروانو له خوا د منلو وړ دي، خو ځيني قواعد يوازې په حنفي مذهب پورې تړلي دي. که چېرې تاسو په يوه داسي حالت کي قرار وومي چي پکي د مختلفو قانوني مکتبونو له تعليماتو څخه کار اخيستل کېږي، نو دا څپرکی به ستاسو د قانوني څېړنو لپاره يوازې يو بنسټ جوړوي.

**عرفي حقوق**

له عملي اړخه ويلای شو چي **عرفي حقوق** د ملکيت اړوند شخړو لپاره ډېر مهم ګڼل کېږي. [69] عرفي حقوق هغو قواعدو ته منسوب دی چي د اوږد مهاله دود او پراتيک په نتيجه کي رامنځ ته شوی دي. دا "قواعد" د دولتی قانوني سيستم څخه سېوا پلي کېږي او د شخړو د حل د منصفانه او مساوي نتيجو د لاس ته راوړو په هڅه کي دي. په دې مفهوم، عرفي حقوق د شخړو د حل ميکانيزم ته ويل کېږي چي د دولتي قانوني سيستم څخه سېوا شتون لري او د عادلانه نتيجو د لاس ته راوړلو هڅه کوي. په افغانستان کي، جرګه او شورا د عرفي حقوقو د پلي کولوعامي بنې دي. جرګه او شورا د ملکيت

---

[65] *Ibid.*
[66] Wael B. Hallaq, *Sharīʿa: Theory, Practice, Transformations*, (Cambridge UP: Cambridge 2009), 107-09.
[67] Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, (2005), 20-21, available at http://www.internal-displacement.org/8025708F004CE90B/(httpDocuments)/86A7E9B3EE11392EC1.
[68] Jafari: Shii Legal Thought and Jurisprudence, Oxford University, Last accessed 2/10/14, http://www.oxfordislamicstudies.com/article/opr/t125/e1153
[69] *Id.* at p. 98.

اړوند ستونزو په شمول د شخړو د حل لپاره د خلکو غونډو ته ویل کیږي چې د دولتي قانوني سیستم څخه سېوا فعالیت کوي. همدارنګه دا ډول غونډې د افغاني کلتور د یوې مهمې برخې په توګه ګڼل کیږي. د مثال په توګه، دا په یاد ولرئ چې د مقننه قوې دوه مجلسونه د ولسي جرګې او مشرانو جرګې په نوم یادیږي.[70] دا د پام وړ ده چې د یو هېواد رسمي مقننه قوه خپل نوم له دوديز نارسمي غونډو څخه را اخلي او غوره کوي.

په عمومي توګه، عرفي حقوق " له ځایي تولنو څخه راوتلي قواعد دي او د وخت په تېرېدو سره تغیر مومي."[71] د وخت تېرېدو په تغیر سربېره، عرفي حقوق له یوې ځایي ټولنې تر بلې توپیر لري. د هغو دا ځانګړنه د موضوعه حقوقو سره په تضاد کې ده چې په ټول هېواد کې واحده بڼه ساتي. عرفي حقوق زیاتره وختونه له کاغذي مستند جوړونې پرته د خبرو اترو شفاهي بهیر په بر کې نیسي او د هغو دا ځانګړنه هم د دولتی حقوقو سره چې د مستند کولو سره مل دي، په مخالفت کې راځي. د موضوعه حقوقو کاغذي مستند کول ددې لپاره تر سره کیږي چې د هغو یوشانوالی او وړاندوینه تأمین کړي. لکه چې مخکې یاونه وشوه د ملکیت په اړه د کاغذي مستند کولو موضوع د محکمې له مهمو کارونو څخه ګڼل کیږي. د یادولو وړ ده چې ټاکلي ځایي ټولنې شفاهي خبرې اترې او مستند کول دواړه پرمخ بیایي.د مثال په توګه، پښتونولي د پښتني قبیلو عرفي حقوق دي[72] او کله چې د پښتونولي سره سم ځمکه بل چاته لیږدول کیږي نو په دې صورت کې باید کاغذي مستند کول تر سره شي.[73] په دې ډول د ټاکلو ځایي ټولنو عرفي حقوق موضوعه حقوقو ته ورته عناصر له ځان سره لري. دا کتنه یا ملاحظه د یادشوې هغې کتنې سره یو ځای چې موضوعه حقوق تر ډېره بریده اسلامي حقوقو ته ورته دي دا ښیي چې د حقوقو د درې ګونو منابعو ترمنځ پولې د همېش لپاره کره او څرګندې نه وي. ددې پولې څرنګوالی له یوه موقعیت څخه تر بل موقعیت پورې توپیر لري.

### ۱.۲ د قوانینو د مراتبو سلسله

**د مراتبو سلسله** د مختلفو عناصرو یو داسې سیستم دی چې پکې ټاکلي عناصر تر نورو لومړیتوب لري. ښایي تاسو همیش د مراتبو د سلسلې سره مواجه شوي وی. د مثال په توګه، راځئ داسې فرض کړو چې تاسو د پوهنتون د باسکیتبال په ډله کې یاستئ. اوس دا هم فرض کړی چې د ډلې نو رغړي د پوهنتون په لومړي، دوهم، دریم او څلورم کال کې دي. د موسم په پیل کې، د ډلې غړو ته ښایي چې د کمیس شمېره غوره کړي. طبعي ده چې هر یو غړي د خپلې خوښې یوه شمېره غواړي. خو په ورته وخت د ډلې د غړو په منځ کې تکراري شمېرې ته اجازه نشته. اوس دا شخړه څرنګه باید حل شی؟ د حل یوه لار کېدای شي دا وي چې د سابقې له مخې د مراتبو یوه سلسله رامنځ ته شي یعنې داچې په پوهنتون کې د ډلې د لوبغالو د زده کړې سابقه څومره ده. له دې امله د څلورم کال محصل لومړي، د دریېم کال محصل ورپسې، د دوهم کال محصل تر هغه وروسته او د لومړي کال محصل تر ټولو وروسته د کمیس شمېره ځان ته غوره کوی. پر سابقې باندې ولاړه دې مراتبو دا ډول سلسله کولای شي اړونده ستونزه حل کاندې. خو بیا هم پوښتنه پیدا کیږي چې د عین کال د محصلینو له منځ څخه کوم یو یې باید لومړي شمېره غوره کړي؟ په بل عبارت، څرنګه کولای شو چې د مثال په توګه د څلورم کال د محصلینو له منځ څخه په ترتیب لومړي، دوهم او دریم او ... شمېره غوره کړي؟ ددې کار لپاره یوه لار کېدای شي د محصلینو د مخکني سمستر د نمرو پر اساس باندې د مراتبو سلسله رامنځ ته شي.

له دې مثال څخه مقصد دادی تر څو معلومه کړو مراتبو د سلسلې په اړه د پرېکړې کولو په مهال د اړونده سیستم د عناصرو لومړیتوبونه کوم دي. بالآخره، په یاد ولرئ چې د مراتبو سلسله دواړه حالته یا قطع کوونکي عناصر ( مثال، د باسکتبال د لوبغالو ترمنځ د کلونو د سابقې توپیر ) او د عین عناصرو ترمنځ توپیر (مثال، په عین کال کې د باسکتبال لوبغالو ترمنځ توپیر) درلودلای شي.

اوس اجازه راکړی چې په حقوقو کې د مراتبو د سلسلې په اړه خبرې وکړو. که چېرې په حقوقو کې د مراتبو سلسله نه وي، خلک به وکولای شي هر ډول حقوق له هر ډول منبع څخه چې د شخړې په قانوني حل کې د دوی په ګټه وي، انتخاب کړي. او دا به یو پرابلم وي. د داسې یو حالت په هکله فکر وکړئ چې پکې د یو ډول حقوقو کارول یو ډول پایله او د بل ډول حقوقو کارول بیا د هغو مخالفه پایله رامنځ ته کوي. په دې صورت کې یو لوری به د شخړې د حل لپاره د خپلې خوښې پر حقوقو باندې استناد کوي او بل لوری به بیا پر بل ډول حقوقو باندې. د حقوقو د مراتبو له سلسلې پرته، د حقوقو

---

[70] *Id.* at p. 102.
[71] *Id.* at p. 17.
[72] *Id.*
[73] *Id.*

په منځ کې د لومړيتوب معلومولو موضوع ستونزمنه ده. په دې ترتيب، د حقوقو د مراتبو د ښې سلسلې درلودل په لومړي سر کې دښو قوانينو د شتون په اندازه مهم دي.
لاندې د حقوقو د دوو اړونده مراتبو سلسلې بحث راځي : لومړی، د حقوقو د مختلفو منابعو ترمنځ د مراتبو سلسله ؛ دوهم، د موضوعه حقوقو په منځ کې د مراتبو سلسله. د باسکتبال د لوبغالو ترمنځ د کلونو د سابقې توپير له مخې د مراتبو سلسلې ته ورته د مراتبو يوې داسې سلسلې په هکله فکر وکړئ چې د حقوقو منابع يې مختلف وي. وروسته بيا په عين کال کې د باسکتبال لوبغالو ترمنځ د توپيرپه له مخې د مراتبو سلسلې ته ورته دد موضوعه حقوقو په هکله فکر وکړئ.
بحث ته د ننوتلو د غوره ټکي په توګه، لاندې شکل وګورئ . دا شکل د حقوقو د اړونده مراتبو دواړه سلسلې ښيي.




### ۱.۲.۱ د حقوقو د مختلفو منابعو د مراتبو سلسله

په افغانستان کې، محکمې د حقوقو د منابعو اړونده مراتبو هغه سلسله مراعاتوي چې په پاسني شکل کې راغلي. محکمې د شکل سره سم له پاس ځخه يعني له موضوعه حقوقو ځخه پيلېږي او بيا کښته خوا ته اسلامي حقوقو ته راځي او وروسته بيا عرفي حقوقو ته. په راتلونکو ځو فرعي برخو کې به موږ د حقوقو ددې منابعو هر يوې ته نظر وکړو او په هکله به فکر وکړو چې دا منابع کوم وخت په محکمه کې کارول کېږي. موږ به له موضوعه حقوقو او په هغو کې د حقوقو د مراتبو له سلسلې ځخه پيل وکړو. وروسته بيا د اسلام او د اسلامي حقوقو بحث وړاندې کېږي. په ځانګړي ډول، موږ به د محکمو پر پرېکړو باندې د اسلام او د اسلامي حقوقو د اغېز په هکله او داچې کله حقوق پوهان بايد د اسلام او اسلامي حقوقو په استناد استدلال وکړي، تمرکز وکړو. وروستی داچې موږ به په لنډ ډول د عرفي حقوقو په هکله خبرې وکړو.

د وروستی تبصرې په توګه، تاسو به تعجب وکړئ چې ځوک او ځه شی د حقوقو د مراتبو دا سلسله تشکيلوي. لکه چې تاسو به يې لاندې وګورئ، د مراتبو دا سلسله دولتی حقوق تشکيلوي. قانون جوړوونکي په افغانستان کې توافق لري چې موضوعه حقوق د حقوقو لومړنی منبع ده او د دويمی (شرعي) او دريمي (عرفي) منبع د کارولو اړونده مواردو په هکله هم معلومات ورکوي. ددې جوړښت له مخې، موضوعه حقوق د ملکيت اړوند شخړو د حل په برخه کې دوه ګونی رول لوبوي. هغه دا په ګوته کوي چې د ملکيت په سر د ټاکلو شخړو د حل لپاره د حقوقو له کومو منابع ځخه کار واخيستل شي او د ملکيت په هکله موږ ته مهم قواعد هم راپېژني. مخکې له دې چې وړاندې ولاړ شو، يو ځل بيا پاسني شکل وګورئ. فکر وکړئ چې په پورتني شکل کې تر پاسنی بکس ځخه ښکته خواته بکسونه په ځه ډول ترتيب شو دی.

### ۱.۲.۲ موضوعه حقوق او په هغه کې د ننه د مراتبو سلسله

د ملکيت د حقوقو په اړه د يوې نامعموله موضوع په هکله يوه شخړه انځور کړئ. اوس دا موضوع د موضوعه حقوقو په چوکات کې وڅېړئ. دا به زموږ سره د حقوقو د مراتبو د يادو شوو سلسلو په هکله مرسته وکړي، موږ پوهېږو چې دا شخړه بايد يوازې د موضوعه حقوقو په مرسته حل شي ځکه دا حقوق د مراتبو د سلسلې په سر کې قرار لري. خو، فکر

وکړی کله چي تاسو د دولتي ملکيت قواعد را اخلی، بيا نو ستاسو د شخړي سره مختلف قواعد تړاو پيداکوي. ځيني دا قواعد له اساسي قانون څخه راپيدا کيږي په داسي حال کي چي بيا ځيني نور په مدني قانون کي بيان شوی دي. اوس تاسو د حقوقو له کومي ټولګي څخه بايد کار واخلئ؟ دا د حقوقو مراتبو د سلسلي په اړه بله پوښتنه ده . د موضوعه حقوقو په محدوده کي، د مراتبو يوه بله سلسله شته چي موږ ته پر نورو منابعو باندي د موضوعه حقوقو د منابعو د غوره والي په هکله معلومات راکوي.

اساسي قانون په افغانستان کي تر ټولو لوړ قانون دی. دا پر بل هر قانون باندي غوره والی لري. همدارنګه، هر هغه قانون چي د اساسي قانون سره په ټکر کي واقع شي د همدي دليل په وجه د اعتبار وړ نه دی. د اساسي قانون د زيات اهميت په وجه محکمي لومړی ګوري چي آيا د موضوع په اړه د اساسي قانون کومه ماده شته. که چيري داسي يوه ماده شتون ولري نو په دي صورت کي محکمه هغه پلي کوي. که چيري د اساسي قانون حکم شتون و نه لري بيا نو د تطبيق په ساحه کي د وضعي قوانينو په لټه کي کيږي. موضوعه قوانين مدنی قوانين په بر کي نيسي چي څو زره مادي لري او په هر اړخيزه توګه د ملکيت حقوق را نغاړي. په واقعيت کي، ملکيت په مدني قانون کي تر ټولو لويه موضوع ده.[74] په مدني قانون کي د ملکيت په هکله تر ۱۰۰۰ زياتي مادي شتون لري.[75] په دې ترتيب، ددې زيات احتمال شته چي د موضوع په اړه له موضوعه قانون څخه کار واخيستل شي. په مدني قانون سربيره، نور داسي موضوعه منابع هم شته چي د ملکيت د حقوقو په هکله ځانګړي حکمونه لري.

### ۱.۲.۳ اسلامي حقوق په محکمه کي

په لاندې فرعي سرليکونو کي به موږ د افغانستان په محکمو کي د اسلامي حقوقو د کارولو د څرنګوالي په هکله معلومات وړاندې کړو. په خاص ډول، زموږ تمرکز به په دې وي چي کله او په څه ډول د اسلامي حقوقو پر بنسټ په محکمه کي استدلال وشي. موږ دا بحث په اساسي قانون کي د اسلام په اړه د غوره حکمونو په بيان سره پيلوو او بيا وروسته د اسلامي حقوقو په هکله د اساسي قانون ارجاعات مطالعه کوو.

#### ۱.۲.۳.۱ اسلام د افغانستان په اساسي قانون کي

د افغانستان د اساسي قانون لومړۍ دويمه او دريمه مادي د اسلام په هکله بحث کوی. دا مادي موږ ته وايي چي افغانستان يو اسلامی دولت دی او هيڅ يو قانون نشي کولای د هغو د معتقداتو او حکمونو مخالف وي. په ورپسی د دوو فرعی سرليکونو په ترڅ کي به موږ د هري يوې مادي په هکله خبري وکړو په لومړي فرعي سرليک کي د لومړۍ او دويمی مادې سره تماس نيول کيږي خو په دريم فرعي عنوان کي بيا دريمه ماده په تفصيل سره تر بحث لاندې نيول کيږي.

##### ۱.۲.۳.۱.۱ د افغانستان د اساسي قانون لومړۍ او دويمه مادې

د افغانستان د اساسي قانون لومړۍ دوې مادې په افغانستان کي د اسلام مقام په ګوته کوي: په هغو کي په دې اړه داسي راغلي دي:

> **د افغانستان اساسي قانون**
>
> **لومړۍ ماده**
>
> افغانستان خپلواک، واحد، او نه بېلېدونکی هېواد دی.
>
> **دويمه ماده**
>
> د افغانستان د اسلامي جمهوريت دين، د اسلام سپيڅلی دين دی. د نورو اديانو پيروان د خپل دين په پيروي او د خپلو ديني مراسمو په اجرا کي د قانون د حکمونو په حدودو کي آزاد دي.

[74] Foley at p. 24.
[75] Nezamuddin Katawazi, "Land Disputes and Governance in Afghanistan," *TransConflict*, Oct. 1, 2013, available at http://www.transconflict.com/2013/10/land-disputes-governance-afghanistan-110/.

دا حکمونه موږ ته دا په ګوته کوي چې اسلام په افغانستان کې ځانګړی رول لري. هره ماده موږ ته د اسلام د رول په اړه متفاوت مطالب وړاندې کوي.

لومړۍ ماده وايي چې افغانستان اسلامي دولت دی. دا ماده اسلام د دولت د بنسټ د يوې برخه په توګه معرفي کوي.

**دويمه** ماده اسلام د افغانستان د دين په توګه معرفي کوي. دا ماده نور اديان هم په رسميت پيژني او هغو ته اجازه ورکوي چې د قانون په مراعاتولو سره خپل مراسم اجراکړي. د لومړۍ مادې سره يوځای، موږ وينو چې اسلام د افغانستان په بنسټ کې قرار لري. دا مادې په محکمو کې د اسلامي حقوقو د کارولو لپاره توجيه وړاندې کوي. ددې دليل دادی چې افغانستان يو اسلامي جمهوريت دی او اسلام دولتي دين دی(زما په نظر به دا کلهمه، يو دولتی دين ده، د خلکو د ناسم پوهاوی له امله شخړی را منځ ته کړی) او اسلام د هېواد په تګلوري کې رول لوبوي. په داسې حال کې چې دوهمه ماده خلکو ته اجازه ورکوي له اسلام پرته د بل دين پيروي وکړي، دوی بيا هم په اسلامي جمهوريت کې دي او آن تر دې چې ځيني وختونه په محکمو کې تر اسلامي حقوقو لاندې هم راځي. دا مهمه ده ځکه چې دا حکمونه محکمو ته واک ورکوي چې پخپلو پرېکړو کې له اسلامي حقوقو څخه کار واخلي.[76]

د مدافع وکيلانو لپاره، دا مادې مهمې دي ځکه چې په محکمه کې د اسلامي حکمونو د کارولو لپاره د بنسټ په رامنځ ته کولو کې رول لري. سره ددې هم د خپل استدلال په برخه کې څارنوال له دې حکمونه څخه ډېره کمه ګټه اخلي. ښايي دا مادې ځکه په محکمه کې نه کارول کېږي چې هغه د دين، دولت، او قانوني سيستم د عامو اصولو سره تماس نيسي. قضيې ځانګړي او مشخص موارد دي او پر يادو شوو مادو باندې استناد به په محکمه مطلوبه نتيجه و نه لري. همدارنګه، اساسي قانون او نور قوانين په تفصيل سره دا واضح کوي چې د دين، دولت، او قانوني سيستم ترمنځ تعامل څه ډول دی. دا چې اړونده قوانين زيات اختصاصي دي، وکيل له هغو څخه ځکه ګټه اخلي چې هغه زيات تفصيل وړاندې کوي او دا د پرېکړې کولو په برخه کې له محکمې سره زياته مرسته کوي. اوس موږ ددې مشخصو حکمونو ځيني موارد مطالعه کوو.

**۱.۲.۳.۱.۲ د افغانستان د اساسي قانون درېيمه ماده**

د درېيمې مادې پوهېدل آسانه ښکاري. خو دا تصور موږ غلط لوري ته بيايي. درېيمه ماده وايي:

**د افغانستان اساسي قانون**

**درېيمه ماده**

په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دين د معتقداتو او حکمونو مخالف وي.

دا ماده محکمې ته واک ورکوي چې قوانين مطالعه او ځان باوري کړي چې هغه د اسلامي معتقداتو او حکمونو خلاف نه دي. که چېرې قانون د اسلام د معتقداتو او حکمونو مخالف وي، هغه قانون له منځه ځي.[77]

د درېيمې مادې تر تفصيلي بحث د مخه، د يوې خبرې يادول ډېر مهم دي. درېيمه ماده يوازې د شرعي خلاف قوانينو په وړاندې د هغو د بې اعتباره ګڼلو د طريقې په توګه عمل کوي. دا ماده موږ ته نه وايي چې د ټولو قوانينو بنسټ بايد اسلامي قوانين وي. ددې مادې سره سم، قانون جوړوونکي دې ته اړتيا نه لري چې د اسلامي قوانينو له حکمونو پيل وکړي او له هغو څخه مواد را واخلي او د مدني قانون په شان يو قانون وليکي. يوازې د اسلام مخالف قوانين منع دي. دا په دې معنی دي چې که چېرې په اسلامي منابعو کې نص او حکم شتون و نه لري، درېيمه ماده د پلي کېدو وړ نه ده.[78]

د مثال په توګه، د مدني قانون شپږويشتمه ماده (دا برخه به وروسته په تفصيل سره وړاندې شی) وايي چې د مالکيت حق بايد د ځايي قواعدو پر بنسټ باندې چېرې چې ملکيت موقعيت لري، حل او فصل شي. دا په دې معنی دي چې هرځايی موقعيت کېدای شي د مال د مالکيت اړونده شخړو د حل لپاره مختلف قواعد ولري. دا چې اسلام ځايي ټولنو ته د مالکيت

---

[76] *See* USCIRF 2013 Annual Report, USCIRF, April 2013, 218, http://uscirf.gov/reports-and-briefs/annual-report/3988.html. (NOTE: this cite must be pulled before final copy)
[77] Mohammad Hashim Kamali, *Afghanistan's Constitution 2004: An Islamic Perspective on Interpretation*, (2009), 6, available at http://www.usip.org/sites/default/files/ROL/a)%20Kamali%20Paper%20English.pdf.
[78] *Ibid.* at 6.

مسلو د حل په اړه د واک ورکولو کوم قواعد نه لري، شپږويشتمه ماده د اسلام د معتقداتو يا حکمونو سره هېڅ تړاو نه لري. قاعده له اسلامي حقوقو څخه نه را ولاړېږي او هغه هېڅ اسلامي قانون نه ماتوي. ددې فاکتونو په رڼا کې، قانون د باور وړ دی ځکه چې هغه د اسلام *مخالف* نه دی. ددې مطلب په پوهېدو سره اوس د اساسي قانون د درېيمې مادې د پلې کېدو په اړه بحث ته را ګرځو.

ددې مادې د څېړلو په اړه، د پوهېدو لومړی ټکی دادی چې دا ضرورتاً د اسلام خلاف قوانين نه بې اعتباره کوي. بلکه دا يوازې هغه قوانين بې اعتباره ګڼي چې د " اسلام د معتقداتو او حکمونو مخالف" وي. ددې کتاب د ليکلو په مهال يعنې د ۲۰۱۴ کال جنورې په مياشت کې ددې حکم کره معنی روښانه نه وه، ځينې پوهان له هغو څخه مختلف تفسيرونه وړاندې کوي. له دې ډول تفسيرونو څخه يو هم محمد هاشم کمالي وړاندې کوي. نوموړی وايي چې دا حکم ډېر پراخ دی او د اسلام دواړه اصول عقيدتی او قانوني په برکې نيسي. د کمالي نورې ليکنې احتمالاً داسې تفسير وړاندې کوي چې درېيمه ماده محدود مفهوم دی او يوازې هغه قوانين بې اعتباره ګڼی کوم چې د اسلام له کلي اصولو سره مخالفت لري.[79]

د اسلام سره پر مخالفت سربېره، د درېيمې مادې تر کارولو د مخه دری نور مطالبات هم بايد محقق شي. دا دری مطالبات موږ ته د اساسي قانون يو سل او يوويشتمه ماده په ګوته کوي. لومړی، د اسلام سره د مخالفت په دليل يوازې ستره محکمه قوانين بې اعتباره کوي. دوهم، يوازې حکومت يا لاندنی محکمې کولای شي له سترې محکمې څخه د درېيمې مادې له مخې د قوانينو د بيا کتنې غوښتنه وکړي.[80] درېيم، ددې لپاره چې يو قانون چلينج يا و ننګول شي، هغه بايد په عمل کې د کوم چا په خلاف کارول شوی وي. دا په دې معنی دي چې قوانين مخکې له عملي کېدو څخه ننګول کېدای نشي.[81]

د مدافع وکيلانو لپاره د درېيمې مادې د څرنګوالي په هکله معلومات، په محکمه کې د اسلام د کارولو يوه لاره ده. مدافع وکيل کولای شي محکمې ته ولاړ شي او استدلال وکړي چې دده د مؤکل په وړاندې کارول شوی قانون د اسلامي معتقداتو او حکمونو سره مخالفت لري.[82] په داسې حال کې چې داسې استدلال شونی دی، خو عنوانول يې ستونزمن دي. لومړی، له عملي اړخه دا ناشوني ده چې قانون به د اسلام مخالف وي. اسلام ډېر مهم دی او قانون جوړوونکي دې ته لېواله دي چې اسلام ته له مراجعې پرته قوانين جوړ نه کړي.[83] دوهم، د يو قانون د بی اعتباره کولو په موخه د څارنوالي د قضاياوو زياتره برخې بايد په هر اړخيز ډول ترتيب شي. د مثال په توګه، کېدای شي مؤکل يوه داسې قضيه ولري چې نوموړی له ټاکلي قانون څخه زيانمن شوی دی. له دې وروسته مدافع وکيل ته ښايي استدلال وکړي چې دده د مؤکل په وړاندې کارول شوی قانون د اسلام سره مخالفت لري. وروسته د استدلال له منلو وروسته محکمه له سترې محکمې څخه د اړونده قانون د تفسير غوښتنه کوي. په همدې ترتيب ستره محکمه د موضوع د اورېدلو په هکله پرېکړه کوی. که د اورېدلو په هکله پرېکړه وشي بيا نو محکمه اړونده قانون بې اعتباره کوي په دې شرط چې د اسلام سره مخالفت ولري. وروسته مدافع وکيل د خپل مؤکل قضيه بيا ارزوي او ددې پرېکړه کوي چې آيا مؤکل يې بيا هم محکمې ته د مراجعې اراده لري او که نه.[84] په دې توګه، درېيمه ماده په محکمو کې د اسلام کارولو لپاره مدافع وکيلانو ته يوه لاره برابره وی. خو دا ميتود ډېر کم کارول کېږي او د هغو برياليتوب هم آسانه نه دی.

**د بحث پوښتنې**

۱. فرض کړی چې امير د پارلمان له خوا تصويب شوي يو قانون په هکله مضمون لولي. امير فکر نه کوي چې دا قانون به د اسلام له اصولو سره مخالفت و نه لري. که څه هم قانون پر امير باندې اغېز نه لري، خو هغه غواړي چې دا قانون بې اعتباره شي. ددې کار لپاره امير ته په محکمه څه کول په کار دي؟

۲. داسې فرض کړئ چې حکومت تر ۲۰ کلنی کم عمر کسانو ته د لمريزو تليفونونو خرڅول منع کړی. عبد الله د لمريزو تليفونونو پلورونکی، خپل يو تليفون په ۱۹ کلن سړي باندې پلوري. نوموړی پر ډېر ځوان سړي باندې د تليفون د خرڅولو له امله محکمې ته حاضرېږي. عبدالله استدلال کوي چې قانون په اسلام کې هېڅ اساس يا بنسټ نه لري. داچې اسلام د موضوع په هکله ساکت دی ، نوموړی غواړي هغه بې اعتباره شي. آيا عبدالله د قانون د بې اعتباره کولو په کار کې بريالی کېدای شي؟

---

[79] *Ibid.* at 5.
[80] *Ibid.* at 3.
[81] *Ibid.* at 8.
[82] *Ibid.* at 7, 9.
[83] *Ibid.* at 5.
[84] *See ibid.* at 3, 8-10.

**احتمالی ځوابونه**

۱. امیر په محکمه کې هیڅ کار نشي کولای. قانون د امیر خلاف نه دی وضع شوی. دا قانون په هېڅ ډول پر هغو باندی اغېز نه لري. دا د اساسي قانون د درېیمي مادې د کارولو په اړه یو شرط یا مطالبه ده او دهغه چا په هکله دی چې غواړي اړونده قانون بې اعتباره شي. داچې دا توضیح د امیر په خوښه نه ده، نوموړی ددې حق نه لري چې په محکمه کې قانون و ننګوي.

۲. عبد الله نشي کولای دا قانون بې اعتباره کړي. د اساسي قانون درېیمه ماده یوازې هغه قوانین منع کوي چې د اسلام خلاف وي. اړونده قانون کېدای شي په اسلام کې کوم اساس و نه لري، خو هغه د اسلام له حکمونو او معتقداتو څخه سرغړونه نه ده. اسلام دا موضوع چې په څو کلن سړي باندې لمریز تلیفون و پلورل شي، څه نه وایي. په دې دلیل، په دې اړه د اساسي قانون د درېیمه مادې طرح کول مورد نه لري.

پورته بحث شوي احکام په محکمه کې پر اسلام باندې د استناد کولو څرنګوالی بیانوي. په راتلونکي بحث کې، موږ په دې هکله خبرې کوو چې په محکمه کې اسلامی حقوق څرنګه کارول کېږي. تاسو به وګورئ چې اسلامي حقوق تر دې زیات په محکمو کې کارول کېږي.

### ۱.۲.۳.۲ اسلامي حقوق د افغانستان په اساسي قانون کې

په دې برخه کې موږ پر دې موضوع باندې بحث کوو چې اساسي قانون موږ ته په محکمه کې د اسلامي حقوقو د کارولو په هکله څه وایي. د لوستلو په مهال په یاد ولرئ چې د اسلام د اصولو او اسلامي حقوقو ترمنځ توپیر شته. د اسلام اصول د اسلام ټولو لوړو او عامو معتقداتو څخه عبارت دي. اسلامي حقوق د ټاکلو قواعدو ټولګه ده چې له شریعت څخه استخراجېږي.

اساسي قانون موږ ته دوه مادې را په ګوته کوي چې د اسلامي حقوقو د کارولو په هکله دي. یوسل او دېرشمه ماده او یو سل او یو دېرشمه مادې وایي چې له مدني قانون څخه د استدلال د بشپړېدو لپاره اسلامي حقوق کارېدلای شي. په عمل کې، هره ماده کټ مټ په ورته توګه عمل کوي. یوازنی توپیر د مذاهبو له مخې دی. په پیل کې، موږ یو سل او دیرشمه ماد ه را اخلو. وروسته یو سل او یو دېرشمه ماده معرفی او تر بحث لاندې نیسو.

### ۱.۲.۳.۲.۱ د اساسي قانون یو سل او دېرشمه ماده ـ په محکمو کې د اسلامي حقوقو حنفی مذهب

یو سل او دېرشمه ماده  په محکمو کې د اسلامي حقوقو له کارولو څخه بحث کوي. دا ماده په لاندې ډول ده:

**د افغانستان اساسي قانون**

**یو سل او دېرشمه ماده:** محکمې تر غور لاندې قضایاوو کې ددې اساسي قانون او نورو قوانینو حکمونه تطبیقوي. که د غور لاندې قضایاوو له جملې څخه د کومې قضیې لپاره په اساسي قانون  او نورو قوانینو کې حکم موجود نه وي، محکمه د حنفی فقهې د  حکمونو له مخې او په هغو حدودو کې د ننه چې دې اساسي قانون ټاکلي، قضیه په داسې ډول حل او فصل کوي چې عدالت په ډېره ښه توګه تأمین شي.

په لومړي ځل لوستلو سره، دا ماده وایي چې اسلامي حقوق یوازې هغه وخت کارول کېږي کله چې د افغانستان نور قوانین ساکت وي. دا په دې معنی دي چې د قضیې د حل په موخه قاضي لومړی باید اساسي قانون او نورو قوانینو ته مراجعه وکړي. که چېرې هېڅ یو له دې قوانینو څخه د قضیې د حل لپاره ځواب و نه لري، له هغه وروسته قاضي اسلامي حقوقو ته مراجعه کولای شي.

کله چې مدافع وکیل فکر کوي نور قوانین د مسلی لپاره ځواب نه لري نو د یو سل او دیرشمې مادې له لوستلو وروسته ممکن فکر وکړي چې کولای شی د اسلامی حقوقو پر استناد استدلال وکړي. خو په عمل کې، دا سمه نه ده. دا ددې مادو د کارولو په څرنګوالي پوري اړه لري.

یو سل او دیرشمه او یو سل او یو دېرشمه مادې د مدافع وکیل په ارادې پورې اړه نه لري بلکه داد محکمې کار دی چې څه وخت له هغو څخه کار واخلی.[85]دا په دې معنی دي چې محکمه د قضیو په هکله پرېکړې د اساسي قانون او نورو قوانینو یا اسلامي حقوقو له مخې کوي. په ځینو حالاتو کې کېدای شي دا واضح وي چې محکمه کوم ډول حقوق وکاروي. د مثال په توګه، کېدای شي داسې یو حالت رامنځ ته شي چې په اړه یې په اساسي قانون کې هېڅ نه وي ویل شوي او یا په نورو قوانینو کې آن د هغو په هکله یادونه نه وي شوې. خو په زیاتره حالاتو کې، ددې ویل ستونزمن دي چې قاضي د مدني قانون په شان له کوم ډول قوانینو څخه کار واخلي. په هر صورت، په کومو حالاتو کې یوه قضیه اسلامي حقوقو ته تر مراجعې د مخه ، د اساسي قانون او نورو موضوعه قوانینو د حکمونو له مخې د حل کېدو وړ ده؟ ددې پوښتنې لپاره هېڅ ځواب نشته او په دې هکله پرېکړه په قاضي پورې اړه لري.

دا د راتلونکي مدافع وکیل په توګه ستاسو لپاره پرابلم جوړوي. تاسو څنګه پوهېدلای شی چې په کوم وخت کې پر اساسي قانون او نورو قوانینو باندې تکیه وکړی او کله پر اسلامي قوانینو باندې؟ که چېرې تاسو یوازې پر اساسي قانون او نورو قوانینو باندې تکیه وکړی او قاضي د اسلامی حقوقو پر اساس باندې پرېکړه وکړي تاسو قضیه بایلوی. ددې خلاف، که چېرې تاسو یوازې پر اسلامي حقوقو باندې تکیه وکړی او قاضي دې مادو ته له مراجعې پرته پرېکړه وکړي، ښایي تاسو قضیه و بایلی. په دې صورت کې به تاسو څه کوي؟

په عمل کې، وکیلان دې دا ډول پرېکړې کولو څخه ډډه کوي. په دې اړه پرېکړه چې پخپل استدلال کې له کوم ډول قوانینو څخه کار واخلي، هغوي په آسانۍ سره له دواړو څخه ګټه اخلي. دا په دې معنی دي چې مدافع وکیلان له دواړو اساسي قانون او نورو قوانینو او همدارنګه اسلامي حقوقو څخه ګټه اخیستلای شي. د معمول سره سم، دا دې استدلال بڼه نیسي او بیا وروسته د موضوعه حقوقو او اسلامي حقوقو منابعو ته مراجعه کوي. په دې کار سره، مدافع وکیل باور پیداکوي چې که قاضي هر ډول قوانین هم وکاروي، نو نوموړی به خپل استدلال د دواړو قوانینو پر منابعو باندې وړاندې کړي.

پرته له دې چې له محکمو څخه پوښتنه وشي چې حنفي فقه په کومو حالاتو کې کارول کېږي، د اساسي قانون یو سل او دېرشمه ماده هم حنفي فقه په دوه لحاظه محدودوي.

لومړی، دا ماده وايي چې حنفي فقه یوازې " په هغو حدودو کې د ننه چې دې اساسي قانون ټاکلي" کارول کېږي . د ۲۰۱۵ کال د فبروري تر میاشتي پورې ددې عبارت کره معني څرګنده نه وه. [86] خو ځینې مفسرین وايي چې دا عبارت په دې معنی دي چې له حنفي فقهي څخه هغه قواعد چې د اساسي قانون له حکمونو سره مستقیم مخالفت لري، باید و نه کارول شی.[87] د مثال په توګه، د اساسي قانون ۲۷ ماده محکمې له دې څخه منع کوي چې یو څوک پر داسې جرم باندې محکوم کړي کوم چې د افغانستان په قوانینو کې نه وي راغلي. حنفي فقه د ځینو هغو جرمنو د جزا اجازه ورکوي کوم چې د افغانستان په قوانینو کې یې یادونه نه ده شوې. مفسرین په دې اړه دلیل راوړي "هغه محدوده چې دې اساسي قانون ټاکلي" په دې معنی ده چې حنفی فقه نشی کولای اړونده متخلفین مجازات کړي ځکه چې حنفي فقه د اساسي قانون سره مخالفت لري.[88] نور بیا دلیل راوړي چې دا ډول تبصره د اساسي قانون د دریېمې مادې له مخې سمه نه ښکاري. هغوی وايي له هغه ځایه چې دریېمه ماده هغه قوانین چې د اسلام مخالف وي، منع کوي، اساسي قانون د اساسي قانون سره په

---

85 Conversation with Hamid Khan ۱۴/۲۴/۱

86 *See* International Development Law Organization, Papers from the Technical Workshop: Gender and Criminal Justice in Afghanistan, Kabul 15 (May 15-16 2006), available at https://archive.org/stream/azu_acku_pamphlet_hv6250_4_w65_t434_2006#page/n5/mode/2up;Mohammad Hashim Kamali, *Afghanistan's Constitution Ten Years On: What Are the Issues?*, AREU at 27 (2014), available at http://www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/Afghanistan%20constitution%20ten%20years%20on%20English.pdf

87 International Development Law Organization, Papers from the Technical Workshop: Gender and Criminal Justice in Afghanistan, Kabul 15 (May 15-16 2006), available at https://archive.org/stream/azu_acku_pamphlet_hv6250_4_w65_t434_2006#page/n5/mode/2up

88 *Id.*

تضاد کې نشي واقع کېدای ځکه چې په دې صورت کې اساسي قانون د اسلام خلاف عمل کوی او که داسې وي بیا نو هغه اعتبار نه لري. په دې دلیل، هغوی استدلال کوی چې " د اساسي قانون په محدوده کې " د حنفي فقهي د کارولو په اړه دا عبارت د کمزوری محدودیت معنی ورکوي.[89]

دوهم، دا ماده محکمو ته وايي چې حنفي فقه " په داسې توګه وکاروي چې عدالت په ډېره ښه توګه تأمین کړي". بیا هم، ددې عبارت کره معنی مشخصه نه ده.[90] یوه احتمالی تبصره وایي چې له دې عبارت څخه باید داسې معنی واخیستل شي چې قاضیان باید داسې لاره خپله کړي چې د حقوقو د عامو اصولوسره اړخ ولګوي. ددې تبصرې ملاتړي ددې عبارت د معنې په اړه وړاندیز کوی چې قاضیان د خپلو پرېکړو په مهال باید عمومی انصاف، عدالت او د قانون حاکمیت په نظر کې ولري.[91]

آیا تاسو ددې دوو عبارتونو د تبصرې په اړه د نورو لارو په هکله فکر کولای شئ؟ له دې څخه ستاسوپه نظر کومه تبصره ښه ده؟ او ولې؟

په لاندې بحث کې موږ د ورته موضوع په هکله خبرې کوو، یعني د اساسي قانون د یو سل او یو دېرشمي مادې په هکله

**۱.۲.۳.۲.۲ د اساسي قانون یو سل او یو دېرشمه ماده – په محکمه کې د اسلامي حقوقو جعفري مذهب**

د یو سل او دېرشمي مادې په شان ، یو سل او یو دېرشمه ماده په محکمه کې د اسلامي حقوقو د کارولو حالت بیانوي – په دې ماده کې راغلي :

**د افغانستان اساسي قانون**

**یوسل او یو دېرشمه ماده**

محکمې د اهل تشیع لپاره په شخصیه احوالو پوری مربوطو قضایاوو کې د تشیع د مذهب حکمونه د قانون د حکمونو سره سم تطبیقوي. په نورو دعوو کې هم که په دې اساسي قانون یا نورو قوانینو کې حکم موجود نه وي، محکمې قضیه د دې مذهب له حکمونو سره سم حل او فصل کوي.

دا ماده هم یو سل او دېرشمي مادې ته په ورته ډول عمل کوي. دا اسلامي حقوقو ته اجازه ورکوي چې د اړتیا په وخت کې د قاضي له لوري په محکمه کې د قضیو د حل په موخه وکارول شي. بیا هم، د مدافع وکیل لپاره به په دې پوهېدل سخت وي چې قاضي څه وخت د اسلامي او یا نورو حقوقو د کارولو پرېکړه کوي. ددې په وړاندې مدافع وکیلان د اساسي قانون ، د نورو موضوعه قوانینو لکه مدنی قانون او همدارنګه اسلامي حقوقو پر بنسټ باندې د استدلال غبرګون ښیي.
دا ماده د یو سل او دېرشمي مادې څخه له دوو اړخونو توپیر لري.

لومړی، یو سل او یو دېرشمه ماده د "شخصیه احوالو" په شمول محدوده قضیې په بر کې نیسي. د مثال په توګه، دا ماده د هغو قضیو څخه بحث کوي چې کورني حقوق پکې راځي.

دویم، یو سل او یو دېرشمه ماده وایي کله چې قاضي د اسلامي حقوقو د کارولو پرېکړه وکړه، شیعه فقه په هغه صورت کې د کارولو وړ ده چې د دعواې *دواړه* لوري د شیعه مذهب پیروان وي. په دې حالاتو کې د اسلامي حقوقو جعفري فقه کارول کېږي.[92] که چېرې آن د دعوی یو لوری د شیعه مذهب پیرو نه وي، دا ماده نه کارول کېږي.

---

[89] *See* Mandana Knust Rassekh Afshar, *The Case of an Afghan Apostate – The Right to a Fair Trial Between Islamic Law and Human Rights in the Afghan Constitution*, Max Planck Yearbook of United Nations Law at 601 (Vol. 10, 2006), available at http://www.mpil.de/files/pdf3/mpunyb_13_knust1.pdf..
[90] Mohammad Hashim Kamali, *Afghanistan's Constitution Ten Years On: What Are the Issues?*, AREU at 27 (2014), available at http://www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/Afghanistan%20constitution%20ten%20years%20on%20English.pdf
[91] *Id.* at 26
[92] Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, (2005), 20-21, available at http://www.internal-displacement.org/8025708F004CE90B/(httpDocuments)/86A7E9B3EE11392EC1.

د يو سل او يو دېرشمي مادې په هکله دواړه يادشوي محدوديتونه ددې مادې د زياتو کارولو څخه مخنيوی کوي.

### ۱.۲.۳.۲.۳ په اساسي قانون کې د اسلامي حقوقو په اړه وروستی يادونې

له يو سل او دېرشمي او يو سل او يو دېرشمي مادې په هکله مو چې څه زده کړل د هغو پر بنسټ به تاسو په لاندې حالاتو کې څه وکړئ :

**د بحث وړ پوښتنې**

داسې فکر وکړئ چې حميد ستاسو دفتر ته د يو پرابلم سره راغی . د نوموړي ملګری آسا توافق لري تر څو د خپلې ځمکې يوه ټوټه پر حميد باندې و پلوري. ځمکه د کښت لپاره په نظر کې وه. پر آسا باندې د باور په وجه حميد پرته له دې چې ځمکه ووينې، پيسې ورکوي. په بله ورځ حميد غواړي خپله نوې ځمکه وګوري.کله چې نوموړی محل ته رارسيږي، پرته له وچې او شګلنې ساحې بل څه نه ويني. د ځمکې له کتلو وروسته، حميد پوهيږي چې دا د کښت لپاره وړ ځمکه نه ده. هغه دې نتيجې ته رسيږي چې بايد له آسا څخه بېرته خپلې پيسې واخلي ځکه چې آسا هغه ته نه وو ويلي چې ځمکه شګلنه ده.آسا هغو ته د پيسو له بېرته ورکولو څخه ډډه کوي او وايي چې د دوی ترمنځ معامله عادلانه ده. د حميد سره د خبرې کولو په مهال، نوموړی وويل چې  د حنفي مذهب له پيروانو څخه دی.

تاسو پرېکړه کوی چې ددې شخړې د حل غوره لار محکمې ته مراجعه ده. تاسو بايد د دوو اونيو په ترڅ کې خپل دلايل محکمې ته وړاندې کړی. تاسو په دې حالت کې د کومو حقوقو پر بنسټ باندې خپل دلايل وړاندې کوی؟

**احتمالي ځوابونه**

د يو سل او دېرشمي مادې له مخې، تاسو بايد لومړی د افغانستان اساسي قانون وګوری او نور قوانين وګوری. ددې قواعدو په کارولو سره تاسو بايد د حميد لپاره پياوړې دفاعيه ترتيب کړئ. داچې د افغانستان قوانين ددې شخړې په هکله قواعد لري، په زيات احتمال سره به تاسو په دې قضيه کې بريالي شئ.

که چېرې د افغانستان قوانين د حميد د قضيې لپاره قواعد و نه لري، تاسو بايد خپل استدلال د اسلامي حقوقو پر اساس وړاندې کړئ. تاسو دا کار بايد وکړئ ځکه چې د يو سل او دېرشمي مادې پر اساس ، په هغه حالت کې چې د افغانستان په قوانينو کې د موضوع په اړه مواد شتون و نه لري قاضي اسلامي حقوق کارولای شي.

اسلامي حقوقو ته په مراجعې سره، تاسو بايد خپل استدلال د حنفي فقهې پر بنسټ باندې وړاندې کړی. موږ پوهيږو چې حميد د حنفي فقهې له پيروانو څخه دی، او د شيعه مذهب تعليماتو څخه پيروي نه کوي. دا په دې معنی ده چې کېدای شي دواړه لوري د شيعه مذهب پيروان نه وي، له دې امله د اساسي قانون يو سل او يو دېرشمه ماده په دې اړه د پلي کېدو وړ نه ده. دا فاکتونه موږ ته وايي چې موږ بايد يو سل او دېرشمي مادې ته مراجعه وکړو. دا ماده د حنفي مذهب د فقهې په هکله ده.

وروسته له دې چې يو سل او دېرشمه او يو سل او يو دېرشمه مادې مو مطالعه کړې، اوس پوهېږئ چې په محکمه کې څه وخت اسلامي حقوق کارول کېږي. تاسو پوهېږئ چې کولای شي واړه قوانين لکه مدني قانون او اساسي قانون او همدارنګه اسلامي حقوق وکاروئ. همدارنګه، په دې برخه کې موږ پر دې باندې بحث وکړ چې د اسلام د کوم مذهب کارول په قضيه کې د راښکېلو لورو سره تړاو لري. ددې تفصيلاتو باوجود يوه لويه پوښتنه بې ځوابه پاتې کېږي. هغه قواعد چې اسلامي حقوق موږ ته راکوي،کوم دي؟ دا هغه موضوع ده چې ددې څېرکي په پاتې برخه کې پرې بحث کېږي.

### ۱.۲.۳ عرفي حقوق

عرفي حقوق د حقوقو وروستنی منبع ده چي محکمي يې د شخړو د حل او فصل لپاره کاروي. د مدني قانون دويمه ماده وايي چي عرفي حقوق يوازي هغه وخت کارېدلای شي چي دواړه يعني موضوعه حقوق او اسلامي حقوق د شخړو د حل او فصل په هکله ساکت وي.

> **د افغانستان مدني قانون[93]**
>
> **۲ ماده:** په هغوموارد‌و کي چي په قانون يا د اسلام د شريعت د حنفي فقهي په کلي اساساتو کښي يو حکم موجود نه وي، محکمه به د عمومي عرف سره سم حکم صادروي، خو په دې شرط چه عرف ددې قانون د حکمونو يا د عدالت د اساساتو مناقض نه وي.

ددې مادې پر بنسټ، عرفی حقوق يوازې هغه وخت د کارولو وړ دي چي د شخړې حل او فصل لپاره د دولتی حقوق يا د حنفي فقهي اصول شتون و نه لري. خو په ياد ولرئ، چي عرفي حقوق يوازې په دې شرط د استناد وړ دي چي " د قانون د حکمونو يا د عدالت د اصولو سره مخالفت و نه لري.[94] " په بل عبارت، محکمه له کره کولو پرته د عرفي حقوقو د کارولو په برخه کي اقدام نشي کولای.

### ۱.۳ رسمي بنسټونه

تر اوسه د قانوني چارچوب دې برخي د افغانستان په قوانينو باندې تمرکز درلود. لومړی، موږ د حقوقو مختلف منابع مطالعه کړل. موږ همدارنګه دا موضوع چي دا منابع يو د بل سره څرنګه تعامل لري، بيان کړل. په راتلونکو فرعي عنوانونو کي، موږ اړونده بنسټونه چي دا منابع کاروي تر کتني لاندې نيسو. په بل عبارت، موږ خپل تمرکز له حقوقو څخه هغو بنسټونو ته اړوو چي قانون پلی کوي.

### ۱.۳.۱ محکمي

محکمي مهم رسمي بنسټونه دي. د قضائيه قوي بنسټيز جوړښت له دريو سطحو څخه عبارت دی.[95] لومړی، ستره محکمه. دويم ، د استيناف محکمي او دريم، ابتدائيه محکمې. البته، د ملکيت اړوندشخړې په ياد شوو دری واړو سطحو کي د اورېدو وړ دي. دعوه په ابتدائيه محکمه کي پيلېږي چي وروسته بيا استيناف او سترې محکمي ته هم راجع کېدای شي. ددې سره په څنګ کي، ځانګړې محکمي هم په دې بنسټيز چوکات کي شتون لري چي د قانون په مشخصو ساحو باندې تمرکز کوي. د مثال په توګه، په ۲۰۰۲ ز کال کي د رئيس جمهور د فرمان پر بنسټ باندی د ملکيت شخړو د حل او فصل ځانګړې محکمه جوړه شوه تر څو" افغانستان ته د راستانه شوو کډوالو حالت وګوري ، د هغوی شکايتونو ته رسيدګي وکړي او د ملکيت اړوند شخړو د حل او فصل بهير ګړندی کړي. [96]" دا محکمه ځکه جوړه شوه چي د ملکيت په هکله قضيې په رسمي دوايرو کي تر ټولو عامه موضوع ده. خو د ملکيت شخړو د حل او فصل ځانګړې محکمی ، تر ۲۰۰۵ ز کال پورې خپل اغېزمنتوب له لاسه ورکړ ځکه د قانون د پلي کېدو مراجعو د هغو پرېکړې نه پلي کولی. [97] په دې ترتيب، قضائيه قوه اوس د ځمکي اړوند شخړې د دعواوو د ثبت په دفتر کي د معمول کړندود له مخي حل او فصل کوي.[98]

---

[95] Foley at p. 21.
[96] *Id.* at 30 (citing Decree 89 of the Head of the Transitional Islamic State of Afghanistan, Regarding the Creation of a Special Property Disputes Resolution Court, Article 1).
[97] Katawazi.
[98] *Id.*

### ۱.۳.۲حکومتي ادارې

هغه حکومتي ادارې چې ځمکنی چارې تنظیموي، مهم رسمي بنسټونه دي. له ډېر و کلونو راهیسې، حکومتي لویه اداره چې د ځمکو چارې سمبالوي د ځمکوالی د چارو د تنظیم ریاست یا داملاک په نوم یادېږي.[99] د افغانستان پادشاه ظاهرشاه دا اداره په ۱۹۶۰ ز کال کې جوړه کړه تر څو ملکیت مستند کړي. د ملکیت مستند کول د حکومت لپاره ګټور و ځکه دې کار مالیه شونې کوله. د ملکیت مستند کول وګړو ته هم ګټور و ځکه دې کار مالکیت په ثبوت رساوه. ظاهرشاه املاکو ته امر وکړ له ځمکو څخه څارنه او هغه توزیع کړي. املاک د څو پر له پسې رژیمونو په اوږدو کې پخپل حال پاته شو. تر ۲۰۰۱ زکال پورې د ولایت او ډېری ولسوالیو په کچه املاکو لا هم فعالیت درلود " [د ځمکو د ادارې په توګه]، خو د هغو رول تر ډېره د ځمکو ثبتول و، نه د هغو اداره."[100]

له پنځوسو کلونو وروسته په ۲۰۱۰ ز کال کې املاک د افغانستان د ځمکو پر اداري باندې بدله شو[101] . د املاکو په شان، دا اداره تر اوسه پورې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارې وزارت د یوې برخې په توګه فعالیت کوي. له املاکو څخه د افغانستان د ځمکو ادارې توپیر په دې کې دی چې هغه اوس یو اجرائیوي ارګان دی او د ملکیت اړوند موضوعګانولکه د قبالې تر لاسه کول یا د اجارې آسانتیاوې او نورو پر ساده کولو باندې تمرکز کوي. له دې اصلاح شوې ادارې څخه تمه کېده چې د ملکیت اړوند چارو لپاره په اصطلاح پر " یو پړاویز دکان باندې" بدله شي. په بل عبارت، له دې اصلاحاتو څخه هیله کېده تر څو د ملکیت د مستند کولو په برخه کې له یوې ادارې څخه بلې ادارې ته تګ راتګ او د زیاتو فورمو د ډکولو لړۍ پای ته ورسوي. سر بېره پر دې، له اصلاحاتو څخه مقصد دا و چې دا بهیر په یوه اداره یعني د افغانستان د ځمکو عمومي خپلواک ریاست کې منسجم کړي. داسې ویل کېږي چې د اصلاحاتو تمرکز پر سوداګریزو فعالیتونو باندې و او لاس ته راوړنې یې محدودې دي.[102] داسې هم ویل کېږي چې د عامووګړو لپاره دا اصلاحات کم څه له ځان سره لري.[103]

د خمکو د چارو د تنظیم قانون داسې یو تقنیني سند دی چې کولای شي د افغانستان د ځمکو د ادارې فعالیت داسې تغیر کړی چې یادو شوو انګېرنو ته ځواب ووایي.[104] د ځمکو د تنظیم قانون ددې کتاب د لیکلو په مهال د تعلیق په حال کې و. د افغانستان د ځمکو ادارې څو ځله دا قانون اصلاح کړ. د قانون د تعدیل اوسنی بڼه څو داسې حکمونه له ځان سره لري چې کولای شي هم د سوداګریزو واحدونو او هم د عامو وګړو لپاره د هغو اغېزمنتیا زیاته کړي. په ځانګړي ډول، په مرکز کې د ځمکې د ادارې د مرکزیت په ځای د ځمکو د چارو د سمون ځایي ادارو ته د زیات واک په ورکولو سره، دا قانون کولای شي د ځایي ټولنو لپاره د لا زیات دموکراتیک بهیر شرایط برابر کړی.

## 2 . د شخړو حل او فصل

### ۲.۱ کلیات

اوس چې مورد ملکیت د حقوقو منابع او د هغو کاروونکو ادارو فعالیت و څېړه، موږ به په دې چوکات کې د ځمکې اړوند شخړو ته له نژدې نظر وکړو. ځمکنې اختلافونه ډېر عام دي – په واقعیت کې، هغه په افغانستان کې د اختلافونو تر ټول عام ډول دی. دا شخړې له مالکیت، میراث، تصاحب یا خپلولو، بې ځایه کېدو، څرځایونو ته لاس رسی، د اوبو ونډه، د ځایي ټولنو ملکیت ته لاس رسی، د کانونو حق او له زیات شمېر نورو دا ډول مسلو څخه را ولاړېږي. اصلاً، د ملکیت هر اړوند عنصر د شخړې موضوع جوړېدای شي. په ډېر عام ډول، د ملکیت شخړې زیاتره د ځمکې د لېږد یا د مالکیت سره تړاو لري. دا سناریو وګورئ: داسې اټکل وکړئ چې تاسو د ځمکې یوه ټوټه لرئ چې له پلار څخه مو په میراث پاتې ده. د ځینو اختلافونو له کبله تاسو افغانستان پرېږدئ او د څو کلونو لپاره پاکستان ته ځئ. افغانستان ته په بېرته

---

[99] Wily at p. 19.
[100] *Id.* at p. 22.
[101] Afghanistan's Council of Ministers effected this change through Decree Number 23. Afghanistan Independent Land Authority, Main Page, available at http://arazi.gov.af/. *See also* Wily at p. 55.
[102] Wily at p. 55.
[103] *Id.*
[104] The analysis in this paragraph relies on Wily at p. 56-58.

راستنېدو سره ، تاسو غواړي د خپلې ځمکې دعوا وکړئ. تاسو کار له څه نه پیلوئ؟ لکه چې مخکې يې يادونه وشوه، موضوعه حقوق ، شریعت او عرفی حقوق ټول په دې اړه د کارولو وړ دي.

### ۲.۲ د حقوقو د منبع غوره کول

تاسو کېدای شي اوس په دې پوهېږئ چې د حقوقو مخکې بحث شوي د مراتبو سلسله تاسو موضوعه حقوقو ته رسوي. موضوعه حقوق د محکمو او حکومتي ادارو له لوري نافذېږي. موږ دا د رسمي سیستم په نوم یادوو. خو د ډېرو دلایلو له مخې، افراد زیاتره موضوعه حقوقو ته مخه نه کوي. ځینې وختونه عرفي حقوق (د شورا او جرګو نارسمي سیستم) د ملکیت شخړې تنظیموي. دا په دې معنی دي چې د ملکیت شخړې په دواړو سیستمونو کې عامې دي. دا هر یو بیلابیل بهیر او دلایل لري چې له مخې يې هغو ته مراجعه ګڼئ.

#### ۲.۲.۱ موضوعه حقوق

د موضوعه حقوقو په هکله بحث کې موږيادونه وکړه چې هغه روښانه او ثابت قواعد لري. په لومړي نظر موضوعه حقوق قسماً د مال د مالکیت مستند کولو په موخه رامنځ ته شول. د موضوعه حقوقو تر شا دا ډول انګېرنه کولای شي تاسو د خپلو شخړو د حل لپاره د رسمي سیستم کارولو ته و هڅوي. د مثال په توګه، که چېرې تاسو د ملکیت کاغذي سندونه ولرئ، ستاسو دعوا به تر ډېره بریده بریالی وي. د محکمو د رسمي سیستم د غوراوي لپاره نور دلایل کلتوري جنبه لري. ټاکلي محلي ټولنې د رسمي سیستم کارولو ته ډېر لېواله دي. د مثال په توګه د جلال آباد په پنځمه ناحیه کې د ځمکې د مصادرې قضیې زیاتره وختونه محکمو ته راوړل کېږي چې په اړه يې له موضوعه حقوقو څخه کار اخستل کېږي. په هر صورت د دعوا اقامه هم ستاسو په پرېکړه باندې اغېز لري. په ځینو ځایي ټولنو کې، ښځې له نارسمي میکانیزمونو څخه چېرې چې عرفي حقوق کارول کېږي، منع دي. دا ښځې د محکمو رسمي سیستم غوره بولي. له هغو ادارو چې پکې موضوعه حقوق کارول کېږي، ستاسو درک هم ستاسو په پرېکړې باندې اغېز ښندي. ځینې وګړي محکمې او حکومتي ادارې مفسدې ګڼي. دا کار خلک هڅوي چې رسمي سیستم ته چېرې چې موضوعه حقوق کارول کېږي ورشي او که غواړي او توان ولري قاضیانو ته د بډې په ورکولو سره دعوا د ځان په ګټه فیصله کړي.

#### ۲.۲.۲ عرفي حقوق

عرفي حقوق له هغو "قواعدو" څخه جوړ دي چې د دولتي قانوني سیستم څخه بېرون پلی کېږي. لکه چې مخکې پرې بحث وشو، دا سیستم کوښښ کوي انصاف، او برابري تأمین کړي. د شخړو له ۸۰ – ۹۰ سلنې پورې د عرفي حقوقو په کارولو سره په دې سیستم کې حل او فصل کېږي. دا لوړه سلنه تر یوې اندازې په محکمو کې د پرېکړو له ځنډېدو سره تړلې ده. دا چې د ځمکې شخړې هومره عامې دي، هغه محکمې چې موضوعه حقوق کاروي د دعواوو د ثبت ډېر لوی دفتر لري. دا په دې معنی دي چې د ملکیت په شمول د هر ډول دعوا په اړه پرېکړه ځنډېږي.دا ځنډ د دعوا لوري دې ته هڅوي چې د عرفي حقوقو په مرسته خپله شخړه حل کاندي. د عرفي حقوقو د غوراوي بل دلیل دادی چې هغه لږ لګښت لري. همدارنګه، هغه زیاتو وګړو ته د لاس رسي وړ دي، ځکه چې د محکمو رسمي سیستم مرکز په کابل کې دی. له کابل څخه بیرون ډېر خلک کابل ته د تګ امکانات او د محکمې په هکله اړین معلومات نه لري. ددې په ځای، خلک غوره ګڼي د عرفي حقوقو له میتود لکه جرګې څخه کار واخلي. ځایي مخور چې په جرګه کې مشرتوب کوي فاکتونو ته نژدې دي، د دعوا لوري او د هغوی کورنۍ پېژني او پر دې باندې هم پوهېږي چې په پخوا کې له اړونده ځمکې څخه څرنګه کار اخیستل کېده.

### ۲.۳ د شکایت وړاندې کول

د حقوقو د منبع له غوره کولو وروسته، تاسو خپله دعوا یا رسمی یا نارسمي سیستم ته وړاندې کوی. د سیستم په غوره کولو سره، تاسو د قواعدو او بهیرونو سبت هم غوره کوی چې تاسو وروستی نتیجې ته رهنمایی کوي. خو لکه چې تاسو ولیدل، ددې سیستمونو ترمنځ د بېلتون کرښه همېش څرګنده نه وي.

### ۲.۳.۱ موضوعه حقوق

که چېرې تاسو په رسمي سيستم کې دعوا اقامه کړئ، تاسو به کار د عدليې په وزارت کې دې **حقوقو** څانګې ته په عريضې سره پيل کوئ. ستاسو په عريضه کې به ستاسو د شکايت او د شخړه ايزې ځمکې په هکله لنډ معلومات ليکل کېږي. حقوق بيا په دې اړه پوليسو ادارې ته مکتوب استوی تر څو مدعي عليه ته د شکايت او د هغو د مسووليت په اړه خبر ورکړي. وروسته بيا حقوق تاسو او ستاسو مخالف لوری را غواړي تر څو ستونزه په منځګړيتوب سره د جرګې له لارې حل او فصل کړئ. دا د حل يوه لاره ده چې په رسمی او نارسمي سيستم کې کارول کېږي. خو که تاسو او مخالف لوری دا لاره غوره نه کړي، ستاسو دعوا محاکماتي سيستم ته استول کېږي. په زياترو مواردو کې، دا به د ښار يا ناحيې محکمه وي.

### ۲.۳.۲ عرفي حقوق

که چېرې تاسو پرېکړه وکړئ چې خپله شخړه د عرفي حقوقو پواسطه حل کړئ، پدې کې ډېر ميکانيزمونه رول لري. دا ميکانيزمونه عبارت دي له شورا او جرګې څخه چې مخکې د عرفي حقوقو په بحث کې ورته اشاره وشوه. خو ددې خبرې يادول مهم دي چې د نارسمي ميکانيزمونو نور ډېر ډولونه هم شتون لري. په عمومي توګه، په دې ډول ميکانيزمونو کې د ځايي ټولنو مخور مشترتوب کوي. دا مخور په دې جرګو کې غړيتوب لري ځکه چې هغوی د اړونده شخړو د حل لپاره لازمه پوهه لري. هغوی انتخاب يا انتصابيږي نه. که شخړه دې دوو کليو تر منځ وي په دې صورت کی بيا د هر کلي څخه نيمايي غړي ټاکل کېږي. د غړو شمېراو څرنګوالي د موضوع د پيچلتيا سره تړاو لري.

### ۲.۴ د موضوع بهير

### ۲.۳.۱ موضوعه حقوق

وروسته له هغه چې ستاسو موضوع د محاکماتي سيستم يا سيستمته ولاړه، د محکمې رئيس ستاسو قضيه مطالعه کوي او بيا درې قاضيان ټاکي چې پر موضوع باندې غور وکړئ او په دې توګه د اورېدنې د لومړی غونډې نېټه ټاکي. همدارنګه دوی دې غونډې له بهير څخه هم څارنه کوي.
د غونډې بهير د مدعي په توګه له تاسو څخه پيلېږي او خپله وينا کوی. يوازې د غونډې رئيس قاضي حق لري له تاسو څخه پوښتنه وکړي مګر داچې نوموړی د قضايه هئيت غړو ته اجازه ورکړي. وروسته بيا مقابل لوری (مدعي عليه) هم خپله وينا اوروي. دواړه کولای شی چې د خپلو ادعاوو د ثبوت لپاره شواهد وړاندې کړي. له دې بهير وروسته، قاضيان پرېکړه کوي. داچې په قضائيه هئيت کې درې قاضيان وي، نو پرېکړې هم يا د رايو په اکثريت او يا هم د رايو په اتفاق سره کېږي. که چېرې د اقليت کوم نظر موجود وي نو هغه د پرېکړې سره ضميمه کېږي او د محکمې په آرشيف کې ساتل کېږي. دا همدارنګه اړونده لوري ته هم استول کېږی.

### ۲.۴.۲ عرفي حقوق

د عرفي حقوقو په چوکات کې د شخړو د حل او فصل لپاره بنسټيز شوی ميتود جرګه ده. دا پرانيستي مجمع د خلکو يوې ډلې ته اجازه ورکوي داسې يوه پرېکړه وکړي چې په شخړه کې د راښکېلو خواوو لپاره حتمي وي. په بل عبارت، په جرګه کې د غړو ترمنځ د نظر يووالی د شخړې پايله ټاکي. کله چې دوی پرېکړه کوي، په جرګه يا شورا کې رياست کوونکي مخور کوښښ کوي داسې نتيجې ته ورسېږي چې د دواړو لورو لپاره د منلو وړ وی. هغوی د کورنی او ځايي

تولني د عزت د ایدیا په طرح کولو سره د جوړجاړي هڅه کوي. دوی همداشاني د نرخ موضوع  هم طرح کوي چې د تاکلو اشتباهاتو د ضررد جبران لپاره قبایلي دود دی. په پای کې جرګه تصمیم نیسي چې د پرېکړې په نوم یادېږي. وروسته بیا دواړه خواوې کولای شي هوکړه لیک لاس لیک کړي. په دې سند کې د جرګې له خوا وضع شوي شرایط بیانېږي او کېدای شي محکمې ته د رسمي ثبت په موخه وړاندې شي. دا دې شخړې د حل په موخه درسمي او نارسمي لاري بل سیستم دی.

## ۲.۵ د پریکړې استیناف غوښتنه

### ۲.۵.۱ دولتی حقوق

د لومړی اورېدنې په پای کې، تاسو او یا مدعي علیه د استیناف محکمې ته په عریضه کولو سره کولای شی له پرېکړې سره مخالفت وکړي. همدارنګه د شخړې هر لوري د ابتدائیه محکمې د پرېکړې د نه عملي کېدو له امله استیناف غوښتنه وکړي. که چیرې لوړه محکمه عریضه مهمه او د باور وړ تشخیص کړي، بیا نو قضیه منل کېږي. له دې وروسته بیا هغه له لاندنی  محکمې څخه غواړي  چې ټول اړونده سندونه ور واستوي او بهیر له سره پیلېږي. بیا هم، د قضایئه هیئت دری قاضیان د قضیې د څېړلو لپاره ټاکل کېږي. دا قاضیان له استیناف غوښتونکی څخه د زیاتو معلوماتو غوښتنه کوي چې په لنډ ډول یې باید وړاندې کړي.

په دې سطح اورېدنه نژدې کټ مټ د مخکني یاد شوي بهیر په شان ده. دواړه لورو ته د ویناوو اجازه ورکول کېږي. خو تر دې د مخه، یو قاضي په دې هکله راپور لولي چې دې استیناف غوښتنې دا عریضه د کومو دلایلو له مخې منل شوې. کله چې دا برخه پای ته ورسېږي، قضائیه هیت لکه چې مخکې یاونه وشوه نتیجه اعلانوي.  دا محکمه یا کولای د کښته محکمې پرېکړه تائید یا یې د بیا کتنې او استدلال لپاره مخکنی محکمې ته واستوي او یا د هغو دا پرېکړه بې اعتباره کړي. که چیرې هغه د کښته محکمې پرېکړه لغو کړي، نو دا پرېکړه وروستی او نور د استیناف وړ نه ده. په دې حالت کې، محکمه حکم صادروي چې په کې د محکمې د جریان تفصیل لکه د رد دلایل، قانوني مستندات او وروستی پرېکړه ذکر کېږي. که چېرې د استیناف محکمه استیناف غوښتنه رد کړي، په دې صورت کې پرېکړه سترې محکمې ته وړاندې کېدای شي. که چېرې ستره محکمه د استیناف غوښتنه رد کړي، ددې قضیې بیا پیلول ناشوني کوي.

### ۲.۵.۲ عرفي حقوق

که چېرې  د شخړې له خواوو څخه یوه یې د جرګې د پرېکړې سره موافقه و نه لري، په دې صورت کې هغه (سړی یا ښځه) د جرګې له دایرې څخه وزي تر څو د پرېکړې الزامیت پرې رانشي. خو په دې اړه د خوندیتوب لاره شته تر څو له دې کار څخه د شخړې خواوو مخنیوی وکړي. د جرګې له پیل د مخه، منځګړي له دواړو خواوو څخه د قضیې د ارزښت په اندازه  نغده برمته اخلي که یو لوری د جرګې د پرېښودلو پرېکړه وکړي اویا د هغو له پرېکړوڅخه سرغړونه وکړي، دا پیسې بېرته نه ورکول کېږي.

که چېرې یو لوری د جرګې د پرېکړو سره موافقه و نه لري، بله چاره نه لري پرته له دې چې د جرګې له دایرې ووزي او له هغو پیسو تېر شي چې په پیل کې یی د برمتې په توګه ورکړې دي. په رسمي سیستم کې د استیناف غوښتنې د بهیر په شان، هغه (سړی یا ښځه) ددې غوښتنه کولاي شي چې بله جرګه دې د هغو پر پرېکړو باندې بیا کتنه وکړي.  که چیرته بیا هم نومړی ددې جرګې له پرېکړې خوښ نه وي، هغه کولای شي د وروستی کتنې چې تخم ورته وایی ، غوښتنه وکړي. که بیا هم هغه ددې وروستی جرګې پرېکړه و نه مني، بیا نو د قبایلی دود له مخې جریمه کېږي.

## ۲.۶ موردي مطالعه

په وروستی برخه کې موږ د نارسمي سیستم په هکله یو عمومي انځور وړاندې کوو. په دې برخه کې، موږ په عملي مثالونو سره د ځینو ځانګړو میکانیزمونو په هکله معلومات وړاندې کوو. د لوستلو په مهال په یاد ولرئ  هغه میکانیزمونه

چي دلته پرې بحث کېږي بشپړ لیست نه دی. د هر یو په لوستلو سره وګورئ چي څرنګه رسمي او نارسمي سیستمونه یو د بل سره سر خوري. هره موردي مطالعه په افغانستان کي د یوې واقعي شخړې څخه را اخیستل شوې ده.

### ۲.۶.۱ شورا او محکمې

یوه پېښه په قره باغ کي د دوو ورونو ترمنځ له پلار نه دوی ته په میراث پاته شوې د ځمکي په سر شخړه ده. که څه هم چي دا موضوع هلته لومړي ابتدائیه محکمې ته وړاندې شوې وه، خو وروسته بیا د ولسوالي شورا ته راجع شوه. محکمې څکه دا پرېکړه وکړه چي د ولسوالي شورا د موضوع په هکله ځانګړي او زیات معلومات لري. له هغه ځایه موضوع د کلي شورا ته و لېږدول شوه. وروسته له هغه چي د کلي شورا څلورو مخورو ځمکه ووېشله، هغوی دا پرېکړه بېرته ولسوالي شورا ته د تائید لپاره ولېږله . بالآخره د ځمکي د وېش په هکله د هغوی پرېکړه د دواړو ورونو له خوا ومنل شوه.[105]

دا قضیه د رسمي او نا رسمي سیستمونو همپالنه یا همګرایي ښیي. دلته، د دواړو سیستمونو کارول پرېکړې ته زیات مشروعیت ورکړ او د موضوع په هکله یې هغو کسانو ته هم ونډه ورکړه چي زیات معلومات یې درلودل . د ولسوالي شورا، کلیوالي شورا ته د قضیې په لېږلو سره ، هغو کسانو ته زمینه برابره کړه چي د موضوع په اړه د واقعیتونو په رڼا کي پرېکړه وکړي. خو ولسوالي شورا ته په بېرته لېږلو سره، کلیوالي شورا پر هغو باندې لا زیات ټولنیز فشار راوړ تر څو هغه ومني. د ولسوالي شورا تائید، پرېکړې ته لا نور قوت هم ورکړ. د یادولو وړ ده چي د بهیر اوږدېدل د قضیې د حل منفي اړخ په ګوته کوي. په دې قضیه کي، د شخړې حل نژدې یو کال وخت ونیو.

### ۲.۶.۲ جرګه او محکمې

لاندې موردي مطالعه د تقنین بین المللي بنسټ له خوا راپور شوې ده او د ناروې د کډوالو شورا له خوا مستنده شوې ده. " نژدې سل کاله کېږي چي په لغمان کي د دوو کلیو اوسېدونکي له هغه سړک څخه ګټه اخلي چي د یوه کلي اوسېدونکو ادعا کوي چي هغوی دا سړک د دولت له لوري په استملاک شوې ځمکه باندې جوړ کړی دی. د کمونستانو خلاف د جهاد په دوران کي د کلي خلک د مجاهدینو د دوو مختلفو ډلو سره یو ځای شول او په ۱۹۹۲ ز کال کي د اړونده یوه کلي زیاتی اوسېدونکي پاکستان ته کډه شول. په بل کلي کي پاته شوو خلکو سړک بند کړ. دې شخړې ۱۲ کاله دوام وکړ. د شخړې د حل لپاره د محکمې له خوا دوه ځلي هڅې ناکامې شوې او همدارنګه دوو جرګو هم و نه شو کړای چي د دواړو خواوو لپاره د منلو وړ پرېکړه وکړي. بالآخره، په ۲۰۰۴ ز کال کي د ناروې د کډوالو حقوقي شورا او په جلال آباد کي د حقوقي مرستو مرکز سلاکارانو په موضوع کي مداخله وکړه. حقوقي سلاکارانو د دواړو ډلو له کلیوالو څخه اظهارات یا څرګندوني واخیستي، د ولسوال، پولیسو او نورو رسمي مامورینو سره یې وکتل. مخکي تر دې چي د شخړې دواړه لوري د بلې جرګې د جوړېدو سره موافقه وکړي، دې کار ډېر وخت ونیو. د شخړې یوه لوري د مخکني شرط په توګه ددې غوښتنه کوله چي د بل لوري هغه کسان دې و ایستل شي چي د ځایي یو قوماندان سره تړاو لري او همدارنګه یې د ځیني نورو امتیازاتو د تضمین غوښتنه هم کوله. تر جرګې د مخه د دې ډول مخکنیو شرطونو وړاندې کول ډېر عام دي. سره ددې هم جرګه جوړه شوه او پرېکړه وشوه چي دواړه کلي سړک ته د لاس رسي حق لري."

په پای کي دا قضیه په مثبتې نتیجې سره پای ته ورسېده – دواړو لورو په تدریجي ډول د جرګې د جوړېدو سره موافقه وکړه او د هغو د پرېکړې یې ومنلې. خو دا مطالعه د جرګې پواسطه د شخړې د حل یوه نیمګړتیا هم په ګوته کوي: هغه د رضایت موضوع ده. آن د جرګې د جوړېدو لپاره هم دواړه لوري باید رضایت ولري. لکه چي په پاسني قضیه کي وښودل شوه، که چېرې د شخړې لوري د جوړجاړي یا د شخړې د حل او فصل اراده و نه لري، دا کار د ستونزې او د وخت د اوږدېدو سبب کېږي. آن که دواړه لوری د کتنې سره موافقه هم وکړي ددې امکان شته چي د کار نتیجه به دې دواړو لورو لپاره د منلو وړ نه وي او لکه چي له دې قضیې څخه معلومېږي داسي چلند کېدای شي شخړه د کلونو لپاره اوږده کړي. دا چي د جرګې د پرېکړو د پلي کېدو لپاره رسمي میکانیزم نشته د شخړې هر لوری کولای شي د هغو له حکم څخه سر و غړوي.

---

105 http://www.usip.org/sites/default/files/sr285.pdf

### ۲.۷ معياري كول (ستاندارد كول)

لكه چې تاسو وليدل د شخړو د حل لپاره د عرفي حقوقو كارول په افغان كلتور كې ژورې ريښې لري. په دې توګه، عرفي حقوق او موضوعه حقوق يو د بل سره ډېر نغښتي دي. زياتې بهرني سازمانونه ددې سيستم د ليرې كولو سپارښتنه نه كوي. ددې خلاف، هغوی سپارښتنه كوي چې د محاكماتي سيستم د پياوړي كېدو لپاره له هغو څخه ګټه پورته شي. دې مقصد ته د رسېدلو لپاره، داسې سازمانونه لكه د امريكې د متحده ايالاتو د سولې انستيتوت (USIP) د منځكړيتوب په سيستمومونو لكه شوراګانو او جرګو كې د مدني قضيو د غور د اجازه وركولو سپارښتنه كوي. د " عرفي سيستم منصفانه چلند د اړونده لورو ترمنځ تضاد او پر محكمو باندې بار راكموي. دا همدارنګه په رسمي سيستم كې د قضيو د غور او اواري وخت هم راكموي.

### ۲.۸ نتيجه

په دې څپركي كې د افغانستان قانوني چارچوب وړاندې شو. لومړی، موږ د ملكيت د حقوقو منابع تعريف كړل: دولتي، شرعي، او عرفي. كه څه هم په افغانستان كې د ملكيت اړوند شخړو د حل لپاره موضوعه حقوق تر ټولو مهمه منبع نه ده ، خو موږ واضح كړه چې دا درسي كتاب په موضوعه حقوقو باندې تمركز لري. دويم، موږ د مراتبو پر سلسلې باندې بحث وكړ. د مراتبو سلسله دا په ګوته كوي چې حقوق پر نورو باندې لومړيتوب پيدا كوي. په ځانګړي ډول د قطع كېدونكو منابعو د مراتبو سلسلې او په عين منابعو كې د توپير له مخې د مراتبو سلسلې ته اشاره وشوه . دريم، موږ د هغو ادارو په هكله معلومات وړاندې كړل چې دولتي قوانين پلي كوي: محكمې او دولتي ادارې. بلآخره، موږ د شخړو د اواري په هكله معلومات وړاندې كړل. له عملي اړخه، ښايي دا بحث په افغانستان كې د ملكيت اړوند شخړو په اړوند تر ټولو مهم ميكانيزم وي. موږ د دولتی او عرفي حقوقو له مخې د شخړو د حل او فصل لارې چارې ، د منابعو انتخاب ، د دعوا پيل، او استيناف غوښتنې موضوعګانو په هكله هم معلومات وړاندې شول. وروسې مو دا نظريات د موردي مطالعاتو په وړاندې كولو سره له عملي اړخه هم مطالعه كړل. مهمه دا چې موږ د عرفی حقوقو او موضوعه حقوقو ترمنځ د تعامل څرنګوالی هم وښود – چې كله په توافق او كله هم يو د بل سره په مخالفت كې قرار مومي.

## درېيم څپرکی: مالکيت

**سريزه**

په لومړي څپرکي کې تاسو وپوهېدی چې " ملکيت" څه ته وايي. اوس پوښتنه په دې کې ده : خلک د خپلو ملکيتونو سره څه کوي؟ ددې لپاره چې تاسو خپل ملکيت وکاروی، تاسو ته ښايي چې هغه خپل کړئ. د ځمکې د يوې ټوټې "خپلول" په څه معنی دي؟ دا د غوره پوښتنې په توګه معلومېږي، خو بيا هم د يوې دقيقې لپاره په دې هکله فکر وکړئ. ښايي ستاسو ځواب د نورو محصلينو له ځواب څخه توپير ولري. دا ځواب کېدای شي آن د نورو هېوادونو د محصلينو له ځوابونو څخه هم توپير ولري. هر هېواد او ټولنه ددې په هکله چې څوک ملکيت يا مال درلودلای شي او دا مالکين د خپل مال سره څه کولای شي، يو لړ خپل قواعد رامنځ ته کوي. د نورو زيات شمېر هېوادونو په شان په افغانستان کې دا ډول قواعد مقننه قوه جوړوي او دا قواعد د افغانستان د قوانينو په زياتو برخو کې درج دي.

د افغانستان مدني قانون ۱۹۰۰مالکيت داسې تعريفوی: " مالکيت داسې حق دی چې د هغو په مقتضا شی د شخص د ارادې او تسلط لاندې واقع کېږي. يوازې مالک کولای شي چې د قانون د حکمونو په حدودو کې د هغو استعمال، ګټه اخيستل او هر نوع مالکانه تصرف ته اقدام وکړي. " دا تعريف يو څه پېچلی دی. په دې تعريف کې ياد شوی "حق" د چا له خوا ورکول کېږي؟ آيا د ځمکې د هر ډول کارولو حق هر څوک ترلاسه کولای شي؟ د مدني قانون د ډېرو حکمونو په شان، دا به ښه وي چې دا حکمونه د آسانه پوهېدنې په مقصد پر څو برخو باندې ووېشو . د مدني قانون د ياد شوو حکمونو څخه کومې برخې مهمې دي؟ لومړی دا چې د مالکيت حق يو قانوني حق دی، داسې چې زياتره وختونه په اسلامي حقوقو کې هغه د مالي حق په نوم هم يادېږي. د مدني قانون د ياد شوې مادې دويم مهم عنصر دادی چې مالکيت د مالک او د ملکيت ترمنځ اړيکو په توګه تعريفيږي. دا په دې معنی دي چې مالک پر ملکيت باندې کنټرول لري او د هغو د مال مالکيت به د مال په اړه د مالک په توګه د هغو له واقعي رابطې پرته بې معنی وي. او درېيم داچې دا مالک پر خپل مال باندې د قانون په حدودو کې کنټرول لري.دا په دې معنی دي کله چې دا معلومه شی يو څوک د مال د يوې برخې مالک دی، نوموړی په قانوني چوکاټ کې خپل مال په هر ډول کارولای شي. دا د کنټرول يو ډول دی، داسې اړيکه چې د ځينو له نظره د مالک "تر ارادې او سلطې_لاندې" د ځمکې اېښودل دی.

د افغانستان د اساسي قانون ۴۰ ماده وايي: " ... هېڅوک د ملکيت د ترلاسه کولو او په هغه کې د تصرف کولو څخه نه منع کېږي، مګر د قانون په حدودو کې." د ملکيت تر لاسه کول خوندي دي. او د حکومت له لوري د ملکيت استملاک د واکمنې محکمې په حکم د "عامه " ګټو لپاره او " مخکنې او عادلانه بدل په ورکولو" اجازه لري. دا رک او روغ ښکاري، خو په اړه يې ځينې محدوديتونه هم شته. د مثال په توګه، د اساسي قانون په ۴۱ ماده کې داسې راغلي دي: " بهرني اشخاص په افغانستان کې د عقاري مالونو د ملکيت حق نه لري." خو په عام ډول، افغان وګړي په افغانستان کې د ملکيت د ترلاسه کولو او خپلولو حق لري.

يو څوک د خپل مال سره چې مالک يې دی څه کولای شي؟ د ځينو پوهانو له نظره د مال مالکيت تعريف داسې دی چې د مال خپلول يا مالکيت د څو څانګو يوې ټولګې ته ورته دی. داسې فکر وکړئ چې تاسو څو څانګې لرئ. هېڅوک دا نه وايي چې هغه ستاسو نه دي، او داچې هر څه چې غواړئ د هغو سره يې کولای شئ.ددې څانګو هره يوه د ځمکې د کارلو يو حق تمثيلوي. يوه څانګه کېدای شي "کرنه" وي او تاسو اړونده ځمکه د کښت لپاره کارولای شئ. بله څانګه بيا کېدای شي چې په "اجاره" ورکولو باندې دلالت وکړي. اجاره دې ته وايي چې تاسو د ځمکې مالک ياستئ او تاسو هغه د يوې ټاکلې وجهې په مقابل کې بل چاته د کارولو لپاره ورکوی. د مثال په توګه، تاسو ځمکه لرئ ، خو تاسو هغه د تره زوی ته د پيسو په مقابل کې په مياشتنۍ اجاره ورکوی. خو که چېرې تاسو پرېکړه وکړئ چې له ځمکې څخه د ګټې اخيستنې غوره لار بل چاته د هغې په اجاره ورکول دي، نو تاسو ددې حق لری چې د ګټې اخيستنې لپاره هغه بل چاته په اجاره ورکړئ.

د هغو څانګو تر څنګ چې پرې د ټاکلو حقوقو نومونه ليکل شوي، داسې څانګې هم شته چې پرې مکلفيتونه هم ليکل شوی. يو له هغو نه " د مقرراتو رعايت" په نوم دی. دا په دې معنی دي چې تاسو چې هر څه د خپلې ځمکې سره کوی، تاسو بايد د هغو د کارولو په اړه قانون مراعات کړی. د افغانستان د مدني قانون ۱۹۲۲ ماده وايي که چېرې تاسو د

ګاونډي سره شريک ديوال لرى تاسو د هغو له موافقې پرته ديوال لوړولاى نشى. ستاسو په لاس کې بله ځانګه کې ليکل شوي"د ګاونډي په وړاندې مکلفيت" په عمومي ډول، تاسو خپله ځمکه په داسې ډول نشى کارولاى چې ګاونډي ته ضرروروسوي. د مدني قانون ډېرې مادې دي دا ډول چلند غوښتنه کوي. د مثال په توګه، د مدني قانون په ۱۹۱۷ ماده کې راغلي دي چې تاسو نشى کولاى د خپلې ځمکې د اوبو کولو لپاره له ويالې څخه دومره زياته ګټه واخلی چې کښته ځمکې والو ته اوبه کمې شي. دې دا ډول دندو او مکلفيتونو په هکله معلومات په تفصيل سره ددې کتاب په وروستيو برخو کې وړاندې کېږي.

په دې څپرکي کې به تاسو د مالکيت د مسووليتونو او ښېګڼو په هکله معلومات تر لاسه کړي. که څه هم کېداى شي تاسو د مالکيت مختلف ډولونو ولرى ( نه يوازې ځمکه او ودانى)، دا څپرکى د ځمکې پر مالکيت او د هغو پر مدېريت باندې تمرکزکوي. لومړى، موږ د مالکيت له مختلفو ډولونو څخه يادونه کوو چې کوم خلک او ولې ځمکه خپلولاى شي، او د مالکيت مختلف ډولونه د يوې ټوټې ځمکې درلودونکي ته په څه معنى دى. وروسې، په څپرکي کې د قبالې څرنګوالى راځي. قباله د حکومت او د هغو د وګړو لپاره داسې يوه چاره ده چې له مخې يې ځمکه په رسمي توګه ثبتېږي او دا په ګوته کېږي چې څوک د کومې ځمکې مالک دى او په دې توګه  هر مالک د خپلې ځمکې په کارولو کې خونديز وي. له هغه وروسته بيا تاسو د **ګروي او وثيقه جوړونې** په هکله معلومات  تر لاسه کوى . دا هغه څه دي چې تاسو د هغو له لارې د خپلې ځمکې ارزښت د پانګونې او بهبود لپاره په کارېدونکو پيسو اړوئ . په همدې برخه کې به تاسو د نورو هغو لارو چارو په هکله هم معلومات تر لاسه کړئ چې د ارزښت د توليد لپاره خپله ځمکه وکاروئ.  او څپرکي په افغانستان کې د ملکيت د حقوقو د راتلونکي په هکله او دا چې په څپرکي کې بحث شوي مسووليتونه او دندې په څه ډول د مال پر افغاني مالکانو باندې اغېز ښندي،  په بحث سره پاى ته رسېږي.

۱. تاسوته د ملکيت خپلول په څه معنى دي؟ آيا د مال د مالکيت وړتيا مهمه ده؟ آيا په بنډل کې کومه ځانګړې ځانګه شته ستاسو له نظره له نورو څخه ډېره مهمه ده؟ که داسې وي، ولې؟

۲. په اوسنى امريکا کې د اصلي اوسېدونکو ځينې ځايي ټولنو له ډېرو هېوادونو څخه په توپير خپلې ځمکنى چارې په بله طريقه سمبالولې. ددې په ځاى چې ځمکه يوه ټاکلي شخص خپله کړي، دې ټولنو " ګډه ځمکه" درلوده چې هر چا له هغو څخه ګټه اخيستلاى شوه په داسې ډول چې د يوه شخص له لوري له ځمکې څخه ګټه اخيستلو د نورو له خوا له ځمکې څخه د ګټې اخيستلو په لاره کې د پرابلم د رامنځ ته کېدو سبب نه کېده. د مثال په توګه، که چېرې تاسو غوښتل چې غنم وکرئ، ستاسو ګاونډي نشو کولاى ستاسو د غنمو حاصل راټول کړى؛ خو هغه کولاى شول له تاسو وروسته پر هغې ځمکې باندې غنم وکري. ستاسو له نظره آيا دا د ملکيت د مدېريت ښه سيستم دى؟ ولې؟ يا و لې نه؟ له عملي اړخه ، څه فکر کوى آيا په افغانستان کې د خلکو له خوا د ځمکې کارول دې امريکايي بومي سيستم ته ورته والى نه لري؟

**۱. د مالکيت ډولونه**

په افغانستان کې د مال د مالکيت چارې د بېلابېلو منابعو له لارې سمبالېږي. لومړى منبع د افغانستان د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون دى. دا اساسي قانون ځمکې درلودونکو لپاره ډېر عام ملاتړ وړاندې کوي لکه چې ۴۰ ماده افغان وګړو ته د مال د خپلولو په برخه کې عام حقونه ورکوي. وروسې د ۱۹۷۷ کال مدني قانون دي چې اوس هم د ډېرى قاضيانو له نظره په دې اړه ټاکونکى رول لري. همدارنګه د ۲۰۰۷ تګلاره هم شته چې د نورو منابعو ترمنځ د تداخل ځينې برخې په ګوته کوي او د ځايي ټولنو د مالکيت بنسټيز کېدل چې لاندې پرې بحث شوى، په رسميت پېژني. او وروستى منبع د ۲۰۰۸ کال د ځمکوالى د چارود تنظيم قانون دى چې د ځانګړو ځمکو د کارولو ځينې تخنيکي تفصيلات وړاندې کوي او د ځمکې د وېشلو نوى سيستم تر بحث لاندې نيسي. ددې قوانينو ددې منابعو ترمنځ تړاو پېچلى دى او ډېر خلک ډاډه نه دي چې په ټاکلو حالاتو کې له کوم قانون څخه کار واخلي. په هرصورت، د ياد شوو قوانينو څخه يې هر يو د مالکيت مختلف ډولونه تر بحث لاندې نيسي.

**۱.۱ خصوي مالکيت**

د نړى د زياترو هېوادونو په شان، په افغانستان کې د مال مالکيت د مالکيت په مختلفو ډولونو وېشل کېږي. لومړى کتګورى خصوصي مالکيت دى، د ځمکوالى د چارود تنظيم قانون ۳ (۷) ماده کې خصوصي ځمکه" د ځمکې  هغې قطعه

یا قطعات دي چې د قانون د حکمونو مطابق د حقیقي یا حکمي غیر دولتي اشخاصو په ملکیت کې قرار ولري " تعریف شوی دی. په خصوصي مالکیت کې، د ځمکې یوه ټوټه د یوه شخص له خوا خپلیږي او د هغو د کارولو د څرنګوالي د پریکړې واک هم لري. د مثال په توګه، فکر وکړئ چې عبدل ۱۵ جریبه( په افغانستان د ځمکې د اندازې واحد چې د ۲ هکتارو سره برابر دی) ځمکه لري. هیڅوک دده دا مالکیت ننګولای نشي او ۱۰ کاله کیږي چې نوموړی دا ځمکه د خپل کور او کرنې لپاره کاروي. هغه کولای شی دا ځمکه خرڅه، په ګرو ورکړي یا د ټاکلې بیې له مخې له هغو څخه د تیرېد لپاره ورکړي ( دا بحث د ارتفاق د حق تر نوم لاندې ددې څپرکي په ۴ برخه کې وړاندې کیږي)او یا داچې د خپل کور د پراخېدو لپاره يې وکاروي. دې ځمکې د مالک په توګه دا ټول د هغه حقونه دي یا لکه چې په سریزه کې یې یادونه وشوه، د مالکیت د حقونو په اړونده بنډل کې بېلابېلې ځانګې دي. ځمکه د هغو ده او نوموړی د خپلې خوښې هر کار د هغو سره کولای شي، مګر دا چې دده کړوه وړه د قانون خلاف وی. د مثال په توګه، هغه نشي کولای پر خپله ځمکه باندې داسې فابریکه جوړه کړي چې د مدني قانون د ۱۹۳۲ مادې له مخې نورو ګاونډیانو ته ضرروورسوي. په عمومي توګه، خصوصي مالک د خپلې ځمکې سره هر کار کولی شي مګر داچې هغه دا ځمکه د قانون خلاف وکاروي.

**۱.۲ په اجاره ورکول او ګډه کرنه**

د خپلې خمکې د کارولو یوه لاره یو بل شخص یا څو کسانو ته د هغې په اجاره ورکول دي. د مثال په توګه، فکر وکړی چې عبدل ۳۰ جریبه ځمکه لري، خو دی د ځمکې یوازې ۱۵ جریبو ته اړتیا لري. خو آصف، هیڅ ځمکه نه لري او د ۱۵ جریبه ځمکې د اجارې لپاره پیسې لري. عبدل آصف ته ځمکه په اجاره ورکولای شي. دا په دې معنی دي چې عبدل او آصف په دې سره سلا شوی چې د ټاکلې وخت لپاره آصف د قانون په حدودو کې د عبدل له ځمکې څخه څرنګه چې غواړي ګټه واخلي په دې توګه د اجارې د شرطونو په هکله دواړه هوکړې ته رسیږي.

په دې معامله کې داسې اړیکه رامنځ ته کیږي چې یکې عبدل ته د ځمکې مالک او آصف ته اجاره اخیستونکی ویل کیږي. که بل ډول دا معامله توضیح شي نو عبدل ته اجاره ورکوونکی یا موجر ( هغه شخص چې ځمکه لري او په اجاره یې ورکوی)، او آصف ته اجاره اخیستونکی ( هغه شخص چې ځمکه د هغو له مالک څخه په اجاره نیسي) ویل کیږي. دا په دې معنی دي چې ځمکه په عبدل پورې اړه لري او آصف هغه په اجاره نیسي او دواړو هوکړه کړې چې آصف د ټاکلي نرخ له مخې عبدل ته پیسې ورکوي. په اسلامي حقوقو کې، اجاره معمولاً په اصطلاح د ګټې اخیستلو حق ته ویل کیږي. دا په دې معنی دي چې اجاره کوونکی د زیاتو مقاصدو شي لکه کښت یا هستوګنځي لپاره کارولای شي خو بیا هم اجاره ورکوونکی د ځمکې د مالکیت اساسي حق لکه د هغو د پلورلو حق له ځان سره لري. مخکې تر دې چې بحث ته دوام ورکړو تاسو د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالی د چارود تنظیم قانون لاندې ۵۹ او ۶۰ مادې ولولئ.

**د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالی د چارود تنظیم قانون**

**۵۹ ماده:**

(۱) دولتي او شخصي ځمکه د اجاره ورکوونکي او اجاره اخستونکي ترمنځ د لیکلي عقد پر بنسټ، د قانون د حکمونو مطابق، په اجاره ورکول کیږي.

(۲) د عقد اړخونه باید د حقوقي اهلیت او قانوني واک لرونکي وي.

**۶۰ ماده**

اجازه لیک لاندې مطالب لري:

۱. د اجازه ورکوونکي، او اجاره اخیستونکي او شاهدانو شهرت

۲. تر اجارې لاندې ځمکې د قطعې یا قطعاتو د مشخصاتو بیانول

۳. د عقد د اړخونو د مکلفیتونو څرګندول

۴. له موعد او د هغې د ورکړې له څرنګوالي سره د اجارې د مودې، د حق الاجارې د اندازې تثبيتول

۵. د عقد د فسخ حالات.

په دې مادو کې موږ ګورو د هغه  چا لپاره چې غواړي خپله ځمکه نورو ته په اجاره ورکړي، تاکلي غوښتنې پرتې دي. په افغانستان کې د ملکيت کارو باريان د عدليې وزارت سره ثبت دی او ددې کار لپاره بايد معياري يا سټاندارد تړونونه چې ټول ياد شوې معلومات ولري، وکاروی . په ۶۰(۳) ماده کې موږ د " د عقد د اړخونو د مکلفيتونو څرګندول" ګورو. ددې موضوع د توضيح بله لاره داده چې هر شخص بايد د اجارې په اړه د موافقتنامې له محتوا څخه خبر وي. د اجارې په موافقتنامه کې بايد د اجارې شرطونه ذکر شوي وي. شرطونه د اجارې نه بېلېدونکې برخه ده. د مثال په توګه، فرض کړو چې د عبدل ۳۰ جريبه ځمکه په ننګرهار کې موقعيت لري او ځمکه هم د کښت وړ ده. عبدل آصف ته د ۳ کلونو مودې لپاره د مياشتې ۵۰۰۰۰ افغانيو په مقابل کې د خپلې ځمکې د اجاره ورکولو سره موافقه لري. خو د اجارې د شرط په توګه، عبدل اجازه نه ورکوي چې آصف دا ځمکه د وزو د څرلو لپاره وکاروي. هغه غواړي چې د ځمکې کيفيت وساتل شي او په دې باور دی چې په ځمکه کې د وزو اوږد مهاله څرل د هغو د کښت کيفيت راټيټوي. آصف، د غنمو او سابو کروندګر، د عبدل د شرطونو سره موافقه کوي او د عبدل ځمکه په اجاره اخلي. آصف بايد هر کال توافق شوی مبلغ عبدل ته ورکړي. په دې ترڅ کې، دواړه لوري يعنې عبدل او آصف بايد د اجارې د توافقنامې شرطونه مراعات کړي . که چېرې آصف په منظم ډول عبدل ته د اجارې پيسې ورکړي نو نوموړی  به آصف دې ته اړ نه کړي  چې ځمکه پرېږدي.

د اجارې د دويم کال په پيل کې يوه ورځ، آصف ددې وس پيدا کړ چې په ډېره ښه بيه څلور وزې رانيسي. نوموړی د وزو د اخيستلو پرېکړه کوي او وزې له عبدل څخه په اجاره اخيستې ځمکې ته راولي. له دې وروسته نوموړی بې له ځنډه د عبدل کور ته ورځي او د هغو سره په دې هکله خبرې کوي چې په اجاره شوې ځمکه د وزو د څرلو حق لري. ستاسو له نظره په دې حالت کې به څه پېښ شي؟ د اجارې په اړه د هر يوه حقوق څه دي؟ له دې څخه څو نتيجې تر لاسه کېدای شي. يوه نتيجه داچې عبدل به آصف ته ووايي چې په اجاره شوې ځمکه کې د وزو د څرلو حق نه لري. خو که چېرې نوموړی دا کار وکړی، په دې صورت کې عبدل کولای شي محکمې ته د موافقتنامې د ختم يا د لغوه کېدو لپاره ولاړ شي. له هغه وروسته عبدل کولای شي آصف له ځمکې وشړي يعنې ددې حق تر لاسه کوي چې آصف له ځمکې وباسي آن که دا د هغه د ارادې خلاف هم وي. په حقيقت کې، که چېرې آصف په اجاره شوې ځمکه کې د وزو څرل پيل کړي وي، عبدل کولای شي موافقتنامه ختمه کړی آن که عبدل دې کار ته توقف هم ورکړي. ځکه د آصف له لوري په ځمکه کې د وزو څرل د موافقتنامې څخه د سر غړولو په معنی دي. بله پايله چې د دواړو لورو لپاره به مناسبه وي دا چې عبدل آصف ته په ځمکه کې د اضافي پيسو په مقابل کې د وزو د څرلو اجازه ورکړي. اوس پوښتنه داده چې نوموړی بايد څومره پيسې ورکړي؟ آيا دا به ډېره لوړه بيه وي؟ يا دا وجهه به د ځمکې ته د وزو د څرلو په نتيجه کې د رسيدلي ضررپه اندازه وي؟ په دې اړه يو واحد او درست ځواب نشته او د ستونزې حل د عبدل او آصف ترمنځ د اړيکو په څرنګوالي او د دوی په اقتصادي حالت او ډېرو نورو لاملونو پورې اړه لري. د ځمکې اجاره د نورو زيات شمېر معاملو په شان پېچلي جوړېدای شي.

د اجارې يوه بله بڼه په ځمکه کې ګډ کښت کول دی. په دې سيستم کې، د ځمکې مالک خپله ځمکه اجاره اخيستونکی ته ورکوي. خو ددې په ځای چې د ځمکې خاوند ته نغدې پيسې ورکړي، هغو ته خوراکي توکي يا په ځمکه کې کرل شوي غله ورکوي. د مثال په توګه، د نغدو پيسو د ورکولو په ځای، آصف، عبدل  ته د ځمکې  غله ورکوي. يا، که چېرې آصف په ځمکه کې مېږې روزلی، کېدای شي عبدل ته به هغوهر کال د وړيو ټاکله اندازه ورکړي.

د افغانستان د اساسي قانون د ۴۱ مادې له مخې، بهرنيان د ځمکې د مالکيت اجازه نه لري. له دې امله، د بهرنی شرکتونو يا افرادو سره د ځمکې معاملې  د اجارې له مخې تر سره کېږي. افغان وګړي ( يا حکومت، لکه چې لاندې په ۱.۵  برخه کې بيان شوي) ځمکه خپلولای شي او بهرنيو اشخاصو يا شرکتونو ته يې په اجاره ورکولای شي. د بهرنيانو سره د اجارې دا موافقتنامې ډېرې مهمې دي. دې اجارې  دا ډول موضوعاتو په هکله د طبعي منابعو په اړه ۷ او ۸ څپرکي وګوری.

د اجارې د بڼو او ډولونو په هکله، لطفاً د مدني قانون ۱۳۹۸ ماده وګوری.

### ۱.۳ ګډ مالکیت

اجاره د اړونده ځمکې یو ډول ګـډ کارول هم کېدای شي داسې چې د ځمکې د کارولو په اړه د مالک د مالکیت حق خوندي وي. (لکه د ځمکې د پلورلو یا د هغو د بهتره کولو حق، یا د ځمکې د معاملې حق)، او په دې صورت کې اجاره اخیستونکی یوازې په لنډ مهال کې د دواړو لورو ترمنځ د منل شوې پرېکړې له مخې له ځمکې څخه د ګټې اخیستلو حق لري. همدارنګه د ګډ مالکیت په نوم د مالکیت یو بل ډول هم شتون لري، چې یو شمېر کسان په عین وخت کې د یوې ټوټې ځمکې د مالکیت بشپړ کنټرول په واک کې لري. د مثال په توګه، میراث کولای شي د میراث خوړو ترمنځ د ټاکلي ملکیت په اړه د ګډ مالکیت موضوع رامنځ ته کړي. د خلکو یوه ډله کولای شي د یوې ټوټې ځمکې د پېرودلو لپاره پیسې راټولې کړي چې بیا د هغو هر یو په ځمکه کې حق تر لاسه کوي. یا، کېدای شي د ځمکې د یوې ټوټې خصوصي (فردي) مالکین چې څنګ په څنګ ځمکه لري، د شریک دیوال یا دې ته ورته د نور مال په اړه د ګډو دندو او مسوولیتونو درلودونکي دي.

**د افغانستان مدني قانون**

**۱۹۳۵ ماده**

که د یوه عیني ملکیت د دوه نفرو یا د هغوی څخه د زیاتو ترمنځ شریک وي نو هر یو د خپلې حصې په اندازې د هغې څخه د ګټې اخیستلو حق لري، او کولای شي په هغې کې داسې تصرف وکړي چې بل شریک ته ورڅخه ضرر ونه رسیږي. همدارنګه که د شریک عین اندازه معلومه وه نو په شریکه توګه د هغې خرڅول، استثمار، او استعمال جواز لري، خو په دې شرط چې د نورو شریکانو حقوقو ته ضرر و نه رسیږي.

**۱۹۳۸ ماده**

شریکان په شریک مال کې د اکثریت د رأیو تابع وي او اکثریت د حصو د قیمت په اندازه محاسبه کیږي، نو که اکثریت محقق نه شو، محکمه کولای شي د یوه شریک په غوښتنه ضروري تدبیر ونیسي. همدارنګه محکمه کولای شي د ضرورت په وخت کې یو شخص وټاکي چې شریک مال اداره کړي.

دا مادې د مال د ګډومالکینو ترمنځ د ځینو اړیکو د څرنګوالي د توضیح لپاره ښه مثالونه دي. عبدل ، آصف، او د عبدل ورور نجیب الله د مال (ځمکې) خاوندانو په توګه فرض کړی . د عبدل او آصف هر یوه ونډه د ځمکې ۴۰ ٪ او د نجیب ونډه ٪۲۰ ده. په وروستیوکې د ځمکې بیه لوړه شوې، عبدل او نجیب الله غواړي خپله برخه ځمکه و پلوري. خو آصف، بیا فکر کوي چې د ځمکې بیه نوره هم لوړېږي او نه غواړي چې اوس ځمکه وپلوري. ستاسو له نظره ددوی د شخړې نتیجه به څه وي؟ د مدني قانون د ۱۹۳۵ مادې له مخې، درې واړه مالکین باید خپلې ونډې وپلوري. دا چې د عبدل او نجیب الله د ونډو انندازه (٪۲۰+٪۴۰= ٪۶۰) کېږي او د آصف له ونډې یعنې (٪۴۰ ) څخه زیاته ده، نجیب الله او عبدل حق لري چې د ځمکې د کارولو د څرنګوالي په هکله تصمیم و نیسي. اوس پوښتنه داده چې آصف څنګه کولای شي د عبدل او نجیب الله له خوا د ځمکې د خرڅولو د پرېکړې مخنیوی وکړي. آیا د ۱۹۳۵ مادې په اړه کومه بله لار شته چې د هغو پواسطه نوموړی و کولای شي د ځمکې د پلورلو مخنیوی وکړي؟ د مادې وروستی برخه ولولئ. آیا بله کومه لار شته چې د هغو په واسطه خپل اختلاف حل کاندې. په دې اړه ۱۹۳۸ ماده څه وایي؟ او له دې پرته دا اختلاف څرنګه حل کېدای شي.

د ګډ مالکیت بل ډول داسې دی چې کله د یو مال دوه مالکان د خپلو ځمکو تر منځ د ملکیت یوه ټوټه ولري. حصار او دیوالونه ددې ملکیت ښه مثالونه دي. دې داسې یو حالت په هکله فکر وکړئ لکه چې د مدني قانون په ۱۹۲۲ ــ ۱۹۲۸ مادو کې یې بیان راغلی. په داسې یو حالت کې فرض کړئ چې څلور کاله کېږي چې عبدل آصف ته ځمکه په اجاره ورکړې ده. ددې مودې په اوږدو کې، آصف خپلې پیسې په ښه ډول مدیریت کړې دي او پر هغو باندې یې له عبدل څخه ځمکه اجاره کړې ده. د هغوی د دوو ملکیتونو تر منځ یو دیوال شتون لري چې ددوې ځمکې یې سره بېلې کړې دي. آصف د مدني قانون ۱۹۲۷ ماده لوستې ده. په دې ماده کې داسې راغلي دي :" کوم ګاونډی چې د دېوال د جوړولو په

مصرفونو برخه نه وي اخيستې، نو هغه وخت په دېوال کې شريک ګڼل کېږي چې د بنا مصرف او د هغې ځمکې قېمت چې دېوال ورباندې ولاړ دی ورکړي." اوس آصف پوهېږي ددې لپاره چې د دېوال پر خپله برخه باندې کنټرول ولري نو عبدل ته بايد د دېوال د نيمې برخې قيمت ورکړي. داچې دوی دواړه د ځمکې مالکين دي او له هغه وروسته چې آصف عبدل ته د نيمې ځمکې قيمت ورکړ، هر يو د دېوال د نيمې برخې مالک دی او دواړه پر هغو باندې کنټرول لري. خو پر دېوال باندې د هغو کنټرول برابر دی. د ۱۹۲۳ مادې له مخې، عبدل نشي کولای د آصف له اجازې پرته پر دېوال باندې د لرګيو ځايونو ته تغير ورکړي. په ورته توګه، آصف هم نشي کولای د عبدل له اجازې پرته ديوال لوړ کړي. دا د ګډ مالکيت غوره مثال دي. په عمومي توګه، د ګډ مال يو مالک د بل مالک له اجازې پرته په مال کې تغير نشي راوستلای.

### ۱.۴ جماعتي مالکيت

د ملکيت بل ډول ګډ ملکيت ته ډېر ورته والی لري، خو په دې ملکيت کې معمولاً له دوو يا درېو کسانو څخه زيات وګړي رانښکېل وي. دا ډول ځمکه د افرادو د لويې ډلې يا بشپړې ځايي ټولنې يا جماعت پواسطه کارول کېږي. دا ډول ملکيت د **جماعتی مالکيت** په نوم يادېږي. په ځينو حالاتو کې، جماعتی مالکيت عين ګډ مالکيت دی. د خلکو يوه ډله کېدای شي په ډله ايزه توګه ملکيت ولري او ددې ملکيت کارول يوازې د ډلې د نورو غړو په اجازه صورت مومي (د مدني قانون ۱۹۳۵ مادې له مخې). ځينې جماعتي مالکيتونه يوځه توپير لري. د مثال په توګه، ځينې ځمکې د يوې کورنۍ او يا قبيلې په ملکيت کې راغلي وي چې په ټوليزه توګه اړونده کورنۍ او يا قبيله له هغو څخه ګټه اخلي او د کارولو لپاره يې يو شخص او يا د افرادو کوچنۍ ډله ګمارل کېږي، خو په واقعيت کې لويه ډله له هغو څخه ګټه پورته کوي. ياداچې اړونده ډله د ځمکې د کارولو د څرنګوالي پرېکړه کوي. ځينې جماعتي ملکيتونه تر ډېره حکومتي مالکيت يا د اجارې خصوصي مالکيت ته ورته والی لري (لاندې د ۱. ۵ شمېرې په ترڅ کې بيان شوی دی). مدني قانون ددې ډول مالکيت په هکله ډېرې مادې نه لري، خو د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکنيو چارو د تنظيم قانون د جماعتی مالکيت او عامه ځمکې په هکله ډېرې مادې لري..

د عامه يا جماعتی ځمکې ښه مثال د څرلو لپاره هغه څرځايونه دی چې ډېر خلک ترې ګټه پورته کوي. د ځمکوالی چارو د تنظيم له قانون څخه، لاندې ماده ولولئ.

> **د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالی د چارود تنظيم قانون**
>
> **۸۲ ماده:**
>
> (۱) مرعي هغه بکرې او بايرې ځمکې دي چې شرعاً د دولت يا شخص ملکيت پر هغو باندې ثابت نشي او عامه حقوق ګڼل کېږي، شخص او دولت نشي کولای په مرعي ځمکه کې مالکانه تصرف وکړي، خو داچې شريعت بل ډول حکم کړي وي.
>
> (۲) مرعي د عامه اړتياوو ( د مواشيو څرځای، مقبرې، درمندځای او هغو ته ورته) په مقصد د سيمې اوسېدونکو ته تشه پرېښودل کېږي.

په کليوالي سيمو کې د درېيو څخه تر څلورو پورې افغان کورنۍ هيڅ ځمکه نه لري، لدې امله عامه څرځايونه خورا اهميت لري. د ګډې کرنې اړوند موافقتنامې د برخې په توګه له دې کورنيو څخه ځينې يې کورونه په کرايه نيسي (لکه چې تر ۱.۲ شمېرې لاندې يې يادونه شوې).زياتې کوچيان هم ځمکې نه لري او د نورو په شان له عامه څرځايونو څخه ګټه اخلي. په ځينې حالاتو کې، دا ځمکه د حکومت ملکيت دی او د هغو د کارولو لپاره حکومت قواعد وضع کوي ( دا تر ۱.۵ شمېرې لاندې بيان شوي). لاکن په زياترو حالاتو کې، حکومت دا څرګندوي چې هېڅوک ددې ځمکو د خپلولو حق نه لري او که څوک غواړي له هغو څخه د څرځای په توګه کاروالخلي، اجازه لري.

**داسې يو سيستم شته چې له مخې يې يو شخص د بې مالکه څر ځای ځمکې د ملکيت** دعوی او له هغه څخه د خپل مال په توګه کاراخيستلای شي. دا **د موات** سيستم په نوم يادېږي. داسې فرض کړئ چې آصف يو کوچياني شپون دی او غواړي چې د ځمکې يوه خپله ټوټه ولري ځکه چې د هوا په تغير سره د هغه کوچياني ژوند اغېزمن کېږي. د موات سيستم له مخې د ځمکې کارولو لپاره، آصف ته ښايي داسې ځمکه ولټوي چې مالک و نه لري داسې چې اړونده ځمکه نه چا کرلې او نه

کاله کړې وي. له دې وروسته نوموړی باید د حکومت سره ژمنه وکړي چې ځمکه به پالي او کري. په دې حالت کې که ځایي ټولنه او حکومت د نوموړي د غوښتنې تأیید وکړي، ځمکه د هغه کېږي او د جماعتي ټولنې له ملکیت څخه د نوموړي په ملکیت بدلیږي.

په عمومي توګه، جماعتي ملکیت هغې ځمکې ته وایي چې ډېر شمېر خلک یی د ټاکلي موخې لپاره کاروي. په دې اړه ښه مثال پارک دی. پارک د هغو په مدېر یا مالک پورې اړه لري. (معمولاً یو ښار یا نور حکومتي واحدونه)، خو په داسې ډول چې هغه په هر هغه چا پورې اړه لري چې ګټه ترې اخلي. څړځای هم دې ته ورته دی. په واقعیت کې په افغانستان کې ځینې څړځایونه یوازې په خصوصي مالکیت باندې بدلېدای شي ( د ولسمشر د فرمان له مخې د یوه شخص یا د خلکو د یوې خصوصي ډلې له خوا) ! آیا تاسو د ملکیت دې ته ورته د نورو ډولونو په هکله فکر کولای شئ؟ که هو، نو دا ووایي چې دا به د نورو جماعتي مالکیتونو له مثالونو او د مالکیت له نورو ډولونو څخه څه توپیر ولري.

د مالکیت یو بل ډول چې د ځینو په آند جماعتي مالکیت دی، د وقف ځمکې ته ویل کېږي. د وقف ځمکه هغه ځمکه ده چې مالک د هغې مالکیت بل چاته د خیریه مقاصدو په موخه ورکوي. دا کېدای شي چې د راتلونکو نسلونو لپاره د کورنۍ غړو ته ځمکه ورکړل شي. دا همداشانې هغه ځمکه هم په بر کې نیسي چې ځایي ټولنو یا جماعت او یا هم مذهبي ډلو او بنسټونو ته ورکول کېږي. معمولاً اړونده ځمکه د یو شخص یا د افرادو د یوې ډلې له خوا چې د ډونر (هغه شخص چې ځمکه ورکوي) له لورې ټاکل شوی وي، سمبالیږي. د سمبالښت دا ډول ترتیبات د ودیعې (trust) په نوم یادیږي. د خیریه وصف سربېره، ودیعه کېدای شي دا ډاډمنه کړي چې ملکیت د ټاکل شوو افرادو پوسطه آن د ډونر له مړینې وروسته هم په سمه مد برېت کېږي. وقف د مدني قانون په ۳۴۳ ماده او ورپسې مادو کې تعریف شوی دی. آیا تاسوته د ملکیت کوم بل ډول معلوم دی چې په دې طریقې سره سمبال شي، یا د ټول جماعت له خوا؟

### ۱.۵ حکومتي مالکیت

په افغانستان کې، د نورو هېوادونو په شان، حکومت د کتنې وړځمکې مالکیت لري. د ځینو له نظره د حکومت په مالکیت کې ځمکه ٪۸۷ ده. زیات شمېر اسلامي هېوادونه د ځمکې مالکیت او ساتنه د خپلو په وګړو په وړاندې خپل مسوولیت بولي تر څو پر ځمکې باندې د الله تعالی اصلي مالکیت خوندي وساتي. لکه چې یو پوه وایي " اسلامي حقوق د فرد د مال د مالکیت بنسټیز حق په رسمیت پېژني، خو په ورته وخت کې، هغه ټاکلې څېزونه مشخصوي چې فرد یې د مالکیت اجازه نه لري." Acquisition and Transfer of Property in Islamic Law (Yahaya Y. Bambale, Lagos: Malthouse Press Limited, 2007), 5)) په دې توګه د ځمکې ځینې ډولونه د عامه مقاصدو لپاره د حکومت له خوا پالل کېږي. په دې اړه یو مثال، طبعي منابع دي لکه کانونه. د ځمکوالی د چارو د تنظیم د قانون د ۳ (۸) مادې له مخې حکومتي ځمکه ناستوګنه طبعي ځمکه ده ( لکه چمن_، غونډۍ، او څړځایونه)، هغه ځمکې چې عامه ګڼل کېږي، او همدارنګه هغه ځمکې چې مالکیت یې نشي ثابت کېدای. تر دې لازیات ډولونه هم په حکومتي ملکیت کې راځي. ددې مثال د اساسي قانون په نهمه ماده کې چې لاندې په شنه بکس کې راغلی، کتلای شي.

په افغانستان کې د ځمکې د حکومتي مالکیت تاریخ اوږد دی. په مخکنیو نسلونو کې د مختلفو رژیمونو د ځمکې اړوند تګلارې ابهام رامنځ ته کړی او زیاتره وختونه ځمکه څکه حکومتي ګڼل کېږي چه هغه په حکومت پورې اړه لري او بل هېڅوک په مشروع توګه د هغو دعوا نشي کولای. پردې سربېره، ډېرې داسې ځمکې شته چې څوک یی د مالکیت دعوا نه لري څکه چې هغه د کرکیلې او ګټې اخیستنې وړ نه دي. دا ځمکې هم د حکومت په مالکیت کې دي.

پرځمکې سربېره چې په تاریخي لحاظ د حکومت په مالکیت کې ده، د هېواد اساسي قانون، مدني قانون، او د ۲۰۰۸ کال د ځمکنیو چارو د تنظیم قانون ټول داسې مادې لري چې د حکومت له خوا د ځمکې د مالکیت په هکله معلومات وړاندې کوي. د مثال په توګه، لاندې د اساسي قانون نهمه ماده ولولئ:

| د افغانستان اساسي قانون |
| --- |

**نهمه ماده:**

کانونه او نورې تر ځمکې لاندې زېرمې او لرغوني آثار د دولت ملکيت دي. د دولت د ملکيتونو ساتنه او اداره او له طبعي زېرمو او نورو عامه ملکيتونو څخه د سمې استفادې ډول د قانون له لیارې تنظيمېږي.

تر ډېره بريده حکومت فقط د خصوصي ځمکه وال په توګه عمل کوي. حکومت کولای شي چې ځمکه په اجاره ورکړي، هغه وپلوري او يا يې هم پخپله وکاروي. ددې يو مثال، د ځمکوالی د چارو د تنظيم قانون ۶۴ ماده ده چې حکومت ته اجازه ورکوي د عامه ګټو په موخه ځمکه په اجاره ورکړي،لکه کرنه. همداشاني، حکومتي مال په ځينو حالاتو کې په دايمي توګه پر خصوصي مال باندې اوښتی شي.د مثال په توګه، د ځمکوالی د چارو د تنظيم قانون د ۵۵ مادې له مخې حکومت د خصوصي مالک سره ملکيت بدلولای شي.

کله چې حکومت د خصوصي ملکيت اړوند ځمکې ته اړتيا پيداکړي نو د هغو خپلولو ته استملاک وايي. تاسو به په دې هکله په ۵ څپرکي کې په تفصيل سره معلومات تر لاسه کړی. اوس تاسو يوازې دومره معلوماتو ته اړتيا لري چې استملاک هغه وخت صورت مومي چې حکومت خصوصي مالک د خپلې ځمکې پلورلو ته اړ باسي. دا د معمول له مخې حکومت ته ددې امکان ورکوي چې ټول ګټور کارونه لکه دسړکونو، د اوسپنو د پټليو، يا نل ليکو جوړول تر سره کړي او دا له حکومت څخه ددې غوښتنه کوي چې د ځمکې قيمت د هغو مالک ته ورکړي. د مثال په توګه، له مدني قانون څخه دا لاندې ماده ولولئ:

**د افغانستان مدني قانون**

**۱۹۸۸ ماده:**

که د چا تر ملکيت لاندې ځمکه کې معدن، خزانه يا تاريخي آثار کشف شي، د هغې ملکيت د دولت دی، په مکافات ورکولو علاوه، د استملاک د قانون سره سم ځمکه استملاکيږي.

**۱۹۹۱ ماده:**

بې مالکه زراعتي ځمکې د دولت ملکيت دی، بې د دولت د اجازې او د قانون د حکمونو خلاف دهغې تملک جواز نه لري.

دا مادې د ځمکې په مديريت او مالکيت کې د حکومت لوی رول په ګوته کوي. تاسو به د ځمکو د مديريت په اړه د حکومت د نورو کړنو په هکله لاندې د **وثيقه کولو** تر سرليک لاندې معلومات تر لاسه کړی. خو لکه چې تاسو به له دې او نورو مادو څخه وپوهيږئ چې حکومت هم د مال د نورو مالکينو په شان د ځمکې مالکيت تر لاسه کوي.

### ۱.۶ نتيجه او د بحث پوښتنې

پاسني بحثونه د مالکيت مختلف ډولونه ښيي، خو په دې اړوند له ټولو مالکينو څخه استازيتوب نه کوي. آيا تاسو د نورو خلکو په هکله چې ځمکه په خپل مالکيت کې راولي، معلومات لرئ؟ د ځمکې مالکيت يوه پيچلې موضوع ده، خو په دې هکله فکر کول چې څوک ځمکه تر لاس کولای شي، په څه معنی دي، او مالکين ځمکه څه ډول کارولای شي هغه موضوعګانې دي چې په طرح کولو سره يې خپل بحث ته دوام ورکوو. د بحث له لاندې پوښتنو وروسته، د : **وثيقه کولو** تر عنوان لاندې نوي بحث پيلېږي. خو تر هغو د مخه لاندې پوښتنې ځواب کړئ تر څو د مالکيت د ډولونو په هکله د معلوماتو له امله خپل ځان ډاډمن کړئ.

1. آيا ستاسو له نظره د مالکيت يوډول پر بل باندې غوره والی لري؟ د مثال په توګه، ولې جماعتي مالکيت ځينې وختونه له خصوصي مالکيت څخه غوره ګڼل کيږي او د هغه خلاف ځينې وختونه بيا خصوصي مالکيت تر جماعتي مالکيت غوره

ګټل کېږي؟ ولي حکومت غواړي چې ځيني مالونه پخپل مالکيت کې راولي، او په کوم دليل حکومت د ځينو ځانګړو ملکيتونو ښه مدبر انګېرل کېږي؟.

۲. د مالکيت د مخکې ليست شوو ډولونو په هکله ولولئ او د هغو د هر ډول لپاره يو مثال راوړئ. خپل مثالونه د نورو محصلينو سره پرتله او پرې بحث وکړئ.

## ۲. وثيقه کول

### ۲.۱ وثيقه کول څه ته وايي؟

په ۱ برخه کې، موږ د بېلا بېلو افرادو او ډلو چې مال خپلوي، او دا چې يو تر بله د هغوی مالکيت څه توپير لري، خبرې و کړې. خو که چېرې کوم څوک وپوښتي چې تاسو څرنګه د ځمکې يوه ټوټه په خپل مالکيت کې راولئ؟ فرض کړئ چې تاسو کابل ته نژدې د ځمکې ۴۰ جريبه ټوټه لرئ. دا ځمکه له هغه راهيسې چې ستاسو نيکه پيرودلې وه ستاسو د کورنۍ په مالکيت کې ده او پر هغو باندې ستاسو مالکيت هېڅوک تر پوښتنې لاندې نه راولي. يوه ورځ، ستاسو ګاونډي له تاسو پوښتنه کوي،" تاسو له څه نه پوهېږئ چې ځمکه ستاسو ده؟" کولای شئ تاسو ووايئ چې تاسو پوهېږئ چې هغه ستاسو مال دی، او پر هغو باندې ستاسو مالکيت هېڅوک نه ننګوي او په زياترو حالاتو کې، دا د ځمکې د مالکيت لپاره کافي ده. خو که چېرې ستاسو مالکيت د چا له خوا وننګول شي؟ په دې صورت کې به څرنګه تاسو د ځمکې مالکيت ثابت کړې؟.

پر ځمکه باندې د مالکيت د ثابتولو لپاره يوه لار د **وثيقه کولو** سيستم دی. وثيقه کول يوه طريقه ده چې خلکو ته په دې هکله معلومات ورکوي چې د يو ټاکلي مال خاوند يا مالک څوک دی. د " وثيقه کول" د ټاکلي څيز د خپلولو په معنی دي. د وثيقه کولو سيستم په دې هکله د معلوماتو راټولول دي چې څوک په يوه سيمه او يا آن په يوه هېواد کې د يوې ټوټې ځمکې د مالکيت سند لري. د مثال په توګه، که چېرې نجيب د وليد د ځمکې د پيرودلو اراده وکړي، نجيب بايد وليد ته د ځمکې قيمت ورکړي. له دې وروسته به نجيب د ځمکې سند تر لاسه کوي؛ او دا کار ځمکه د نجيب ملکيت ګرځوي. د پيرودلو او پلورلو په هکله نور معلومات به په ۴ څپرکي کې وړاندې شي. خو اوس موږ پر دې باندې تمرکز کوو چې د ځمکې خپلول په څه معنی دي، او دا کار څنګه ثبوت کېدای شي. کله چې وليد پر نجيب باندې ځمکه پلوري، نو د نجيب د مالکيت د ثبتو لپاره به يوه لاره دا وي چې نجيب ته د ځمکې **قباله** ورکړي. قباله يو کاغذ دی چې د حکومت له لوري چاپېږي او په هغو کې د ځمکې د يوې ټوټې په هکله د مالک په هکله معلومات درجېږي. په دې صورت کې، په قباله کې ليکل کېږي چې" ځمکه په وليد پورې اړه لري." په قباله کې د ځمکې د موقعيت په هکله معلومات هم راځي تر څو په دې توګه وليد وکړای شي چې د ځمکې خپله ټوټه نه د کوم بل چا د ځمکې ټوټه، په نومړې پورې اړه لري. له هغه وروسته چې نجيب وليد ته قباله ورکړي، نجيب د ځمکنيو چارو نژدې ادارې ته ورځي او له هغو څخه د حکومت له لوري چاپ شوې قباله تر لاسه کوي او په دې قباله کې داسې ليکل شوي : " دا ځمکه په دې موقعيت کې په نجيب پورې اړه لري." که چېرې د حکومت له لوري هغه تأييد شي، او نجيب د ځمکې پيرودل ثابت کړي، بيا نو حکومتي اداره نومړې ته نوې قباله ورکوی. په دې توګه که په راتلونکې کې، کوم څوک پر اړونده ځمکه باندې د نجيب مالکيت وننګوي، نو نومړی د حکومت له لوري چاپ شوې قباله په لاس کې لري چې پر ځمکه باندې د هغه مالکيت ثابتوي. او په نورو ټولو شخړو کې دا قباله د نومړي د مالکيت ثابتوي. په لنډه توګه، قباله د وثيقه کولو د لوی سيستم له مخې د ځمکې د مالکيت يو ثبوت دی.

د مالکيت د ثبوت لپاره يوه بله لار د **سندونو د تسلسل** په نوم يادېږي. د سندونو تسلسل داسې لاره ده چې آن که چېرې تاسو د يوې ټوټې ځمکې د مالکيت رسمي قباله په لاس کې هم و نه لرئ، تاسو ددې له مخې چې مخکې د ځمکې مالک څوک وو او تر هغه دمخه يې بل مالک څوک وو د سندونو يو تسلسل رامنځ ته کړئ او په دې توګه په اړونده ځمکه باندې خپل مالکيت ثابت کړئ. له هغه وروسته چې د ځمکې مالک معلوم شي، تاسو د ځمکې تاريخچه رامنځ ته کوی چې له مخې يې د هغو مالکيت او لېږد څرګندېږي. په دې توګه که چېرې نجيب او وليد له حکومت يا محکمې څخه د رسمي قبالې په تر لاس کولو کې پاتې راشي، په دې صورت کې که کوم څوک د دوي پر ځمکه باندې دعوا وکړي ، دوی ته څه کول په کار دي؟ فرض کړئ عبدالله په دې باور دی هغه  ځمکه چې نجيب له وليد څخه اخيستې په ده پورې اړه لري. خو

عبدالله د خپلې ننګونې د ملاتړ لپاره هېڅ ډول سند او یا قباله نه لري. دې قبالې د نشتوالي په صورت کې نجیب څه کولای شي؟ یوه لاره داده چې د سندونو تسلسل رامنځ ته کړي. نجیب له ولید څخه غوښتلی شي چې د محکمې یا جرګې په وړاندې سوګند یاد کړي چې د پنځو کلونو لپاره یې په اړونده ځمکه کې ژوند کړی او بیا وروسته یې ځمکه پر نجیب باندې پلورلې ده؟ همدارنګه په محکمه یا جرګه کې ولید له پروین  څخه پوښتلی شي چې تر ولید دمخه ځمکه د چا په مالکیت کې وه او په ولید یې و پلورله. که چېرې پروین سوګند یاد کړي چې تر ولید دمخه نوموړې د لسو کلونو لپاره ځمکه په اختیار کې درلوده او بیا یې وروسته هغه پر ولید باندې وپلورله، په دې صورت کې د سندونو تسلسل پیاوړی دی او د نجیب له لوري مخکې تر دې چې اړونده ځمکه وپېرې، د هغو ۱۵ کلن مالکیت د توضېح وړ دی. که چېرې عبد الله د ځمکې د ننګونې یا دعوا په اړه کوم مدارک وړاندې نه کړي، ښایي چې جرګه یا محکمه د نجیب، ولید او پروین له لارې د سندونو داسې  تسلسل پیدا کړي چې پر ځمکه باندې د نجیب د مالکیت د ملاتړ لپاره بسنه وکړي.

د وثیقه کولو او مالکیت په اړه د سوابقو د راټولولو لپاره د یو سیستم رامنځ ته کول لوی کار دی. دا کار په مختلفو طریقو تر سره کېدای شي. تر ټولو عام متمرکز، حکومتي سیستم دی چې د مالک اواړونده ځمکې په هکله معلومات راټولوي او په **دېټابېز** کې یې ساتي. د وثیقه کولو په سیستم کې، د ځمکې لېږد ثبتېږي، په دې توګه که چېرې تاسو غواړی وپوهېږئ چې د ځمکې د یوې ټاکلې ټوټې مالک څوک دی، تاسو کولای شی اړونده معلومات د ځمکوالی چارو د تنظیم په حکومتي دفتر کې تر لاسه کړئ. د مثال په توګه، په ترکیه کې، د ځمکې لېږد او مالکیت تر هغه پورې د حکومت له لوري نه منل کېږي تر څو چې  پلورونکی او پېرودونکي رسمي قباله د سندونو د ثبت په دفتر کې لاسلیک  نه کړي او سند د ترکیې د املاکو د ثبت ریاست ته  وا نه استوي.

د وثیقې د یوه کاری سیستم رامنځ ته کول وخت او ژمنتیا ته اړتیا لري. که چېرې حکوت وغواړي داسې یو سیستم جوړ کړي نو ورته ښایي چې سروې تر سره کړي. د سروې لپاره حکومت باید د هېواد ګوټ ګوټ ته خپل استازي واستوي تر څو د ځمکو د مالک او پخپله د ځمکې په هکله معلومات راټول کوي. دا سروې ګانې همدارنګه د **کادسترال سروېګانو** په نوم هم یادېږي، ځکه هغو **کادستر** رامنځ ته کوي. کادستر په ټاکلې موقعیت کې د ځمکې په هکله د معلوماتو بشپړ او هر اړخیز ثبت دی. د مثال په توګه، تاسو کولای شی داسې کادستر ولري چې د یو ځانګړي ولایت په هکله ثبت شوي معلومات ولري یا داسې کادستر چې د ټولو هېواد لپاره د ځمکو د معلومات ثبت ولري. که څه دا کار یوه نوې ایډیا ښکاري، خو د ځمکو سروې، یا کادسترونه ډېره پخوانۍ نظریه ده. یو لیکونکی وایي" کادستر د محمد (ص) په زمانه کې رامنځ ته شو، په هغه وخت دا کار د مکې د ښار  شاو خو ا ځمکې د تيرو په لکولو سره په نښنه کېدي." (Siraj Sait and Hilary Lim, Land, Law & Islam: Property & Human Rights in the Muslim World (New York: Zed Books, 2006), 22).عثمانیانو د کادستر ډېر پرمختللی سیستم درلود چې د هغوی سره یې د خپلو وګړو د ځمکو اړونده معلوماتو په هکله مرسته کوله. په پخوا نیو او معاصرو دورو کې د هغه له بنسټیز کېدو وروسته، د وثیقه کولو سیستم ( چې کله کله د سندونو د ثبت اداره، د ثبت د دفتر په نومومونو هم یادېږي) د ځمکنیو شخړو په حل کې خورا مهم او ګټور ثابت شو. هغه ځکه ګټور دي چې حکومت د هغو په مرسته کولای شی مالیه د ځمکو د ارزښت له مخې وټاکي. کله چې سروې بشپړه شي، تر هغه وروسته د ځمکې هرډول لېږدونه باید د حکومت سره ثبت شي تر څو په دې توګه د حکومت کادستري ثبت کره پاته شي.

د مالیې د اندازې له ټاکلو او د شخړو په حل سربېره، د څه لپاره افراد د ځمکې د مالک په هکله معلوماتو ته اړتیا لري؟ لکه چې په یوه ماده کې داسې راغلي دي، کله چې خلک په دې هکله معلومات ونه لري چې کومه ځمکه د چا ده، " دا کار نه یوازې ملکیت لرونکی په خپل ملکیت کې له اقتصادي پانګونې څخه لیرې ساتي، بلکه همدارنګه دا کار د بازار اقتصاد د هغوی له ګډون او مرستې څخه بې برخې کوي." (Deputy Minister M. Sharif, “Land Administration and Management in Afghanistan” (Terra Institute, 2008), *available at:* http://www.terrainstitute.org/pdf/Land%20Admin_Afghan_Sharif.pdf.)

که چېرې تاسو د ځمکې مالک یاستئ او پردې باندې پوره ډاډمن نه یی چې ځمکه ستاسو ده، آیا تاسو به خپله ځمکه و پالئ؟ که چېرې تاسو پخپله ځمکه باندې خواري وکړئ او پیسې پرې ولګوئ او په ورته وخت کې یو بل څوک پر هغې باندې دعوا وکړي، تاسو به څه کوئ؟ د ځمکې د مالکیت په اړه زړه نازړه توب یو لانجمن حالت دی او د موسم لپاره د ځمکې له پاللو څخه مخنیوی کوي. کله چې پخپله خوښه ځمکه و نه کارول شي، هغه بېکاره پاته کېږي چې دا پخپل وار سره پر اقتصاد باندې بد اغیز کوي. که په یوه ځايي ټولنه کې خلک خپلې ځمکې  له دې وېرې چې څوک دعوا پرې ونه

کړي، و نه کاروي نو په دې صورت کې به د اړونده ټولنې ژوند څنګه وي؟ دا موضوع هغه مهال لا زیاته مهمه کېږي کله چې تاسو په ۳.۳ برخه کې د ګروي په هکله مطالعه پیل کړئ.

۱. آیا تاسو د لا زیاتو دلایلو په هکله فکر کولای شی  چې ولې یو څوک د خپلې ځمکې رسمي ثبتول غواړي؟

۲. تاسو د وثیقې کولو سیستم څه ډول دیزاین کوی؟ له څه نه یې پیلوئ؟ د معلوماتو د راټولولو او پروخت کولو مسوولیت د چا په غاړه دئ؟

۳. عبدالله غواړي له محمود څخه ځمکه وپیري. هغه پوهېږي چې محمود اړونده ځمکه خپله کړې او لس کاله کېږي چې پر هغه باندې ژوند کوي، خو له دې څخه نه دی خبر چې تر نوموړي د مخه ځمکه د چا په ملکیت کې وه. عبدالله له دې څخه اندېښنه لري چې کوم څوک پر ځمکه باندې د هغه مالکیت و نه ننګوي، اوس د ځمکې رانیولو د مخه، نوموړي ته څه کول په کار دي؟

### ۲.۲ په افغانستان کې وثیقه جوړول

د نورو زیاتو هېوادونو په شان، په افغانستان کې وثیقه جوړونه پېچلې ده. ډېر وګړي ځمکه نه لري. پر دې باندې سربېره، د افغانستان زیات وګړی کوچیاني دی، زیات ځلي خوځېږي او په بېلابېلو سیمو کې ځمکې د خپل ملکیت په توګه کاروي. د میراث قانون ددې موضوع معلومول چې څوک د کومې ځمکې مالک دی، نوره هم پېچلې کړې ده. په دې ترتیب، آن کله چې یوه ټوټه ځمکه معلومه او ثبت شوې هم وي، زیاتره وختونه دا ستونزمنه ده چې په عمل کې څوک د هغې مالکیت او کنټرول لري. په دې هکله پرېکړې ډېر ځلي ځایی ټولنو او جرګو ته ور په غاړه کېږي.

د تېرو ۸۰ کلونو په اوږدو کې، افغانستان په دې هڅه کې دی چې د ځمکو ډیټابېز ورغوي او په وخت یې کړي. خو په هېواد کې د رژیمونو د تغیر او نورو پېچلتیاوو له امله، د ځمکو د ثبتولو په کار کې د یوه رژیم لاس ته راوړنې د ورپسې رژیم له خوا د نه دوام له امله له منځه تللې دي. په ۱۹۶۰ کلونو کې حکومت د ځمکو ثبت کار رامنځ ته کړ چې له مخې یې د ځمکو خاوندانو حکومت ته د خپلو ځمکو د اندازې په هکله معلومات ورکولای شول. حکومت دا کار ځکه پیل کړ چې د ځمکو د مالکینو څخه مالیه راټوله کړی. ددې کار په نتیجه کې د ځمکو د ثبت دفتر رامنځ ته شو خو بیا هم د ځمکو په هکله لا ډېرو معلوماتو ته اړتیا وه او په اړونده دیټابېز کې د لږو ځمکو په هکله معلومات راټول شول. تر ۱۹۷۸ ز کال پورې، د افغانستان د ځمکو نژدې ٪۳۰ په ډیټابېز کې ثبت شوه. او آن دغه معلومات هم نیمګړي وو، ځکه چې په پرله پسې توګه په وخت نه کېدل او یا نه نوي کېدل. له دې امله حکومت ته معلومه نه وه چې له یوه مالک څخه بل ته ځمکه په څه ډول لېږدي. د ځمکو د متمرکز ثبت لپاره دویمه هڅه د ۱۹۷۰ ز کلونو په پای کې د کمونیست رژیم له خوا وشوه . په ۱۹۷۸ ز کال کې، حکومت بې ځمکو کورنیو ته د افغانستان زیاتې ځمکې بیا ور ووېشلې . ځینې کورنۍ لاهم ددې ډول ځمکو د وېش سوابق لری، او که څه هم په  دې موده کې د ځمکې مالکیت همېش ثبت کېده، خو دې کار د یو څه وخت لپاره دوام وموند. په ۱۹۹۶ ز کال کې د طالبانو حکومت جوړ شو. د هغوی په تګلارو کې د ځمکو د مالکیت موضوع مهم  لومړیتوب نه درلود او په دې دلیل یې د ځمکو په هکله معلومات هم نه راټول.  په دې هکله د دوی مهم کار په ۲۰۰۰ ز کال کې د ځمکو د قانون_تصویبول و چې له مخې یې د ځمکې مالکیت، پر ځمکه باندې د واقعي کنټرول او د ګاونډیانو د نظر له مخې ټاکل کېده. دا په دې معنی دي چې ددې قانون پر بنسټ، هغه چا چې پر اړونده ځمکه باندې ژوند کاوه او د ګاونډیانو له خوا یې پر ځمکه باندې د هغه تصدیق کاوه، نوموړی د ځمکې مالک و.  لاندې متن ولولئ او ځېر شئ چې د قانون ژبه څه ډول  ده او دا اصطلاحات په څه ډول کارول شوي دي؟

**د ۲۰۰۰ کال د ځمکې قانون**

هغه بزګر چې د خپلې ځمکې هېڅ ډول قانوني سند و نه لري، او ځمکه یې د املاکو او مالیې په دفتر کې نه وي ثبت شوې، پر  هغو باندې مشروع دعوا کولی شي په دې شرط که،۱) پر ځمکه باندې کوم بل څوک ادعا و نه لري، ۲) د نوموړی له لوري پر ځمکه باندې د ودانولو او کرنیز فعالیت نبښې شتون ولري، ۳) ګاونډیان شاهدي ورکړي چې ځمکه د هغه ده، او ۴) ځایی دولتي مقامات د نوموړي لخوا د ځمکې تصرف تأیید کړي.

د ځمکې د مالکيت او وثيقې جوړولو لپاره اوسنی حالت ډېر روښانه نه دی. د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالی چارو د تنظيم قانون چې په ۲۰۰۰ ز کال کې يې د ځمکې تصويب شوی قانون ته تغير ورکړ، د وزيرانو شورا له لوري تأييد شو، خو لا تر اوسه د ولسي جرګې له خوا نه رد او نه هم تصويب شوی دی. له دې امله، دا قانون د عدلی وزارت د آن لاين د رسمې جريدې په ډېتابېز کې ځای په ځای او الزامي دی. اوس مهال، د کليوالي ملکيت يوازې لس سلنه او د ښاري ملکيت ۳۰ سلنه مالکين رسمي قبالې لري چې د محکمې يا حکومت له لوري ورکول شوې. ددې قبالو ځينې زړې شوې او په کره ډول د ځمکې مالک نه په ډاګه کوي. دا په دې معنی نه دي چې د مالکيت ثابتول ناشونی دی. په واقعيت کې، ډېر وګړي له غير رسمي سيستم څخه ګټه اخلي. دا سيستم پر دودونو، له مخکني مالک څخه په غير رسمي "رسيدونو"، ځايي جرګو، ګاونډيانو او جماعتونو باندې تکيه لري چې پر ځمکه باندې د هغوی د مالکيت د ثابتولو سره مرسته کوی.

**۳. حقونه، مسووليتونه، کارول او تمويل**

**۳.۱ د ارتفاق حق**

ددې څپرکي په وروستۍ برخه کې تاسو د ځمکې د کارولو په اړه د هغو د مالک د مختلفو حقونو په هکله ولوستل. په دې حقونو کې د ځمکې د ګټور کارولو حق ، له ځمکې څخه د نورو د شړلو حق، له ځمکې څخه د عايد د ترلاسه کولو حق او نور راځي. خو، مالکيت هميش له مکلفيتونو او حقونو سره مل وی. پردې سربېره چې ځمکه بايد د قانون سره سم وکارول شي، ځينې ځمکې کېدای شي مفيدی وي. قيودات د ځمکې سره مل شرطونه دي. په دې معنی چې دا قيودات په شرطونو اوړي او د ځمکې د يوې ټاکلې ټوټې د مالکيت برخه ګرځي.د قيد تر ټولو غوره مثال د ارتفاق حق دی.

ارتفاق بې ځمکو خلکو ته اجازه ورکوي تر څو د ملکيت يوه ټاکلې ټوټه په ځانګړې طريقه وکاروي. د مثال په توګه، فرض کړئ چې سميع الله له کابل څخه د باندې ځمکه لري. هغه غواړي چې اوبو ته لاس رسی ولري، خو پخپله ځمکه کې اوبه نه لري.خو د نوموړي د ګاونډی، کريم په ځمکه کې د اوبو کوچنۍ سرچينه ده. سميع الله غواړي د کريم سره د يادې سرچينې له اوبو څخه د ګټې اخيستلو په هکله خبري وکړی . له دوستانه خبرو وروسته، کريم سميع الله ته له خپلې ځمکې څخه د تېرېدو اجازه ورکوی چې لس سطلونه اوبه يوسي او په بدل کې کريم پنځه جرېبه ځمکه سميع الله ته ورکوي. د سميع الله له لوري د کريم پر ځمکه باندې د نوموړې د ځمکې کارول د مثبت ارتفاق حق په نوم يادېږي، ځکه دا يو بل چاته (په دې مثال کې سميع الله ته ) اجازه ورکوي په داسې طريقه هغه وکاروي چې د ارتفاق له حق پرته کريم ترې انکار کولای شي.

دا د ارتفاق د منفي حق سره پرتله کړئ. مثال داسې يوه هوکړه چې په ترڅ کې يې کريم توافق کوي تر څو داسې کار و نه کړي چې نوموړي يې پر خپله ځمکه باندې د کولو حق لري. د مثال په توګه، که چېرې سميع الله او کريم توافق وکړي چې کريم به پر خپل ملکيت باندې داسې ديوال نه جوړوي چې اوبو ته د لاس رسي په برخه کې سميع الله د ستونزو سره مخامخ کړي، دا د ارتفاق د منفي حق بېلګه ده.

همدارنګه د اوبو د تر لاسه کولو په موخه د سميع الله له لوري د کريم د ځمکې کارول، د ارتفاق شخصي حق هم دی، ځکه چې يوازې سميع الله کولای شي د کريم له ځمکې څخه په دې طريقه ګټه واخلي. که چېرې سميع الله او کريم سره توافق وکړي هر هغه څوک چې د سميع الله ملکيت خپل کړي کولای شي د اوبو د راوړلو لپاره د کريم له ملکيت څخه ګټه واخلي، دا به د ارتفاق د ځمکني حق يوه بېلګه وي. د ارتفاق د شخصي حق او د ارتفاق د ځمکني حق ترمنځ توپير په دې کې دی چې وروستي حق د ځمکې سره مل دی. يعني آن که چېرې ځمکه کوم بل چا او کاروونکي ته انتقال يا ولېږدول هم شي، بيا هم د ارتفاق حق د اړونده ځمکې په اړه خوندي دی. په دې ترتيب، د مثال په توګه، که کريم خپل ټول ملکيت کوم بل چاته د ګټې اخيستنې د حق ( لکه کرنه) لپاره ورکړي، همدارنګه د ځمکې ( چې لا هم کريم د هغو مالک دی) نوی کاروونکی بايد خپلې اوبه راوړي، ځکه چې ځمکه لا هم د ارتفاق له حق څخه برخمنه ده.

اکثراً داسې ويل کېږي چې د ځمکې د يوې ټوټې سره د ارتفاق حق ځکه "مل" وي چې هغه په همدې حق مقيد دی. يعني کله چې د سميع الله ځمکه خرڅه شي، چاته ورکړل شي او يا په ميراث چاته ورسېږي، که د ځمکې له لېږد وروسته د هغو نوی قانون مالک هر څوک وي، د ملکيت لپاره د سميع الله تفاهم شوي حقوق خوندي دی. د سميع الله د ځمکې نوی پېرودونکی کولای شي د اړونده ځمکې د يوې برخې په توګه د سميع الله په کور کې و اوسي او يا هم هغه وپېري او همدا شاني ددې حق لري چې د کريم له اوبو څخه د نوي ملکيت د يوې برخې په توګه ګټه واخلي.

داسي انځور کړی چي د هغوی د خبرو اترو په ترڅ کې، په راتلونکي کې د خپلي ځمکي د ارزښت د لوړولو په مقصد (ځکه هر هغه څوک چي غواړي په راتلونکي کي د سمیع الله ځمکه رانیسي، کېدای شي اوبو ته د لاس رسي هیله هم ولري)، سمیع الله د کریم له اوبو څخه د ګټې اخیستل د ځمکني ارتفاق حق خوندي ګڼي. په یاد ولري چي د ځمکني ارتفاق حق د ځمکي سره مل وي، آن له هغه شخص وروسته چي په لومړی ځل یې د ارتفاق د حق تفاهم کړی وي. څو کلونه وروسته، سمیع الله پرېکړه کوي چي کابل پرېږدي، او خپله ځمکه وپلوري. نور د سمیع الله ځمکه رانیسي . که چېرې د کریم پر ځمکه باندې د کریم اوبو ته لاس رسی د ځمکنی ارتفاق حق وي، نور کولای شي د پخوا په شان د کریم له اوبو څخه ګټه واخلي.

د ارتفاق حق دواړه هم د لوړي مرتبې او هم د راټیټي مرتبې شتمني لري. د لوړې مرتبې شتمني هغه مال ته ویل کېږي چي د ارتفاق د حق د نتیجې په توګه د مثبت حق درلودونکی وي. د ټیټي مرتبې شتمني یا ځمکه لرونکی له خپلي ځمکي څخه نور په داسي ډول ګټه نه اخلي چي د ارتفاق د حق له مخې اجازه و نه لري. زموږ په مثال کې، د سمیع الله شتمني د لوړې مرتبې شتمني ده ځکه چي نوموړي د ارتفاق له لارې حق تر لاسه کړي او د کریم شتمني د ټیټي مرتبې شتمني ده ځکه چي نوموړي د ارتفاق د حق له لارې حق له لاسه ورکړ. د مثال په توګه، مدنی قانون د ارتفاق حق په څه ډول تعریفوي، د افغانستان د مدنی قانون ۲۳۴ او ۲۳۵ مادې وګورئ.

۱. د سمیع الله ځمکه عامه سړک ته لاس رسی نه لري. نوموړي څه موده مخکې موټر وپېرود، خو غواړي چي خپل موټر د عامه سړک څخه تر خپل کور پورې وچلوي. د کریم ملکیت عامه سړک ته مستقیم لاس رسی لري، لاکن د سمیع الله کور ته د سړک لاره بندوي. په دې حالت کې سمیع الله څه کولای شي؟ آیا کولای شی چي د کریم سره سړک ته د لاس رسي په هکله تفاهم وکړي ؟

د افغانستان د مدني قانون ۱۹۱۹ ماده ددې حالت لپاره ډېره مهمه ده. دا ماده وایي که چېرې د ځمکي یوه ټوټه د عامه لارې سره تړلې نه وي، او له لوی لګښت پرته ددې لارې سره د هغو تړل ناشوني وي، د اړونده ځمکي مالک کولای شي" د عادلانه تعویض په بدل کې د ګاونډي په ملکې کې لازمي تصرف وکړی او هغه استعمال کړي". آیا دا ماده ستاسو د لومړی پوښتني ځواب ته تغیر ورکولای شي؟

۳. د سمیع الله کور تر اوسه یو پوړ آبادي لري، خو د نوموړي د دویم اولاد له زوکړې وروسته غواړي د کور دویم پوړ هم آباد کړي. خو ددې پوړ آبادول به تر ډېره بریده د کریم کور د لمر له روښنایي څخه بې برخي کړي. کریم نه غواړي چي دده کور د لمر له روښنایی بی برخي شي. په دې حالت کې کریم څه کولی شی؟ آیا کولای شي د سمیع الله سره د ارتفاق د حق له مخې د خسارت د جبران په اړه تفاهم وکړي ؟ آیا دا کار د کال په اوږدو کې د هغو چا حق اغېزمن کولای شی چي د سمیع الله کور رانیسي؟

۴. د افغانستان د مدنی قانون ۱۹۰۸ ماده وایي:" له کور څخه په کلي توګه د رڼا مانع فاحش ضرر ګڼل کېږي.هېڅوک نشي کولای چي داسي بنا جوړه کړي چي د ګاونډي د کور کړکی بنده کړي او په هغه کي په کلي توګه د رڼا مانع شي." آیا دا ماده ستاسو د ۳ پوښتني ځواب ته تغیر ورکولای شی؟

**۳.۲ مالیه**

د مال د مالکیت یوه برخه چي د ځینو له نظره د مال په خپلولو کي نیمګړتیا ګڼل کېږي، د مالیي ورکول دی. ددې یو دلیل چي ولي حکومتونه د وثیقه جوړه وی ،سیستم رامنځ ته کوي (موضوع مخکي وړاندې شوه) دادی چي هغوی پر دې باندې و پوهېږي چیېر چا مالیه وضع کړي. که حکومتونه وپوهېږي چي ځمکه د چا ده، بیا نو دوي پوهېږي له چا څخه مالیه واخلي. د معمول سره سم، دا چي حکومت د ځمکي د یوې ټوټې څومره مالیه واخلي د اړونده ځمکي د ارزښت سره تړلې ده. په دې توګه مالک له ځمکي څخه د کلني عاید د سلني په حساب حکومت ته مالیه ورکوي. دا د ملکیت د مالیي په نوم یادېږي. د مثال په توګه، که چېرې سمیع الله د یوې ټوټې ځمکي په خاطر ۲۰۰۰۰ افغانی ورکړي، دا به په دې معنی وي

چې د نوموړي ځمکه ۲۰۰۰۰ افغانۍ ارزښت لري. که چېرې حکومت د ځمکې مالیه په کال کې دوه سلنه وټاکي، دا په دې معنی دي چې سمبع الله باید حکومت ته هر کال د ۴۰۰ افغانیو مالیې په ورکولو سره ځمکه خپله کړي.

په دې وروستیو کې په افغانستان کې د ملکیت مالیه شتون نه لري. دا د ځینو ځمکې لرونکو لپاره عمومیت لري چې ځایي ټولنو ته مالیه ورکړي، خو مرکزي حکومت په وروستیو کې د ځمکې د مالکیت مالیه نه راټولوي. خو همیش داسې نه وه. له ۱۹۳۰ څخه تر ۱۹۷۰ ز کلونو پورې، حکومت د ځینو ځمکو مالیه راټوله‌. خو دا کار په بشپړه توګه په ۱۹۷۸ ز کال کې ودرېد.د ځمکې ځیني اوسني مالکین د ۱۹۷۸ ز کال د مخه د مالیې رسیدونه د خپلې ځمکې د مالکیت د ثبوت په توګه وړاندې کوي. خو بیا هم له هغه راوروسته د ځمکې مالیه نه ده اخیستل شوې او داسې نه ښکاري چې د مالیې د راټولو رسمي بهیر تر هغه پورې بیا پیل شي تر څو چې حکومت د ځمکې د وثیقې جوړوني او ثبت یو سیستم رامنځ ته نه کړي.

## ۳.۳ رهن

د ځمکې د خپلولو یوه بله ګټه داده چې تاسو کولای شی هغه په ګرو یا رهن ورکړئ. ددې موضوع د پوهېدلو لپاره ، د څو اصطلاحاتو توضیح ته اړتیا ده. لومړي دا چې پور څه شی دی. په ساده ډول پور دادی چې کله تاسو ته یو څوک پیسې درکړي او تاسو وروسته له څه مودې هغه بېرته نوموړي ته ورکوی. ځیني وختونه پور د ګټې د اندازې سره مل وي. سود د پیسو یوه ټاکلې اندازه ده چې د پور پراصلي مبلغ سربېره ، د یو ټاکلي منل شوي جدول له مخې یې تاسو باید پورورکوونکي( هغه څوک چې تاسو ته پور درکوي) ته ورکړی. معمولاً ولې نه د همیش لپاره ګټه د پور د مبلغ د سلنې له مخې اټکل کېږي. په دې ترتیب د مثال په توګه، فرض کړئ چې صادق له پرواني څخه پیسې پور اخلي. کله چې دوی د پور د هوکړې په اړه خبرې کوي، نو په هغه کې قیودات وضع کوي. قیودات د شرطونو لپاره بله کلمه ده چې د هوکړې خواوې پر هغو باندې توافق کوي. پروانه او صادق توافق کوي چې پروانه صادق ته ۱۰۰۰۰ افغانۍ ورکوي. پروانه او صادق دوستان دي، خو پروانه ډاډه نه ده چې صادق په ټاکلي وخت کې وکولای شي پیسې په سمه وکاروي. په دې توګه نوموړې او صادق توافق کوي چې د ۱۰۰۰۰ افغانیو پر بېرته ورکولو سربېره، نوموړی به د اصل مبلغ ۱۰ سلنه زیاتې پیسې هم ورکوي. دوی همداشانې توافق کوي چې صادق به په راتلونکو ۵ کلونو کې د پور یوه برخه هم پروانې ته ورکوي. په دې توګه په ټولیز ډولو صادق پروانې ته ۱۰۰۰+۱۰۰۰۰ (د ۱۰۰۰۰ افغانیو ۱۰ سلنه) یا ۱۱۰۰۰ افغانۍ پوروړی دی. که چېرې صادق په برابره توګه پروانې ته هر کال پیسې ورکړي نو د نوموړي د پور کلنۍ اندازه ۲۲۰۰ افغانۍ کېږي چې د هغو ۲۰۰ افغانۍ په ګټه کې راځي.

خو که چېرې صادق پروانې ته پیسې ورنه کړي، نو بیا به څه پیښ شي؟ دې حالت ته قصور ویل کېږي. که چېرې صادق پور شوې پیسې بېرته ور نه کړي، له پروانې څخه په پور اخیستلو کې نوموړي غفلت کړی. که چېرې د پروانې او صادق ترمنځ هوکړه له عقد پرته تر سره شوې وي، نو د پروانې چانس به محدود وي او د ستونزې د حل لپاره باید د جرګې او یا محکمې مرسته وغواړي. که چېرې پروانه د صادق پواسطه لاسلیک شوی عقد په لاس کې ولري، په دې صورت کې د نوموړې چانس زیات دی. کېدای شي محکمه داسې پرېکړه وکړي چې صادق د پروانې پوروړی دی او نوموړی باید د هغې پیسې بېرته ورکړي.

کېدای شي تاسو پوښتنه وکړئ، " دا د مال د مالکیت سره څه تړاو لري؟" دا ښه پوښتنه ده. د پور یو ځانګړی ډول شته چې د مال د مالکیت سره تړاو لري، د پور دا ډول ته رهن یا ګروي وایي. د صادق او پروانې ترمنځ اړیکه یو ځل بیا انځور کړئ. داسې فکر وکړی چې پروانه د هغه بانک سره چې صادق ته یې پور ورکړی، کار کوي. هغوی په عین شرطونو سره موافقه کړی. خو دا ځل صادق د پروژې لپاره زیاتو پیسو ته اړتیا لري. د پورته یادو شوو ۱۰۰۰۰ افغانیو په ځای، نوموړی د ۵۰۰۰۰ افغانیو د پور اخیستلو غوښتنه کوي. هغه پر دې باندې پوهېږي چې د بانک له خوا نوموړي ته د زیاتو پیسو پور ورکول د بانک لپاره یو خطردی. په دې ترتیب، د جوړ جاړي په توګه، نوموړی ددې سره توافق کوي چې د پیسو د ورکولو د قصور په صورت کې ( که چېرې بېرته پیسې ور نه کړای شي) بانک کولای شي د نوموړي کور رانیسي. په دې صورت کې، هغه شخص چې پیسې تر لاسه کوی د پور اخیستونکي (ځکه چې د بانک پوروړی دی) یا رهن ورکوونکی دی. پور وړی یا رهن ورکوونکي ځیني وختونه د پوروړي په نوم هم یادېږي. په بانکي معاملو کې د غیر منقولو مالونو د رهن قانون چې په ۲۰۰۹ کال کې تصویب شو، رهن ورکوونکی داسې تعریف شوي:" هغه شخص چې د مرهونې مالک وي او...د رهن تابع دین د هغه پر ذمه وي." هغه شخص چې پیسې رهن ورکوونکي ته د دین په توګه ورکوي (معمولاً بانک) د رهن اخیستونکي په نوم یادېږي.

د قصور په حالت کې د بل چا کور په تصرف کې راوستل، یو څه سخت ښکاري. خو که صادق فکر کوي چې هغه به د پور په بېرته ورکولو کې ستونزه و نه لري نو دا معامله د نوموړي په ګټه ده. ددې پرځای چې د نوموړي کور یوازې د ارزښت په نوم پاته شي، هغه کولای شي چې د خپل کور ارزښت د نورو پروژو لپاره وکاروي. هغه کولای شي څاروي رانیسي، یا خپله څمکه و پالي، یا د دوست سره په کار او بار کې پانګونه وکړي. د خپل کور ګروي ده ته ددې امکان ورکوي چې کور نه یوازې د ژوند کولو لپاره بلکه د نورو موخو لپاره هم وکاروي. په دې معامله کې، هغه پیسي چې بانک یې د پور په توګه صادق ته ورکوي د کریدت په نوم یادېږي. په افغانستان کې د بانکداری قانون_کریدت داسي تعریفوي:" د یوه مبلغ هر ډول ورکړه یا د ورکړې ژمنه ده چې د ټکتاني له ورکولو سره د ورکړل شوي مبلغ د بېرته ورکړې د حق، د نوروتضمین شویو یا ناتضمین شویو لګښتونو، د پور هر ډول تمدید، هر ډول صادر شوی تضمین او د پور د بها لرونکو سندونو د پېرودلو او یا د مبلغ د ورکړې د ژمنې د نورو ډولونو په عوض چې په مستقیمه توګه یا د ټکتاني د تخفیفي پېروډني د یوې بیې په واسطه ورکول شوی وي" دا خورا پیچلې تعریف دی. خو په اصل کې کریدت د پیسو یو مبلغ دی چې یو شخص (یا بانک) بل چا ته پور ورکوي په داسې حال کې چې دواړه لوري پوهېږي چې پیسي باید بېرته ورکړل شي. لکه چې تاسو په مخکنیو مخونو کې ولوستل، د پور ورکړل شوي کریدت په اړه شرطونه باید تفاهم او ومنل شی. خو پخپله د کریدت کلمه د پور ورکړل شوي مبلغ ته ویل کېږي.

د رهن قانون د مال د حبس حق داسې تعریفوي: " د مرهوني تر تأمین لاندې راوستل دي چې په واسطه یې د التزاماتو اجراء تضمینېږي."

کله چې بانک ( یا بل هر پور ورکوونکی) د هغه شخص ملکیت چې پور اخلي د تصرف ( ولکه یا تسخیرول هم ورته وایي) اختیار ولري، کور د پور لپاره د تضمین په توګه کارول کېږي. په دې صورت کې، کور د پور لپاره تضمین دی. تاسو آن کولای شی ووایي چې د قصور په حالت کې د صادق د کور د نیولو امکان، هغه څه دي چې پروانه او بانک ډاډمنوي چې نوموړي ته پور ورکړي. په عمومي ډول، د اقتصاد لپاره تضمین شوي پورونه ښه کار کوي ځکه هغه ملکیت لرونکو خلکو ته ددې اجازه ورکوی چې د خپل ملکیت ارزښت د نورو کارونو لپاره هم په کار واچوي. بیا هم ، د صادق حالت په پام کې ونیسئ. هغه پوهېږي چې ځمکه او کور یې نژدې ۵۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ارزښت لري. که چېرې نوموړی په دې فکر وي چې بېرته د پور پیسي ورکولای شي، او خپل کور په تصرف کې ساتي، هغه د خپل کور ارزښت له مخې ۵۰۰۰۰ افغانۍ تر لاسه کولای شي. که نه ، نوموړي به خپل کور خرڅاوه او د هغو له ارزښت به یې دنغدو پیسو په توګه کار اخیست. که چېرې نوموړی د پور په بېرته ورکولو بریالی نشي، بانک د نوموړي کور تصرف کوي. کله چې بانک دا کار تر سره کړي. نو په دې حالت کې بانک د تصرف له حق څخه کار اخلي. د رهن قانون د **حبس حق** داسې تعریفوي:" د مدیون پر منقولو مالونو باندې غیر عمدي حق دی، چې د التزاماتو د تضمین د اجرا په موخه ورکړل شوی وي." دا په دې معنی دي چې د تصرف حق داسې حق دی چې بانک کولای شي د هغو له مخې د صادق کور ونیسي البته په هغه صورت کې چې صادق د قصور له امله له بانک څخه پور شوې پیسې بېرته ورنه کړي. دا د صادق له خوا بانک ته د پور شوو پیسو د بېرته ورکولو ډاډمنه لار ده.

رهن ته ورته توافق لیک د رامنځ ته کولو یوه بله لارد بیا اخیستلو توافق لیک دی. د بیا اخیستلو توافق لیک هغه وخت تر سره کېږي کله چې پور ورکوونکی له پوروړي څخه ملکیت پېري. په ورته وخت کې پوروړی په لوړ قیمت د یو څه زیاتي مودې لپاره دعین ملکیت د بیا پېرودلو سره موافقه کوي. د مثال په توګه، په یاد ولرئ چې د صادق ملکیت قېمت د ۵۰۰۰۰۰۰ افغانۍ و. د رهن په عادي توافق لیک کې، بانک هغو ته ۵۰۰۰۰۰۰ افغانۍ پور ورکولای شي. اجازه راکړئ داسې انځور کړو چې د ګټې نرخ د ټول مبلغ ٪۱۰ دی او نوموړی باید دا پیسي د څلورو کلونو په اوږدو کې بېرته ورکړي. دا شاني، صادق باید په ټولیزه توګه ۵۵۰۰۰۰۰ افغانۍ بانک ته ورکړي (اصل مبلغ ۵۰۰۰۰۰۰ + ۵۰۰۰۰۰ سود) چې د ورکړې اندازه ۱۳۷۵۰۰۰ افغانۍ کېږي. د بیا پېرودلو په توافق لیک کې بانک د صادق ملکیت په پیل کې پېري. صادق لاهم پخپله ځمکه کې ژوند او هغه کارولای شي. نوموړي د راتلونکو څلورو کلونو په اوږدو کې د ۵۵۰۰۰۰۰ افغانیو په مقابل کې بېرته ځمکه پېرودلای شي. هغه ددې سره موافقه کوي چې هرکال به بانک ته۱۳۷۵۰۰۰ افغانۍ ورکوي. خو دا مبلغ د ګټې پیسي نه بلکه د کور د بیا پېرودلو لپاره د ټول مبلغ وړه برخه ده.

۱. فرض کړئ چې تاسو د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت ملکیت لری. ستاسو ملګری کار او بار پیلوي او تاسو باور لرئ چې که ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ په کار او بار کې پانګونه وکړي، تاسو به هم ګټه او هم به د خپل ملګري سره مرسته وکړئ. تاسو د خپل ملکیت د رهن کولو په لټه کې کېږئ. له بانک څخه تر خبرو وروسته، هغوی تاسو ته وویل چې پور در کوي. آیا په دې صورت کې تاسو د بیا پېرودلو د توافق لیک غوښتنه هم کوئ؟ آیا تاسو د ګټې د نرخ سره د سټانډارډ رهن غوښتنه کوئ؟ تاسو به د کوم نرخ وړاندیز وکړئ؟ تصور وکړئ چې بانک د پنځو کلونو په موده کې د پور د ادا کولو

لپاره د ګټي د۱۵٪ نرخ وړاندیز کوي ؟ په دې صورت کي به په ټولیزه توګه تاسو بانک ته څومره پیسي ورکوی؟ هر کال به تاسو بانک ته څومره پیسي ورکوی؟

۲. په زیاترو معاملاتو کي، رهن د رهن وړ ملکیت د پیرودلو لپاره کارول کیږي . د مثال په توګه، صادق غواړي د ۵۰۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت ملکیت وپیري. خو نوموړی اوس مهال یوازې ۲۰۰۰۰۰۰ افغانی په واک کي لري. نوموړی کولای شي بانک ته ولاړ شي او د کمبود ۳۰۰۰۰۰۰ افغانیو پور واخلي. دا کار ولي ګټور دی؟ که بانک د نوموړی له خوا ددې ملکیت پیرودلو په مهال د هغو له امله د رهن پور ورکړي او د پنځو کلونو په اوږدو کي د اصل مبلغ د ۱۰ سلني نرخ له مخي وړاندیز وکړي، بانک ته به د کلنی پور د بېرته ورکړې اندازه څومره وي؟

د رهن موضوع او پور ورکول په وروستیو کلونو کي په افغانستان کي مهم شوي دي. د بانکولۍ او پور ورکولو قوانین په وروستیو کلونو کي تصویب شوي دي او له دې امله د بانکونو شمېر هم په زیاتېدو دی. دواړه د بانکولۍ قانون په افغانستان کي او د غیر منقول ملکیت په هکله د رهن قانون هر اړخیز دی. لاندې مادې ولولۍ او وګورئ چي مخکني مفاهیم او ایدیاوې په بانکي معاملو کي د غیر منقول مالونو د رهن په قانون کي په څه ډول کارول شوي دي.

**په بانکي معاملو کي د غیر منقول مالونو د رهن قانون**

**۱ ماده:**

دغه قانون په بانکي معاملو کي د غیر منقولو مالونو په رهن پورېږد اړوندو چارو د تنظیم او د معالي د اړخونو د حقونو او وجایبو د ټاکلو په منظور شوی دی.

**۴ ماده:**

(۱) د رهن حق پر غیر منقولو مالونو باندې د دین د ټول یا یوې برخي د تضمین لپاره انشاء او ورڅخه ګټه اخیستل کېدای شی.

**۶ ماده:**

(۱) د دین مقاوله به لیکلي ډول وي، د اړخونو له خوا لاسلیک او د لاندې مطالبو لرونکي وي:

۱. د مدیون نوم....

۲. د رهن د تابع دین د بشپړې بېرته ورکړې په اړه د رهن ورکوونکي ژمنه.

۳. د دین یا د اړوندو قسطونو د ورکړې یا بېرته ورکړې د وخت او ځای ټاکل او څرنګوالی.

۴. د دین د ورکړل شوو قسطونو د محاسبې ا و وضع کولو څرنګوالی...

ورسته له هغه چي تاسود رهن په هکله د قانون پورتنی متن ولوست، پام وکړئ چي په څه ډول د هغو هره برخه د رهن د یاد بهیرسره تړاو لري. د مثال په توګه، د ۶(۱) ۳ ماده د هغو کومه برخه توضیح کوي. د بانک سره د صادق د کار کومه برخه د هغو د کومي برخي سره تړاو لري؟

لکه چي تاسو پوهېږئ ، رهن یوه پیچلي موضوع ده. هغه کسان چي د رهن په معامله کي راښکېل وي د هغو شرطونو او د پیسو د بیا ورکولو د سیستم سره موافقه کوي. په دې اړه باید " په پیسو باندې د رهن تابع دین د اعظمي مبلغ په هکله موافقه" شتون ولري" او " د اړخونو له حقوقو او وجیبو څخه د اړخونو خبرتیا او د دین له نه ورکړی یا التزاماتو له نه تر سره کولو څخه د رامنځ ته شوي ضررجبران" ، تر سره کوی. (Law on Mortgage of Immovable Property)

in Banking Transactions, Article 9(1)1 and 3). په دې ترتیب که چیرې دواړه خواوې د رهن توافق لیک له شرطونو څخه خبر وي، دوی د پیسو د بېرته ورکولود دواړو لورو د خوښې په هر ډول جوړښت باندې توافق کولای شي. د صادق په موضوع کې، کله چې نوموړی غواړي خپل کور د ۵۰۰۰۰۰۰ افغانیو په بدل کې په رهن ورکړی، هغه کولای شي د دوو لومړیو کلونو په اوږدو کې بانک ته لږ پیسې ورکړي او د توافق لیک سره سم په وروستیو دریو کلونو کې بیا بانک ته زیاتې پیسې ورکړي. دا د پور عام سیستم دی، ځکه چې پوروړي ته اجازه ورکوي چې بیا وروسته د زیاتو پیسو د تر لاسه کولو لپاره، په پیل کې د پور شوو پیسو زیاته برخه و کاروي. که دا د توافق لیک غوښتنه وي، هغه ته نه ښایي چې بانک ته په لومړیو دوو کلونو کې د پور شوو پیسو زیاته برخه بېرته بانک ته ورکړي. فرض کړئ چې تاسو غواړئ د خپل ملکیت په سر رهن واخلئ. تاسو به په دې اړه د بانک سره څه ډول توافق لیک لاسلیک کوئ؟ او په څه ډول به تاسو پیسې بېرته بانک ته ورکوئ؟

بلآخره، تر قانون لاندې د رهن یوه غوښتنه چې مخکې پرې باندې بحث وشو، داده چې پور اخیستونکی باید د هغه ځمکې چې په رهن یې ورکوي، سند یا وثیقه وړاندې کړي. دا د وثیقې د اهمیت بل مثال دی چې د ځمکې مالکیت په ثبوت رسوي. ستاسو له نظره ولې بانک او یا د بانکولي قانون مخکې د رهن د پور له اخیستلو څخه د ملکیت د وثیقې د ښودلو غوښتنه کوي؟

**نتیجه**

د ملکیت حقوق په نړۍ کې د حقوقو یو ډېر مهم او عام ډول دی. هر څوک ددې حقوقو اساسات پېژني. له ځوانۍ څخه، موږ په دې پوهېږو چې تصرف څه ته وایي. موږ ته راښودل شوي دي چې څه شی په چا پورې اړه لري، موږ د نورو سره څه ډول شراکت کوو، او له موږ او زموږ له ملکیت څخه د څه تمه کېږي. هر یو ماشوم د "زما" او "ستا" د کلمو سره آشنا دي. هر څومره چې موږ د ملکیت د حقوقو سره زیاته آشنایي پیدا کړو، موږ هغه ښه پېژندلای شو، که څه هم چې د ملکیت د قانوني حقونو پېژندل تر دې لومړنیو مفاهیمو لا زیات پېچلي دي، خو سره ددې هم دا لومړني اصول هم خورا مهم دی. وثیقه جوړول یوه لاره ده چې تاسو خلکو ته ویلای شئ چې یو مال په رسمي ډول ستاسو په مالکیت کې دی. اجاره ورکول داسې لاره ده چې په لنډ مهال کې له ملکیت څخه بل چا ته د ګټې اخیستلوا مکان ورکوي، سره ددې چې اړونده مال لاهم ستاسو دی او داسې نور.

ددې دلیل چې ملکیت ولې مهم دی، آن د ځواني په کلونو کې، دادی چې د ملکیت حقونه د هرچا سره تړاو لري. آن هغه کسان چې ځمکه یا نور شیان هم په مالکیت کې و نه لري. په کوچیاني کلتورکې، د مثال په توګه، معمولاً د ځمکې ملکیت نشته، خو په یقین سره چې هغوی کورونه لري آن که دا کورونه خوځنده هم وي. ځمکه د ملکیت ډېر مهم ډول او د ملکیت د زده کړې لپاره ښه لار ده، ځکه چې هغه غیر منقول مال دی، دا مهمه ده، او د ځمکې د خپلولو نظریه د فهم وړ او آسانه ده. سربېره پر دې، خلک د خپلې ځمکې سره هغه کارونه تر سره کولای شي چې د ملکیت د نورو ډولونو سره هغه ناشوني دي. رهن په دې اړوند ډېر ښه مثال دی. ځینې وختونه پور د تضمین په توګه د ملکیت اړوند غیرځمکنیو توکو پواسطه هم صورت مومي. خو رهن د پوررونو تر ټولو مهم ډول دی او د معمول مطابق د تضمین په توګه د غیر منقول ملکیت (ځمکه، یا ودانۍ) شتون د هغو لپاره اړین دی . د هغو څه له مخې چې موږ په دې څپرکي کې زده کړل، ستاسو په آند ولې دا موضوع مهمه ده؟

ددې څپرکي په اوږدو کې، تاسو د مالکیت د مختلفو ډولونو په هکله معلومات تر لاسه کړل او دا چې په دې اړه د افغانستان قوانین څه وایي. د مدني قانون بېلا بېلې برخې او د ځمکوالۍ د چار د تنظیم قانون افغان وګړو سره د خپل ملکیت د کارولو د څرنګوالي په برخه کې مرسته کوي. خو پوښتنه داده چې په راتلونکې که به په افغانستان کې کوم تغیرات پر مالي مالکیت باندې اغېز وکړي؟ په ۲۰۱۲ ز کال کې، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم د نوي قانون مسوده جوړه او د کابینې غونډې ته وړاندې شوه. دا نوې مسوده د ۲۰۰۸ کال د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون پیاوړی کوي، او د ځمکې د عرفي مالکیت لپاره زیات رول په پام کې نیسي، د حکومت برداشت ته رسېدنه کوی او داسې نور. د ۲۰۱۳ز کال تر فبروري پورې، د افغانستان د ځمکو اداره د ځمکې د ادارې د نوي سیستم د جوړولو په لټه کې وه. نوی سیستم به د ځمکې د ثبت او وثیقو لپاره کمپیوتري ډیتابیز رامنځ ته کړي. دا نوی سیستم د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د مسودې یوه برخه ده. خو تر ډېره برېده به دا برخه د قانون له نورو برخو څخه په جلا ډول عمل کوي.نوی کمپیوتري شوی سیستم به له جلال آباد څخه کار پیلوي او ځمکوالو ته به اجازه ورکوي چې د حکومت سره خپلې ځمکې په رسمي توګه ثبت کړي. لکه چې د

هغو په يوه ماده کې داسي راغلي دي، نوی سيستم" د مال د مالکيت قانونيت پياوړی کوي، د وګړو د ځمکي له حق سره مرسته کوي، او د اقتصادي پرمختيا په موخه د مالکيت د شفافو حقوقو له لارې د افغاني بنسټونو سره د مشارکت ملاتړ کوي...."

ددې درسي کتاب د راتلونکو ځېرکيو د مطالعي په مهال ددې کتاب په دې ځېرکي کې مو چې د ملکيت په هکله مو څه زده کړي دي په ياد ولرئ. لکه په هر دول نورو حقوقو کې، په ځانګړي ډول د ملکيت په حقوقو کې، هره موضوع چې تاسو زده کوی ستاسو پر مخکنی زده کړي باندې ولاړه ده. لاندې پوښتنو ته ځواب ووايئ تر څو په دې ځېرکي کې د زده کړه موضوعاتو پر پوهېدو باندې ډاډ من شئ.

١. د حکومت له لوري د ځمکو د ثبت په اړه نوي وړاندې شوي سيستم چې مخکې يې يادونه وشوه، يو ځل بيا ولولئ. آيا ستاسو په نظر به دا سيستم بريالی شي؟ که چېرې تاسو وغواړی دا ډول يو سيستم طرح کړئ، آيا په هغه کې داسې څه شته چې تاسو به په کې تغير راولئ؟ ددې سيستم کومه برخه به تاسو وساتئ؟ هر څېل ځواب بيان کړئ او دا له دې ځېرکي څخه ستاسو د زده کړې سره څه تړاو لري؟

٢. تاسو او ستاسو د تره زوی غواړی د ځمکي يوه ټوټه وپيرئ. د ځمکي ارزښت ١٠٠٠٠٠ افغانی دی. که چېرې تاسو او ستاسو د تره زوی د ځمکي د پيرودلو لپاره هر يو ٣٠٠٠٠ افغانی لري، په دې صورت کې د ځمکي د پيرودلو لپاره به نورې پيسي چې ١٠٠٠٠٠ پوره شي، له کومه کوئ؟ د پيسو تر پيداکولو وروسته، تاسو او ستاسو د تره زوی د مالکيت کوم ډول ته غوره والی ورکوی؟ د ځمکي د کارولو د څرنګوالي په هکله پرېکړه څه ډول وي؟

٣. وروسته له هغه چې تاسو په دوهمه پوښتنه کې ياده شوي ځمکه وپيروده، يو سړی تاسو او ستاسو د تره زوی ته راځي او وايي چې ځمکه د هغو ده او داچې ځمکه پر تاسو باندې په غلطه پلورل شوی ده. هغه چا چې پر تاسو باندې ځمکه پلورلې ده، هغه يو مشهور سړی دی او تاسو خو پوهېږئ چې نوموړی حق لري دا ځمکه پر تاسو باندې و پلوري. تاسو بل چاته څرنګه ثابتولای شئ چې تاسو په مشروع ډول ځمکه خپله کړي ده؟

۴. وروسته له هغه چې تاسو او ستاسو د تره زوی د ځمکي خپل مالکيت ثبوت کړ، له دريېمي پوښتني څخه ياد شوی سړی تاسو اوستاسو د تره زوی ته بيا راځي . هغو له تاسو څخه د ځمکي د مالکيت د ننګوني په اړه بښنه غواړي. خو هغه وايي چې دا کار يی ځکه وکړ چې کور ته يی د موټر يوازنی لار د اړونده ځمکي څخه تېرېږي. نوموړي ستاسو له خوا ددې ځمکي له خپلولو څخه انديښنه لري او اوس نشي کولای چې کورته د موټر چلولو دا لاره وکاروي. څرنګه تاسو او نوموړی دا پرابلم حل کوئ؟

## څلورم څپرکی: د ملکیت لېږد

### سریزه

له لومړي څپرکي څخه در په یاد کړئ چې د مال مالکیت د مالک څو بنسټیزو حقونو ته ځواب وایي، چې په هغو کې د کنټرول، کارولو، رهن، او د مال د لېږد حق شامل دي. دا څپرکی دې موضوع ته ځانګړی شوی چې په څه ډول د مال یا ملکیت کنټرول له یوه شخص څخه بل ته لېږدول کېږي. دا څپرکی پر دې باندې بحث کوي چې څرنګه یو څوک ملکیت ترلاسه کوي ( تصرف کوی یا یی په مالکیت کې راولي) او دا کارد څه لپاره تر سره کوي.

د افغانستان د اساسي قانون ۴۰ ماده وایي چې هر څوک ملکیت تر لاسه کولای شی" مګر د قانون د حکمونو په حدودو کې." هغه قوانین چې د ملکیت تر لاسه کول محدودوي عبارت دی له : د ۱۹۷۷ کال د افغانستان مدني قانون، د ۲۰۰۸ کال د ځمکوالی د چارو د تنظیم قانون، په بانکي معاملو کې د غیر منقول مالونو د رهن قانون ( د رهن قانون)، د ۲۰۱۵ ز کال د معاملاتو د لاربښووني قانون. له دې ټولو قوانینو څخه په دې څپرکي کی یادونه کېږي.

د ملکیت لېږد ډېر عمومیت لري. تاسو د نن ورځپاڼه ولولئ. په هغو کې د کورونو د خرڅلاو او د اپارتمانونو په کرایه ورکولو اعلان راغلی. د یو کور د پلورلو او د یو آپارتمان په کرایه ورکولو ترمنځ توپیر ته ځیر شئ. کله چې تاسو یو کور پېري، نو تاسو د هغو په اړه دایمي حق پیداکوی. د هغو پلورونکي د همېش لپاره خپل حق له لاسه ورکوي؛ د ملکیت لېږد نه راګرځېدونکی دی. ددې خلاف، کله چې تاسو آپارتمان په کرایه نیسئ، تاسو دا کار د یوې ټاکلې مودې لپاره تر سره کوی، ښایي د یو کال لپاره. د کال په پای کې، تاسو نور حق نه لری چې په هغه کې واوسئ؛ د ملکیت لېږد په دې صورت کې مؤقت دی. په دې ترتیب، د ملکیت لېږد کېدای شي نه راګرځېدونکی(دایمي) یا لنډمهاله ( د یوه ټاکلي وخت لپاره) وي. په داسې حال کې چې لېږد شخص ته د کور یا آپارتمان د فزیکي کنټرول واک ورکوي، همدا رنګه د اړونده کور یا آپارتمان د اشغالولو د قانوني حق لېږد هم په بر کې نیسي. د ملکیت پېرودل او په کرایه نیول یوازې دوې داسې لارې دي چې یو شخص د هغو په واسطه کولای شي پر ملکیت باندې کنټرول وساتي. همدارنګه کېدای شي یو شخص له خپلوانو څخه ملکیت په میراث یوسي او یایی د ډالی په توګه تر لاسه کوي.

د ملکیت هر ډول لېږد په خپله خوښه نه تر سره کېږي. د رضایت لېږد هغه وخت صورت مومي کله چې مالک د خپل ملکیت د مالکیت څخه د لاس اخیستلو اراده وکړي. همدارنګه د ملکیت لېږد په نارضایتي سره هم صورت مومي: کله چې یو شخص د مالک له اجازې پرته د اړونده ملکیت کنټرول په لاس کې اخلي. د مثال په توګه، یو شخص د بل چا پر ځمکې باندې د کور په جوړولو او په هغه کې په استوګنې سره ملکیت تر لاسه کولای شي. که چېرې د ملکیت خاوند د خپل حق اظهار و نه کړي، هغه چا چې د نوموړي په ځمکه باندې کور جوړ کړی کولای شي د اړونده ځمکې د مالکیت دعوا وکړي. د ملکیت دا ډول لېږد ته د نارضایتي لېږد وایي ځکه چې د مال مالک د لېږد سره موافقه نه لري. په دې څپرکي کې، زموږ د بحث موضوع د رضایت لېږد دی. په وروستیو څپرکیو کې بیا د نارضایت لېږد موضوع ته راګرځو.

په دې څپرکي کې دا موضوع تر څېړنې لاندې نیسو چې له یوه شخص څخه بل شخص ته ملکیت په څه ډول لېږدول کېږي. دا نه راګرځېدونکی او لنډمهال لېږد په بر کې نیسي. دا څپرکي پر پنځو برخو وېشل شوی. لومړی، موږ د لېږدېدونکي ملکیت په اړه عام محددیتونه څېړو: څوک د ملکیت د لېږد حق لري او کله دا کار تر سره کېږي. دا لومړی برخه همدارنګه د هغو ګامونو عام انځور په ګوته کوي کوم چې د ملکیت د رسمي لېږد لپاره اړین دي او همدارنګه د هغو قانوني مکلفیتونو عام انځور چې د توافق لیک په لاس لیک کولو سره اشخاصو ته متوجه کېږي.[106] دوهم، موږ دلته د ملکیت پلورل هم څېړو: کله مالک د کومې متاع لګه د پیسو په مقابل کې د ملکیت حقوق د همېش لپاره له لاسه ورکوي. دریم، موږ پرمؤقت لېږد لکه اجاره باندې هم بحث

[106] Note that there are two subcategories within the law of obligations: contractual obligations and extra-contractual obligations. The latter subcategory addresses civil responsibility, and other such matters. To be clear, the law of obligations discussed in this chapter refers only to the former subcategory: contractual obligations.

کوو. د ملکیت دا ډول لېږد د ټاکلي مقصد او وخت لپاره تر سره کېږي. د مثال په توګه، يو څوک د استوګنې لپاره آپارتمان د يوه کال لپاره په کرايه نيسي. په دې اړه، اوسېدل ټاکلی مقصد او موده يې يو کال دی. څلورم بحث د ميراث په هکله عموميات وړاندې کوي کله چې يو شخص له مړه شوي خپلوانو څخه ځمکه په ميراث وړي. دا چې د ميراث حقوق ډېره پېچلې موضو ع ده، دا بحث په دې اړه يوازې سريزه وړاندې کوي. په پنځمه شمېره کې، مونږ د ډالیو په هکله غږېږو: له برابر جبران پرته د مالکيت لېږد. دا څپرکي پر خصوصي لېږد باندې هم تمرکز کوي، کله چې ملکيت له يوه شخص څخه بل ته لېږدول کېږي. د کرنې او کانونو څپرکي، ۷ او اتم څپرکي د حکومتي ځمکو تر لاسه کولو ته بېل شوي دي.

د مالکيت په هکله څپرکي در په ياد کړئ چې قانون مالک ته هغه لارې په ګوته کوي چې د ملکيت له خپل حق څخه دفاع وکړي. داسې انځور کړئ چې غواړی ځمکه رانيسئ. تاسو په دې اړه بايد کوم کارونه تر سره کړی؟ تاسو څرنګه ډاډمن کېدای شی چې پلورونکی د اړونده ځمکې مالک دی؟ بيا داسې و انګېرئ چې غواړی يوه داسې ودانئ اجاره يا کرايه کړئ چې ترميم ته اړتيا لري. په دې اړه به ستاسو تر ټولو لويه انديښنه څه وی؟ که چېرې تاسو ودانئ ترميموی، په دې صورت کې به د کومو شرايطو له مخې د ودانئ مالک تاسو ته لګول شوې پيسې درکړي؟ که چېرې د ودانئ مالک د اجارې د مودې تر پای ته رسېدو د مخه خپله ودانئ ته اړتيا پيدا کړي، آيا نوموړی کولای شي له تاسو څخه وغواړي چې ودانئ پرېږدئ؟

وروسته له هغه چې تاسو دا څپرکی ولوست، په دې هکله فکر وکړئ چې آيا حقوق دې ډول ټولو عملي انديښنو ته ځواب ويلای شی.

## 1 . عمومي شرطونه

د مال ټول مالکين د خپل مال د نه راګرځېدونکي او لنډ مهال د لېږد حق لري.[107] دا عمومي اصل د ټاکلو محدوديتونو تابع دی. لومړی، د ملکيت لېږد تر هغه پورې اعتبار نه لري تر څو چې مالک او تر لاسه کوونکی ټول قانوني شرطونه عملی نه کړي.[108] لکه چې د مالکيت په اړونده څپرکي پرې بحث وشو، د ملکيت خاوند بيا خپل مالکيت په قانوني قباله کې ثبت يا راولي.دلته مونږ پر دې باندې غږېږو چې د مال د مالکيت په تغير سره شرعي قباله له يوه شخص څخه بل ته په څه ډول لېږدول کېږي.[109]

قانون همدارنګه دا هم معلوموي چې څوک او څه وخت ملکيت لېږدولای شي. دا موضوع مونږ دلته وړاندې کوو. وروسته بيا مونږ ددې موضوع وضاحت کوو چې د مال قانوني مالکيت په څه ډول تر سره کېږي، او نوي مالک ته د قانوني قبالی د لېږد بهير په څه ډول دی. مونږ به بحث د قانوني مکلفيتونو په عام انځور سره پای ته ورسوو چې په کې اختياری او د قانونی الزاميت توافق ليکونه يعنی عقدونه راځي. په رضايت سره د ملکيت ډېری لېږد د پلورلو او اجارې په بڼه د قرارد له مخې تر سره کېږي.

### ۱.۱ د ملکيت د لېږدولو محدوديتونه

د افغانستان اساسي قانون، مدني قانون، او د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالی د چارو د تنظيم قانون دا موضوع په ګوته کوي چې کوم کسان او څه وخت ملکيت لېږدولای شي. ددې محدوديتونو ډېري په دې لړ کې دي چې د ملکيت لېږد په اختياري توګه يا د رضا يت له مخې تر سره شي. لکه څنګه چې مو مخکې په دی هکله ولوستل، تاسو ددې نتيجه ګيري سره موافق ياستئ. تر کومه بريده قانون دا ډاډمنوي چې د ملکيت لېږد په رضايت سره دی؟ همدارنګه و ګورئ چې دا محدوديتونو نوره څه ګټه لري؟

---

[107] Law on Managing Land Affairs, Article 50, Law No. 958 (2008) [hereinafter Law on Managing Land Affairs of 2008].
[108] Civil Law of the Republic of Afghanistan, Article 2212, Law No. 353 (5 January 1977) [hereinafter Civil Code]; Law on Managing Land Affairs of 20082008, Article 50.
[109] Law on Managing Land Affairs of 2008, Articles 5 and 51.

### ۱.۱.۱ د ملکیت د لېږدوونکي شخص په هکله محدودیتونه

لومړی، د افغانستان د اساسي قانون ۴۰ ماده په یاد راولئ چي وایي هر څوک ملکیت تر لاسه کولای شی" مگر د قانون د حکمونو په حدودو کې."[110] اساسي قانون له دې محدودیتونو څخه یو په گوته کوي: بهرني اشخاص نشي کولای ملکیت تر لاسه کړي، خو هغه اجاره کولی شی. په دې ترتیب سره، د اساسي قانون له مخې، بهرني اشخاص نشي کولای چي په دایمي توگه ملکیت وپېري، په میراث یوسي او یا یی تر لاسه کړی (مالکیت)، خو بهرني اشخاص د ټاکلې مودې لپاره پر هغه باندې تصرف (اجاره) کولای شي.

مدنی قانون هم پر دې باندې محدودیت وضع کوي چي څوک ملکیت لېږدولای او څوک یې تر لاسه کولای شي. ځینې دا محدودیتونه د قانوني وجیبو سره تړاو لري چي پخپل وار سره دا ټاکي چي څوک عقد تر سره کولای شي.[111] د ملکیت ډېری قانوني لېږدوني د عقد له مخې تر سره کېږي. په دې توگه، ددې لپاره چي د پېرودلو، پلورلو، یا د ملکیت د اجاره کولو لپاره په شرایطو برابر وي، یو شخص باید په عقد کې د شاملېدو وړتیا ولري.[112]

قانوني وجیبي په دې استنباط سره پیلېږي چي : هر څوک د عقد کولو اهلیت او قانوني وړتیا لري.[113] د عقد تر سره کول پیاوړتیا ده. دا حق د پلورلو، پېرودلو اود ملکیت د اجارې حقونه په برکې نیسي. [114] د عقد د ترسره کولو په گټه دا استنباط یا انگېرنه سمه ده " مگر دا چي د هغه اهلیت د قانون په وسیله سلب شوی نه وي."[115] په دې توگه، تر څو پورې چي له عقد څخه یو شخص نه وي منع کړی، نوموړی د ملکیت عقد تر سره کولی شي.

د مدني قانو۳۹ ماده د رشد عمر اتلس کاله ټاکلی، یعنی هغه عمر چي شخص بشپړه قانوني اهلیت خپلوي. د رشد عمر ته په رسېدو سره شخص اجازه لري چي د عقد تړلو په شمول د خپلو ټولو قانوني حقونو څخه برخمن شي. د رشد د ۱۸ کلني عمر د ټاکلو په ترڅ کې، ۳۹ ماده دوه محدودیتونه په گوته کوي. ۳۹ ماده وایي: " ... که څوک دې عمر (درشد عمر) ته ورسېږي او عقلي قوه ولري د خپلو مدني حقوقو د اجرا کولو لپاره د پوره اهلیت خاوند گڼل کېږي." په دې ځای کې رشد له اتلسو کلونو د لوړ عمر شخص دی. د ۱۸ کلن او تر هغو د لوړ عمر اشخاص د عقد تړلو حق لري، د ۳۹ مادې له مخې هغه کسان چي عمر یې له اتلسو کلونو ټیټ وي، د عقد تړلو حق نه لري. همدارنگه دې "عقلي قوې" کلمې ته هم پام وکړئ چي "عاقل شخص" معلوموي . دا ددې ښکارندویي کوي که چېرې یو شخص عاقل نه وي، د عقد په اړه به د هغو حق محدود وي، آن که اتلس کلن هم وي.

د مدني قانون ۴۰ ماده دا انگېرنې تأییدوي. د ۴۰ مادې له مخې له اوه کلني څخه د کم عمر خلک د عقد تړلو حق نه لري. ۴۰ ماده همدارنگه له عقد تړلو څخه هغه اشخاص منع کوي چي د تمیزکولو وړتیا و نه لري: هغه کسان چي د تمیز قوه نه لري هغه څوک دی چي عاقل نه وي. ۴۱ او ۴۲ مادې وایي چي د اوو او اتلسو کلونو ترمنځ اشخاص " بشپړ اهلیت " نه لري، یعنې داچي هغوی " هېرېدونکي" او د آگاهانه پرېکړو کولو اهلیت نه لري. د نیمگړي اهلیت یو شخص د بشپړې وړتیا درلودونکي شخص څخه د لږو حقوقو درلودونکی دی ( تر اولس کلونو د کم عمر شخص او عاقل شخص)، خو له هغو چا چي اهلیت نه لري ( تر اوو کلني عمر لاندې ماشومان) تر هغو بیا زیات قانوني حقونه لري. د نیمگړي اهلیت لرونکی یو شخص یوازې هغه وخت د عقد تړلو اجازه لري چي د هغو ولي یعني د قانونی اهلیت درلودونکی شخص د نوموړي سلامتي ډاډمنه او ورسره مرسته وکړي.

په ټوله کې، د وړتیا له مخې وگړي په دریو کټگوریو وېشل کېږي: لومړی، تر اوه کلنی لاندې ماشومان چي قانوني اهلیت نه لري. دوهم، هغه کسان چي عمر یې د اوو او تلسو کلونو ترمنځ وي، د نیمگړی قانوني اهلیت لري. او دریم، هغه اشخاص چي عمر یي له اتلسو کلونو زیات وي او عاقل وي، بشپړ قانوني اهلیت لري.

---

[110] Constitution of the Islamic Republic of Afghanistan, Article 40, No. 818 (27 January 2004) [hereinafter Constitution of Afghanistan] (emphasis added).
[111] Civil Code, Article 2210.
[112] Civil Code, Articles 1035(1) (transfer of ownership occurs on basis of contract), 2210.
[113] Civil Code, Article 542.
[114] Civil Code, Article 542.
[115] Civil Code, Article 542.

### ۱.۱.۲ د لیږد د تر سره کېدو په اړه محدودیتونه: د توافق شرطونه

د ملکیت لیږد د هغو د مالک یا مالکانو له اجازې پرته صورت نه مومي. مخکې تر دې چې یو شخص مال انتقال کړي دواړه خواوي باید په دې اړه یو بل خبر د هغو چا توافق (اجازه) تر لاسه شی چې په مال کې قانوني او بالفعل ګټه لري. بالفعل ګټه د ملکیت په اړه داسې حق دی چې یو شخص یی له څنډ پرته اظهار او عملي کولای شي. د مثال په توګه، د ملکیت خاوندان په خپل ملکیت کې قانوني او بالفعل ګټه لري. په ملکیت کې بالفعل ګټه په ملکیت کې له بالقوه ګټه څخه توپیر لري. بالقوه ګټه داسې ګټه ده چې د یو مشخص کار له تر سره کېدو وروسته اظهار او تحقق مومي. د مثال په توګه، میراث خواره – هغوی چې د خپلوانو له مړینې وروسته ملکیت تر لاسه کوي – د خپلوانو په ملکیت بالفعل ګټه نه لري. د هغوی قانوني ګټه د یوې واقعي یعنې د خپلوانو مړینې تر رامنځ کېدو پورې نه محقق کېږي. په دې توګه میراث خور د خپلوانو په ملکیت کې بالقوه ګټه لري.

دلته موږ په دوو حالتونو باندې وغږېږو چې له مخې یې خلک په ملکیت کې له قانوني او بالفعل علاقمندی سره تړاو پیدا کوي. لومړی، هغه حالت چې پکې ملکیت له یوه څخه زیات مالکین لري.دویم ، هغه حالت چې پکې رهن نیوونکي پخپل ملکیت کې قانوني ګټه لري. دلته دې چې دا دواړه حالتونه یو د بل سره شریکېږي: د خپل ملکیت له پلورلو د مخه، د مال خاوند باید د بل مال خاوندانو رهن نیوونکو ته خبر ورکړي. په لنډه دې ته د خبرولو شرط ویل کېږي.

#### ۱.۱.۲.۱ زیات شمېر مالکین ، یو ملکیت

ددې معلومول چې د یوې ټوټې مال مالک څوک دي، خورا مهم دي. یوازې د مال مالک د مال د نه راګرځېدونکي لیږد (دایمي) او مؤقت لیږد ( د محدود وخت لپاره) حق لري.[116] د مدني قانون او د ځمکوالی د چارو د تنظیم د قانون له مخې، د ملکیت ټول قانوني مالکین باید د ملکیت د لیږد سره توافق ولري. که چېرې د ملکیت له مالکینو څخه یو موافق نه وي، اړونده لیږد د اعتبار وړ نه دی.[117]

د داسې یو حالت په هکله فکر وکړئ چې پکې له یوه څخه زیات کسان د ملکیت یوه برخه لري. د مثال په توګه، فرض کړئ چې دریو ورونو ته چې څه موده پخوا مړ(څوک مړ شو معلومه نده) شو ځمکه په میراث پاتې ده. د هغوی هر یو د ځمکې یو په دریمه برخه په واک کې لري. یو ورور غواړي خپله برخه ځمکه و پلوري. دا ورور لومړی باید خپلو دوو نورو ورنو ته په دې هکله خبر ورکړي او له هغوي څخه د ځمکې د پلورلو اجازه تر لاسه کړي.[118] که چېرې له ورونو څخه یې یو ددې سره موافقه و نه لري، نو د خرڅلاو معامله لغو او د اعتبار وړ نه ده ، ځکه چې د ځمکې د خرڅلاو سره ټول ورونه موافقه نه لري. ګډ مالکیت همدا شانې د کار او بار څخه هم رامنځ ته کېږي. د مثال په توګه، دوه سوداګر یوه ودانی لري. دا ودانۍ یوازې هغه وخت خرڅېدلای شي چې دواړه شریکان ددې کار لپاره یو د بل سره توافق وکړي.

#### ۱.۱.۲.۲ رهن اخیستونکی

رهن اخیستونکی هم کولی شي په ملکیت کې قانوني او بالفعل ګټه ولري. د مالکیت اړوند څېرکی در په یاد کړئ چې پکې ویل شوي رهن اخیستونکی د مال مالک ته د پور په ورکولو سره چې نوموړی د هغو په واسطه ملکیت رانیسي، په ملکیت کې لنډ مهاله قانوني ګټه تر لاسه کوي. کله چې د مال مالک بېرته پور (رهن) ادا کړي، رهن اخیستونکی نور په ملکیت کې قانوني ګټه نه لري. په دې توګه د رهن اخیستونکی قانوني ګټه په دې حالت کې لنډمهاله او بالفعل ګټه ده.

---

116 Law on Managing Land Affairs, Article 50(1), Law No. 958 (31 July 2008) [hereinafter Law of Managing Land Affairs of 2008].

117 Civil Code, Article 613, 1152; Law of Managing Land Affairs of 2008, Articles 56 & 58.

118 Civil Code, Articles 1035(1) (transfer of ownership occurs on basis of contract), 1044 (emphasizing consent), 1053 (same) & 1099 (same), 2210 (transfer of property on basis of contract).

مخکې تر دې چې د ملکیت مالک مرهونه ولېږدوي، نوموړی باید لومړی د رهن اخیستونکی توافق تر لاسه کړي. خو که چېرې د مال مالک خپل ملکیت د رهن اخیستونکی له خبرولو پرته وپلوري، څه به پېښ شي؟ رهن اخیستونکی څرنګه کولای شي چې په ملکیت کې خپله ګټه وساتي او له پور څخه خپلې پیسې تر لاسه کړي؟

د رهن قانون په ملکیت کې د رهن اخیستونکی له قانوني ګټه څخه حمایت کوي. که چېرې د مال مالک د رهن اخیستونکی له توافق پرته مرهونه ولېږدوي، دا کار د رهن اخیستونکی د خسارې د جبران حق نه زیانمنوي. یعنې رهن اخیستونکی ته باید د پور پیسې ورکړل شی.همدارنګه دا لېږد پخپله په ملکیت کې د رهن اخیستونکی په سود یا ګټه هم کوم اغیز نه ښندي.[119] کله چې یو شخص د رهن له لارې یو ملکیت تر لاسه کوي، نوی مالک باید د رهن شرطونو ته وفادار وي او رهن اخیستونکی ته د پیسو د بېرته ورکولو مسؤلیت لري.[120]

وګورئ چې د رهن اخیستونکی په اړه دا بهیر له هغه څخه چې د مال خاوندان زیات وي، څه توپیر لري. د زیات شمېر مالکانو په صورت کې که چېرې د ملکیت لېږدوونکی شخص د نورو مالکینو توافق تر لاسه نه کړي، د ملکیت لېږد اعتبار نه لري. هغه شخص چې ملکیت تر لاسه کوي باید هغه بېرته ور وګرځوي. خو که چېرې د ملکیت مالک رهن اخیستونکی ته د ځنډول شوي لېږد په هکله خبر ور نه کړي، د مالکیت نوی خاوند ( تر لاسه کوونکی) ملکیت ساتلی شي خو رهن نیوونکي ته باید پیسې ورکړي. ستاسو له نظره ولې قانون د ملکیت ترلاسه کوونکی دې ته اړ باسي چې ملکیت بېرته ورکړي، البته دا په لومړي حالت کې ( د ډېرو شریکانو په حالت کې )، خو تر لاسه کوونکي ته اجازه ورکوي چې ملکیت وساتي، دا په دوهم حالت کې ( رهن اخیستونکی)؟

ددې پوښتنې د فکر کولو په مهال وګورئ چې څرنګه د رهن اخیستونکی او د مال مالک ګټه سره توپیر لري. رهن اخیستونکی په ملکیت کې یوازې تر هغه بریده علاقمندي لري چې بېرته خپلې پیسې تر لاسه کړي. د مال د مالک علاقممندي به لاهم نور توپیر ولري. د مال مالک کولای شی پر ملکیت باندې د کور جوړول پلان کړي، کرنه پلان کړي، یا کار او بار پیل کړي. رهن اخیستونکی حق نه لري ملکیت استعمال یا تصرف کړي. په ملکیت کې د رهن اخیستونکی ګټه محدوده ده او په دایمنه توګه د پیسو په بیا تر لاسه کولو پورې محدوده ده.

اوس پر دې باندې غور وکړئ چې په څه ډول دا قوانین د ملکیت پر لاس ته راوړونکو باندې اغیز کوي. د مثال په توګه، تصور وکړئ چې تاسو ملکیت پېرئ. د ملکیت خاوند تاسو ته دا نه وایي چې اړونده ملکیت مرهونه دی او تاسو د مارکېټ د نرخ له مخې ټولې پیسې ورکوی. یو کال وروسته، رهن کوونکی ستاسو سره اړیکه نیسي او د پور د بېرته ورکولو غوښتنه کوي. هغه شخص چې تاسو ترې ځمکه پېرودلې ده له ښار څخه تللی او تاسو هم نه پوهېږئ چې چېرته تللي. تاسو به په دې حالت کې څه کوی؟

### ۱.۲ د قرارداد له لارې د ملکیت د لېږد لاربښود

په نه راګرځېدونکي توګه د ملکیت لېږدول، او نوی مالک ته د قانوني قبالې لېږدول، له څلورو څخه تر پنځو پړاوونو پورې تېرېدل غواړي. نه راګرځېدونکی، دایمي لېږد له دریو څخه پر یوه طریقه باندې صورت مومی. لومړی، یو شخص کولای شي ملکیت وپېري. دوهم، هغه له خپلوانو څخه ملکیت په میراث تر لاسه کولای شي. درېیم، هغه ملکیت د ډالۍ په توګه ترلاسه کوي. د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون له ۵۰ څخه تر ۵۸ مادو پورې ددې لپاره چوکات برابروي چې په څه ډول نوي مالک ته قانوني قباله و لېږدول شي. مدني قانون د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون ته نور تفصیلات هم ورزیاتوي.

د لاندې یاد شوو ګامونو د مطالعې په مهال په یاد ولرئ چې د ملکیت حقوق د تغیر په حال کې دي او دا چې دا بهیر له یوې ټولنې څخه تر بلې پورې توپیر لري. همدارنګه، په یاد ولرئ چې د ملکیت ټولې لېږدونې په دې ځای کې د بیان شوي بهیرله لارې نه تر سره کېږي. د مثال په توګه، په ۲۰۰۵ز کال کې د ځمکې د لیږد شپېته سلنه په قانوني توګه نه ده ثبت شوې.[121] دې مالکیت ددې لېږدونو زیاته برخه په خصوصي کورونو او دفترونو کې ثبت او مستند شوې. ستاسو په نظر

[119] Mortgage Law, Article 11(2).
[120] Mortgage Law, Article 16.
[121] David Stanfield, Jonathan Reed, & M. Yasin Safar, Terra Institute, *Description of Procedures for Producing Legal Deeds to Record Property Transactions in Afghanistan*25 (24 September 2005), *available at*

دا قانوني بهير د څه لپاره ګټور دی او ولې خلک د هغو کارولو ته لېواله نه دي. همدارنګه وګورئ د هغو ننګونو په هکله هم فکر وکړئ چې د مالکيت د لېږد په برخه کې له يوه څخه د زياتو سيستمونو له کارولو څخه را پورته کېږي.

### ۱.۲.۱. د قرارداد په اړه د پلورونکي او پېرودونکي خبرې اترې (پوازې د ملکيت خرڅلاو)

کله چې يو شخص ملکيت پېري، نوموړی بايد لومړی د هغو د مالک سره خبرې وکړي. پلورونکی او پېرودونکی بايد پخپلو کې د څو شرطونو په سر توافق وکړي: قيمت، د هر لوري وجيبې يا مکلفيتونه (مثال د ترميم موضوع)، او د وخت ټاکل (يعنې داچې پلورونکي څه وخت مال پېرودونکي ته سپاري). کله چې دواړه لوري توافق ته ورسېږي، نو دوی بيا ليکلي سند يا قانوني الزامی قرارداد لاسليک کوي.[122] په دې قرارداد کې ټول منل شوي شرطونه درج کېږي. په ليکل شوې بڼه د شرطونو مستند کول پلورونکی او پېرودونکی له راتلونکی ناوړه تفاهم څخه ژغوري. پردې سربېره، د مدني قانون ۲۲۱۲ ماده د تأييد په ډول د شرطونو او نورو شکلياتو د کتنې غوښتونکې ده. که چېرې هغوي شتون و نه لري، خرڅلاو باطلېږي. په دې توګه دا ماده په وړاندې شوې طريقه د مال د لېږد تر سره کول مهم ګڼي. ددې سره دا پوښتنه هم رامنځ ته کېږي: آيا له شکلياتو يا تشريفاتو پرته د لېږد تر سره کېدل ـ د مثال په توګه، د عرفي حقوقو له لارې – قانوني اثر لري؟ ددې ځواب نه دی، سره ددې، قاضيان د عرفي حقوقو له مخې د ملکيت لېږد د اعتبار وړ ګڼي. دا د قانون د کلمی او په عمل کې د هغو د پلي کولو ترمنځ د توپير يو جالب مثال دی.

### ۱.۲.۲ ابتدائيه محکمه : ابتدائيه محکمې ته غوښتنليک

وروسته له هغه چې پلورونکی او پېرودونکی د ملکيت د لېږد په سر توافق ته ورسېږي، دوی ته بنايي چې ملکيت دقيق او وګوري. لومړی، دوی بايد د هغه ولسوالي/ناحيې ابتدائيه محکمې ته درخواستي ورکړي چېرې چې ملکيت موقعيت لري. که چېرې محکمه په دې باور وي چې د اړونده ملکيت مالک پخپله مالک دی، ابتدائيه محکمه د ملکيت لپاره نوی قباله جوړوي ( **قطعي قباله**).[123] د مالکيت د کره کولو لپاره، غوښتنليک بايد لاندې معلومات ولري:

- د ملکيت پولې، د کور شمېره، ناحيه/ولسوالي، او ساحه؛
- د کلي ملک له خوا لاسليک شوې اظهارنامه چې د مالکيت خرڅلاو تأييدکړي؛
- د ملکيت د خاوند او د پېرودونکي نومونه؛
- د خرڅلاو په اړه د ملکيت د خاوند او پېرودونکي د توافق اظهار نامه؛
- د خرڅلاو بيه؛( که خبر د ملکيت په هکله وي) ؛ او
- اظهارنامه چې آيا ملکيت مرهون دی او که نه.

که چېرې پلورونکی د ملکيت قانوني قباله ولري، د هغو د آرشيف شمېره، د صادرېدو نېټه هم بايد په غوښتنليک کې ذکر شي.[124] که چېرې رسمي ثبت شتون و نه لري، د ځمکوالی له رياست څخه مامورين ملکيت کتلای شي او د غوښتنليکونکي د سموالي د ارزونې په هکله له ګاونډيانو سره خبرې هم کولای شي.[125]

همدارنګه د ملکيت خاوند بايد د اړونده ملکيت د لېږد په هکله عمومي اطلاع خپره کړي ترڅو د رهن اخيستونکو په شمول د ځمکې ادعاکوونکي له موضوع خبر شي.[126] په ياد ولري چې ټول مالکين او ټول رهن اخيستونکي د معاملې د اعتبار په موخه د ملکيت په اړه بايد توافق وکړي.[127]

---

http://www.terrainstitute.org/pdf/Description%20of%20Procedures.pdf [hereinafter Terra Institute, *Description of Procedures for Producing Legal Deeds*].

[122] Civil Code, Article 2210.

[123] Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 5; *Description of Procedures for Producing Legal Deeds*, *supra* note 121, at 9; Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 69-70 (2005).

[124] Law of Managing Land Affairs of 2008, Articles 51 & 56; *Description of Procedures for Producing Legal Deeds*, *supra* note 121, at 12-13; Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 70 (2005).

[125] Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 70 (2005).

### ۱.۲.۳ مخزن: د پلورونکي د قبالې لټول او د مالکیت معلومول

د ابتدائیه محکمې قاضي ته له مراجعې وروسته، د ملکیت مالک او د ملکیت تر لاسه کوونکی باید مخزن ته ولاړ شي چې د ولایت په استیناف محکمه کې موقعیت لري او د ملکیت قبالې پکې ساتل کیږي. د مخزن مشر د پېرودونکي او پلورونکي غوښتنلیک ګوري او وروسته له هغه د ملکیت قانوني قباله لټوي. کله چې قباله پیدا شي، نو د مخزن مشر او د مخزن آمر د قبالې سموالی کره کوي. [128] که چېرې د هغوی دواړو له نظره قباله سمه وي، دواړه د سند د سموالي د تأیید په موخه غوښتنلیک لاسلیک او مهر کوي.



د مخزن د اسنادو آرشیف

اختلافونه داسې هم را ولاړیږي چې یو شخص د مال د خپلولو دعوا وکړي. دا ډول اختلافونه عام دي او د شخړو د حل په اړوند څېړکي کې تر غور لاندې نیول کیږي. دلته مورد هغو شواهدو په هکله غږیږو چې یو شخص یې د مالکیت د ثبوتولو لپاره کاروي.

د مالکیت تر ټولو قانع کوونکي شواهد رسمي سند دی، هغه سند چې د حکومتي مامورینو له خوا ثبت شوی وي. یو عرفي سند، هر یو داسې سند چې رسمي سند نه وي، لږ د قناعت وړ دی.[129] لاسلیک شوی سند لکه د یو کلیوال مخور له خوا یو لیک چې مالکیت په ګوته کوي، عرفی سند ګڼل کیږي.[130] د د مالکیت د ثبوت لپاره د سندونو دا ډول تقسیم بندي مطلقه نه ده. مدني قانون په ډاګه کوي چې کېدای شي ځینې سندونه بدل وي، د مثال په توګه یو جعل شوی سند.[131] ددې یو سند د معلومولو لپاره چې بدل دی او که نه، محکمه ګوري چې آیا کوم چا د خپل لاسلیک، مهر، د ګوتې نښه او تصویر په آزمایلو سره د سند د بدلولو هڅه کړې ده او که نه.[132] البته، که سند جعلی تشخیص شي، هغه به هېڅ قانع کوونکی اثر و نه لري.

**د عملي پوښتنې د مالکیت شواهد**

حمید د آسا سره له نوموړې ځخه د ځمکې د پېرودلو قرارداد لاسلیک کړ. لکه چې معمول ده هغوی موضوع د عامه اطلاع لپاره خپره کړه. نقیب دا یادونه ولوستله او په دې باور دی چې ځمکه د هغو ده. نقیب آسا او حمید ته په دې هکله خبر ورکوي. داسې ښکارې چې آسا د ځمکې رسمي قباله لري؛ نقیب د کلیوال مخور او ګاونډي لیک لري چې له مخې یې اړونده ځمکه د نقیب ده.

---

[126] Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 71 (2005).
[127] Law of Managing Land Affairs of 2008, Article. 50(1); Mortgage Law, Article 9(10)(1).
[128] *Description of Procedures for Producing Legal Deeds*, *supra* note 121, at 15 (all photos are from this report).
[129] Civil Code, Articles 991 & 993.
[130] Civil Code, Article 997.

[131] Civil Code, Article 992.
[132] Liz Alden Wily, Land, People, andthe State in Afghanistan 2002-2012, 56 (February 2013).

په دې صورت کې به محکمه د آسا او نقيب شواهد په څه ډول و ارزوي؟

**احتمالي ځوابونه**

لومړۍ، محکمه به وګورى چې په عمومي توګه د نقيب ليک، عرفي سند څخه د آسا رسمي قباله زياته قانع کوونکى ده.که چېرې نقيب د رسمي قبالي د سموالي په اړه شک راپورته کړي، بيا نو کولاى شي د آسا قباله وګوري چې د جعل هڅه نه وي پکې شوي – يعني آيا قباله جعلي ده او که نه. که چېرې په رښتيا سره د آسا په قباله کې د جعل هڅه شوې وي، محکمه کولاى شي پرېکړه وکړي چې د نقيب ليک- عرفي سند ، زيات قانع کوونکى دى، رسمي سند چې پکې د جعل هڅه شوې، قانع کوونکى نه دى او هېڅوک پر جعل شوي سند باندې باور نه کوي.

د مالکيت د سموالي په هکله دې درېيم ګام ترغور لاندې ونيسئ. د مالکيت معلومول له چا څخه ملاتړ کوئ؟ د مالکيت معلومول د واقعي پلورونکي، پېرودونکي او رهن اخيستونکي څخه دفاع کوي. د مالکيت معلومول دا په ګوته کوي چې آيا د مال د مالکيت ادعاکوونکى قانوني مالک دى او يا که بل کوم څوک هم پر هغو باندې دعوا لري. واضح خبر ده چې د ملکيت د باور وړ لېږد لپاره، واقعي مالک بايد د هغو لېږد په ثبوت ورسوي.[133]

### ۱.۲.۴ د ځمکوالى د تنظيم اداره: د مالکيت معلومول او د ملکيت د ارزښت ټاکل

کله چې دولتي مامورين مالکيت معلوم کړى د مال خاوند او د هغه لاس ته راوړونکى بايد د ځمکوالى د چارو تنظيم اداري دفتر ته ولاړشي، يا د املاکو (کليوالي ملکيت) يا د ملکيت (د ښار په محدوده کې ملکيت) ته. د ځمکوالى د چارو تنظيم اداره د ملکيت موقعيت، پولي او مالکيت معلوموي. که چېرې دا اداره د اړونده ملکيت په هکله نقشي او نوي ثبت ولري، دفتر به دا سندونه د ځمکي د لېږد په اړه د متقاضي د غوښتنليک د ارزوني لپاره وکاروي. که دا اداره د ملکيت کومه نقشه يا ثبت و نه لري، د ځمکوالئ د چار و د تنظيم مامورين د مکيت د تشريح لپاره اړونده ځمکه کتلاى شى.[134]

همدارنګه د ځمکوالى د تنظيم اداره د ملکيت ارزښت هم ټاکي. دې هغو بيه د لېږد د بشپړولو لپاره د ملکيت د خاوند او تر لاسه کوونکي له لوري حکومت ته د ماليې د ټاکلو لپاره پکارېږي.[135] د ملکيت د ارزښت معلومول په هغو کې ټول هغه تغيرات په پام کې نيسي چې د لومړى قبالي له اخيستلو وروسته رامنځ ته شوي دي.[136] مامورين د ملکيت ارزښت د ماليې په کتاب او د ځمکې د ثبت په اساس دفتر کې ثبتوي.[137]

### ۱.۲.۵ مستوفيت: د لېږد د مالي ورکول

وروستى ګام د لېږد ماليې د پيسو ورکول دى. په ۲۰۰۵ کال کې دا ماليه د ملکيت د ټاکل شوي ارزښت دوه سلنه وه. د ملکيت ارزښت د ځمکوالئ د چارو د تنظيم دمامورينو له خوا ټاکل کېږي. د د لېږد د ماليې ورکول، پلورونکى او پېرودونکى لومړى بايد له مستوفيت څخه بيل تر لاسه کړي، د ماليې وزارت پر عايداتو د ماليې د راټولولو ولايتي دفتر. له دې وروسته هغوى بايد بانک ته ولاړ شي او د ماليې بيل تحويل کړي او په عوض کې يې رسيد تر لاسه کړي. د رسيد له مخې، مستوفيت د لېږد د ماليې د دوه سلني ورکول تأييدوي.[138]

**د عرفي حقوقو له مخې لېږد**

د عرفي حقوقو له مخې د ملکيت لېږد ډېر عام دى. دا ډول لېږد معمولاً کم لګښت لري او زيات د لاس رسي وړ دى او د حکومت د لېږد په شان ماليه او فيس نه لري او د ليرې واټن تګ ته اړتيا هم نه لري. د مالکيت د شواهدو په اړه عرفي

[133] Law of Managing Land Affairs of 2008.
[134] Description of Procedures for Producing Legal Deeds, supra note 121, at 16.
[135] Description of Procedures for Producing Legal Deeds, supra note 121, at 16.
[136] Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 52.
[137] Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 51.
[138] Law on Managing Land Affairs of 2008, Articles 5(3) (tax payment document); *Description of Procedures for Producing Legal Deeds*, *supra* note 121, at 5.

سیستم همداشاني انعطاف منونکی دی. د مالکیت لپاره ګاونډیانو او ځايي ټولنو د مخورو شفاهي شاهدي مشروع ګڼل کېږي. ددې خلاف، قانوني سیستم د قانوني قبالو په شان پر لیکل شوو شواهدو باندې ټينګار کوي.[139]

### ۱.۳ د ملکیت د حقوقو عمومي کتنه

د افغانستان قوانین او اسلامي حقوق د قراردادونو، د لورو ترمنځ د التزامي ژمنو پر بنسټ د ملکیت لیږد ته اجازه ورکوي.[140] دلته موږ په لنډ ډول هغو حقوقو ته اشاره کوو چې دا توافق لیکونه یا عقدونه تنظیموي: د مکلفیتونو قانون. لومړی، موږ په بیره دا موضوع وړاندې کوو چې څوک په عقد یا توافق لیک کې راتلای شي . دا موضوع د ملکیت د لیږد د محدودیتونو په هکله مخکې وړاندی شوه. دویم ، موږ دا هم څېړو چې د دوو لورو ترمنځ قرارداد په څه ډول تر سره کېږي او د قرارداد او ژمنې ترمنځ توپیر په څه کې دی. دریم، موږ به پر دې باندې بحث وکړو چې شخص څه وخت لاسلیک شوی قرارداد لغو کولای شی.

ددې برخو په لوستلو سره، په یاد ولرئ چې د بل شخص سره د التزامیت وړ قانوني قرارداد په کولو کې به ستاسود نظر وړ ټکي کوم وي. د ناوړه پوهېدنې د مخنیوي لپاره باید کوم کار وکړئ؟ څرنګه کولای شئ چې د قرارداد شرطونه(دوه اړخیزه مکلفیتونه) څرګند او مشخص وي؟ تاسو به دا قرارداد په څه ډول مستند کوی- په لیکلی بڼه، شفاهي یا په کوم بل ډول ؟

#### ۱.۳.۱ د قرارداد د چمتو کولو وړتیا

په یاد ولرئ چې په مدني قانون کې راغلي دی، هرڅوک کولای شي عقد یا قرارداد تر سره کړي. (۵۴۲ ماده) د قرارداد اهلیت د عمر او د آګاهانه پرېکړو کولو له مخې محدودېږي. (۳۹ – ۴۲ مادې) دا محدودیتونه هغه اصول منعکسوي چې قرارد یوازې هغه وخت د اعتبار وړ دی چې په رضایت تر سره شي.[141]

#### ۱.۳.۲ د قرارداد جوړول

قرارداد د دوو لورو له خوا په تفاهم سره رامنځ ته کېږي. ددې لپاره چې قرارداد چمتو شي، یو لوری بل لوري ته د یو ارزښتناک څیزد تبادلې وړاندیز کوي او بل لوری باید وړاندیز و مني.[142] قراردادونه د دوو یا زیاتو لورو ترمنځ قانوني الزامي ژمنې دي. د قرارداد لوري موافقه کوي چې یو کار تر سره کړی، یو کار تر سه نه کړي، یا د مال مالکیت ولېږدوي. لکه چې تاسو ددې کتاب په پیل کې ولوستل، همداشاني قراردادونه چې د مال د مالکیت له لېږد پرته د ملکیت د کارولو لپاره جوړېږي.

د قرارداد د پلی کېدو لپاره یو شمېر شرایط باید برابر شي. تر هر څه د مخه، قراردادونه باید په سمه ولیکل شي. په دې معنی چې قرارداد کوونکي لوري باید د خپلو ژمنو په اړه ریښتینۍ رضایت ولري. قرارداد باید د " کلماتو، لیکنې، دودیزو نښو" پواسطه څرګند او واضح وي او دا په ګوته کړي چې قرارداد چمتو دی.[143] د ملکیت د لېږد لکه خرڅلاو، اجاره، او

---

[139] Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 70-71 (2005).
[140] Civil Code, Articles 1035(1) (transfer of ownership occurs on basis of contract), 2210 (same); Law on Managing Land Affairs of 2008, Articles 5 & 50 (legal deeds); Hamid Khan, *Practioner's Guide: Islamic Law*, July 2013, 93. http://inprol.org/sites/default/files/publications/2013/islamic_law_guide-july_2013_final_0.pdf); Hamid Khan, *Practioner's Guide: Islamic Law*, July 2013, 93. http://inprol.org/sites/default/files/publications/2013/islamic_law_guide-july_2013_final_0.pdf.
[141] Civil Code, Article 506 (offer and acceptance).
[142] Civil Code, Article 506 (offer and acceptance).
[143] Civil Code, Article 509.

وقف په اړه، دا ډول عبارتونه باید ولیکل شي.[144] د دې ډول یو قرارداد جوړول دا ډاډمنوي چې دواړه لوري د قرارداد اړوندو مکلفیتونو د اجرا په وړاندې ځانونه قانوني ژمن بولي.

پر رضایت سربېره، ژمنه کوونکي خواوې باید قانوني اهلیت ولري. قانوني اهلیت په یوه ټاکلي معامله کې د یو شخص ګډون ته ویل کېږي. د مثال په توګه، په عام ډول یو صغیر یا لېونی شخص د الزامی قرارداد د پلي کولو توان نه لري. دا ځکه چې داسې اشخاص دې دا ډول معاملو یا کارونو په پایلو نه پوهېږي او نشي کولای خپلې ژمنې تر سره کړي. د قراداد د لورو د رضایت د اعتبار لپاره، دواړه خواوې باید قانوني اهلیت ولري.

قراردادونه د اړونده لورو لپاره ژمنې رامنځ ته کوي او دا ژمنې د مکلفیتونو په نوم یادېږي. قراردادونه د مکلفیتونو یوه غوره منبع ده. زیاتره وختونه قراردادونه ددې لپاره تر سره کېږي چې اړونده لوري غواړي د ارزښت ځینې بنې سره تبادله کړي. هغه ارزښت چې د قراردادکولو په نتیجه کې تبادله یا لېږدول کېږي، د قرارداد د موضوع په نوم هم یادېږي. د قرارداد موضوع کېدای شي د لمس وړ وي لکه مال یا پیسې یا د لمس وړ نه وي لکه د خدماتو د عرضه کولو ژمنه، د مثال په توګه ، مؤکل ته د وکیل مشوره. په یاد ولرئ چې دا همیش داسې غوښتنه نه ده چې هر لوري باید بل لوري ته ارزښت و لېږدوي. د قرارداد په ټاکلو ډولونو کې، د یو کار په ترسره کولو کې د بل لوری له مکلفیت پرته، یوازې یو لوری هم د یو کار مکلفیت درلودلای شي. د مثال په ډول، ډالي د افغانستان د قانوني سیستم له مخې یو قرارداد دی او له مخې یې یوازې یو لوری بل ته لېږدوي شی . د قانون له مخې د قرارداد موضوع باید څو غوښتنو ته ځواب ووایي: د قرارداد موضوع باید شوني، قانوني او مشخصه وي. په دې ترتیب، د مبهمې موضوع قرارداد جوړېدای شي خو پلي کېدای نشي.

د قرارداد د اعتبار لپاره وروستی شرط شتون نه لري. د شرط په توګه قراردادونه باید د لورو په اجازه تر سره کېږي. که چېرې د لورو اراده په ناقانونه فعالیت کې راښکېل شي او اجازه شتون و نه لري، دا ډول قرارداد بیاهم د اعتبار وړ دی.

### ۱.۳.۳ د قرارداد بې اعتباره کېدل او ابطال

په ځینو حالاتو کې یو شخص کولای شی چې یو قرارداد لغو (بې اعتباره) کړي که څه هم چې نوموړي د اړونده قرارداد د الزامیت سره توافق کوي. دلته، موږ د موضوع په اړه دریو حالتونو ته اشاره کوو: کله چې یو څوک په جدي فزیکي یا مالي ضررسره ګواښل کېږي (مخ اړول)؛ یو یا دواړه لوري د هغو معلوماتو په هکله اشتباه کوي چې د قرارداد د رامنځ ته کولو لپاره مهم ګڼل کېږي؛ او یا کله چې دواړه لوري یو بل ته په آګاهانه توګه درواغ ووایي (درغلی یا فرېب).

مخ اړول. د یو چا د جسمي یا مالی هوساینې ګواښل د قرارداد بې اعتباره کول توجیه کولای شي ځکه دا ډول ګواښ په قرارداد کې د رضایت خلاف شامېلېدو سبب کېږي.[145] دا ډول ګواښ کېدای شي جدي (بشپړ مخ اړول) او یا هم جدي نه وي (نیمګړي مخ اړول).[146] دواړه بشپړ او نیمګړي مخ اړول قرارداد بې اعتباره کولای شي.[147] د پام وړ خبر داده چې، مخ اړول په اتوماتیک ډول قرارداد نه بې اعتباره کوي، بلکه هغه شخص ته چې د رضایت خلاف په قرارداد کې شاملېږي ، د قرارداد د منلو یا نه منلو اختیار ورکول کېږي.

د مثال په توګه، فرض کړئ تاسو د رامین سره هغو ته د آپارتمان د کرایې په هکله خبرې اترې کوی. ستاسو له نظره د هغو کرایه ډېره لوړه ده او په دې وجه هغه پرېږدئ. رامین بیا تاسو د جسمي ضررپه رسولو سره ګواښي او تاسو د ناچارۍ له مخې د هغو وړاندیز منئ؛ تاسو د رامین د آپارتمان د کرایه کولو په هکله قرارداد کوی. د رامین له لوري تاسو ته د ضرررسولو ګواښ تاسو اړ باسي چې د ارادې خلاف رضایت وښیئ. تاسو اړونده قرارداد په منلو باندې ملزم نه یاستئ؛ یعني کولای شی هغه ومنئ او یا یې رد کړئ.

144

145 Civil Code, Article 558.

146 Civil Code, Article 558.

147 Civil Code, Article 558.

د معلوماتو اشتباه یا انګېرنه. همداشانې قرارداد کېدای شي چې په هغو کې دواړه لوري د غلطو معلوماتو یا غلطو فرضیو له مخې شامل شي.[148] له دې امله د اشتباهي قرارداد د معلومولو لپاره، اشتباه باید مهمه او د پام وړ وي.[149]

لاندې مثال وګورئ: عبدل موافق دی چې له سمیر څخه ۱۲ جریبه ځمکه وپیري. دوی د قرارداد په هکله خبرې کوي او غواړي دا کار د ابتدائیه محکمې له لارې تر سره کړي. کله چې د ځمکوالۍ چارو د تنظیم دفتر اړونده ځمکه ګوري، معلومېږي چې هغه ۱۲ نه بلکه ۴ جریبه ده. دا خبره دواړو عبدل او سمیر لپاره د حیرانتیا وړ ده؛ دواړو کسانو د صداقت له مخې فکر کاوه چې ځمکه ۱۲ جریبه ده. مهمه داچې، د ځمکې اندازه د عبدل او سمیر تر منځ د قرارداد لپاره ډېره مهمه موضوع ده. د عبدل او سمیر ترمنځ قرارداد د لغو کېدو وړ دی. دواړه د قرارداد د لغو کولو اختیار لري، خو یو هم دا کار کول نه غواړي. هغوی اشتباه په نظر کې نه نیسي او د توافق شوي پلان له مخې خرڅلاو تر سره کوي.

د لوستلو دنده. اوس لاندې مثال وګورئ: د عبدل او سمیر ترمنځ قرارداد مشخص کوي چې ځمکه یوازې څلور جریبه وه،خو عبدل هېڅکله اړونده قرارداد نه دی لوستئ. نوموړی فکر کاوه چې ځمکه ۱۲ جریبه ده او سمیر هم د عبدل د غولولو په لټه کې نه و. سمیر نه پوهېده چې عبدل فکر کوي اړونده ملکیت به تر دې هم زیات وي. په دې حالت کې، سره ددې چې عبدل قراداد نه دی لوستئ، آیا نوموړی هغه لغو کولای شي؟

نه، عبدل نشي کولای د قرارداد د نه لوستلو په دلیل، هغه لغو کړی. د مدني قانون ۵۶۸ ماده د داسې قواعدو درلود ونکې ده چې له مخې د قرارداد لوري باید په قرارداد کې د شاملېدو لپاره نیکه اراده ولري.پداسې حال کې چې دا په څرګند ډول د قرارداد لوستل په برکې نه نیسي، له دواړو لورو څخه ددې غوښتنه کوي چې قرارداد ولولی ځکه دا کار ددې مادې د عمومي مقصد سره مل دی. یعنی دا مقصد د قرارداد پایښت دی نه دا چې هغه په ساده توګه لغو شي. په دې توګه، داسې ښکاري هغه شخص چې قرارداد یې نه وي لوستي، هغه لغو کولای نشي.[150]

درغلي. همدارنګه قرارداد د یوه لوري د دورواغو ویلو، ناوړه تفسیر له امله هم لغو کېدای شي، یا دا د بل لورې وغولول شي او د درغلي له مخې په قرارداد کې شامل شي. لاندې متن ولولئ: د ملکیت د کتلو په مهال سمیر عبدل ته درواغ وایي چې ملکیت ۱۲ جریبه دی دا په داسې حا ل کې ده چې سمیر پوهېږي اړونده ملکیت ۴ جریبه دی. عبدل د سمیر د ملکیت پېرودلو ته اقدام کوي.

د درغلی شتون، آګاهانه درواغ ویل او د فاکتونو په هکله په آګاهانه توګه د معلوماتو دریغول، شخص ته ددې امکان ورکوي چې قرارداد لغو کړي. په مادي فاکتونو کې هغه فاکتونه راځي چې د قرارداد په اړه د یو شخص د نظر د تغیر سبب کېږي.[151]

د عبدل لپاره، مادي فاکت د ځمکې اندازه ده. ځکه چې سمیر په آګاهانه توګه عبدل ته په دې هکله درواغ ویلي، په دې سبب عبدل کولای شي د سمیر سره قرارداد لغو کړي.[152] ددې کار لپاره، عبدل باید درې عنصرونه ثابت کړي: لومړی، دا ثابت کړي چې سمیر په آګاهانه توګه نوموړي ته درواغ ویلي تر څو ځمکه واخلي. یعني، دا چې نوموړی باید دا ثابته کړي چې د سمیر درواغ آګاهانه و. دویم ، عبدل دا باید ثابته کړي، چې د ځمکې د پېرودلو په اړه نوموړي د سمیر په درواغو باندې عمل کړی. یعنې داچې نوموړی باید دا ثابته کړي چې دده پرېکړه پر درواغجنو اظهاراتو ولاړه ده. درېیم، عبدل دا هم باید ثابته کړي چې د سمیر په څرګندونو باندې د نوموړي تکیه معقول کار و.[153] که چېرې عبدل په آسانۍ سره معلومه وای شو چې آیا اړونده ملکیت په واقعیت کې ۱۲ جریبه و او که نه، د سمیر پر درواغو باندې د عبدل تکیه به معقول کار نه و. که چېرې د عبدل کړه نا معقول و نو د قرارداد په وړاندې مکلف ګڼل کېده. لکه چې مخکې یې یادونه وشوه په قرارداد کې له شاملېدو وروسته، یو شخص باید په هغو کې کوښښ وکړي.[154]

---

[148] Civil Code, Articles 563 & 566.
[149] Civil Code, Article 564.
[150] Civil Code, Article 568; Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 73 (2005).
[151] Civil Code, Articles 570, 571 & 575; Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 73 (2005).
[152] Civil Code, Articles 570, 571 & 575; Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 73 (2005).
[153] Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 73 (2005).
[154] Civil Code, Article 568; Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 73 (2005).

يو بل مثال هم ولولئ. بابر چې د ملکیتونو کار او بار کوي د کور د اجارې په برخه کې د آذر سره مرسته کوي. د آذر کور په تشناب کې د اوبو د نل د سوري کېدو له امله سخت ضررلیدلی او نل هم ترمیم شوی نه دی. د رسېدلی ضررنښې په ځانګړې توګه په تکاوی کې د څملاستې خونې په دېوالونو کې ډېرې څرګند دی. بابر پر دې پوهېږي هر څوک چې د رسېدلي ضررنښې ویني نو د کور د کتلو غوښتنه به کوي تر څو له سموالي څخه يې ډاډمن شي. په دې ترتیب، بابر د څملاستي د خوني دیوالونه رنګوي تر څو د رسیدلي ضررنښې پټې شي. دا ځل پارسا د بابر سره د کور د اجاره کولو په هکله خبرې کوي. کله چې نوموړی نوي رنګ شوي دیوالونه ګوري، پارسا د ملکیت د ناسموالي له امله بابر ته شکایت کوي. بابر د سوري شوو نلونو په هکله مخکې یادونه نه وه کړې. پارسا د دوو کلونو لپاره کور په اجاره نیسی . د یوې میاشتې په ترڅ کې د تشناب نل سورروی کېږي او د تکاوي د څملاستي په خونه کې اوبه راځي. په دې حالت کې ، آیا پارسا د قرارداد په مراعاتولو مکلفه دی؟

نه. پارسا د قرارداد په پلي کولو مکلفه نه دی.لومړی، بابر د کور د حفظ او مراقبت په اړه له پارسا څخه مادي فاکت پټ کړی و. په کور کې نلونه چاودلي وو چې غوره نښه يې د تکاوي د څملاستي په خونه کې د اوبو راتلل و. دویم ، دا فاکت د پارسا د پرېکړې لپاره مواد برابروي چې آیا د وړاندې شوې نرخ په مقابل کې کور په کرا ونیسي او که نه. که چېرې پارسا د چاودېدلو یا سوري شوو نلونو په هکله معلومات درلودل ، نوموړي کولای شی هغه په ټیټه کرایه ونیسی او یاهم بل کور کرایه کړي. دریېم، د پارسا د پرېکړې بنسټ معقول و. بابر کور ددې لپاره رنګ کړی و چې دیوال ته د اوبو رسېدلی ضررپټ کړي. پارسا دلیل نه درلود چې له بابر څخه د کور د نلونو د چاودېدو په هکله پوښتنه وکړي. په دې توګه، بابر درغلی تر سره کړه. د مدني قانون د ۵۷۰ – ۵۷۱ مادو پورې، پارسا کولای شي اړونده قرارداد فسخ کړي.

**۱.۴ بیا کتنه**

اساسي قانون او مدني قانون دا موضوع چې څوک او څه وخت ملکیت لېږدولای شي، محدودوي. د اساسي قانون له مخې بهرني اشخاص ملکیت اجاره کولای شی خو د مالکیت حق یی نه لري. په دې توګه، بهرني اشخاص نشي کولای ملکیت وپیرې او یا یی په میراث یوسي. دویم، د ملکیت د لېږد په موخه په قرارداد کې شامېلېدلو لپاره یو شخص باید قانوني اهلیت ولري. دا محدودیت چې څوک قرارداد کولای شي د عمر د عنصر په شمول د یو شخص پواسطه د آګاهانه پرېکړې کولو د توان څرنګوالی په ګوته کوي. دریېم، مخکې تر دې چې یو څوک خپل ملکیت و پلوري، نوموړی باید د ملکیت د نورو خاوندانو او رهن اخیستونکو په شمول هر هغه چاته خبر ورکړي اواجازه تر لاسه کړي چې په اړونده ملکیت پې قانوني او بالفعل ګټه لري.

په قانوني ډول د مالکیت لېږد لپاره، اړونده لوري باید لېږد په قانوني قباله کې ثبت کړي. محکمې او د ځمکوالۍ چارو د تنظیم اداره په دې بهیر کې برخه اخلي تر څو مالکیت تثبیت شي، د قرارداد د لورو له خوا مالیه او فیس تادیه او سندونه وساتل شي. اختلاف هغه وخت را ولاړېږي چې پر عین ملکیت باندې له یوه نه زیات کسان دعوا وکړي.

خلک د رضایت قانوني او الزامي قرارداد پر بنسټ باندې د ملکیت د خرڅلاو او اجارې په شمول،د ملکیت د لېږد سره توافق کوي. په ځینوحالاتو کې، یو شخص قرارداد لغو کولای شی. خو ددې کار لپاره د هغو توان کم دی.

**2 . د خصوصي ملکیت پلورل**

د ملکیت خرڅلاو هغه وخت صورت مومي چې د ملکیت خاوند د ملکیت په اړه ټول حقونه د ارزښت وړ توکی لکه پیسو په مقابل کې پېرودونکي ته لېږدوي. د ملکیت خرڅلاو د یو قرارداد پر بنسټ تر سره کېږي.

له مخکنیو بحثونو څخه در په یاد کړی په دې هکله چې څوک ملکیت خپلولای شي، څوک ملکیت لېږدولای شي، او کله یی لېږدولای شي، یو لړ محدودیتونه شته. دا محدودیتونه همدارنګه د ملکیت په خرڅلاو کې هم دتطبیق وړ دي. لومړی، پېرودونکی او پلورونکی دواړه باید د قرارداد د عقد اهلیت ولري. دوهم، پېرودونکی او هم پلورونکی باید بهرني اشخاص

نه وي. دریيم، مخکې د ملکیت له پلورلو، پلورونکی باید د هر هغه چا توافق تر لاسه کړي چې په ملکیت کې بالفعل ګټه لري، لکه نور مالکين او رهن اخیستونکي. څلورم، د مالکیت لېږد باید د قانوني قبالې له مخې تر سره شي.

دلته موږ د دوو مفاهیمو سره تماس ونیو. لومړی، موږ وویل چې څه وخت شخص بل ته د ملکیت د پلورلو وړتیا لري. دوهم، مورد شفعې د حق په هکله بحث وکړ. د شفعې حق داسې حق دی چې یو څوک مخکې تر دې چې ملکیت پر نورو باندې و پلورل شي، د پېرودلو لومړیتوب تر لاسه کوي. دریيم، موږ دا هم وویل کله چې یو شخص ملکیت و پېري، نوموړي پخپل مال کې د تصرف او کارولو حق تر لاسه کوي. د مالکیت حق او د تصرف حق مشخص او متفاوت دي ؛ دوی همیش سره مل نه وي. یو شخص کېدای شي ملکیت تر لاسه کړي خو نه دا چې هغه خپل کړي او وکاروي، یعنې د تصرف حق.

## ۲.۱ د بل شخص د ملکیت پلورل

د مدني قانون ۱۱۵۲ ماده اجازه ورکوي چې د ملکیت خاوند بل چاته د نوموړي د خرڅولو واک ورکولای شي. دا کېدای شي د مالک د تأیید یا نه تأیید په دواړه حالتونو کې تر سره شي.

کله چې د ملکیت خاوند بل چاته د خپل ځان په استازیتوب د مال د خرڅولو اجازه ورکړي، د خرڅلاو دا معامله د پلي کېدو وړ ده؛ یعنې اړونده قرارداد د اعتبار وړ دی.[155] په دې حالت کې، د مال اصلي مالک او د پلورلو لپاره شخص دده د نماینده په توګه عمل کوي. خو، کله چې مالک دا ډول واک ور نه کړي، د مال خاوند د مال خرڅلاو لغو کولای شي.[156] که چېرې د مال مالک ( اصل شخص) قرارداد لغو کړي او پېرودونکی په دې هکله خبر و نه لري، پېرودونکی له پلورونکي څخه د خپلو پیسو د بېرته ورکولو غوښتنه کولای شي، آن که پلورونکي د ښه نیت خاوند هم وي.[157]

د عمومي قاعدې په برخه کې استثناء هم شتون لري. که چېرې د ملکیت خاوند خپل دین ادا نه کړي، داین یا پور ورکوونکی کولای شي د مال د مالک ملکیت و پلوري. د مالکیت په هکله څېړکی در په یاد کړئ چې پکې ویل شوي د ملکیت د خپلولو له ښېګڼو څخه یوه هم د پور یا مرهونه د ترلاسه کولو لپاره د هغو کارول دي. رهن اخیستونکی ددې سره موافقه کوي چې د ملکیت خاوند ته د مرهونه په بنه پیسې ورکړي.[158] د رهن د قرارداد له لارې، رهن اخیستونکی د مال د خاوند په ملکیت کې قانوني ګټه تر لاسه کوي. په ملکیت کې د رهن اخیستونکي ګټه د مال خاوند پخپل وخت د پور ورکولو ته هڅوي. که چېرې د مال خاوند پخپل وخت پیسې ورنکړي، رهن اخیستونکي د نوموړي مال پلورلای شي.[159] ملکیت د پور اخیستلو لپاره بنسټ جوړوي.

په دې ځای کې، موږ لومړی په دې هکله غږېږو چې په کوم وخت کې د مال خاوند بل چاته د خپل مال د پلورلو واک ورکولای شی. دوهم، موږ ګورو چې څرنګه رهن اخیستونکی د مال د خاوند ملکیت تر لاسه کولای او پلورلای شي.

### ۲.۱.۱ د معاملو رهنما

د معاملو د رهنما قانون او د مدني قانون له مخې، د ملکیت خاوند کولای شي د معاملو رهنماوو ته اجازه ورکړي چې په استازیتوب يې ملکیت و لېږدوي.[160] د معاملو رهنماوې د خلکو سره د ملکیت په پلورلو، پېرودلو او اجاره کولو کې مرسته کوي. د مثال په توګه، د معاملو رهنما بالقوه پېرودونکي معلومولای شي، یا داچې د ملکیت د پلورلو یا اجارې موضوع په هکله خبرې اترې تنظیم کړي. د نورو د استازی په توګه، د معاملو رهنما باید دا ډاډمنه کړي چې د ملکیت د قبالې په شمول، ټول قانوني شرطونه ترسره شي.[161]

[155] Civil Code, Articles 1152, 1153.
[156] Civil Code, Articles 1152.
[157] Civil Code, Articles 1154.
[158] Mortgage Law, Article 5 (requirements and options for creating a mortgage, focusing on the documentation).
[159] Mortgage Law, Article 9.
[160] Civil Code, Article 1152; Property Dealers (Estate Agents) Law, Article 1, Section 1, Law No. 1189 (17 October 2015).
[161] Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 71 (2005).

د هغوی د مرستي په مقابل کي، د معاملو رهنما د ملکیت د خرڅلاو یا اجارې د ارزښت سلنه تر لاس کوي.[162] د ۲۰۱۵ ز کال د معاملو د رهنما قانون دا اندازه ٪۱ ټاکي، هغه لګښت چې اکثراً پیرودونکی او پلورونکی (یا اجاره ورکوونکی او اجاره اخیستونکی)یې په ګډه ورکوي (هر یو لوری ٪۰،۵).[163] که چېرې د معاملو رهنما تېرو تنه وکړي او خرڅلاو یا اجاره بې اعتباره وګڼل شي، د معاملو رهنما یاده سلنه یا فیس باید بېرته ورکړي.[164] دا کېدای شي چې د اصلي خاوند څخه د اجازې نه ترلاسه کول وي یا د ملکیت د لېږد په بهیر کي د کوم پړاو پرېښودل وي.[165]

**د ملکیت د اخیستلو تمویل**

که پېرودونکی د ملکیت د یوې ټوټې د پېرودلو اراده وکړي خو په ورته وخت کي ددې معاملې لپاره کافي پیسې و نه لري، څه باید وکړي؟

د مالکیت په هکله له څېړکي څخه در په یاد کړئ هغه پېرودونکی چې پلورونکي ته د مال د ټول ارزښت پیسې و نه لري، کولای شي د مال د پېرودلو لپاره د ملکیت په مقابل کي پور یا مرهونه تر لاسه کړي.[166]

### ۲.۱.۲ د مرهونه په اړه د مالک قصور؛مرهونه ملکیت

د ملکیت خاوند او هغوی چې د نوموړي په استازیتوب عمل کوي (د معاملو رهنما) یوازې کسان نه دي چې مال خرڅوي. که د ملکیت خاوند پخپل وخت پور ور نه کړي، رهن اخیستونکی کولای شي د نوموړي ملکیت و پلوري.[167]

لاندې حالت تر کتني لاندې ونیسئ: رامین د ۱۲ جریبه په اندازه ځمکه لري. نوموړی غواړي ۵ وزې و پېرې خو ددې کار لپاره پوره پیسې نه لري. په دې ترتیب، رامین د حمید سره د پور اخیستلو توافق لیک بانديې سلا کېږي. رامین د پور لپاره خپل ملکیت د تضمین په توګه کاروي. دلته، رامین پور اخیستونکی دی (دبتور)؛ او حمید رهن اخیستونکی (پور ورکوونکی) دی.د پور په هکله قرارداد کول له رامین څخه غوښتنه کوي چې په هرو شپږو میاشتو کي حمید ته پیسې ورکړي، خو رامین د دوو کلونو په اوږدو کي هیڅ پیسې نه دي ورکړې.

په بانکي معاملو کي د غیر منقول مالونو د رهن قانون د ۹ مادې له مخې ( له دې ورو سته په متن کي د رهن د قانون په نوم یادېږي)، رامین باید په توافق لیک کي د منل شوو شرطونو له مخې د پور پیسې بېرته ورکړي. که رامین دا کار و نه کړي، په هغه صورت کي حمید کولای شي د هغه ملکیت تصرف او یا هم و پلوري.[168] مخکې تر دې چې حمید دا کار وکړي، نوموړی باید رامین ته یو بل فرصت ورکړي چې د توافق لیک سره سم عمل وکړي.[169].

لومړی، حمید باید رامین ته د ملکیت د تصرف یا خرڅولو په اړه خبر ورکړي.[170] د رهن د قانون د ۲۸ مادې له مخې، دا ددې غوښتنه کوي چې د رامین او نورو رهن اخیستونکو په وروستي پته هغوی ته لیک واستوي. همداشاني حمید ته ښایي چې په ځایي ورځپانه کي هم په دې هکله خبر خپور کړي. خبر باید دا په ګوته کړي چې رامین څومره پیسې پوروړی دی، او همدارنګه دا هم باید وویل شي چې که د پور د توافق لیک سره سم عمل وکړي، رامین کولای شي خپل ملکیت وساتي. که حمید د لیلام له لارې د ملکیت د پلورلو پلان ولري، نو په دې صورت کي خبر باید د هغو نېټه، وخت

---

[162] Property Dealers Law, Article 18.
[163] Property Dealers Law, Article 18.
[164] Property Dealers Law, Article 18(3); Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 72 (2005).
[165] Civil Code, Article 2212 (all legal requirements must be satisfied); Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 60 (same).
[166] Civil Code, Article 1288.
[167] Mortgage Law, Article 9.
[168] Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 72 (2005).
[169] Civil Code, Articles 1861(1) & 1870(1).
[170] Mortgage Law, Article 25.

او ځای هم په ګوته کړي.[171] له لیک استولو وروسته، حمید باید رامین ته د ځواب ورکولو وخت ورکړي: شپېته ورځې که چېرې په ملکیت کې کور ودان وي او ۳۱ ورځې که کور نه وي.[172]

کله چې رامین یادښت تر لاسه کړي، نوموړی درې انتخابه لري. کولای شي د توافق لیک سره سم عمل وکړي او خپل ملکیت وساتي.[173] رامین د حمید یادښت له پامه غورځوي او ملکیت له لاسه ورکوي.[174] یا رامین د حمید یادښت په دې دلیل ننګوي چې نوموړي د توافق لیک سره سم عمل کړی او دا چې د مکلفیتونو د تر سره کولو لپاره ورته کافي وخت ور نه کړل شوی او یا دا چې یادښت سم نه دی ځکه هغه د عملي کېدو وړ غوښتنوسره مطابقت نه لري.[175] همداشانې، د توافق لیک دواړه لوري د معمول سره سم د رهن په توافق لیک کې د رهن د قانون او د مدنی قانون څخه سېوا، داسې مقررات راوړي چې د شخړې د رامنځ ته کېدو په صورت کې مهم ګڼل کیږي.
فرض کړئ چې رامین د حمید یادښت ته اعتنا نه کوي او د حمید ادعا نه ننګوي. حمید په دې حالت کې څو انتخابه لري. لومړی، حمید کولای شي کرایه، عاید او د ملکیت اړوند نورې ټولې پیسې راټولې او رامین ته یې وکړي.[176] حمید پخپل وار سره هم کولای شي د رامین ملکیت و پلوري او یا له محکمې څخه د حکم په لاسته راوړلو سره پر هغو باندې تصرف وکړي.[177] که حمید ملکیت و پلوري، نوموړی باید لاس ته راغلې پیسې د رامین په پور کې معامله کړي او پاته شوې پیسې رامین ته ورکړي.[178]

### ۲.۱.۲.۱ څو رهن اخیستونکي

که چې یو شمېر کسان په عین ملکیت کې مالي ګټه ولري، د ملکیت د خاوندانو او رهن اخیستونکو ترمنځ اړیکه ډېره پېچلې کیږي.[179] په ملکیت کې مالی علاقمندی د ډول له مخې درجه بندي کیږي او دا چې دین یا پور څه وخت تر سره شوی. دین کېدای شي رهن یا د پور د نورو ډلولونو په بڼه وي. رهن اخیستونکي حق لري چې تر نورو کرېدیتورانو د مخه پور واخلي.[180]

که چېرې ملکیت تر یوه زیات رهن اخیستونکي ولري، د ملکیت اړونده رهن په ملکیت کې د علاقمندۍ لومړیتوب لري. په دې معنی چې راهن یا رهن ورکوونکی خپل دین ورکوي یا مرهونه پلورل کیږي، د لومړیتوب علاقمندۍ رهن اخیستوکنی ته لومړی پیسې ورکول کیږي.[181]

## ۲.۲ د شفعې حق

د ملکیت له پلورلو د مخه ، د ملکیت خاوند باید لومړی دا معلومه کړي چې آیا کوم څوک ددې انتخاب لري چې تر بل چا د مخه د نوموړي ملکیت و پېري. دې ډول انتخاب ته د شفعې حق ویل کیږي. په دې صورت کی شخص د شفعې حق لري چې ټول اړونده ملکیت یا د هغو یوه برخه و پېري. د ملکیت د تصرف لپاره، شفعې حق درلودونکی شخص باید د ملکیت خاوند ته پیسې ورکړي او د ملکیت خاوند لومړی باید هغه ته د اخیستلو وړاندیز وکړي.[182]

د شفعې د حق دوه ډولونه لري: د مشارکت له مخې د شفعې حق او ملکیت ته د نژدېوالي له مخې د شفعې حق. د مشارکت له مخې د شفعې حق هغه وخت رامنځ ته کیږي چې دوه کسان د اړونده ملکیت په تړاو ګډ کار او بار لري. ملکیت د

---

[171] Mortgage Law, Article 28.
[172] Mortgage Law, Article 25(3) & (4).
[173] Mortgage Law, Article 26.
[174] Mortgage Law, Article 25(3)
[175] Mortgage Law, Article 29.
[176] Mortgage Law, Article 25(3)
[177] Mortgage Law, Article 25(3), 27.
[178] Mortgage Law, Article 32.
[179] Mortgage Law, Article 4(3).
[180] Civil Code, Articles 1832, 1866, 1870.
[181] Civil Code, Articles 1832 (official mortgage takes priority over others), 1866-1894; Mortgage Law, Article 12-15.
[182] Civil Code, Article 2213.

نژدېوالي له مخې د شفعي حق هغه وخت رامنځ ته کېږي کله چې يو شخص داسې ملکيت خپلوي چې دبل چا د ملکيت سره ګډه پوله ولري او يا هم نژدې ګاونډي.[183]

د مشارکت له مخې د شفعي حق په دريو کټګوريو ويشل کېږي. لومړی، ددې حق له مخې شريک کولای شي دواړه هم ځمکه او هم په هغه کې ودانۍ وپېري.[184] دوهم، يو شخص د شفعي حق لري چې له ودانۍ پرته يوازې ځمکه و پېري.[185] درېيم، شريک کېدای شي د ملکيت سره د مل حقوقو لکه ارتفاقي حق( د يو داسې ملکيت د کارولو وړتيا چې خاوند و نه لري) سره علاقه ولري، خو نه د ځمکې او ودانيو په اړه حق.[186] که د ملکيت خاوند د خپلې ځمکې د پلورلو پرېکړه وکړي، نوموړی بايد د خرڅلاو وړانديز تر نژدې ګاونډيانو او عام وګړو د مخه ، هغواشخاصو ته وکړي چې د مشارکت حق لري.[187]

د مدني قانون ۲۲۲۱ماده د شفعي د حق د مراتبو سلسله بيانوي. شريکانو تر نژدې ګاونډيانو زيات لومړيتوب لري او اجازه لري چې له ګاونډي د مخه ملکيت و پېري. . هغه شريکان چې په ملکيت کې ډېره ګټه لري له نورو څخه لوړ لومړيتوب هم لري:[188]

- د ټول ملکيت په اړه د شفعي د حق شريک لومړی لومړيتوب لري؛
- د ځمکې، نه د ودانيو، په اړه د شفعي د حق شريک، دوهم لومړيتوب لري؛
- د ځانګړو حقونو په اړه د شفعي د حق شريک لکه د ارتفاق حق، درېيم لومړيتوب لري؛ او
- نژدې ګاونډيان څلورم (وروستی) لومړيتوب لري.

### ۲.۳ د تصرف لېږد

د ملکيت له پلورلو او د لېږد ر سمي ثبت وروسته، پېرودونکی د مالکيت حق تر لاسه کوي. خو يوازې له دې امله چې پېرودونکي اوس د مال خاوند دی په دې معنی نه دي چې سمدلاسه د ملکيت تصرف لاس ته راوړي. د ملکيت په حقونو کې د ملکيت د خپلولو، د هغو تصرف او کارول شامل دي. دا حقوق د وېشلو وړ دي. د مال خاوند کولی شي د ملکيت د کارولو او تصرف حق وپلوري، د مثال په توګه، ملکيت په اجاره ورکړي. د اجارې په قرارداد کې، د ملکيت خاوند په مؤقت ډول د مال د تصرف حق پر بل چا باندې پلوري(اجاره اخيستونکی). که چېرې د مال خاوند په داسې حال کې خپل مال و پلوري چې هغه لا د اجاره اخيستونکی په تصرف کې وي، نوی مالک بايد د اجارې شرطونه مراعات کړي. نوموړی سمدلاسه نشي کولای چې په خپل نوي ملکيت باندې تصرف وکړي.[189]

د لاندې دريو سناريوګانو په هکله فکر وکړئ:

اجاره اخيستونکی ملکيت پېري. آسا له حميد څخه د يو کال لپاره مال په اجاره نيسي. د اجاره اخيستونکی په توګه، آسا د تصرف حق لري نه د ملکيت حق. آسا په ملکيت باندې حق لري او دا چې هغه وکاروي خو هغه حق نه لري چې ملکيت و پلوري. ددې خلاف، حميد د مالکيت حق لري خو نه د تصرف. حميد ځکه د ملکيت حق نه لري چې نوموړی د تصرف حق د يو کال لپاره پر آسا باندې پلورلی. حميد لا هم د خپل ملکيت د پلورلو حق لري، که څه هم آسا د هغو د مؤقت تصرف حق لري. د اجارې د کال په نيمايي کې، آسا د حميد سره د هغو د ملکيت د پېرودلو قرارداد وکړ. کله چې آسا په رسمي ډول مالکيت تر لاسه کړي نو په ملکيت کې پاته کېدلای شي، د مدني قانون د ۲۲۶۲ مادې له مخې، له حميد څخه آسا ته د ملکيت فزيکي لېږدولو ته اړتيا نشته. آسا مخکې له دې پر ملکيت تصرف کړی او پر هغو باندې ژوند کوي. اوس آسا دواړه د مالکيت او د تصرف حق لري. هغه ملکيت کارولی شي، هغه پر ملکيت باندې پاته کېدای شي، او همدارنګه ملکيت پلورلای شي.

---

[183] Civil Code, Articles 2213 & 2214.
[184] Civil Code, Article 2216.
[185] Civil Code, Articles 2216 & 2217.
[186] Civil Code, Article 2218.
[187] Civil Code, Article 2213.
[188] Civil Code, Article 2221.
[189] Mortgage Law, Article 33(2).

د مال خاوند ملکیت په دریېم شخص پلوري. آسا له حمید څخه د یو کال لپاره ملکیت په اجاره اخلي. خو حمید پر آسا باندې ملکیت نه پلوري. ددې په ځای، حمید د دریېم شخص په توګه پر رامین باندې ملکیت پلوري. آسا د تصرف حق لري داسې حق چې پر ملکیت باندې پاته شي او یا هم هغه وکاروي. رامین ملکیت خپلوی خو ددې حق نه لري چې پر هغو باندې پاته شي او هغه وکاروي ځکه چې نوموړی لا هم د حمید او آسا په اجارې باندې مکلف دی. آسا د ملکیت په اړه د جارې اجارې تر پایه د تصرف حق لري. د آسا د اجارې په پای کې ، رامین به د تصرف ګټه تر لاسه کړي.[190] خو آسا، د تصرف خپل حق د اجارې تر پای د مخه ختمولای شي.که چېرې آسا دا کار وکړي، نوموړی تر څو چې د رامین سره د نوې اجارې قرارداد و نه کړي، د تصرف حق بېرته نشي تر لاسه کولای.[191] د بدیل په توګه، د آسا او حمید ترمنځ د اجارې قرارداد به حمید ته ددې امکان ورکړي چې دواړه په مال کې د مالکیت او د تصرف ګټه دریېم لوري ته ولېږدوي. په دې ترتیب، که چېرې قرارداد په دې ډول جوړ شي، تر خرڅلاو وروسته، آسا به له ملکیت څخه ووزي او رامین به د مالکیت او تصرف دواړه حقوق تر لاسه کړي. خو آسا، به له حمید څخه د پیسو د ترلاسه کولو مستحق وي چې دا کار د قرارداد په شرطونو پورې تړلی دی. په لنډه ډول، ددې خبرې په یاد ساتل ډېرمهم دي چې نافذ قوانین د قصور داسې قواعد رامنځ ته کوي چې اړونده لوري یې د قرارداد کولو په مهال باید په پام کې ونیسي.

رهن ورکوونکی هڅه کوي د خپل ملکیت ارزښت راکم کړي. د رهن اخیستونکي په هکله در په یاد کړئ چې د ملکیت د مالک له لوري د دین د نه ادا کولو په صورت کې نوموړی کولای شي د ملکیت د مالک ملکیت و پلوري. خو که چېرې د مال خاوند، له لجاجت پرته، د اجارې سره د سرورکولو له لارې د ملکیت د ارزښت د راکمولو هڅه وکړي تر څو نوی مالک سمدلاسه په هغو باندې تصرف و نه کړي، څه به رامنځ ته شي؟ په داسې حالاتو کې، نوی مالک کولای شي اجاره اخیستونکی دې ته اړ کړي چې له محکمې څخه د حکم د اخیستلو له لارې، اجاره پرېږدي.[192]

**۲.۴ بیا کتنه**

د ملکیت خرڅلاو د قرارداد له مخې تر سره کېږي. د ملکیت خرڅلاو د اعتبار لپاره، هغه باید په رضایت او د هر هغو چا په توافق سره چې په ملکیت کې قانوني ګټه لري او په رسمي قباله کې ثبت شي، تر سره شي. د مال خاوند بل شخص لکه د معاملو رهنما ته هم د هغه په استازیتوب د ملکیت د خرڅلاو واک ورکولای شي. کله چې د مال خاوند بل چا ته دا ډول اجازه ورکوي، د ملکیت اړونده خرڅلاو د اعتبار وړ دی. که د ملکیت خاوند دا ډول اجازه ور نه کړي، د مال خاوند د قرارداد د الزامیت لپاره د قرارداد د تصدیق اختیار لري.

کله چې د ملکیت خاوند د دین په ادا کولو کې پاته راشي، رهن اخیستونکی کولای شی د ملکیت د خاوند مال وپلوري. مخکې تر دې چې رهن اخیستونکی دا کار وکړي، نوموړی باید د مال خاوند ته په دې هکله خبر ورکړي او هغه ته ددې امکان هم ورکړي چې د قرارداد سره سم عمل وکړي.که چېرې د ملکیت خاوند په ورکړل شوې موده کې د قرارداد سره سم عمل تر سره نشي کړای، رهن اخیستونکی کولای شی چې یا ملکیت تر لاسه کړي یا د محکمې د حکم په تر لاسه کولو سره هغه و پلوري.

د ملکیت تر پلورلو د مخه، د ملکیت خاوند باید دا معلومه کړي چې آیا شریکان یا نژدې ګاونډیان د شفعې حق یعنې تر نور چا د مخه د ملکیت د پېرودلو حق لري او که نه.

بالآخره، تصرف کوونکی، لکه اجاره اخیستونکی، کولای شی په خپل تصرف کې د ملکیت د پېرودلو حق رانیسي. خو د مال خاوند نشي کولای چې ملکیت پر اجاره اخیستونکی باندې و پلوري. ددې پر ځای، د ملکیت خاوند ملکیت پر کوم بل چا باندې پلورلای شي. په داسې حالاتو کې، د ملکیت نوی خاوند په سملاسي توګه پر ملکیت باندې د تصرف د حق دعوا نشي کولای. ددې پرځای، نوی خاوند یا مالک ته بنایي انتظار وباسي تر څو چې د ملکیت د پخواني خاوند سره د اجارې شرطونو سره سم د ملکیت په اړه د اجاره اخیستونکی حق پای ته ورسېږي.

[190] Civil Code, Articles 2263 & 2265.
[191] Civil Code, Article 2266.
[192] Mortgage Law, Article 36.

## 3 . په اجاره ورکول

د ملکيت ټولي لېږدوني داسې نه دي چې د مال خاوند د خپل مال په اړه ټول حقوق له لاسه ورکړي. د ملکيت خاوند کولای شي په مؤقت ډول په خپل مال کې د تصرف او دهغو د کارولو حق بل چاته ورکړي او د مالکيت حق (اجاره) د ځان سره خوندي وساتي. هغه شخص چې د ملکيت د تصرف او کارولو حق پېري، اجاره اخيستونکی او د ملکيت خاوند د اجاره ورکوونکی په نومونو يادېږي. يو شخص کولای شي له بل شخص يا له حکومت څخه ملکيت اجاره کړي.

موږ دلته د تصرف د لېږد په هکله غږېږو، د دوو کسانو تر منځ د ملکيت اجاره. کله چې کوم ځوک له حکومت څخه ځمکه اجاره کوي، نو اضافي مقررات د پلي کېد وړ دي. که څه هم دلته په دې هکله بحث نه دی شوی، خو دا نور مقررات په اړونده موضوع کې ډېر مهم دي. حکومت يو د غوره اجاره ورکوونکو څخه دی او خلکو ته د نوي کلونو لپاره د ځمکې د اجارې کولو اجازه ورکوي.[193] خلک او خصوصي پانګه وال، دواړه کورني او بهرني، له حکومت څخه ځمکه اجاره کولای شي.[194] د کرني په ځپرکې کې به ددې مقرراتو په هکله په تفصيل سره بحث وشي.

په ياد ولرئ چې هر ځوک ملکيت په اجاره اخيستلای شي؛ ددې لپاره يو شخص بايد د افغانستان تابعيت ولري. مدني قانون، د ۲۰۰۸ زکال د ځمکوالۍ چارو د تنظيم قانون، او د اجارې د ماليې قانون ټول د اجاره اخيستونکی او اجاره ور کوونکی ترمنځ اړيکي سمبالوي. لومړی، موږ د اجارې قراردادونه تر څېړنې لاندې ونيول او د هغو پر منځپانګه يا محتوا باندې وپوهېدو. دوهم، موږ و کتل چې اجاره اخيستونکی يا اجاره ورکوونکی کوم وخت د اجارې تر مودې د مخه اجاره ختمولای شي، يعنی هغه موده چې اجاره اخيستونکی او اجاره ورکوونکي د ملکيت د اجارې په هکله سره توافق کوي. په دې اړه، موږ همدارنګه يو د بل په وړاندې د اجاره اخيستونکی او اجاره ورکوونکی مکلفيتونه هم په ګوته کړل.

### ۳.۱ د اجارې تر سره کېدل

د ملکيت د خرڅلاو په شان، قرارداد هم د ملکيت د خاوند (اجاره ورکوونکي) او د هغه شخص چې په مؤقت ډول د ملکيت اړوند د تصرف حق پېرود ل غواړي (اجاره اخيستونکی) ترمنځ د اجارې لپاره بنسټ جوړوي.[195] په دې ترتيب، لکه د ملکيت د خرڅلاو په اړه، د مکلفيتونو قانون د قرارداد د جوړولو او لغو کولو په شمول، دمخالفت، غلطي او درغلي په صورت کې د اجارې د لغو کولو د حق سره يوځای د اجارې شرطونه سمبالوي.

مدني قانون، د ۲۰۰۸ زکال د ځمکوالۍ چارو د تنظيم قانون دا ښيي چې د اجارې قرارداد کوم موارد بايد ولري. د اجارې توافق ليک بايد ملکيت توضيح کړي او دا په ګوته کړي چې آيا کوم کښت پکې شته او که نه.هغه همدارنګه بايد دا معلومات ولري چې اجاره اخيستونکی بايداجاره ورکوونکي ته څرنګه، کله او څه شی ورکړي، او دا هم بايد په ګوته کړي چې د اجاره اخيستونکی د ملکيت د تصرف د حق موده او د اجارې موده څومره ده.[196] هغه اجارې چې اړين قانوني معلومات و نه لري د الزاميت کوم اثر نه لري؛ دا ډول اجارې بې اعتباره دي.[197] بې اعتباره قرارداد داسې يو قرارداد دی چې اړين معلومات نه لري خو کېدای شي د معلوماتو په ورزياتولو سره اصلاح شي.

اجارې د توافق ليکونو د کار پوهان په لاندنيو جدولونو کې شامل دي. کله چې تاسو د اجارې په هکله مطالعه کوی، دې ټکي ته پام وکړئ چې آيا ستاسو له نظره هغه واضح دي. که چېرې تاسو اجاره اخيستونکی وی، تاسوبايد پر دې باندې وپوهېږئ چې ستاسو په وړاندې څه پراته دي؟ څومره ژر ژر اجاره اخيستونکی بايد اجاره ورکوونکي ته پيسې ورکړي؟ د پيسو د ورکولو کومې طريقې ته اړتيا ده؟

[193] Law of Managing Land Affairs of 2008, Article 64 (noting the existence of the Private Investment Law); LANDac Factsheet 2012, *supra* note **Error! Bookmark not defined.**, at 5-6.
[194] LANDac Factsheet 2012, *supra* note **Error! Bookmark not defined.**, at 5-6.
[195] Law of Managing Land Affairs of 2008, Article.59; Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 77 (2005).
[196] Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 60; Civil Code 1324.
[197] Civil Code, Article 1324.

**د اجارې توافق لیک**

. . .

**۲.<u>شرطونه</u>**
که چېرې د مخه نه وي قيد شوي، د اجارې دغه توافق لیک د اجارې له نېټې څخه پنځه کاله دی. ک چېرې په درېیمه برخه کي د یادشوو حالاتو سره سم و نه غزول شي، دا اجاره د (۱)اجارې د روان قرارداد، یا (۲) د انفاذ د پنځم کال په ختم سره پای ته رسېږي. ("د پای نېټه").

. . .

**<u>۴.۱ کرایه</u>**
تر دې اجارې لاندې د کرایې اندازه د پنځو کلونو په اوږدو کې د میاشتې دولس زره او پنځه سوه افغانۍ ده. له هغه وروسته، هر کال د اجارې د شرطونو د نوي کېدو په صورت کې، د کال په پیل کې میاشتنی کرایه د ۲۵۰۰۰ افغانیو په اندازه زیاتېږي جمع د کلني انفلاسیون د نرخ هغه اندازه چې د سوداګرۍ او صنایعو وزارت له لوري خپرېږي.
۴.۲ کرایه هر کال د پیشکي په ډول د توافق شوو شرطونو سره سم د کال په لومړی ورځ د برښنايي تاديي لارې ورکړل شوي حساب ته لیږدول کېږي.
۴. ۳ که چېرې د کرایې تادیه شوي پیسې د لیږدوونکي له لوري د (۳۰) ورځو په اوږدو کې په ټاکلې موده کې تر لاسه نه شي، قرارداد کوونکی همداشاني باید لیږدوونکي ته ددې اجارې د کلنی کرایي ("وروستی لګښت") پنځه ویشت سلنه (۲۵٪) د میاشتې په حساب د ځنډېدو لګښت هم ورکړي.

. . .

**<u>۷. د اجاره ورکوونکي دندې</u>**
قراردادکوونکی په ورکړل شوو ژمنو باندې عمل کوي او که لازم وي، خپلې ژمنې خپل اصلي حالت ته راګرځوي.

. . .

**<u>۹. د ختمولو اړوند پېښې</u>**
دا اجاره هغه مهال پای ته رسېږي چې اجاره ورکوونکی د دریو پرله پسې میاشتو په اوږدو کې د اجارې پیسې ورنه کړي.[198]

**۳.۱.۱ د پیسو ورکړه او موده**

اجاره اخیستونکی کولای شي د تصرف د حق په خاطر په مختلفو ډولونو پیسې ورکړي: " نغدې پیسې، ملکیت، عاید، یا د مجازي ژمنې له لارې"[199]. وروستي عبارت ته پام وکړئ،" یا مجازه ژمنه". پر پیسو، ملکیت او عاید ( د مثال په توګه، د کار او بار عاید) سربېره، اجاره اخیستونکی او اجاره ورکوونکی په دې هکله چې اجاره اخیستونکی و اجاره ورکوونکی ته څه شی ورکړي، پراخ انتخاب لري. هغه اجاره اخیستونکی چې مېوې پلورې کولای شي خپل دین د ام په ورکولو سره ادا کړي. د غالیو تولیدوونکی کولای شي اجاره ورکوونکي ته غالی ورکړي. او رنګمال د اجاروه ورکوونکي د کور د دیوالونو په رنګولو سره دا کار تر سره کولای شي!

---

[198] Premises Lease Contract between Ministry and Petroleum, Islamic Republic of Afghanistan (the Grantor) and the Contractor (draft 15 November 2013), *available at* http://mom.gov.af/Content/files/CNG_Premises_Lease_Contract%20-%2012Nov13.pdf.
[199] Civil Code, Article 1338.

اجاره اخيستونکی او اجاره ورکوونکی د پيسو د ورکړي موده معلوموي. کېدای شي د اجارې توافق ليک له اجاره اخيستونکی څخه وغواړي چې د ملکيت د تصرف د مخه ټولې پيسې ورکړي. يا د اجارې توافق ليک دا قيد کړي چې اجاره اخيستونکی د اجارې په اوږدو کې په پړاويز ډول پيسې ورکړي. همدارنګه د اجارې توافق ليک کولای شي اجاره اخيستونکی ته اجازه ورکړي چې د اجارې د مودې په پای کې پيسې ورکړي.[200]

د مدنی قانون د ۱۳۲۴ او د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالی چارو د تنظيم قانون د ۶۰ مادو له مخې هر هغه څه چې اجاره اخيستونکی او اجاره ورکوونکی يې پرېکړه وکړي بايد په توافق ليک کې مشخص شي. خو، که د اجارې په توافق ليک دا ذکر نشي چې اجاره اخيستونکی اجاره ورکوونکي ته څه وخت پيسې ورکوي ، ځايي عرف د اجارې د ورکړې وخت ټاکي.[201] همدارنګه د مدني قانون ۱۳۴۵ او ۱۳۴۶ مادې چې د اجارې د مودې په هکله دي، دا مني چې اجاره ورکوونکی او اجاره اخيستونکی له توافق ليک څخه شرطونه حذف کولای شي. که چېرې د اجارې موده په توافق ليک کې و نه ټاکل شي، د اجارې موده د " د اجارې اړوند روان دود له مخې" ټاکل کېږي.

له توافق ليک څخه د اجارې او يا د پيسو د ورکولو د څرنګوالي حذفول اختلاف رامنځ ته کولی شي. تاسو څنګه اټکل کولای شئ چې د اجارې په اړه دوديز پراتيک په څه ډول دی؟ کله چې د اجارې توافق ليک معلومات حذف کړي ( د مثال په توګه، اجاره اخيستونکی څومره ځلې بايد اجاره ورکوونکي ته تاديات وکړي)، مدني قانون وايي چې دواړه لوري د داسې اجارې په هکله غور وکړي چې يو بل ته ورته وي. دا ورته والی کېدای شي د ملکيت، د اجارې د مودې، موقعيت، شرطونو او نورو داسې مواردو له مخې وي.تاسو د ملکيتونو ترمنځ توپير په څه کې وينئ؟ کېدای شی ځينې توپيرونه د ژر ژر تادياتو غوښتنه وکړي او نور توپيرونه بيا د اجارې په پای کې د ټول مبلغ د ورکړې غوښتونکي وي. په دې هکله چې عرف څه وايي توافق ستونزمن دی؟

ستاسو په نظر د اجارې شرطونه تر کومه بريده بايد مشخص وي؟ لاندني دوه حالتونه سره پرتله کړئ:

1. اجاره اخيستونکی اجاره ورکوونکي ته د اجارې د مودې په هرو شپږو مياشتو کې ځينې غالی ورکوي
2. اجاره اخيستونکی اجاره ورکوونکي ته د اجارې د ټولې مودې په اوږدو کې پنځه غالی ورکوي.

فرض کړئ چې د تاديې او مودې په اړه به له دې څخه يو حالت په قرارداد کې راځي. ستاسو په نظر له هغو څخه کوم يو غوره دی؟ آيا ستاسو له نظره دا حالتونه د اجاره اخيستونکی په ګټه دي؟ اجاره ورکوونکی څنګه؟ تاسو دا حالتونه لا څنګه روښانه کولای شئ؟

دواړه حالته پرابلم لري. لومړی حالت د اجارې د مودې د نه معلومولو له امله نيمګړی دي. همدارنګه په هغه کې د غاليو د ارزښت په اړه هم څه نه دي ويل شوي او دا چې اجاره اخيستونکی بايد اجاره ورکوونکي ته څو دانې غالی ورکړي. آيا د اړونده غاليو د ارزښت اندازه د دېګونو د مينځلو د ساپې په اندازه وي؟ په دوهم حالت کې د اجاره اخيستونکی له لوري و اجاره ورکوونکي ته د پنځو غاليو ورکولو موده او د هغو د ارزښت او د اجارې د دوام يا مودې په هکله معلومات نشته. ددې دووحالتونو مشخصات د اجارې د پاسني توافق ليک سره پرتله کړئ.

### ۳.۱.۲ د اجارې په هکله محدوديتونه

دا چې اجاره د قراداد له مخې تر سره کېږي، مدني قانون دا په ګوته کوي چې څوک دا قرارداد تر سره کولای شي. د ملکيت د خرڅلاو په هکله عين شرطونه په دې اړه هم د پلې کېدو وړ دی. ځينې شرطونه د عمر او ځينې بيا د عقلي څرنګوالي سره تړاو لري. په عمومي توګه، تر اوه کلني عمر لاندې کسان د اجارې قرارداد نشي کولای.

[200] Civil Code, Articles 1339-44.
[201] Civil Code, Article 1373.

د مدني قانون ۱۳۲۵ ماده د اجارې د مودې په هکله لا زيات محدوديتونه وړاندې کوي او په هغې کې راغلی دي " که څوک يوازې د مال د ادارې واک ولري، نو نشی کولای چې د اجارې موده د درې کلونو څخه زياته وټاکي، که د اجارې موده د درې کلونو څخه زياته وټاکل شوې وه، درې کلونو ته راکمېږي. مګر دا چې قانون بل رنګه حکم کړی وي."

دا حکم چاته متوجه دی؟ آيا دا تاسو ته د ملکيت د خرڅلاو په برخه کې د بحث شوو اړيکو په هکله څه نه در په يادوي؟ هغه شخص چې په بشپړ ډول د ملکيت د ادارې واک تر لاسه کوی( د يوبل چا په استازيتوب). ۱۳۲۵ ماده د ملکيت خاوند ته متوجه نه ده. د ملکيت خاوند د خپل مال په اړه يوازې د ملکيت تر ادارې لا زيات حقوق لري. له نورو حقوقو څخه، ۱۳۲۵ ماده د ملکيت درلودونکي صغير د ولي سره تماس نيسي. په دې ترتيب، د ۱۳۲۵ مادې له مخې، ولي له دريو کلونو مودې څخه زياته اجارې په هکله خبرې اترې نشي کولای"مګر داچې قانون بل رنګه حکم کړی وي." که چېرې تاسو ولي ياستئ او غواړي د اوو کلونو لپاره يو ملکيت اجاره کړی، په دې اړه تاسو نورو کومو قوانينو ته بايد مراجعه وکړي تر څو وپوهېږی چې دا کار جواز لري؟ د معاملو د رهنما قانون، د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالی د چارو د تنظيم قانون، او آن ددې قانون د ۲۰۰۰ ز کال نسخې هم ددې موضوع سره تماس نه دی نيولی. په دې ترتيب، کله چې ولي د ملکيت د مالک په استازيتوب د اجارې د توافق په هکله خبرې اترې کوي، اجاره د درې کلنې مودې زيات وخت لپاره نشي تر سره کېدای.

### ۳.۲ د اجاره اخيستونکی او اجاره ورکوونکي مکلفيتونه او د اجارې د ختمولو حق

د اجارې توافق ليک معمولاً د اجارې د ختم نېټه په ګوته کوي. په ځينو حالاتو کې، اجاره اخيستونکی يا اجاره ورکوونکی کولای شي اجاره لغو کړي. زياتره دا حالتونه هغه وخت رامنځ ته کېږي چې اجاره اخيستونکی يا اجاره ورکوونکی د هغو مکلفيتونو په اجرا کې پاتې راشي چې يا په اړونده توافق ليک يا په نورو قوانينو کې راغلي وي.

د مثال په توګه، اجاره اخيستونکی کولای شی د لاندې دلايلو له مخې خپله اجاره پای ته ورسوي: د هغو د کورنی يو غړی ناروغ يا مړ شي؛ نوموړی د طبعی مصيبتونو لکه سيلاب يا زلزلې له امله نشی کولای اړونده ځمکه وکري؛ د اجارې شرطونه په خاص ډول نوموړي ته ددې کار اجازه ورکوي؛ يا داچې قانون د اړونده توافق ليک د ختمولو اجازه ورکوي.[202] د کر وړ ځمکې د اجارې د مخه، اجاره اخيستونکی بايد اجاره ورکوونکي او د ځمکوالی چارو د تنظيم د ادارې دفتر ته درې مياشتې مخکې خبر ورکړي.[203]

### ۳.۲.۱ د اجاره ورکوونکي مکلفيتونه

د اجارې د ورکړې په مهال، د ملکيت خاوند يو شمېر مسوولیتونه په غاړه لري. هغه بايد دا ډاډمنه کړي چې د نوموړي ملکيت په ښه توګه ساتل شوی او په ښه حالت کې دي. که نوموړی دا کار و نه کړي، اجاره اخيستونکی د اړونده توافق ليک د لغو حق لري. د مثال په توګه، فرض کړئ چې تاسو يو آپارتمان په اجاره يا کرايه ورکوئ، او تاسو د خسکو د زياتېدو له امله سخت ناروغ کېږي. آيا په دې صورت کې تاسو د توافق ليک د لغو کولو حق لري؟

د مدني قانون د ۱۳۴۹ مادې له مخې " که هغه عين چې په اجاره ورکول کېږي په داسې حالت کې وي چې د هغې له پلوه د اجارې اخيستونکي صحت يا د هغه اشخاصو صحت چې د هغه سره يو ځای ژوند کوي يا د هغه د مستخدمينو او کارګرانو صحت د لوی خطر سره مخامخ شي، نو اجاره اخيستونکی کولای شي چې د عقد د فسخ کولو غوښتنه وکړي، که څه هم تر مخه ددې حق څخه تېر شوی وي."دا ماده څرګندوي چې تاسو کولای شی " صحت ته د لوی خطر" په وجه د اجاره اخيستونکي په توګه تاسو ته د خسکو له امله رامنځ ته کېدونکي خطر له امله، عقد يا توافق ليک لغو کړئ. د پام وړ خبره داده چې په دې حالت کې د اجارې لغو کول دومره جدي دي چې دا کار آن په هغه صورت کې هم د عملي کېدو وړ دی که چېرې په توافق ليک کې تر دې د مخه له دې حق څخه تاسوتير شوي هم وي. په دې ترتيب، اجاره ورکوونکی نشي کولای داسې قرارداد لاسليک کړي چې د اجاره اخيستونکی صحت ته خطر متوجه کړي.

---

[202] Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 75.
[203] Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 76.

همدارنګه د مدنی قانون نور حکمونه دا موضوع نوره هم روښانه کوي. مدني قانون او  د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالی د چارو د تنظیم قانون له اجاره ورکوونکي څخه غواړي چې ملکیت په ښه حالت کې وساتي. د مثال په توګه، د مدني قانون له ۱۳۵۱ څخه تر ۱۳۵۴ مادو پورې وايي چې اجاره ورکوونکی باید د ملکیت نیمګړتیاوې لیرې او ترمیم کړي که دا نیمګړتیاوې ددې سبب کېږي چې له اړونده ملکیت څخه په ګټې اخیستلو کې د اجاره اخیستونکي د عاید د کموالی سبب ګرځي.[204] که اجاره ورکوونکی له دې کار څخه ډډه وکړي او یا که ملکیت وران شي، اجاره اخیستونکی دوه انتخابه لري. یو، هغه پخپله نیمګړتیا ترمیموي او لګول شوی مصرف د اجارې له پیسو څخه وضع کوي.[205] ددې انتخاب په اړه د ضرریا نیمګړتیا د بیرني حالت په هکله دوه نورې خبرې هم پیدا کېږي. لومړی داچې که ضرریا نیمګړتیا بېړنی نه وي، اجاره ورکوونکی باید د پرابلم د ترمیم د مخه له محکمې څخه اجازه تر لاسه کړي. دوهم، که نیمګړتیا بېړنی وئ او اجاره اخیستونکی کولی شی د محکمې له اجازې پرته هغه ترمیموي او اړونده سندونه د پیسو د تر لاسه کولو لپاره ساتي. د یادو دواړو سناریو ګانو له مخې اجاره اخیستونکی باید اجاره ورکوونکي ته د پرابلم او د هغو د ترمیموولو په هکله خبر ورکړي. د بدیل په توګه، اجاره اخیستونکی کولای شي اجاره لغو کړي.[206] اجاره اخیستونکی نشي کولای د ملکیت د ترمیم په اړه د اجاره ورکوونکي په کار کې مداخله وکړي. خو سره ددې، که چېرې ترمیم د ملکیت څخه د اجاره اخیستونکي پر عاید منفي اغېز کوي، اجاره اخیستونکی کولای شي قرارداد لغو او یا له خاوند څخه یې د کرایې د راکمولو غوښتنه وکړي.[207]

د ملکیت د ضرریا وېجاړۍ له امله د قرارداد په اړه د اجاره اخیستونکي د لغو کولو حق مطلق نه دی. که اجاره اخیستونکی د قرارداد په مهال د نیمګړتیا په هکله خبر وی، بیا یی ددې حق نه درلود چې له اجاره ورکوونکي څخه د اجارې د لغو غوښتنه وکړی او یا هم کرایه را کمه کړي.[208] خو د قراردادونو د تنظیم عمومي اصول در په یاد کړئ. که اجاره ورکوونکی اجاره اخیستونکی و غولوی، نو نومړي آګاهانه درغلي تر سره کړې ده. او اجاره اخیستونکی د اجاره ورکوونکي له لوري د درغلي په مهال قرارداد لغو کولای شي. خو مدني قانون، د درغلي د ثابتولو بار د اجاره اخیستونکي پر غاړه باندې اېږدي.[209] د مدني قانون ۱۳۷۶(۲) ماده کې فرض کېږي چې اجاره اخیستونکي ملکیت په ښه حالت کې تسلیم شوی دی" مګر داچې د هغې په خلاف دلیل موجود شي."

په عمومي ډول، مدني قانون غواړي چې اجاره ورکوونکی د اجاره اخیستونکي سره د ژمنو درناوی وکړي. مدنی قانون همدارنګه د ترمیم بار د اجاره ورکوونکي په غاړه ږدي نه د اجاره اخیستونکي. دا ځکه اجاره ورکوونکی د ملکیت په هکله زیات معلومات یا خبر لري (باید ولري). د خسکو درلودونکي آپارتمان موضوع در په یاد کړئ. ددې دوو عمومي اصولو په نظر کې نیولو سره، آیا تاسو فکر کوی چې هغه تاسو ته قوي دلایل په لاس درکوي تر څو د خسکو درلودونکي آپارتمان په اړه قرارداد لغو کړي؟ داسې ښکاري ی تړاو سره لري. که تاسو د خسکو له پرابلم څخه خبر یاست، نو تاسو د مدني قانون د ۱۳۶۰ مادې تر حکم لاندې راځئ. که تاسو له پرابلم څخه خبر نه یاستئ، بیا نو تاسو کولای شئ د مدني قانون د ۱۳۵۱ تر ۱۳۵۴ مادو په اړه د بحث پر بنسټ قرارداد لغو کړي.

### ۳.۲.۲ د اجاره اخیستونکی مکلفیتونه

.

هغه شخص چې ملکیت اجاره کوي باید ټاکلی مکلفیتونه تر سره کړي. که اجاره اخیستونکی د اجاره ورکوونکی په وړاندې خپل مکلفیتونه ادا نه کړي، اجاره ورکوونکی له اجاره اخیستونکي څخه د ملکیت د ترمیمولو او یا داچې له اجاره اخیستونکي څخه د رسېدلي ضررد جبران غوښتنه وکړي.[210]
د مدني قانون د ۱۳۶۷ مادې له مخې، اجاره اخیستونکی نشی کولای د اجاره ورکوونکي په ملکیت کې تغیر راولي په داسې توګه چې اړونده ملکیت " ضررورسېږي". مدني قانون غوښتنه کوي چې اجاره اخیستونکی د ملکیت سره ښه چلند

[204] *See also* Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 62 (all *essential* repairs as may required by local custom).
[205] Civil Code, Article 1352.
[206] Civil Code, Article 1352.
[207] Civil Code, Article 1355.
[208] Civil Code, Article 1360.
[209] Civil Code, Article 1364.
[210] Civil Code, Article 1367.

وکړي؛ اجاره ورکوونکي د خپل ملکیت په اړه پر اجاره اخیستونکي باندې باور کوي.[211] اجاره اخیستونکی د " [ملکیت] په پاملرنې مکلف دی" او نشی کولای ملکیت په داسې توګه وکاروي چې د هغه د ضررسبب شي.[212] د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم قانون له مخې، د کر وړ ځمکو څخه پاملرنه له اجاره اخیستونکي څخه غواړي چې پر ځمکه باندې کښت وکړي او د هغې خاوره وپالي.[213]

که چېرې ضررکم وي، اجاره اخیستونکی باید هغه ترمیم کړي، مګر دا چې د اجارې په توافق لیک کې په بل ډول راغلي وي.[214] د اجارې اخیستونکی باید همدارنګه اجاره ورکوونکي ته ملکیت اړوند هر ډول پرابلم په اړه خبر ورکړي ( د مثال په توګه، که کړکۍ یا نلونه خراب شي).[215] د اجارې په پای کې، اجاره اخیستونکی، باید د اجاره ورکوونکي ملکیت په ورته وضعیت کې چې تر لاسه کړی یې وو، تسلیم کړي، مګر دا چې ضررد نه کنترولېدونکي وضعیت له امله رامنځ ته شي.[216] په کومو حالاتو کې اجاره اخیستونکی پر رامنځ ته شوي ضررباندې کنترول له لاسه ورکوي؟ داسې فرض کړئ چې زلزله د کور د ودانۍ دیوالونه چاکوي یا د باران پیاوړې ځپه چې په ساحه کې د ځمکې چټلی له ځان سره وړي. داسې حالتونه د هغه ضرربېلګې دي چې اجاره اخیستونکي پرې کنترول نه لري. خو، له اجاره اخیستونکی څخه بیا هم هیله کیږي چې د هغو په هکله د ملکیت خاوند ته خبر ورکړي.

وګورئ چې د اجاره اخیستونکي مکلفیتونه د اجاره ورکوونکي د مکلفیتونو سره څه ډول تعامل لري. په یاد ولرئ په هغه صورت کې چې د ملکیت نیمګړتیا یا ضررد اجاره اخیستونکی له خوا د هغو په کارولو کې په ناڅاپي توګه اخلال رامنځ ته کړي، اجاره اخیستونکی اجاره لغو کولای شي.[217] خو مدني قانون هم ددې غوښتونکی دی چې اجاره اخیستونکی اجاره ورکوونکي ته ضررپه هکله خبر ورکړی او له اجاره اخیستونکي څخه د کوچني ترمیم غوښتنه کوي. لومړی، پر دې باندې فکر وکړئ چې مدني قانون ولې دې دا ډول مسوولیت وړاندوینه کوي. کېدای شي مدني قانون په دې لټه کې دی چې بار د هغو شخص پر غاړه کېږدي چې معلوماتو ته تر ټولو ښه لاس رسی لري. کله چې ملکیت کوچني ضررووینې، د ملکیت تصرف کوونکی شخص یعنی اجاره اخیستونکی تر ټولو په ښه توګه د ضررمعلومات کولای شي. په دې توګه، مدني قانون له اجاره اخیستونکي څخه غوښتنه کوي چې اجاره ورکوونکي ته د هر ډول پېښېدونکي پرابلم په هکله خبر ورکړي.[218] دا موضوع باید دې ته پاته نشي چې اجاره ورکوونکي د ملکیت له ترمیم څخه ډډه وکړي او یا دا چې اجاره اخیستونکی د قرارداد د لغو غوښتنه وکړي او یا هم په بل ډول د تاوان جبران وغواړي.[219]

په ملکیت کې هر ډول تغیر راوستل د ضررپه معنې نه دی. د مثال په توګه، د مدني قانون ۱۳۶۸ ماده وایي چې اجاره اخیستونکی ددې حق لري چې د آسانتیاو لکه برښنا، تلیفون او رادیو څخه د ګټې اخیستلو په موخه په داسې ډول چې ملکیت ته ضررو نه رسیږي، ځینې آلې نصب کړي.[220] د ملکیت سره د ښه چلند په اړه د اجاره اخیستونکي دندو ته ورته، اجاره ورکوونکی باید د معاصرو آسانتیاو او خدماتو ته د لاس رسي په اړه د اجاره اخیستونکي معقولې غوښتنې ومني. د اجارې په پای کې، اجاره اخیستونکی کولای شي د رغونې د لګښت د جبران غوښتنه وکړي که دا ډول رغونه د ملکیت د ارزښت د لوړوالي سبب شي او که اجاره ورکوونکي د هغو سره په لیکل شوي توګه موافقه کړې وي.[221] سره ددې، که چېرې اجاره اخیستونکی د اجاره ورکوونکی له خبرتیا پرته دا کار تر سره کړي یا اجاره ورکوونکی د نظر وړ تغیراتو مخالف وي، له اجاره اخیستونکی څخه کېدای شي غوښتنه وشي چې نصب شوي آلې لیرې او له دې امله رسېدونکی ضررجبران کړي.[222]

---

[211] Civil Code, Article 1371.
[212] Civil Code, Article 1371.
[213] Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 61.
[214] Civil Code, Article 1369; Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 61(5).
[215] Civil Code, Article 1372.
[216] Civil Code, Article 1376.
[217] Civil Code, Articles 1351-1354.
[218] Civil Code, Article 1372.
[219] Civil Code, Article 1355.
[220] Civil Code, Article 1368.
[221] Civil Code, Article 1378; Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 69.
[222] Civil Code, Article 1378.

**ملکيت ته ضرر**

حمزه د څو واحدونو يا يويزونو لرونکي ودانۍ لري. احمد، د کتاب پلورنځی خاوند، د حمزه سره د کتاب پلورنځی لپاره د يوه واحد د کرايي درې کلن قرارداد کوی. له يوه کال وروسته احمد وليدل چي يوه کړکی خرابه ده. اته مياشتي وروسته، سوروی شوی ځای لوی شو. په دې ترڅ کي هره ورځ باران اوريده او له سوري څخه کښته مغازې ته اوبه بهيدې او د نوموړي کتابونه يې زيانمنول. دې حالت نژدې ۵ مياشتي دوام وکړ. احمد ددې پرابلم په هکله حمزه خبر نه کړ او نه يې هم د سوروي د بندولو لپاره کوم کار وکړ. احمد تاسو ته د مشورې لپاره راځي. احمد ته به ستاسو مشوره څه وي؟

احمد دنده درلوده چي حمزه ته په دې هکله خبر ورکړي. خو، حمزه هم دنده درلوده چي خپل ملکيت په ښه حالت کي وساتي، د حمزه لپاره د ملکيت ساتل او پالل به ستونزمن وي، که د نوموړي اجاره اخيستونکی يعنی احمد د نوي نيمګړتيا په هکله ده ته خبر ور نه کړي.

دا چي د اجارې څخه يو کال وروسته سوروی تر سترګو نه شو، احمد ته ښايي دا ستونزمنه وي چي ثابته کړي چي احمد په آګاهانه توګه نوموړي غولولی دی. که موضوع محکمي ته راجع شي، کېدای شي چي قاضي پريکړه وکړي چي ضررد حمزه ګناه نه وه او دا چي د احمد له لوري د ملکيت له اجاره کولو وروسته هم ستونزه رامنځ ته کېدای شي. قاضي کېدای شي ددې په ځای د حمزه په وړاندې احمد د خپلو مکلفيتونو په نه اجرا ملامت کړي ځکه چي د مدني قانون د ۱۳۷۲ له مخي حمزه ته يې د سوروي په هکله خبر نه دی ورکړی. پر دې سربيره، دا چي احمد پوره اته مياشتي انتظار و، قاضي کېدای شي داسي پريکړه وکړي چي حمزه د احمد ملکيت ته ضرررسولی او د مدني قانون د ۱۳۷۱ له مخي يې د احمد باور خدشه دار کړی دی. په دې ترتيب، کېدای شي قاضي له حمزه څخه وغواړي چي يا نيمګړتيا ترميم کړي او يا هم د ترميم په خاطر حمزه جبران کړي.

### ۳.۲.۳ د اجاره اخيستونکي يا اجاره ورکوونکي مړينه

که چيرې اجاره اخيستونکی يا اجاراه ورکوونکی د اجارې تر پای د مخه مړ شي، اجاره دوام مومي. که چيرې اجاره اخيستونکی مړ شي، د نومړي وارثين پر خپل وخت باندې د تاديې په شمول د توافق ليک د شرطونو په درناوي مسوو ل دی.[223] خو دا شرط مطلق نه دی. که چيرې د اجاره اخيستونکي وارثين د اجارې پيسي ور نشي کړی يا دا چي هغوی اجارې ته اړتيا نه لري ( مثال، آپارتمان ډېر لوی دی)، هغوی توافق ليک ختمولای شي په دې شرط چي دوی دا کار د اجاره اخيستونکي له مړيني څخه وروسته د شپږو مياشتو په اوږدو کي تر سره کړي او دوی په قرارداد کي د آپارتمان د پرېښودلو په اړه د درج شوی موده مراعات کړي.[224] که چيرې وارثين تر شپږو مياشتو زياته موده انتظار وباسي يا اړونده يادښت مراعات نه کړي، دوی ته ښايي چي آن که له اجارې څخه د خلاصون اړوند دوو شرطونو څخه يو هم عملي کړي، د اجارې د توافق ليک په مراعات مکلف دي.

ولي د قانون له مخي د اړونده لورو څخه د يوه مړيني وروسته د اجارې د دوام په ګټه فرضيه وړاندي کېږي؟
يو دليل کېدای شي دا وي چي هغه خلک د اجارې لپاره قرارداد کولو ته هڅوي؛ ارزښتناکه ځمکه کارېدلای شي. د ملکيت خاوندان د اندېښني کولو ته اړتيا نه لري چي د اجارې اخيستونکي د مړيني په صورت کي به څه پيښ شي. په عمومي ډول، هغوی ته به د اجارې د توافق ليک د شرطونو له مخي پيسي ورکول کېږي. په ورته ډول، اجاره اخيستونکي اړ نه دي چي د ملکيت د خاوند د مړيني له امله اندېښنه وکړي. آن د ملکيت د خاوند د مړيني په صورت کي، اجاره اخيستونکی پر ملکيت باندې د اجارې تر پای پورې پاته کېدای شي. په ياد ولرئ چي ورته قواعد د ملکيت خرڅلاو تنظيموي. د مدني قانون له ۲۲۶۳ تر ۲۲۶۶ پورې مادو پر بنسټ يو اجاره اخيستونکی پر پلورل شوی ملکيت باندې د پاته کېدو حق لري.بالآخره، لکه د مدني قانون د زياترو حکمونو په برخه کي، د اجارې د دوام په ګټه فرضيه د بنسټ په

[223] Civil Code, Article 1387.,
[224] Civil Code, Article 1387.

توګه د قرارداد ملاتړ کوي. يعنې، دا له دې نظر ملاتړ کوي چې د قرارداد لغو کېدل بايد يوه استثناء وي نه قاعده. دا کار دواړه خواوې هڅوي چې قرارداد وکړي، په هغو کې شرطونه په ځير سره درج او د هغو د پلي کولو در ناوی وکړي.

### ۳.۳ بیا کتنه

اجارې لکه د ملکيت خرڅلاو د قراردادونو پر بنسټ باندې تنظيمېږي. د اجارې توافق ليک کې مشخص شرطونه درجول د اختلاف د رامنځ ته کېدو مخنيوي کوي. په مهمو شرطونو کې د اجارې موده؛ د تاديې وړ مبلغ؛ د تادياتو څرنګوالی او وخت؛ او د يو او بل په وړاندې د دواړو لورو مکلفيتونه شامل دي. که د اجارې شرطونه په کافي اندازه روښانه او مشخص نه وي، په دې صورت کې محکمې د قراردادي تفسير له قواعدو څخه کار اخلي.[225] په دې مبهم حالت کې يوه مهمه موضوع د موضوع په اړه عرفي حقوق ګڼل کېدای شي.

اجاره ورکوونکی او اجاره اخيستونکی بايد يو بل ته درناوی ولري. اجاره ورکوونکی بايد ډاډ ورکړي چې ملکيت د کارلو په وړ حال کې قرار لري. په دې ترتيب، اجاره ورکوونکی بايد د رامنځ ته کېدو په مهال ملکيت وګوري. که چېرې ملکيت د کارولو څخه ووزي يا ډېر زيانمن شي، په دې صورت کې اجاره اخيستونکی کولای شی د اجارې قرارداد لغو کړی. همدارنګه اجاره ورکوونکی بايد اجاره اخيستونکي ته اجازه ورکړي چې په ملکيت کې د کتنې وړ ښه والی راولي او هغه ته ضررو نه رسوي.

اجاره اخيستونکی بايد ملکيت ته ضررو نه رسوي او په فعال ډول د هغه مواظب اوسي. کله چې ستونزه رامنځ ته کېږي، اجاره اخيستونکي ته ښايي چې اجاره ورکوونکي ته خبر ورکړي او کوچنۍ ستونزه ترميم کړي. اجاره اخيستونکی بايد ملکيت په هغه وضعيت کې اجاره ورکوونکي ته تسليم کړې چې مخکې تر تسليم شوی و. که اجاره اخيستونکی ملکيت ته ضرروروسوي، هغه يی د ترميمولو يا اجاره ورکوونکي ته د ددې ډول لګښت د جبرانېدو مسووليت لري.

که چېرې اجاره ورکوونکی او يا اجاره اخيستونکی د اجارې تر پای د مخه مړ شي، د اجارې توافق ليک دوام مومي مګر داچې دواړه لوري په بل ډول توافق ولري.

### 4. وراثت

کله چې يو شخص مړ شي، د نوموړي ملکيت د مدني قانون د ۱۹۹۳ تر ۲۱۹۷ مادو له مخې د هغو د خپلوانو ترمنځ وېشل کېږي.[226] همدارنګه اسلامي حقوق هم د ميت د ملکيت د ويشلو په هکله قواعد لري او دا قواعد د مدني قانون ډېر حکمونه اغېزمنوي. د ملکيت دا وېش د وراثت په نوم يادېږي. وارث داسې يو فرد دی چې د اسلامي حقوقو له مخې د مړشوي شخص (متوفی) د ملکيت د لاس ته راوړلو وړ ګڼل کېږي.[227] وارثين د خپلوانو په ملکيت کې بالقوه ګټه لري. د خپلوانو د ملکيت په اړه د وارثينو د قانوني حق د خپلوانو تر مړينې پورې د پلي کېدو وړ نه دی او اړونده ملکيت د مدني قانون د حکمونو سره سم وېشل کېږي. د مړي په ترکه کې دواړه ډول ملکيت يعنی منقول لکه موټر يا څاروي او غير منقول لکه ځمکه يا ودانۍ شامل دي.

که چېرې متوفی پوروړی وي، د نوموړي ملکيت لومړی د هغو د پورونو د اداکولو لپاره ورکول کېږي. وروسته له هغه چې ټول پورونه ورکړل شول، د ترکې پاته برخه يې دوارثينو ترمنځ وېشل کېږي. محکمه د خپلوانو په منځ کې د مړي د ترکې د ويشلو مسووليت لري.[228]

د ميراث حقوق پېچلي دي. دلته موږ هغه په لنډه توګه در پېژنو.لومړی، موږ بايد د ميراث د حقوقو څلور غوره اصول و څېړو. دا چوکات د مدني قانون د ميراث پر اړونده حکمونو باندی ولاړ دی او يوه لاره ده چې د ميراث د حقوقو څرنګوالی راښيي. ددې برخې په لوستلو سره دې ته پام وکړئ چې آيا ستاسو له نظره دا چوکات سم دی يا داچې نور

[225] Civil Code Articles 705-729.
[226] Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 74 (2005).
[227] Law of Managing Land Affairs of 2008, Article 3(2).
[228] Law of Managing Land Affairs of 2008, Articles 3(2) & 24.

اصول هم پرې ورزيات شي. دوهم، موږ به د يو شمېر مطالباتو يا پيش شرطونو په هکله هم بحث وکړو کوم چې د ميراثي ملکيت د وېش د مخه بايد محقق شي. په دې پيش شرطونو کې دا غوښتنه شامله ده چې د متوفی ټول پورونه د وارثينو ترمنځ د هغو د ملکيت د ويش د مخه بايد ورکړل شي.موږ به همداشاني وصيت هم وڅېړو چې له مړيني وروسته د متوفي د غوښتنې سره سم د هغو ملکيت وېشل کېږي. وصيت د ويش په هکله د مدنی قانون د عامو قواعدو څخه وتلی دی. موږ به د وراثت په هکله خپل بحث په مثالونو سره پای ته ورسوو. دا مثالونه به هم د ميراث د حقوقو سره چې د مدنی قانون د حکمونو سره تړاو لري او هم د نورو قوانينو له مخې وړاندې شي. د مثالونو د وړاندې کولو مقصد د ميراث په اړه د مدنی قانون د حکمونو سره ستاسو آشنا کول دي.

د ميراث د حقوقو دا لنډه معرفي د مدني قانون يوه مهمه برخه په بر کې نه نيسي. د مثال په توګه، لاندنی بحث دا موضوع نه رانغاړي په ميراث کې د ليرې خپلوانو حق څومره دی(Dhawi-al-arham)، د مدنی قانون ۲۰۴۳ تر ۲۰۵۰ مادې؛ د وصي رول، هغه شخص چې د متوفي له خوا د ترکې د ويش د څارنې لپاره ټاکل کېږي، د ۲۰۶۱ تر ۲۰۶۷ مادې يا داچې پورونه په څه ډول ادا کېږي او وراثت په څه ډول وېشل کېږي، ۲۰۷۷ تر ۲۱۰۲ مادې.

### ۴.۲ د وراثت څلور اصول

په مدني قانون کې وراثت پر څلورو اصولو ولاړ دی: لومړی، د کورنی ټاکلي غړي د متوفی د ملکيت په اړه نه بېلېدونکی حق لري. نه بېلېدونکی حق داسې حق دی چې د خرڅلاو او لېږد موضوع نه شي جوړېدای. دوهم، د متوفي په اړه د نژدې کورنيو اړيکو وارثين د متوفی په ملکيت کې د ميراث د لويې ونډې مستحق دی.يعني د کورنيو اړيکو نژدېوالی د متوفی د ملکيت د ويش په مهال اهميت لري. درېيم، ښځينه وارثين د متوفی په ملکيت کې د ميراث وړلو وړ دي. څلورم، سړي تر ښځو زيات ميراث وړي ځکه په تاريخي لحاظ دوی د کورنی د لګښتونو مسووليت په غاړه لري.[229] کله چې تاسو مدني قانون مطالعه کوی، وګورئ چې دا څلور اصول په هغه کې په څه ډول ځای په ځای شوي دي. همدارنګه، دې ته هم پام وکړی چې مدني قانون له دې څلورو اصولو څخه په څه ډول ليرې کېږي.

#### ۴.۱.۱ ۱ اصل: د متوفی همسر، والدين او اولادونه د وراثت نه بېلېدونکی حق لري.

د کورنۍ په هغو غړو کې چې د ميراث په ملکيت کې نه بېلېدونکی حق لري، د متوفی همسر، والدين او اولادونه شامل دي.[230] دا حق ځکه نه بېلېدونکی دی چې هېڅوک هغه ترې اخيستلای نشي او دوی هم دا حق بل چا ته لېږدولای نشي. د مدني قانون له ۲۰۲۴ تر ۲۰۴۱ مادې وګوري چې دوراثت څخه د ايستلو(حجب) تر سر ليک لاندې قيد شوی دی. وګورئ چې ۲۰۳۲ ماده په ځينو حالاتو کې، د ورور او خور ميراث ساقطوي. دې ته ورته، ۲۰۳۴ ماده په ځينو حالاتو کې د لمسي ميراث ساقطوي. ددې مادو يوه هم په بشپړ ډول د متوفی همسر، والدين او اولادونه د متوفی د ملکيت له وراثت څخه نه بې برخې کوي. اوس ۲۰۲۷ مادې ته پام وکړی. ددې مادې پر بنسټ شپږ کسان هېڅکله په بشپړ ډول له وارثت څخه نه وزې: د متوفی پلار، مور، زوی، لور، مېړه او ښځه. ۲۰۲۷ ماده بې ساري ده. د مدني قانون بل هېڅ يو حکم چاته د ميراث مطلق حق نه ورکوي.

#### ۴.۱.۲ ۲ اصل: د کورنی د خپلوي اړيکي مهمي دي

ميراث په کورنی کې د خپلولی اړيکو له مخې وېشل کېږي. د مدني قانون له مخې د کورنۍ اصلي غړي لکه پلار، مور، زوی، لور، مېرمن او مېړه، د متوفی د ملکيت په اړه لومړيتوب لري او په هغو کې تر نورو خپلوانو لويه ونډه لری.[231] نور خپلوان لکه د تره زوی، ترور، تره، يوازې د کورنی له اصلي غړو وروسته خپله برخه اخلي. د مدني قانون ۲۰۰۲ او ۲۰۰۴ مادې ولولئ. ۲۰۰۲ ماده وايي چې د ميراث وېش پر دوو مختلفو طريقو باندې ولاړ دی، دِ ونډې (فرض)

[229] Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 74 (2005).
[230] Civil Code, Article 2027.
[231] Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 74 (2005).

سیستم او دعصب سیستم. ددې سیستمونو کارول په دې پورې اړه لري چې آیا د متوفی سره دوارثینو خپلوي پر واده، وینې او یا دواړو باندې ولاړه ده. هغوی چې د متوفی سره یې خپلوي په واده پورې تړلې د متوفی له پلار او مور، د هغو اولادونه، د هغو سکنې ورونه او خویندې، د هغو همسر، او د هغو سکنی نیکه څخه عبارت دي. دا خپلوان د ونډې د سیستم له مخې د وراثت وړ دي.[232] هغه خپلوان چې میراث د ونډې د سیستم له مخې تر لاسه کوي، د میراث له ټاکلې برخې یعنې فرض، څخه برخمن کېږي. فرض مخکې تر دې چې میراث د عصب سیستم له مخې وویشل شي، اختصاص مومي.[233] د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالی چارو د تنظیم د قانون په دریمه ماده کې کورنۍ تعریفېږي چې د متوفی له مېړه، مېرمنې او مجردو اولادونو څخه عبارت ده.[234]

وروسته د مدني قانون ۲۰۱۲ تر ۲۰۲۳ مادو پورې ولولئ. په دې مادو کې د عصب د سیستم له مخې د میراث وېش راغلی دی. د مدني قانون د ۲۰۱۲ مادې له مخې عاصب هغه وارثین په برک نیسي چې میراث د ونډې د سیستم له مخې نه تر لاسه کوي. عاصبین له هغه څه چې د ونډې سیستم له وارثینو څخه پاتې کېږي خپله برخه تر لاسه کوي. د وراثت عصبه حق د ونډې سیستم د حق په پرتله دوهمه درجه حق دی. د پلار له لوري په عصبه کې، د مدني قانون ۲۰۱۶(۴) زوی ولي او ورور ولي شامل دي، ۲۰۱۹(۱)(۳). دا خپلوان د هغو په پرتله چې میراث د ونډې د سیستم له مخې تر لاسه کوي لکه سکنې خویندې او ورونه، اولادونه او والدین، د متوفی سره د خپلوی لیرې اړیکي لري.په یاد ولرئ چې د ونډې وارثینو او عاصب وارثینو ترمنځ یو څه تداخل شتون لري، لکه زامن، پلرونه او سکنې ورونه چې په ۲۰۱۶ ماده کې یې یادونه شوې. کله چې وارث د ونډې یا عصب سیستم له مخې د ملکیت میراث تر لاسه کړي، نو وارث د دواړو له مخې د میراث وړ دی.د خپلولۍ د اصل په نظر کې نیولو سره، د دواړو سیستمونو له مخې داسې وارثینو ته د میراث رسېدل مفهوم افاده کوي.[235] د مدني قانون د جوړښت سره سم، د متوفی سره د هغوی اړیکې ځانګړې پیاوړتیا لري.

### ۴.۱.۳ ۳ اصل: ښځې د میراث حق لري

د کورنۍ ښځینه غړي په میراث کې څرګند حق لري. د افغانستان د اساسي قانون ۴۰ مادې ته مراجعه وکړئ چې پکې راغلي دي، " ...هېڅوک د ملکیت د ترلاسه کولو او په هغه کې له تصرف کولو څخه نه منع کېږي." اساسي قانون د دواړو ښځو او سړو د ملکیت له حقونو څخه دفاع کوي. د وراثت په اړه د مدني قانون حکمونه له دې څخه د ملاتړ په ترڅ کې وایي چې د یوې مور زامن او لوڼې د میراث برابره اندزه تر لاسه کوي، " په وېش کې د ښځې او سړي برخه برابره ده."
د اسلامي حقوقو له نظره، ښځې همدارنګه د ملکیت د میراث وړ دي. خو د عرفي حقوقو له نظره په عام ډول د نارینه وارث د شتون په صورت کې، ښځې د خپلوانو له ملکیت څخه د میراث حق نه لري.[236]

### ۴.۱.۴ ۴ اصل: په میراث کې د سړو برخه تر ښځو زیاته ده

کله چې سړي او ښځې د متوفي په اړه ورته اړیکه لري، خو سړي تر ښځو زیات میراث وړي. دا اصل په دې نظر ولاړ دی چې په تاریخي لحاظ سړي د کور د لګښت مسوولیت په غاړه لري.[237] د مدني قانون ۲۰۰۷ مادې ته مراجعه وکړئ چې د ونډې د سیستم په هکله ده. د متوفی مېړه د میراث نیمايي وړي په داسې حال کې چې په عین حالت کې ښځه د میراث یو پر څلور میراث وړي. د مدني قانون ۲۰۱۹ ماده ولولئ چې د عصب سیستم په هکله ده. د ۲۰۱۲(۲) مادې پر بنسټ هغه نارینه چې د ۲۰۱۹(۱) مادې له مخې عصب سیستم ته منسوب وي د عصب سیستم له مخې د ښځې له میراث څخه، دوه ځلې زیات میراث اخلي. دا اصل د همیش لپاره سم نه ښکاري. ۲۰۰۶ مادې ته مراجعه وکړئ. ددې مادې له مخې د یوې مور زامن او لوڼې برابره برخه لري.

---

[232] Civil Code, Article 2004.
[233] Civil Code, Article 2004.
[234] Law of Managing Land Affairs of 2008, Article 3(3).
[235] Civil Code, Articles 2002-03.
[236] Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 74 (2005).
[237] Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 74 (2005).

## ۴.۲ د میراث د ترلاسه کولو شرطونه

مخکې تر دې چې د يو چا ميراث ووېشل شي، مدني قانون او اسلامي حقوق بيانوي چې د متوفی د تکفين لګښت او پور بايد د هغو له ملکيت څخه وضع شي.[238] دا لګښت او پور لومړی د متوفی د منقول مال څخه وضع کېږي. که منقول مال د متوفی د پور او لګښت لپاره بسنه نه کوي، پور او لګښت به د هغه له غير منقول مال څخه وضع کېږي.[239]

وروسته له هغه چې د متوفی پور او لګښت ليرې شي، پاته شوی مال يا متروکه د متوفی د وارثينو ترمنځ وېشل کېږي.[240] لومړی، د وصيت د شتون په صورت کې مال د متوفی د وصيت سره سم اختصاص مومي. وصيت دا په ګوته کوي چې له مړينې وروسته د متوفی مال د نومړي د وصيت له مخې څرنګه بايد ووېشل شي.[241] وينا، ليکنه، يا دودشوي نښانې ټول د وصيت په شتون باندې دلالت کولی شي.[242] په ياد ولرئ چې دود شوي نښانې استثناء دي او هغه وخت د منلو وړ ګڼل کېږي چې شخص د ليکلو توان و نه لري. کله چې د متوفی وصيت په ځای شي، د متوفی پاته مال د مدني قانون د حکمونو او مخکې يادشوو اصولو سره سم وېشل کېږي.

که متوفی وصيت کړی وي، بايد د هغو درناوی وشي او له پور اداکولو وروسته بايد هغو ته لومړيتوب ورکړل شي.[243] د وصيت له مخې مال په ټاکلو اشخاصو وېشل کېږي يا خيريه مقاصدو لکه جوماتونو، د ښوونې روزنې موسسو او بې وزلو ته بېلېږي.[244] هغه چاته چې د متوفی مال ورکول کېږي بايد اطلاع ورکړل شي. د هغوی له لوري د ميراث تر لاسه کول بايد په څرګند يا ضمني ډول وي.[245] که د مال منل په علني بڼه وي، وارث بايد په دې هکله په دېرشو ورځو کې ځواب ورکړي. که وارث دا کار نشي کولای او موجه عذر نه لري، وصيت لغو کېږي.[246]
وصيت د ټاکلو محدوديتونو تابع دی. لومړی، وصيت يوازې د متروکې د يوې درېمه برخې کې شامل دی مګر داچې د متوفي وارثين د هغو د زياتې برخې سره توافق ولري.[247] دوهم، متوفي بهرني شخص ته مال نشي وقف کولی، ځکه چې بهرنی شخص د مال د مالکيت حق نه لري.[248] که بهرنی شخص په وصيت کې مشخص شوی وي، د ملکيت په ځای نومړی پيسې تر لاسه کولای شي.[249].
د ميراث په اړه وروستی محدوديت د عمدي قتل سره تړاو لري. که چېرې يو شخص متوفي په عمد وژلی وي، د مدني قانون له مخې نومړی د متوفي د مال د ميراث مستحق نه دی. د ميراث دا ممنوعيت په پراخ ډول پلی کېږي. دا په هغو اشخاصو باندې شامل دی چې په رښتيا سره يې متوفي وژلی وي، هغوی چې په قتل کې يې مرسته کړې وي، او هغوی چې د متوفی د قتل په اړه په درواغو شاهدي ووايي.[250]

## ۴.۳ مثال: د مدني قانون پلي کول

ميرويس يوه مېرمن او دولس کلن زوی لري. نومړی نور خپلوان نه لري. له مړينې وروسته معلومه شوه چې نومړي له رهن اخيستونکي څخه ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ پوروړی دی او د تکفين لګښت يې هم ۵۰۰۰۰ افغانۍ کېږي. د ميرويس منقوله شتمني هم ۱۵۰۰۰۰۰ افغانۍ ارزښت لري. د نومړي ځمکه او نوره غير منقوله شتمني ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ ارزښت لري.

---

[238] Civil Code, Articles 1997-1998, 2077, 2079 & 2087; Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 74 (2005); Wael B. Hallaq, *Sharīʿa: Theory, Practice, Transformations*, (Cambridge UP: Cambridge 2009), 290.
[239] Civil Code, Articles 2079, 2080.
[240] Civil Code, Article 2087; Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 74 (2005); Wael B. Hallaq, *Sharīʿa: Theory, Practice, Transformations*, (Cambridge UP: Cambridge 2009), 290.
[241] Civil Code, Article 2103.
[242] Civil Code, Article 2104.
[243] Civil Code, Article 1997.
[244] Civil Code, Articles 2110, 2115 & 2128.
[245] Civil Code, Article 2122.
[246] Civil Code, Article 2124.
[247] Civil Code, Article 2115.
[248] Constitution of Afghanistan, Article 41, Civil Code, Article 2000(2) & 2112(2).
[249] Civil Code, Article 2000; Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 75 (2005).
[250] Civil Code, Articles 1999 (inheritance) & 2119 (wills).

میرویس لیکلي وصیت نامه پرې ایښې ده چې له مخې یې ټوله شتمني د مېرمنې کېږي. د پولي ارزښت له مخې، محکمه په څه ډول د میرویس شتمني وېشلای شي؟

کله چې تاسو ددې موضوع سره د چلند په هکله فکر کوي، د یادشوو اصولو په هکله هم فکر وکړئ. لومړی چاته باید ملکیت ورکړل شي؟ وروسته له هغه چې مال د وصیت له مخې وویشل شي، آیا کوم څه پاته کېږي؟ که داسې وي، هغه مال د چا کېږي؟

لاندې جدول د موضوع سره د چلند وړاندیز کوي او له تاسو سره ددې ستونزې د حل په هکله مرسته کولای شي.

### ۴.۳.۱ د ټولو پورونو او لګښتونو ورکول

میرویس د ۵۵۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت پور او لګښت لري. د مدني قانون ۱۹۹۷ ماده در په یاد کړي، د میرویس پور او د تکفین لګښت باید مخکې تر دې چې د نوموړي مال د وارثینو یعني مېرمنې او زوی ترمنځ وویشل شي، له مال څخه وضع شي. د میرویس پور او د تکفین لګښت د نوموړي له منقول مال څخه وضع کېږي.[251] اوس د میرویس د منقول مال ارزښت د هغو د ټول پور او تکفین له لګښت څخه زیات دی. له مال څخه د پور او تکفین د لګښت له وضع کېدو وروسته، د میرویس د منقول مال ارزښت ۹۵۰۰۰۰افغانۍ اټکل کېږي. د میرویس د غیر منقول مال ارزښت ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ کېږي ځکه چې د پور او د تکفین لګښت د هغو له منقول مال څخه وضع کېږي.

### ۴.۳.۲ د میرویس د وصیت اومدنی قانون له مخې د میراث وېش

د میرویس د وصیت سره سم، میرویس غوښتل چې ټوله خپله شتمني خپلې مېرمې ته ورکړل شي. د مدني قانون ۲۱۱۵ ماده در په یاد کړئ چې د وصیت له مخې د ټول مال یو پر درې وېشل کېدای شي، لدې امله دا اندازه په اتومات ډول یو پر درې برخې ته را کمېږي، مګر داچې د هغو وارثین دا اندازه زیاته کړي. په دې مثال کې، وصیت یوازې د میرویس د مال یو پر درې برخه د هغو مېرمنې ته اختصاص کېدای شي مګر داچې که د نوموړي زوی د هغو د زیاتوالي سره توافق وکړي. که زوی یې د وصیت سره موافقه وکړي د میرویس مېرمن به د ۱۹۵۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت مال تر لاسه کړي، د پورونو او تکفین د لګښت له وضع کېدو وروسته د میرویس د مال ټول ارزښت. میرویس نور خپلوان نه لري، او په دې وجه ددې وېش سره هېڅوک مخالفت نشي کولای.

اوس، داسې فرض کړئ چې زوی مورته د پلار د ټولې شتمنې دورکولو سره مخالف دی. د وصیت او د مدني قانون د ۲۱۱۵ مادې له مخې، به د میرویس مېرمن د پور او لګښت له وضع کولو وروسته د مېړه د مال یو پر درې تر لاسه کړي. د وصیت له مخې به هغه یوازې ۶۵۰۰۰۰ افغانۍ تر لاسه کړي. ځکه چې د میرویس زوی د وصیت سره مخالفت وکړ او د مدني قانون حکمونه هم باید په نظر کې ونیول شي. لومړی، د پاته شوې مال اندازه وټاکئ؟ د میرویس له ټول مال څخه باید دوه لګښتونه وضع شي: یو، د میرویس پور او د تکفین لګښت؛ دوه، د میرویس مېرمنې ته د هغو د وصیت سره سم د ورکړل شوي مال اندازه چې د مدني قانون پواسطه هم محدوده شوې ده.

| وصیت | | د ملکیت ارزښت | |
|---|---|---|---|
| د میرویس وصیت له مخې د هغو د مال ٪۱۰۰ مېرمنې ته رسېږي | | **۱.۵ ملیون افغاني**<br>**۱ ملیون افغاني**<br>**۲.۵ ملیون افغاني** | **منقول مال**<br>**غیر منقول مال**<br>**د مال ټول ارزښت** |
| | | | |

[251] Civil Code, Article 2079.

| مدني قانون |
|---|
| <u>۱۹۹۷ ماده : د متروکي توزيع</u><br>• د متروکي تر ويش د مخه پورونه ادا او لګښتونه ورکړل شي<br>• وصيت د مدني قانون تر حکمونو لومړيتوب لري. |
| <u>۲۰۰۷ ماده: د ښځي ونډه</u><br>•اولادلرونکی ښځه د مېړه د ميراث اتمی برخی حق لري |
| <u>۲۰۰۸ ماده: د زوی ونډه</u><br>•زوی د متوفی د نيمايي ميراث مستحق دی |
| <u>۲۰۱۷ ماده: د ميت د پاته شوني متروکي په اړه د زوی برخه</u><br>•د ويني له مخي متوفی ته مستقيم منسوب زامن د پاتي ميراث مستحق دي. |
| <u>۲۰۷۹ ماده: پور او لګښت</u><br>•د غير منقولو مالونو څخه تر وضع کېدو د مخه، پورونه او لګښتونه بايد له منقولو مالونو څخه ادا شي. |
| <u>۲۰۱۵ ماده : د وصيت محدوديتونه</u><br>•د وصيت له مخي د ترکي درېيمه برخه اختصاص مومي، مګر دا چي ۱۸ کلونو او تر هغو د لوړ عمر وارثين د وصيت د له مخي ميراث توزيع کړي. |

| | |
|---|---|
| **پور او لګښتونه** | |
| پور<br>د تکفين لګښت<br>**د پور او لګښتتونو مجموعه** | 500k afghanis<br>50k afghanis<br>**550k afghanis** |
| **له پور او لګښتونو وروسته د مال ارزښت** | **۱.۵ مليون افغاني** |
| | |

**۴.۴ بيا کتنه**

د ميراث په هکله د مدني قانون حکمونه پر شريعت باندې ولاړ دی. د ميراثي مال تر وېش د مخه، د متوفی ټول پورونه بايد ورکړل شي، د څلورو اصولو چوکاټ چي مخکي توضيح شو د ميراث په هکله د مدني قانون د حکمونو د پوهېدو لپاره يوه لار ده. لومړی، د متوفی همسر، والدين او اولادونه د ميراث په اړه نه بېلېدونکی حق لري. دوهم، د کورنی خپلولی اړيکي د اهميت وړ دی؛ نژدې خپلوان له ليرې خپلوانو څخه زيات ميراث تر لاسه کوي. درېيم، ښځي د ميراث

وړلو وړ دي. څلورم، په عام ډول سړي تر ښځو زيات ميراث وړي.بالآخره، په ياد ولرئ چې وصيت د وارثينو ترمنځ په وېش کې تغير رامنځ ته کولای شي. خو وصيت، په غياب کې تر يو پر دری د متوفی د مال اختصاص کولی شي ، او لکه چې مخکې وويل شو، په ټاکلو شرطونو کې له دې حد څخه زياتېدلای هم شي.

**۵. د ملکيت د لېږد نورې لارې**

ددې خبرې په ياد ساتل مهم دي په داسې حال کې چې دا څېرکې د لېږد اړوند په تر ټولو مهمو بنو باندې تمرکز کوي، خو هغه د موضوع په هکله هراړخيز معلومات نه وړاندې کوي. د بحث وړ يوه وروستۍ موضوع، بسپنه ده چې په لنډيز سره وړاندې کېږي.

د ملکيت لېږد همدارنګه په دې ډول چې يوڅوک بل چاته له هر ډو ل بدلې پرته ورکړی يا کله چې دوه سړي يو د بل سره مال بدل کړي، ډالۍ يا بسپنې، له لارې هم صورت مومي.[252] لکه د نورو مالونو د لېږد په صورت کې، په دې اړه چې څوک د ډالۍ کولو له لارې مال لېږدولای شي، ځينې محدوديتونه او داسې شرطونه يا مطالبات شته چې په قانوني لحاظ د مال د بسپنې کولو د مخه بايد تر سره شي. د مدني قانون د ۱۱۷۷ مادې له مخې، هغه شخص چې بل چاته مال ورکوي، ډونر، بايد په آګاهانه توګه د پرېکړې کولو وړتيا ولري. د ۱۱۷۸ مادې پر بنسټ ، ډونر د مال پر تر لاسه کوونکي باندې هغه په زور نشي تپلئ، يعني د بسپنې پر تر لاسه کوونکي شخص باندې. بلکه، تر لاسه کوونکی شخص بايد په خوښه بسپنه تر لاسه کړي. بالآخره، لکه د نورو مالونو د لېږد په صورت کې، د مال لېږد بايد د قانوني قبالې پر بنسټ باندې صورت ومومي.[253]

د مال د بسپنې کولو يوه ګټه داده چې د هغې خاوند معلومولای شي چې تر لاسه کوونکی به هغه په څه ډول و کاروی.[254] ډونر همدارنګه د مال د هر ډول نيمګړتيا مسووليت په غاړه لري، مګر دا چې نوموړی هغه پټ وساتي يا د مال د ښه حالت ضمانت وکړي – يعنی دا چې درغلي تر سره کړي.[255]

**وقف: خيريه ورکړه**

د اسلامي حقوقو له نظره ، د بسپنې يوه ځانګړې بڼه د وقف په نوم يادېږي، يا خيريه ورکړه. د اسلامي فقهې د حنفي مذهب له نظره، وقف " د کوم چا له مالکيت څخه او د هغو د عايد ډالی يا د ګټې اخيستنې بالفعل يا بالقوه حق، د ځينو خيريه مقاصدو لپاره."[256] ددې تعريف د سمې پوهېدنې لپاره، موږ هغه په برخو ويشو او هره برخه تر بحث لاندې نيسو.

لومړی، دا تعريف موږ ته وايي چې وقف ملکيت دی چې خاوند يې د مالکيت حق بل چا ته ورکوي. د ملکيت د نورو لېږدونو څخه په توپير چې په دې څېرکي پرې بحث وشو، کله چې د وقف په موخه خاوند بل چاته د مالکيت حق ورکوي، دا حق د لېږد وړ نه دی.[257]

دا کار متولي ته د ملکيت په ورکولو سره صورت مومي.[258] متولي هغه شخص يا ډله ده چې د ملکيت څارنه کوي او دا ډاډمنوي چې مال په هغه لار کې کارول کېږي چې اصلي خاوند يې سپارښتنه کړی. په داسې حال کې چې متولي اړونده مال او د هغو کارول سمبالوي، خو هغوی د مال خاوندان نه دي.[259]

---

[252] Civil Code, Articles 1176, 1179 (mutual donation) & 1198 (discussing compensation).
[253] Civil Code, Article 1180 (formal paper); Civil Code, Article 2212 (all legal requirements must be satisfied); Law on Managing Land Affairs of 2008, Articles 4, 57 (legal deed requirement), & 60 (all legal requirements must be satisfied).
[254] Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 76 (2005).
[255] Civil Code, Article 1195.
[256] *Origin and Development of Islamic Law* Vol I, in Law in the Middle East, (eds. Majid Khadduri and Herbert J. Liebesny 1995), 203.
[257] Real Property, Mortgage, and Wakf According to Ottoman Law (1884), 82; *Origin and Development of Islamic Law*, supra note 256, at 208.
[258] *Origin and Development of Islamic Law*, supra note 256, at 204.
[259] *See* "Trustee," Merriam-Webster Online, *available at* http://www.merriam-webster.com/dictionary/trustee.

دوهم، دا تعريف موږ ته وايي چې د مال څارنه دا ډاډمنوي چې مال د هغو د اصلي خاوند د سپارښتنې سره سم د خيريه مقصد لپاره کارول کېږي. " خيريه مقصد يا سمدلاسه يا يو څه موده وروسته پيلېږي، د وقف شوي مال پواسطه د عايد يا انتفاعي حق رامنځ ته کېدل د خيريه مقصد لپاره کارول کېږي.

ددې برخو په يو ځای کولو سره، موږ وينو چې وقف داسې مال دی چې مالک يې خپل حق بل چا ته ورکوي تر څو د هغو څخه تر لاسه شوی عايد يا د انتفاع حق خيريه مقصد ته وبښل شي.

اوس چې موږ د وقف لپاره بنسټيز تعريف لرو، موږ کولای شو د وقف نور مهم قانوني اوصاف بيان کړو. په ځانګړي ډول، موږ د وقف غوره ځانګړتياوې او د هغو ډولونه تر بحث لاندې نيسو.

**د وقف غوره ځانګړتياوې**

وقف شپږ مهم اوصاف لري: د مالک رضايت، د ملکيت عينيت او دايمي والی، نه راګرځېدنه، عمری حق، نه بېلوالی،او خيريه مقصد.[260] موږ په ترتيب سره هر يو وصف تر بحث لاندې نيسو:

لومړی، ددې لپاره چې مال وقف وګڼل شي، د مال خاوند بايد د وقف په توګه د خپل مال د بسپنې کولو اعلان وکړي.[261]

دوهم، بسپنه شوی مال بايد ملموس او دايمي وي. په دې معنی چې بسپنه شوی ملکيت بايد د تصرف په مقصد عينيت او دايمي شتون ولري. په عمل کې، دا د عيني ملکيت په اړه د وقف محدوديت دی. خو، په دوديز ډول د دايمي والي د شرط په اړه څلور استثناآت شته: د غير منقول ملکيت سره مل منقول ملکيت، څاروي، کتابونه او فرنېچر.[262]

دريم، وقف نه راګرځي. په داسې حال کې چې ځينې اسلامی مذهبونه او آن د يوه مذهب مکتبونه يو د بل سره د نظر توپير لري. په دې معنی چې کله ملکيت په وقف واوړي، دا د هميش لپاره وقف پاته کېږي. حنفي فقه وايي چې کله د وقف اظهار وشي، دا پرېکړه نه راګرځېدونکي ده.[263] يعني دا چې يو ځلې چې مالک اعلان وکړ چې د مال يوه برخه د و قف په توګه ورکوي، نوموړی اړونده مال بېرته نشي اخيستی.

څلورم، د حنفي فقهې له نظره وقف بايد دايم شتون ولري. دا په دې معنی دی کله چې يو ځل ملکيت وقف شو، دا د هميش لپاره د وقف په توګه پاته کېږي. لنډ مهال وقف شتون نه لري.[264]

پنځم، وقف نه بېلېدونکی دی. دا په دې معنی دی چې يو ځل وقف رامنځته شو، اړونده مال خرڅېدای، ډالی، رهن يا لېږدېدلی نشي. هغه بايد د متولي سره پاته شي چاته چې ورکړل شوې دی.[265] ددې خبرې يادونه مهمه ده چې د نه بېلوالي وصف له سرغړونې پرته، وقف د يو کال لپاره په اجاره ورکول کېدای شي. دا ځکه اجازه لري چې اجاره اخيستونکی يوازې ملکيت کاروي، نه دا چې هغه خپلوي. داچې مالکيت تغير نه مومي، وقف نه لېږدېدلی او نه هم بېلېدلی شي. د زياتې مودې لپاره د وقف په اجاره ورکول اجازه نه لري ځکه هر څومره چې اجاره اوږدمهاله وي په هماغه اندازه د اجاره اخيستونکي له لوري د هغود خپلولو احتمال شته.[266] په اجاره باندې د وقف ورکول د نه بېلوالي په اړه کومه استثناء نه ده، بلکه دا عمل په هېڅ ډول له اړونده شرطونو څخه سرغړونه نه ګڼل کېږي.

خو د نه بېلوالي په اړه يوه استثناء شته چې يو چاته اجازه ورکوی اړونده شرطونه مات کړي. که د وقف ملکيت اصلي خاوند اجازه ورکړي يا که اصل ملکيت نور د وقف مقصد لپاره کومه ګټه نه لري، دا ډول ملکيت لېږدېدلای شي. دا ډول لېږد په دوو لارو تر سره کېږي. وقف خرڅېدلای شي او له دې لارې څخه تر لاسه شوی عايد د نوی ملکيت چې د وقف

---

[260] *Origin and Development of Islamic Law*, supra note 256, at 205-06.
[261] *Id.* at 205.
[262] *Id.*
[263] *Id.* at 206-07.
[264] *Id.* at 207.
[265] Real Property, Mortgage, and Wakf According to Ottoman Law, supra note 257, at 83-84.
[266] *Origin and Development of Islamic Law*, supra note 256, at 208-09.

مقصد ګټور وي د پېرودلو لپاره کارېدلای شي یا داچي وقف شوی ملکیت د بل معادل ملکیت سره عوض شي. نوی تر لاسه شوی ملکیت بیا د عین شرطونو تابع ګرځي او د وقف اصلي ملکیت په توګه دعین مقصد لپاره کارول کېږي.[267]

وروستی خبره دا چي وقف خیریه موخه لري. په دې معنی چي وقف باید په ترتیب سره د خیرات لکه د بېوزلو سره مرسته یا د جوماتونو د ملاتړ په موخه استعمال شي. خو دا حتمي نه ده چي د ښو کارونو یا دیني چارو ملاتړ د ملکیت سمدستی موخه جوړه شي. د حنفي فقهي له نظره خاوند کولای شي لومړی خپل مال د ټاکلو افرادو ملاتړ ته بېل کړي لکه د مالک کورنۍ یا پخپله د مال خاوند. البته تر هغه پورې چي دوی ژوندي وي او د هغوی له مړيني وروسته مال د خیر کارونو ته وقفېږي[268].

یوازې هغه مال چي دا شپږ شرطونه په ځای کړي، وقف ګڼل کېږي. په ورپسی عنوان کي موږ د وقف د ډولونو په هکله بحث ته دوام ورکوو.

**د وقف ډولونه**

د اسلام د شریعت د حنفي مذهب له نظره د وقف دري ډولونه شتون لري: د دین د ملاتړ وقف، عام وقف او کورنۍ یا خصوصي وقف.[269]

د دین د ملاتړ لپاره وقف، هغه بسپنه ده چي ملکیت په بشپړ ډول جوماتونه ته ورکوي. دا ډول ملکیت یا مال د جومات د جوړېدو یا د مالي ګټې یا د مذهبي ځایونو د حفظ او مراقبت لپاره کارول کېږي.[270]

عام وقف هغه ملکیت دی چي د بې وزلو سره د مرستي یا په ډېر عام مفهوم د عوامو د ملاتړ لپاره کارول کېږي. په عام وقف کي هغه ملکیت راځي چي د روغتونونو، ښوونځیو، پلونو، او د نورو دا ډول چارو سره مرسته کوي. د دین څخه د ملاتړ وقف په شان، عام وقف کېدای شي د عامه خدماتو د بنسټونوجوړولو لپاره ځمکه وي یا دا چي د عامه ځایونو څخه د ملاتړ په موخه عاید یا مالي ګټه رامنځ ته کړي.[271]
د وقف وروستی ډول هغه ملکیت دی چي د بېلو افرادو د ملاتړ لپاره ورکول کېږي. په عمومي ډول، کېدای شي دا افراد د مال د اصلي خاوند د کورنۍ غړي وي . د مال خاوند آن کولای شي داسي وټاکي چي دده د کورنۍ راتلونکي نسلونه له وقف څخه د عاید یا مالي ګټې تر لاس کولو ته دوام ورکړي. خو ددې لپاره چي ملکیت وقف وګڼل شي، کله چي د مال د خاوند له لوري د وقف لپاره وروستی شخص مړ شي، له هغه وروسته وقف خیریه کارونو ته ځانګړي کېږي.[272]

**نتیجه**

د ملکیت ټولي لېږدېدني چي موږ په دې څېرکي پرې بحث وکړ، پخپله خوښه تر سره کېږي. د ملکیت د ګټې اړوند هر یو شخص باید د ملکیت د لېږد سره توافق ولري. لکه چي د څېرکي په سریزه کي وویل شو چي د ملکیت د لېږد ټول ډولونه پخپله خوښه یا رضایت نه دي. د قانوني اوغیر قانوني اخیستنو په هکله څېرکي به د نه رضایت لېږدونو موضوع وڅېړي.

د مال د خپلي خوښي لېږد د څلورو بېلابېلو لارو تر سره کېږي: د ملکیت خرڅلاو، اجاره، وراثت، او بسپنه. ددې بهیرونو شرطونه د شخص د ګټې یا علاقمندی عنصر په نظر کي نیولو سره یو تر بله توپیر لري، یعني دا چي د ملکیت ترلاسه کوونکي په ملکیت کي دایمي او که لند مهاله ګټه لري، او شخص د نظر وړ ګټه څه وخت تر لاسه کوي (بالفعل ګټه او بالقوه ګټه). کله چي یو شخص خپل ملکیت لېږدوي، حتمي نه ده چي نوموړی د هغو ټول حقوق له لاسه ورکړي. د ملکیت په اجاره کولو کي، د ملکیت خاوند د مالکیت علاقه له لاسه نه ورکوي او نوموړی د ملکیت د تصرف علاقه لېږدوي،

267 *Id.*
268 *Id.* at 203-04, 206.
269 *See* Real Property, Mortgage, and Wakf According to Ottoman Law, supra note 257, at 85-86.
270 *Id.* at 85.
271 *Id.*
272 Petter C. Hennigan, The Birth of a Legal Institution: The Formation of the Waqf in Third-Century A.H. Hanafi Legal Discourse (Rudd Peters and Bernard Weiss eds. 2004), at xiv.

يعنی په ملکيت کې د پاتې کېدو او د هغو د کارولو حق. خو د ملکيت د تصرف د حق لپږد مؤقت دی. د اجاره ورکوونکي په توګه د ملکيت خاوند، د ملکيت د تصرف بالقوه علاقه يا ګټه د ځان سره ساتي. کله چې اجاره پای ته ورسېږي، د ملکيت خاوند بيا د خپل مال د تصرف او کارولو حق تر لاسه کوي.

د ملکيت اجاره د هغو له خرڅلاو څخه توپير لري. د ملکيت په خرڅلاو کې، د ملکيت خاوند د هميش لپاره د مال په اړه د مالکيت او تصرف په شمول، د نوی مالک په ګټه خپل ټول حقوق له لاسه ورکوي. د ملکيت نوی خاوند، پېرودونکی سمدلاسه د قانوني مراحلو په سرته رسولو سره په مال کې د مالکيت علاقه قايموي. خو نوی مالک ځيني وختونه بايد د ملکيت د تصرف او استعمال يا کارولو لپاره انتظار وباسي. دا حالت هغه وخت رامنځ ته کېږي چې کوم چا اړونده ملکيت په اجاره ورکړی وي. نوی خاوند بايد د بالفعل تصرف کوونکی يا اجاره اخيستونکي د ګټو درناوی وکړي.

همدارنګه رهن اخيستونکی په ملکيت کې بالفعل ګټه لري. خو له اجاره اخيستونکي څخه په توپير،اجاره اخيستونکی په مال کې د مالکيت مؤقت علاقه لري نه د تصرف سمدلاسه علاقه. په دې ترتيب، مخکې تر دې چې د مال خاوند خپل مال وپلوري، نوموړی بايد لومړی د رهن اخيستونکي موافقه تر لاسه کړي. په ياد ولرئ چې په مال کې د رهن اخيستونکي علاقه له پولي پور سره تړاو لري چې د مال خاوند ته يې ورکړی دی. په مال کې د رهن اخيستونکي علاقه هغه وخت پای ته رسېږي چې د ملکيت خاوند پور بېرته ورکړي. په دې ترتيب، رهن اخيستونکي د مال په ارزښت کې لنډمهاله علاقه لري.

د مال له مالک څخه په توپير، اجاره اخيستونکی او رهن اخيستونکی، وارثين د مال په مالکيت کې بالقوه ګټه لري. د وارثينو علاقه د خپلوانو له مړيني څخه راپيدا کېږي. کله چې خپل مړ شي، هغو په ملکيت کې د مالکيت علاقه پيدا کوي. د مدني قانون د وراثت ډېر حکمونه پر شريعت ولاړ دی.

همدارنګه د مال خاوند کولای شي خپل مال بل شخص يا بنسټ ته ورکړی او يا يې بسپنه کړي. بسپنه د مال له خرڅلاو څخه توپير لري، ځکه چې مالک په حتمي توګه په عوض کې د کوم شي تمه نه لري. خو د مال د خرڅلاو په شان، بسپنه بايد په خپله خوښه وي. دواړه د مال خاوند او د مال تر لاسه کوونکی بايد د مال د لېږد په سر توافق ولري. د مال خاوند (ډونر) تر لاسه کوونکی د مال په منلو اړ ايستلای نشي. په ياد ولرئ چې د مال د منلو لپاره د کوم چا اړ ايستل هم د مدني قانون له حکمونو څخه چې د بسپني چارې سمبالوی او هم د مکلفيتونو له قانون څخه سرغړونه ده. د زور يا ګواښ پواسطه د قراردادونو تر سره کول د اعتبار وړ نه دي.

لاندې زما وړانديز دادی چې موږ څرنګه کولای شو موضوع بيا داسې تنظيم کړو چې په لا زياته منطقي بڼه څرګنده شي. ددې کار لپاره، ما تر هر څه د مخه د CCA پر جوړښت او خپلو نورو کتابونو باندې بيا غور وکړ. که چېرې دا متن ابهام ولري، موږ په دې هکله خبرې کولای شو. که چېرې د هرڅه بيا کتنه او جوړونه ستاسو زيات وخت نيسي، بيا نو زما له نظره دا کار هومره ضرور نه برېښي.

## پنځم څپرکی: له اجازې پرته د ملکیت لیږد

### سریزه

د افغانستان اساسی قانون د ملکیت د خپلولو لپاره حق خوندی ساتی، "ملکیت له تیری څخه خوندی وی. " ( د افغانستان اساسی قانون، ۴۰ ماده.)[273] مدنی قانون هم د ملکیت د خاوند لپاره د خوندیتوب ورته حکمونه لري: "د هېچا ملکیت د هغه د لاسه نه شي ایستل کېدای، مګر د قانون د حکم په موجب. "( مدنی قانون، ۱۹۰۳ ماده.)[274] په دی څپرکی کی، مونږ د ملکیت د خپلولو لپاره دوې استثناګانی په نظر کی نیولی. په ځینو حالاتو کې، دولت یا یو شخص کولای شی له بل چا څخه د ملکیت حق واخلي او یا یی محدود کړی.

د مثال په توګه، د حکومت له خوا د مالک د مالکیت د حق اخیستلو په هکله لاندې سناریو ولولئ: عبدل دسرو زرو زېرمه لرونکي ځمکه لري. حکومت علاقمند دی چی سره زر را وباسی. ددې کار لپاره، حکومت ته ښایي چې د عبدل له ځمکې څخه سړک تېرکړي.. آیا د سرو زرو د را ایستلو لپاره د عبدل له ځمکی څخه د سړک ایستل د حکومت لپاره قانونی کار دی ؟ آیا ځمکی د کارولو له امله حکومت باید عبدل ته د خساری جبران وکړی؟ آیا حکومت مخکی تر دې چې ځمکه لاندې کړي، عبدل ته باید خبر ورکړي؟.

اوس لاندی سناریو د یو شخص له خوا د مالک څخه د هغی د ملکیت د حق اخیستلو په اړه په پام کی ونیسئ: حامد، چی په کندهار کی یی ملکیت خپل کړی، په ۱۹۸۵ ز کال کی یی هیواد پریښود، کله چی حامد ولاړ، نقیب د حامد په ملکیت کی ژوند کول پیل کړل، نقیب نوی کور جوړ کړ او د غنم یې پکښې وکرل. حامد په ۲۰۰۳ ز کال کی بېرته راستون شو او نقیب ته یی وویل چی ځمکه یی پرېږدی. آیا حامد نقیب د ځمکې پریښودلو ته اړ ایستلی شی؟

په راتلونکو برخو کی مونږ دا موضوع څېړو چې د قانون له اړخه د دغو دوو پوښتنو ځواب څنګه دی. د اساسی قانون د غوره بحث " ملکیت له تیری څخه خوندی دی" استثناګانی د افغانستان د ۲۰۰۴ ز کال په اساسی قانون ، د افغانستان جمهوریت د ۱۹۷۷ز کال په مدنی قانون (مدنی قانون)، د ۲۰۰۰ ز کال د ځمکی د استملا ک په قانون (او په دی قانون کې دوه تعدیلونه چی لومړی په ۲۰۰۵ ز کال او بل په ۲۰۱۰ ز کال کی راغلي دي)[275] ، او د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالی د چارو د تنظیم په قانون کې راغلي دي.[276]

دغه څپرکی په دریو برخو ویشل شوی. لومړی، څپرکی د ځمکو په اړه د افغانستان تاریخ ته ځغلنده کتنه کوي. لکه چې تاسو په څپرکی کی ولوستل، وګورئ چی آیا دغه تاریخ په اوسنیو قوانینو کې راغبرګ شوي دي او که نه.دوهم، څپرکی د پورته سناریو ګانو څخه لومړی تر څېړنې لاندې نیسي: کله دولت خصوصي ملکیت مصادره کولی شی یعنې د مالک له اجازه پرته د ملکیت اخیستل. درېیم، څپرکی د دوهمی سناریو په پام کی نیولو سره دا پوښتنه مطرح کوي چې څه وخت یو شخص کولی شی د مالک له اجازې پرته ملکیت اشغال کړي، د معکوس تصرف حق. د مخکی په شان، دغه قوانین په چټکی سره بدلون مومی. دلته تر بحث لاندې قوانین د ۲۰۱۵ ز کال تر پسرلی پورې نافذ قوانین دي.

تر پیل د مخه، در په یاد کړئ چې د مال مالکیت یو شمیر حقوق له ځانه سره لري: د خرڅولو حق، د اجاره ورکولو حق، د ملکیت د اشغال او کارولو حق. همدارنګه په یاد راوړی چې ملکیت د ویش وړ دی: د ملکیت خاوند کولی شی خپل ملکیت په کوچنیو ونډو وویشی، یا یی په اجاره ورکړی او وې پلوری. مونږ د ملکیت دا ډول ویش په دغه څپرکی کی تر غور لاندې نیسو. کېدای شي د ملکیت خاوند ټول یا هم یوازی د هغو یوه برخه له لاسه ورکړی. له لاسه ورکول ښايي

---

[273] Constitution of the Islamic Republic of Afghanistan, No. 818 (27 January 2004) [hereinafter Constitution of Afghanistan].
[274] Civil Law of the Republic of Afghanistan, Law No. 353 (5 January 1977) [hereinafter Civil Code].
[275] Law on Land Expropriation, Law No. 639 (8 October 8, 2000) (amended, Law No. 794, 4 March 2005; amended, Law No. 1010, 30 June 2010) [hereinafter Law on Land Expropriation].
[276] Law on Managing Land Affairs of 2008, Law No. 958 (2008) [hereinafter Law on Managing Land Affairs of 2008]

دایمي وي، لکه د ځمکی خرڅلاو. یا هم ښایي  دغه یوازی لنډ مهاله وی، لکه په اجاره ورکول. یا هم ښایي دغه یوازې د محدوده موخي لپاره وي، لکه په یوه کور کي د استوګني لپاره د یوه اتاق په کرا نیول.

ددې څپرکی تر لوستلو وروسته، د افغانستان اساسی قانون د ۴۰ مادی د متن په هکله فکر وکړئ.ددې مادې متن زياتی اصطلاح ګانی بې له تعريفه پريښی. دغه کار په بشپړه توګه عادی خبر ده : په ټوله کې اساسی قانون عام حقوق او وجيبې په ګوته کوي او  د تفصيلاتو وضاحت عادی قوانينو ته پرېږدي. د بېلګی په توګه، ۴۰ مادې د ملکيت د حق محدوده نه ده تعريف کړی. دغه ماده زيات شمير پوښتنی پرانيستي پرېښي دي چې د دې څپرکي په اوږدو کي به ترې کار واخيستل شي. همدارنګه ددې څپرکي د لوستلو په مهال، د افغانستان تاريخ مهم موضوعات او دا چې د ۱۹۷۰ز کلونو څخه را په ديخوا د ځمکو ملکيت په څه ډول بدلون موندلی، په پام کی ونيسی.په څه ډول بايد  قوانين د ملکيت په اړه ياد بدلونونه را واخلي؟، که کوم چا افغانستان پری اېښی او بيا راستون شوی وي، آيا دا شخص د خپل پرېښودل شوی ملکيت حق لری؟

**د افغانستان اساسي قانون**

۴۰ ماده:

ملکيت له تېري څخه خوندي دی.

د هيچا ملکيت د قانون د حکم او د با صلاحيته محکمي له پرېکړي پرته نه مصادره کيږي.

د شخصي ملکيت استملاک يوازې د عامه ګټو د تأمين په مقصد، د مخکېني او عادلانه بدل  په ورکولو، د قانون له مخي مجاز دی.[277]

## ۱ - د افغانستان د ځمکو وروستنی تاريخ

د ۱۹۷۸ ز کال څخه د ۲۰۰۰ز کال  تر لومړيو، زيات شمير افغان وګړو خپلی ځمکی له لاسه ورکړې. په دې دوره کې، څو مختلفو حکومتي رژيمونو پر ملکيت باندې خپل کنترول درلود .په ۱۹۷۸ز کال کي کمونيست ګوند قدرت تر لاس کړاو په ۱۹۸۰ ز کال  کي يې اساسي قانون تصويب کړ چې د خصوصی مالکيت حقوق يې سخت محدود کړل.[278] کمونېستيي حکومت ځمکي پر بې وزلو باندې  وويشلي، او د ځمکو د وېش زياته برخه يې  مُستند نه کړه.[279]    وروسته رهبرانو وګړو ته د خصوصي ملکيت په برخه کی زيات کنترول ورکړ، اما د خصوصی مالکيت حقوق خوندي پاتي نه شول.[280]د ۱۹۹۰ز کال په په پيل کې، ناکراريو خلک له خپلو ځمکو ليرې کړل او ځينی خلک يې دې ته اړ کړل چې د خپلو ځمکو مالکيت په قانونی توګه حاکمانو ته ولېږدوي.[281]    په دې دوره کې، د ځمکو د ملکيت زيات شمير جعلي سندونو شتون درلود. [282] دغو ناکراريو د ۱۹۹۰ز کال  تر آخره پورې دوام وموند. په هغه وخت کې، طالبانو د پام وړ واک لاس ته راوړ او د ځمکو نيول يې په ناقانونه توګه پيل کړل.[283]

د  ۱۹۷۸ ز کال نه تر ۲۰۰۰ ز کال پورې، په مليونو افغانانو خپل هېواد پرېښود. په ۱۹۸۰ ز کال کې، دوه کاله وروسته کله چې کمونيست رژيم واک تر لاسه کړ، ۷۵۰۰۰۰ خلک پاکستان او له ۱۰۰۰۰۰ نه زيات ايران ته وتښتېدل. [284]    په ۱۹۸۴ ز کال کې، د افغان کډوالو شمېر  نژدې ۴ مليونو ته ورسېد: په ايران کی هم د مهاجرينو شمېر تر ۲ مليونو لوړ

---

[277] As a note, the terms acquisition and expropriation will be used interchangeably in this chapter; i.e., they mean the same thing.
[278] Norwegian Refugee Council, *A Guide to Property Law in Afghanistan*, 37 (2005).
[279] Meredith L. Runion, The History of Afghanistan 107 (2007).
[280] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 39.
[281] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 39.
[282] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 50.
[283] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 39.
[284] Runion, *supra* note 279, at 111.

شو: په مليونونو نورو خپل کورونه پرېښودل او د افغانستان په نورو برخو کي يي ژوند پيل کړ.[285] د نفوس د بی ځایه کيدنی دغي بهير ته تيتوالی ويل کيږي. دغه بهير د ۱۹۹۰ ز کال تر پايه دوام درلود.[286] د ۲۰۰۲ ز کال څخه د ۲۰۱۴ ز کال تر پيل ، د ۵.۷ مليونو څخه زيات شمير خلک بېرته راستانه شول.[287] خپل ټاټوبي ته د وګړو د راستنيدو دې بهير ته خپل هېواد ته د کډوالو بېرته راستنېدل وايي. زيات شمير بيرته راستانه شوو کډوالو دا ومونده چي ددوی د هستوګني پخواني ځايونه د نورو له خوا نيول شوي دي. د سندونو د نه شتون له امله راستانه شوو کډوالو نشو کولای ثابته کړي چي اړونده ملکيت پخوا د دوی و.[288] د افغانستان تر پرېښودلو د مخه د مالکيت کوم سندونه چی دوی درلودل، نور شتون نه لري .[289]

د ۲۰۰۰ ز کال د پيل را په دې خوا، د افغانستان حکومت پلټنه پيل کړه چي په ۱۹۷۸ ز کال کي د کمونيست رژيم واک ته له رسېدو وروسته د خلکو له لاسه وتلي ځمکي بېرته ورته وسپاري.[290] ځيني مادې د ځمکو د بيا ويشني شرطونه بيانوي.[291] په ۲۰۰۲ ز کال کی، حکومت د ملکيت لانجو د حل ځانګړي محکمه جوړه کړه ، په ځانګړي ډول هغه لانجي چی د راستنو شوو کډوالو سره تړاو لري.[292] د خلکو لپاره د ملکيت د مالکيت د خونديتوب په برابرولو کی حکومت دوه موخي لري: لومړی، د خصوصي پانګي اچونی هڅول. دوهم، حکومت غواړي چي خلک وهڅوی تر څو له خپلي ځمکي څخه ګټه واخلي او پرمختګ ورکړي.[293] په کوم دليل د خوندي ملکيت حقوق د حکومت سره د دې دوو موخو په لاسته راوړلو کي مرسته کولای شي ؟

د لاندې دوو برخو له لوستلو وروسته ، ددې تاريخ په هکله فکر وکړئ. تر کومو شرايطو لاندی بايد حکومت اجازه ولري چي يو څوک دې ته اړ کړي چي خپله ځمکه تسليم کړي؟ او، تر کومو شرايطو لاندې يو شخص چي د بل چا په ځمکه کي ژوند کوي او ګټه تري اخلي د ځمکي د مالکيت حق لاسته راوړي؟

### ۲. حکومتي مصادره

د افغانستان اساسی قانون او د افغانستان قوانين حکومت ته دا اجازه ورکوي چي خصوصي ملکيت په محدوده شرايطو کی د مالک له اجازې پرته واخلي. په دې بحث کي د خصوصي ځمکو د مصادرې په اړه د حکومت د صلاحيت په هکله قانوني حدود تر څېړني لاندې نيسو .

د اساسی قانون تر ۴۰ مادی له مخي، حکومت يوازې په لاندې حالتونو کي خصوصي ملکيت تر لاسه کولای شي: (۱) چي " د عامه ګټو د تأمين په مقصد" وي، (۲) حکومت مالک ته "مخکنی عادلانه بدله" برابره کړې وي، او (۳) حکومت د يوې واکمني محکمی حکم ولري. "[294]

په دې برخه کي موږ د هرې يوې يادې شوې غوښتني په هکله بحث کوو. لومړی، موږ دا څېړو چي يو شي د " عامو ګټو د تأمين په مقصد" څه معنی لري. وروسی، موږ دې ته اشاره کوو چي تاسو په څه ډول د "عادلانه بدل" په هکله پرېکړه کوی. اساسی قانون او نورو قوانين په واضح ډول ددغو اصطلاح ګانو ساحه نه ده تعريف کړې. درېيم، موږ دا په ګوته کو چي څوک ددې موضوع د معلومولو صلاحيت لری چي د حکومت له لوري د نظر وړ کړه " د عامه ګټو د تأمين

[285] Thomas Barfield, Afghanistan: A Cultural and Political History 234 (2010); Runion, *supra* note 279, at 111.
[286] PBS, *A Historical Timeline of Afghanistan* (May 4, 2011), http://www.pbs.org/newshour/updates/asia-jan-june11-timeline-afghanistan/.
[287] UNHCR, 2014 UNHCR Country Operations Profile – Afghanistan, http://www.unhcr.org/pages/49e486eb6.html (last visited May 2, 2014).
[288] Ingrid Macdonald, Middle East Institute, *Landlessness and Insecurity*, Obstacles to Reintegration in Afghanistan, 3 (Feb. 9, 2011); Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 46-47.
[289] Macdonald, *supra* note 288, at 3.
[290] Consider Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 1.
[291] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 55. Consider also Law on Managing Land Affairs of 2008, Articles 29 to 33.
[292] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 55.
[293] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 52-53 (citing *Afghan Assistance Coordinating Authority, the National Development Framework*, Government of Afghanistan, Kabul, April 2002).
[294] Constitution of Afghanistan, Article 40; *see also* Law on Land Expropriation, Article 2.

په مقصد" دي او د مال خاوند ته د حکومت له لوري بدله باید په څه ډول وي. څلورم، مونږ به دا هم په پام کی ولرو چی په کومه اندازه حکومت باید د ملکیت خاوند ته بدله ورکړي. د مثال په توګه، که حکومت په فزیکی بڼه د مالک د ملکیت د یوې کوچنی برخې په اخیستلو سره د اړونده ملکیت زیاته برخه له ګټي و غورځوي، : آیا حکومت ته ښایي د ملکیت خاوند ته د ملکیت د هغې برخې د ضررله امله چی په فزیکی ډول یی نه دی تر لاسه کړی، بدله ورکړی؟

همدارنګه، دا برخه د دایمی او لنډمهاله ملکیت د اخیستني ترمنځ توپیر په ګوته کوي. لومړی، دایمي اخیستنه هغه وخت رامنځ ته کېږي چی د ملکیت د خاوند له اجازې پرته حکومت د ملکیت له خاوند څخه د مالکیت حقوق تر لاسه کوي: دې ته مصادره ویل کېږي.[295] مصادره د ملکیت خرڅلاو ته چی د ملکیت لیږد په څېرکی کی پرې بحث وشو، په یوه غوره توپیرسره، ورته والي لري: حکومت کولای شي د مالک له اجازې پرته ملکیت واخلي. تاسو ښایي د ملکیت په هکله له څېرکي څخه په یاد ولرئ ، چي د داوطلبانه او غیر داوطلبانه لیږد په وړاندې تر عنوان لاندې په دې هکله بحث شوی دی. تاسو کولای شی د ځمکی د مصادرې په هکله فکر وکړئ ځکه چی دا غیر داوطلبانه لیږد ته ورته دی ځکه چی حکومت ته د ملکیت دا ډول لیږد د مالک له اجازې پرته تر سره کېږي. دوهم، لنډمهاله مصادره هغه ده چی حکومت د اړونده ملکیت نه د یو محدود وخت او د محدودو موخو لپاره کار اخلي. دا ډول مصادره د ملکیت اجارې ته ورته ده.

دغه برخه له ترکیې څخه په یوه مثال پای ته رسېږي چی په هغو کې نړیوالی محکمی د ترکیي له حکومت څخه دا غوښتنه کړې تر څو د مال مالک ته د هغه له ملکیت څخه د ګټې اخیستلو په خاطر پیسی ورکړی.

### ۲.۱ "د عامو ګټو د تأمین په مقصد"

یوازی حکومت کولای شي چي د "عامه ګټو د تأمین په مقصد" د یو چا ملکیت د هغی له اجازه پرته واخلی.[296] د افغانستان اساسي قانون او نور قوانین په پوره ډول دا نه تعریفوی چی په عامه ګټی کی څه شی راځي. آیا حکومت کولای شي له چا څخه د ملکیت اخیستل په دې دلیل توجیه کړي چي ولسمشر ته پکښی کور جوړوي ؟ دا څنګه که حکومت د یو چا ملکیت کانونو ته د لاس رسی یا هم د سړک جوړولو په خاطر ضبط کړي؟ آیا دغه اخیستنې د " عامو ګټو د تأمین په مقصد" د هغه عبارت سره سمون لري چي په اساسي قانون کې کارول شوي دي.

په لنډه توګه، دا یو څه څرګند نه دي چی په عامه ګټو کي څه شی راځي. له ادبی اړخه دا په دې معني دي چي عام وګړي له هغو څخه ګټه اخلی. که مونږ له تاریخي لحاظه ددې اصطلاح مفهوم ته وګورو، د ۱۹۳۵ ز کال د عامه هوساینې لپاره د ځمکو د ځانګړي_کولو قانون ، چي اوس نافذ نه دی،عامه موخی داسی ټاکي: سړکونه، بازارونه، د اوبو پرمختګ، جوماتونه، نظامی تأسیسات ، فابریکې، روغتونونه، د غریبانو لپاره کورونه، سناتوریمونه، یتیم خانې، حکومتې دفترونه، د اوروژنې لپاره د اوبو زېرمې، د ټول ګټو نور ودانیز او پرمختیایي کارونه او نورې هغه چارې چي عامه وګړي ورڅخه ګټه اخلی.[297] که چېرې ځمکه د نظر وړ موخو لپار نه کارول کېږي، مالک کولی شو چي ځمکه بېرته په عین نرخ واخلي.[298] د ۲۰۰۴ اساسی قانون د ۱۹۳۵ز کال د عامه هوساینې لپاره د ځمکو د ځانګړي کولوله قانون_څخه عام اصول د ځان سره لري خو د خصوصي ملکیت د مصادرې واک یې محدودوي. حکومت یوازې د "عامه ګټو د تأمین په مقصد" ملکیت مصادره کولای شي.[299]

اوس پورتني مثال بیا په پام کی نیسو. د عامه هوساینې لپاره د ځمکو د استملاک د قانون له مخې ، آیا حکومت کولای شي د یو شخص ځمکه د ولسمشر د کور جوړولو لپاره ونیسي؟ آیا د ولسمشر کور حکومتي دفتر ته ورته یو ځای دی؟ آیا حکومت کولی شي کاني سرچینو ته د لاس رسی یا سړک جوړلو په خاطر د چا ملکیت ونیسي؟ آیا کاني سرچینو ته لاس رسی یوه "عامه اړتیا" ده ؟ آیا له دې نه به "عام وګړي" ګټه واخلي؟

[295] Note that the term takings may be used in other legal contexts as well. For instance, in addition to expropriation, the terms usurpation, confiscation, and seizure all refer to different sorts of takings not relevant to the subject matter of this chapter.
[296] Constitution of Afghanistan, Article 40.
[297] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 60 (citing Land Appropriation for Public Welfare 1935, Article 2). The law was repealed in 1987, see Asian Development Bank, Afghanistan: Capacity Building for Land Policy and Administration Reform 51 (2007).
[298] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 60 (citing Land Appropriation for Public Welfare 1935, Article 11).
[299] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 60.

اوس د ځمکې د استملاک قانون(چی په ۲۰۰۵ کی تعدیل شو) ۳ ماده او د مدنی قانون ۱۹۸۸ ماده په پام کی نیسو. تاسو ددې قوانینو مادې لاندې لوستلئ شئ. ددغو قوانینو او د عامه هوساینې لپاره ځمکې د ځانګړې کولو په قانون کې د عامه ګټو د تعریف ورته والی په پام کی ونیسی.[300] پورته مثالونه یو ځل بیا وګورئ (د ولسمشر کور، کانې سرچینو ته لاسرسی، او سړک)،آیا دغه مثالونه د ځمکې د استملاک قانون د ۳ مادې او د مدنی قانون د ۱۹۸۸ مادی سره مطابقت کوی؟

د لاندنیو مادو تر لوستلو د مخه، د یوې شیبې لپاره فکر وکړئ چې ولې استملاک یو ښه نظریه ده. کېدای شي داسې حالات شتون ولري چې په ترڅ کې یې د یو شخص د ځمکې استملاک کول او هغو ته یې بدله ورکول، د ټولنې لپاره زیاتې ښېګڼې ولري؟

**د ځمکې د استملاک قانون**

۳ ماده:

د لاندې مقصدونو لپاره د یوې ټوټې ځمکې کلې یا قسمې استملاک د وزیرانو شورا له واک څخه دی:

۱. د تولیدي مؤسسو، لویو لارو ، نفت او ګاز د لولې( پایپ لاین) د خط جوړولو، د مخابراتو د لین، د برق د لېږدونې د لین د غځولو، د بدر فت د شبکې (کانالیزاسیون)، د اوبو رسولو شبکې د تمدیدولو، مسجدونو او دینې مدرسو او نورو عام المنفعه مؤسساتو جوړول

۲. د کانونو او ترځمکې لاندې زیرمو راویستل

۳. د فرهنګی او علمي اهمیت لرونکې ځمکې، صالح الزارعه ځمکې پراخ باغونه او عمده تاکستانونه چې مهم اقتصادي اهمیت لري او هغه ځمکې چې د ځنګلونو او بندونو تر ساحې لاندې وي په استثنائي مواردو کې د وزیرانو شورا د تصمیم پر اساس تر شرعي جواز وروسته استملاک کېدلی شي.

**مدني قانون**

۱۹۸۸ ماده:

که د چا د ملکیت لاندې ځمکو کی معدن، خزانه، یا تاریخي آثار کشف شي، د هغې ملکیت د حکومت دی، په مکافاتو ورکولو علاوه، د استملاک د قانون سره سم ځمکه استملاک کېږي.

وګورئ چې د ځمکی د استملاک قانون په ۳ ماده کې دا موضوع څرنګه راغلي. ۳ ماده (۱) د هغو ودانیو پر جوړولو باندې یی تمرکز کړی چی زیات شمیر خلک ترې ګټه اخلی: د عامه ګټې اخیستنې پروژی لکه، سړکونه، پایپ لاینونه، ارتباطي لاینونه ، د دیني او نورو زده کړو آسانتیاوې لکه جوماتونه او ښوونځی. ۳ ماده (۲) هغه کړنی په بر کې نیسي چی د طبیعی سرچینو لکه تیلو او د ډبرو سکارو په را ایستلو سره د حکومت شتمنې زیاتوي. ۳ ماده (۳) د ځمکو استملاک ته یوازی په "ځانګړو شرایطو" کې واک ورکوي. په لېست شوو توکو کې د ځمکې د استملاک معنوي ارزښت لکه علمی او کلتوری اهمیت او هغه ځمکې چی شتمنې تولید ولای شي لکه د څروبولو او کښت وړ ځمکې، راځي .

آیا د دریمی مادی تعریف "عامه ګټو" لپاره د ځمکی د قانونی استملاک په اړه د حکومت واک محدودوي؟ د مثال په توګه، آیا د حکومت مامور د خوراکي توکو د مارکیټ د جوړولو لپاره کولی شی په قانونی توګه ځمکه تصرف کړی؟ په یقین سره د خوراکي توکو له مارکیټ څخه د خوراکي توکو له خرڅلاو څخه زیات شمیر خلکو ته ګټه رسېږي. اما د خوراکي

[300] Law on Appropriation of Property for the Public Welfare, Law No. 10 (9 November 1935) (repealed Law on Land Expropriation, Law No. 639, 1 July 1987).

توکو توپیر د مارکېټ له هغو توکو څخه چي د ځمکو د استملاک قانون په ۳ ماده کی لېست شوي دي، په څه کې دی؟ آیا دا خبر د پام وړ ده که چېري حکومتي مامورین له مارکېټ څخه تر لاسه شوي ټول عاید د شخصی ګټو لپاره ولګوي؟_آیا په مارکېټ کی د ځانګړو بیو ټیټوالی او لوړوالی کوم اهمیت لري او که نه؟ په عام ډول بنایي د خوراکي توکو مارکېټ د سړکونو، تولیدی بنسټونه، یا هم د جوماتونو سره هغو لومړیو توکو سره چي په ۳(۱) ماده کی لېست شوي دی، ډېر ورته والي و نه لري.خو، د ۳(۱) مادې وروستی عبارت "نورعام المنفعه مؤسسات " کوم پراخ یا خاص مفهوم افاده کوي؟ په یاد ولرئ چي دا ډېره مهمه پوښتنه ده. خاص تفسیر به د "عامه ګټو" مفهوم په قانون کي د یاد شوو بېلګو (سړکونه، ریل لاری، نل لیکي، نور) په اندازه محدود کړي. عام تفسیر د "عامه ګټو" په قانون کی د یادو شوو بېلګو – د مثال په توګه، د زیاتي اقتصادی سمسورتیا ، تر شا نغښتی مفهوم پراخوي. د عام او خاص تفسیر دواړه چلندونه هم ګټه لري او هم نیمګړتیاوي. په خاص مفهوم د قانون لوستل بنایي د استملاک له ټولنیزو بنېګنو څخه مخنیوی وکړي ځکه چي دغه ګټې په واضح ډول نه دی ذکر شوی. اما په عام مفهوم د قانون لوستل بنایي حکومت ته دا توان ورکړي چي خپلې شخصي ګټې په عامه ګټو کي ولټوي. آیا کولای شئ ددې څرنګوالی ووینئ؟

د عامه هوساینې لپاره د ځمکو د ځانګړي کولو قانون او د استملاک له قانون پرته، نور قوانین د "عامه ګټو د تأمین په مقصد" پر مفهوم باندې ډېره کمه رڼا اچوي، که تاسو قاضی یاستئ، کوم عوامل به د عامه ګټو د تأمین په مقصد د حکومت له لوري د خصوصي ملکیت د کارولو په اړه د پرېکړې کولو په مهال په نظر کي ونیسئ؟ آیا حکومت کولای شی د ځمکي د استملاک قانون په ۳ ماده او د مدنی قانون په ۱۹۸۸ ماده کي له یادو شوو دلایلو پرته، ځمکه استملاک کړي ؟ په یاد ولرئ چي په ۳ ماده کي د "عامه ګټو" عبارت نه دی کارول شوی. ستاسو له نظره آیا په ۳ ماده کی لېست شوې کړنې په اساسی قانون کي د "عامه ګټو د تأمین په مقصد" وړاندې شوي شرطونه پوره کوي؟

**دبحث وړ پوښتنې**

په ۲۰۰۳ ز کال کي، حکومت اعلان وکړ ټول هغه ملکیتونه چي د حکومت ملکیت ګڼل کېږي یا هم د حکومت تر ګټې لاندې وي په حکومت پورې اړه لري، پرته له دې چي ملکیت په خصوصي تصرف کي وي.[301] حکومت وروسته بیا ځیني دا ځمکي بهرنیو پانګه والو ته په اجاره ورکړې.[302]

آیا بهرنیو پانګوالو ته د ملکیت په اجاره ورکول د "عامه ګټو د تأمین په مقصد" په اړه د اساسي قانون د ۴۰ مادی شرطونو ته ځواب ویلای شي؟ نور کوم معلومات به په دې هکله ستاسو پر پرېکړو باندې اغیز ولري؟

**۲.۲ "مخکنی او عادلانه بدله"**

تر دې د مخه چي حکومت د کوم شخص ملکیت واخلی، باید "مخکنی او عادلانه بدله"ورکړی.[303] حکومت باید د ملکیت تر استملاک د مخه د ملکیت خاوند ته ارزښتناک توکی ورکړي. اما، بدله څه ده؟ آیا عادلانه بدله یوازې د پیسو ورکړې ته محدوده شوی ؟ آیا حکومت کولای شی د ملکیت خاوند ته د هغو د ملکیت د استملاک په ځای په بدل کي ځمکه ورکړي؟ که چیری حکومت د ملکیت مالک ته داسی څه ورکړي چی ارزښت یې د نوموړي له ملکیت څخه کم وي، څه به وشي؟ آیا دا عدالت دئ؟

په دغه برخه کې د عادلانه بدلې دوه عناصر په پام کی نیول شوی. لومړی، د بدلی عادلانه جبران څه ته وایي؟ دوهم، بدله څه ده؟

**۲.۲.۱ د " عادلانه" معنی**

اساسی قانون "عادلانه" بدله نه تعریفوي؟ څه فکر کوئ حکومت باید کوم فاکتورونه د ښځنتن له اجازې پرته د هغو د ملکیت د استملاک د بدلې په ټاکلو کي په پام کي ونیسي؟

[301] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 54 (citing Legal Decree for Transfer of Government Property (8 / 1382) 2003, Article 1).
[302] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 54.
[303] Constitution of Afghanistan, Article 40; *see also* Law on Land Expropriation, Article 2 (“adequate compensation).”

د ملکیت استملاک قانون د۲ مادی له مخې، حکومت باید د "ځمکې مارکیټ د نرخ مطابق"معادله اندازه بدله وټاکي. حکومت باید د ځمکې موقعیت،د هغو کیفیت او یا پر هغو باندې د مالک کومه ودانۍ یا کښت په نظر کې ونیسي.[304]

اما دا چی بدله باید د "ځمکی د مارکیټ ارزښت " سره سم وي په څه معنی دي؟ آیا ۲ ماده یو شخص ته د بدلې د پرېکړې په مهال د حکومت واک محدودوی ؟ آیا حکومت کولای شی د مارکېټ د نرخ په بهانه یو شخص ته د مارکیت له نرخ څخه په زیاته اندازه کمې پیسی ورکړی؟ په نسبي توګه حکومت څرنګه کولای شي د مارکیټ ارزښت په پام کی ونیسی؟ د بیلګی په توګه،حکومت ښایي ادعا وکړي چې د اساسي قانون د ۲ او همدارنګه ۴۰ مادو د شرطونو د پوره کولو لپاره، یوازی دې ته اړتیا لري چې د ملکیت ارزښت بدله په مارکیټ کی د مهالني نرخ له مخې خاوند ته ورکړی. ځکه چې حکومت د ملکیت بدله د مارکېټ د نر خ پر "بنسټ باندې" ټاکي. تاسو څه فکر کوئ؟ آیا دا دلیل قانع کوونکئ دئ؟

**۲.۲.۲ د " بدلې" معنی**

اوس د " بدلې" پر معنی باندې تم کېږو. آیا حکومت کوم چاته د پیسو په ځای د جبران په توګه ملکیت ورکولای شي؟ دا څنګه که حکومت له کوم چانه د سابو ۳ جریبه ځمکه واخلي او په عوض کې ۹ جریبه بې کښته ځمکه ورکړي؟ آیا دا به د اساسي قانون د " عدلانه بدلې" شرط پوره کاندې؟

د معاوضی د توجیې لپاره حکومت کېدای شي لاندې استدلال وکړي: لومړی، حکومت کېدای شي ادعا وکړي چې خاوند ته یې د تر لاسه کړي ملکیت په عوض کې ملکیت ورکړی. دوهم، حکومت کېدای شي ادعا وکړي چی بدله "عادلانه" او "معادل" وه ځکه چې دوی یې خاوند له تر لاسه شوې ځمکې درې ځله زیاته ځمکه ورکړې ده. سربېره پر دې، ددې موضوع د مشخص کولو پر مهال چې څومره ځمکه باید خاوند ته ورکړل شي، حکومت د فارم ارزښت په مارکیټ کې په پام کې نیولی و.

پیسی د بدلی لومړنئ بڼه ده، خو د استملاک قانون د ۱۳ او ۱۴ مادو له مخې، د خاوند د رضایت په صورت کې حکومت کولای شي د ځمکې څښتن ته د بدلی په مقابل کی ملکیت ورکړي.[305] سربېره پر دې، که حکومت خاوند ته د ملکیت د بدلی په مقابل کی د تر لاسه شوي ملکیت څخه د زیات ارزښت وړ ملکیت ورکړي، د ملکیت مالک باید د ارزښت د توپیر په خاطر حکومت ته پیسې ورکړي [306] دې ته ورته، که حکومت د ملکیت مالک ته تر اخیستل شوي ملکیت څخه د لږ ارزښت ملکیت ورکړي، حکومت باید د ملکیت څښتن ته اضافه بدله ورکړي.[307]

د ځمکی استملاک قانون ۲ ماده او د هغو هغه شرط ولولئ چې وایي بدله باید د مارکیټ د نرخ پر "بنسټ" باندې وي. له ۱۴ مادې څخه بیا داسې استنباط کېږي چی بدله باید برابره وي، کم ترکمه، کله چې حکومت د ملکیت خاوند ته د حکومت له لوري استملاک شوې ځمکې بدله ورکوي. د ۱۴ مادې په نظر کې نیولو سره، ستاسو په نظر آیا د ځمکې مالک ته د حکومت له لوري د استملاک شوې ځمکې په مقابل د بدلې په توګه د پیسی ورکړه هم باید مساوي وي؟ د ۲.۴ شمېرې تر عنوان لاندی په بحث کې به دا روښانه شي، چې حکومت د ځمکی د ارزښت د مشخص کولو په وخت کې باید موقعیت، اندازې او د ځمکې نور دا ډول ځانګړتیاوې په پام کې ونیسي.

**۲.۳ د استملاک کړندودونه**

په ټاکلوځانګړو استثایي حالاتو کې د حکومت له لوري د استملاک په ترڅ کې د خصوصي مالکیت ملاتړ په اړه د اساسي قانون د حکمونو د پلي کولو لپاره، باید کړندودونه شتون ولري چې دا بهیر د اساسي قانون سره سم په منصفانه توګه تر سره شي. د استملاک د قانون له مخې، د وزیرانو شورا باید د اړونده ملکیت استملاک تأیید کړي.[308] دا حکومتي

[304] Law on Land Expropriation, Articles 8, 10, 11.
[305] Law on Land Expropriation, Article 14
[306] Law on Land Expropriation, Article 14.
[307] Law on Land Expropriation, Article 14.
[308] Law on Land Expropriation, Article 10.

چارواکي باید دا په ګوته کړي چې آیا حکومت د اساسي قانون شرطونه په ځای کړي او که نه: آیا استملاک " د عامه ګټو د تأمین په مقصد" تر سره شوی او که نه او آیا حکومت مالک ته " مخکنۍ او عادلانه بدله" ورکړې او که نه.[309]

کمیسیون. کله چې ښار یا ناحیه/ولسوالي ملکیت استملاک کړي، د ځمکې مالک ته د بدلې د ورکړې د مشخص کولو لپاره باید پنځه کسیز کمیسون جوړشي. په دې کمیسیون کې د ځمکې خاوند ( یا د هغو استازی )، د استملاک اړونده حکومتي ادارې استازی، د ښار یا ناحیې/ولسوالي استازی، د مالیې وزارت استازی، او د عدلیې وزازت استازي شامل دي.[310] یوځای، دا ډله ټاکي چې د اساسي قانون مطابق په څه ډول " عادلانه بدله" تر سره شي. د ملکیت خاوند نشي کولای د استملاک بهیر یوازې د کمیسیون په غونډو کې په نه حضور سره و ځنډوي. که چېرې د ملکیت خاوند او یا د هغو استازی کمیسون ته حاضر نشي، کمیسیون د ملکیت د خاوند له برخه اخیستنې پرته پرېکړه کولای شي.[311]

**د استملاک قانون**

**۵ ماده:** د ځمکې له استملاک څخه د راپیدا شوي ضررد ټاکنې لپاره په لاندې ترکیب یو هیئت د ښاروالۍ له خوا جوړېږي: ۱. د ځمکې مالک یا ګټه اخیستونکی یا د هغوی استازی.

۲. د هغې ادارې یا مؤسسی واکمن استازی چې استملاک د هغو د اړتیا مطابق صورت مومي.

۳. د ښاروالۍ استازی.

۴. د مالیې وزارت استازی.

۵. د عدلیې وزارت د امارت د قضایاوو استازی.

د یادښت غوښتنه. د ملکیت تر اخیستلو د مخه ، د وزیرانو شوری باید دری میاشتې مخکی د ملکیت څښتن ته خبر ورکړي چې حکومت یی ملکیت استملاک کوي او په مقابل کی یی وړاندې شوی بدله ورکوي.[312] حکومت باید د ملکیت خاوند ته اجازه ورکړي تر څو د ځمکې څخه خپل حاصل او یا هم د ارزښت وړ ټول توکي راټول کړي، مګر دا چې حکومت له ځمکې څخه "بیړنۍ" ګټې اخیستنې ته اړتیا ولري.[313] که حکومت له ځمکی څخه د خاوند له لوري د حاصل اخیستلو د مخه، خرابه کړی نوحکومت باید د ملکیت خاوند ته د خرابۍ بدله ورکړی.[314] د حکومت له خوا د ملکیت مالک ته د بدلې له ورکړې وروسته، د ملکیت خاوند باید پر ځمکې ودانۍ ورانې کړي. سربېره پردې، همدارنګه د ودانۍ له ورانولو وروسته، ښایي ورانه شوې ودانۍ له ځان سره وساتي: د بیلګی په توګه، که هغه خپل کور وران کړي، کیدای شي خښتی، لرګي، کړکۍ، او نور ودانیز توکي چی د کور جوړولو لپاره کارول کیږي له ځان سره وساتي.[315] آیا مالک ددې کار څخه انکار کولای شي، حکومت دا حق لری چی ودانۍ ورانه کړي.[316]

---

[309] Constitution of Afghanistan, Article 40; Law on Land Expropriation, Article 10.
[310] Law on Land Expropriation, Article 5.
[311] Law on Land Expropriation, Article 21.
[312] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 61; Law on Land Expropriation, Article 20.
[313] Law on Land Expropriation, Article 6(2).
[314] Law on Land Expropriation, Article 19(1).
[315] Law on Land Expropriation, Article 12.
[316] Law on Land Expropriation, Article 12.

## ۲.۴ د استملاک وړ ځمکې اندازه

د ملکیت د استملاک په مهال، حکومت اړتیا نه لري چې د مالک ټول ملکیت واخلي، بلکه حکومت ددې واک لري چې د ځمکې یوه برخه واخلي. خو ځینې داسې حالتونه شته چې حکومت باید ټول ملکیت واخلي نه د هغو یوه برخه. د مثال په توګه، که د حکومت له لورې د ځمکې په قسمي اخیستلو سره د هغو مالک ته ستونزه رامنځ ته کېږي، حکومت باید د ځمکې د اړونده برخې بدله هم جبران کړي. دې مؤقتي اخیستنې په هکله د اړونده بحث د لوستلو په مهال دا شرط په یاد ولرئ. آیا داسې حالت شته چې لنډمهاله اخیستنه په دایمي اخیستنه بدله شي.[317]

**د بحث وړ پوښتنې**

د استملاک د قانون د مادې له مخې، حکومت ته نه ښایي چې د هر هغې ځمکې له امله چې حکومت له ۱۹۷۸ تر ۱۹۹۲ ز کال پورې وېشلي ده، د هغو مالک ته خساره ورکړي. ددې پرځای، د داسې ملکیت د استملاک په مهال، حکومت یوازې د ودانیو او ونو د ارزښت خساره جبران کوي.

ولې قانون دا ډول توپیر رامنځ ته کوي؟ ددې ځېرکي لومړی برخه وګورئ چې د افغانستان د ځمکې د وروستي تاریخ په هکله عامه کتنه وړاندې کوي.

## ۲.۵ مؤقت ګټه اخیستل

که کومه حکومتي اداره لکه یوه څېړنیزه اداره یا د سروې واحد یوازې د کم وخت لپاره ملکیت کاروي، حکومت ته ښایي چې اړونده ځمکه استملاک کړي. (د استملاک قانون ۷ ماده) په دې ترتیب، حکومت اړ نه دی چې د ۴۰ مادې سره سم د "عامه ګټو د تأمین په مقصد" عادلانه بدله ورکړي.

مخکې تر دې چې حکومت له خصوصي ملکیت څخه په مؤقت ډول ګټه واخلي، حکومت باید له محلی اداري یا د سیمې له آمر څخه اجازه تر لاسه کړي. همداشاني حکومت باید د ملکیت له خاوند څخه هم اجازه واخلي. (د استملاک قانون، ۷(۱)ماده )که چېرې حکومت او د ملکیت خاوند د ملکیت د کارولو اړوند شرایطو په سر سره سلا نشي، د ښار ښاروال یا د سیمې آمر وروستۍ پرېکړه کوي او حکومت ته اجازه ورکوي چې له خصوصي ملکیت څخه ګټه واخلي. ( د استملاک قانون، ۷(۲) ماده ) که چیرې د حکومت له لوري په مؤقت ډول د استعمال له کبله ملکیت ته ضرروررسېږي، حکومت باید د ملکیت خاوند ته رسېدلي ضررجبران کړي. (د استملاک قانون، ۸ ماده ).

وګورئ چې د استملاک او د مؤقت استعمال یا کارولو توپیر په څه کې دی.لومړی، له استملاک څخه په توپیر، د استملاک قانون ۷ ماده له حکومت څخه ددې غوښتنه نه کوي چې د مؤقت کارولو څخه د مخه دې درې میاشتې انتظار وباسي. دوهم، له استملاک څخه یې بل توپیر دادی چې حکومت نباید د ملکیت خاوند ته بدله ورکړي. ستاسو له نظره ولی قانون د ملکیت د مؤقت او دایمي کارونې ترمنځ توپیر کوي؟

په یاد ولرئ چې " مؤقت" کارول روښانه نه دي. "مؤقت" کارول څومره وخت نیسي؟ څرګنده ده چې د یوې ورځې لپاره د کوم بل چا د ملکیت کارول هم د مؤقت کارولو په معنی کېدای شي. خو که حکومت د کوم شخص د ملکیت د یو کال، پنځو کلونو، شلو کلونو لپاره وکاروی، بیا څنګه؟ د ملکیت د مؤقت او دایمي کارولو ترمنځ کرښه چېرې ده تر څو د اساسي قانون د " مخکنی او عادلانه بدلې" د شرط تابع شي؟ د استملاک قانون د ۷ مادې له مخې، داسې ښکاري چې د ښار ښاروال او سیمه ایز آمر ددې جوګه دی چې "مؤقت" مسئله معلومه کړي.

دا هم په یاد ولرئ چې د استملاک د قانون له مخې، حکومت باید د ملکیت د مؤقت کارولو له امله ملکیت ته رسېدلی ضررجبران کړي. خو خبر په دې کې ده چې ددې ضررجبران په څه ډول باید وټاکل شي؟ د " عادلانه بدلې" په هکله مخکنې بحث در په یاد کړئ. آیا د عادلانه بدلې د ټاکلو عین لاملونه، د ضررد ارزولو په برخه کې هم د کارولو وړ دي؟

---

[317] Law on Land Expropriation, Article 4.

که رسېدلی ضررهومره زيات وي چي د ملکيت خاوند نور د ملکيت څخه ګټه نشي اخيستی، بيا څنګه؟ آيا ملکيت ته دايمي ضرررسېدل د حکومت له لوري د ملکيت د دايمي کارولو په معنی دي او په دي ترتيب د اساسي قانون د مطالباتو يا غوښتنو تابع کېږي؟

د افغانستان حکومت پرېکړه کړې چي په شمال ختيځ ولايت کي له بدخشان څخه تر ازبکستان پوري د سروزرو د صادراتو لپاره سړک جوړ کړي. د لوټمارو د مخنيوي په خاطر، حکومت به امنيتي تأسيسات هم رامنځ ته کړي. ددې تأسيساتو يوه به د آرش په ځمکه کي موقعيت ولري. آرش خپلي مېږي په همدې ځمکه کې روزي او د هغو لپاره بل ځای نه لري.[318]

آيا حکومت د آرش ځمکه اخيستلای شي؟

لاندې متن ولولئ: آيا د اوسپنو پټلی په عامه ګټو کي راځي؟ آيا امنيتي تأسيسات په عامه ګټو کي شامل دي؟ که حکومت په کوم بل ځای کي امنيتي تأسيسات جوړ کړي، حکومت کولای شي داسي يو موقعيت وکاروي چي آرش ته يې ضررکم وي؟ آيا دا خبره د اهميت وړ ده که چېرې د بديل موقعيت کارول د آرش ګاونډي ته لږ ضررورسوي؟ که چېرې تاسو د هغه کميسيون غړي ياستئ چي د آرش د ملکيت د کارولو موضوع ټاکي، ددې کار په هکله بايد کوم لاملونه په نظر کي ونيسئ؟

کميسيون د آرش د ملکيت د استملاک پرېکړه کوي. اوس حکومت غواړي چي د آرش د ځمکي ۴ جريبه نوره برخه په مؤقت ډول د وسايلو د ساتني لپاره وکاروي. حکومت پلان لري دا ځمکه د دريو کلونو لپاره وکاروي، چېرته چي آرش د بادامو وني لري. بادام ډېر د ارزښت وړ پيداوار دي او د ونو پالل يې ګران تمامېږي او د هغو لرګي په لوړ قيمت پلورل کېږي. د ودانيزو موادو د ساتني لپاره، حکومت بايد د آرش د بادامو ټولي وني چپه کاندي.

آيا حکومت کولای شي د ودانيزو موادو د ساتني لپاره د آرش ملکيت وکاروي؟ که داسي وي، آيا حکومت د بادامو ونو د له منځه وړلو په خاطر آرش ته د پيسو په ورکړې مکلف دی؟ آيا حکومت مکلف دی چي د بادامو دکښت څخه د رامنځ ته شوي ضررله امله آرش ته پيسي ورکړي؟ د څو کلونو لپاره؟

آيا د آرش له ملکيت څخه د ودانيزو وسايلو لپاره کار اخيستل مؤقت دي او که دايمي؟

## ۲.۶ مقايسوي قانون: د ترکيې او اروپا د بشری حقونو څخه يو مثال

د بشري حقونو په هکله د اروپايي کنوانسيون له مخې، حکومت يوازې هغه وخت ملکيت استملاک کولای شي چي هغه د عامه ګټو لپاره وي، د ملکيت پر خاوند له حده زيات بار وا نه اچوی، او حکومت د هغو بدله تأمين کړي.[319] د اروپا د بشري حقونو محکمه، چي د استملاک شخړی اواروي، له حکومت څخه سملاسي،، معادلي او اغيزمني بدلي د تأمين غوښتنه کوي.[320]

[318] Facts for the hypothetical gleaned from:
- Crops & livestock for Badakshan: http://afghanag.ucdavis.edu/country-info/Province-agriculture-profiles/badakshan
- Mineral resources (locations): http://afghanistan.cr.usgs.gov/information-packages
- Need for railroad to Uzbekistan: http://www.bloomberg.com/news/2014-02-27/afghanistan-mineral-riches-won-t-go-anywhere-without-rail.html

[319] Stefan Kirchner & Katarzyna Geler-Noch, *Compensation Under the European Convention on Human Rights for Expropriations Enforced Prior to the Applicability of the Convention, 19* Jurisprudence 21, 23, 25 (2012).

[320] Kirchner & Geler-Noch, *supra* note 319, at 25.

افغانستان ته په ورته توګه، اروپايي قوانين هم د بدلي وسعت نه ټاکي يا آن تر دې چې د حکومت له لوري د استملاک شوي ملکيت د بدلي ورکولو وخت هم نه په ګوته کوي.[321]

په ۲۰۱۳ ز کال کې د بشري حقونو اروپايي محکمې، چې يوه بين المللي محکمه ده او د بين المللي حقوقو په اړه شخړې اواروي، له ترکيې څخه وغوښتل چې يوې کورنۍ ته ۱۸۴۰۰۰ يورو ورکړي؛ ترکيې له بدلې پرته د ښوونځي د ښارګوټي لپاره د يوې کورنۍ له ځمکې ګټه اخيستله. [322] که څه هم د ترکيې محکمو په دې هکله د حکومت له لوري ترسره شوي اقدامات توجيه کړل، خو بين المللي محکمې رايه صادره کړه( دلته روښانه نه ده چې رايه يې څه ډول صادره کړه،تايد که رد). د ترکيې د محکمو له نظره، له حکومت څخه د بدلې غوښتنه نه وه شوې او په ورته وخت کې اړونده کورنۍ له ځمکې څخه ګټه هم اخيستلای شوه. سربېره پردې، که څه هم د ښوونځي د ښارګوټي لپاره د ترکيې حکومت د اړونده ځمکې يوه برخه کاروله، کورنۍ کولای شو هغه وپلوري يا يې په کرايه ورکړي ځکه چې لاهم اړونده ځمکه د کورنۍ ملکيت و.حکومت له اړونده کورنۍ څخه د ځمکې د مالکيت حق نه و تر لاسه کړي.

په داسې حال کې چې د ترکيې له حکومت څخه د ځمکې په خاطر اړوندې کورنۍ ته د پيسو د ورکړې غوښتنه شوې وه، د بشري حقونو اروپايي محکمې دا واضح کړه چې حکومت د کورنۍ د ملکيت په حق کې مداخله کړې ده. د ترکيې حکومت له ځمکې څخه د ښوونځي د ښارګوټي لپاره ګټه اخيستله چې دې کار د کورنۍ له لوري د ځمکې په کارولو کې محدوديت رامنځ ته کړی او د ځمکې ارزښت يې راکم کړی دی. دې حالت د کورنۍ له لوري په بشپړ ډول د ملکيت د حق په کارولو کې خنډ رامنځ ته کړی او له همدې امله محکمې کورنۍ ته د پيسو د ورکړې حکم وکړ.

اوس ياد شوی مثال د افغانستان د قوانينو په چوکاټ کې مطالعه کړئ. ستاسو له نظره افغان محکمې د کوم يوه، کورنۍ او يا حکومت په ګټه پرېکړه وکړي.

ستاسو په نظر، کوم يو لوری، د ترکيې محکمې او که د بشري حقونو اروپايي محکمه حق په جانب وه؟ يعنې، کله چې خصوصي ځمکه د حکومت په دايمي استعمال کې وي خو په رسمي توګه د ځمکې مالکيت و نه لري، آيا حکومت د ځمکې مالک ته د بدلې په ورکړې مکلف دی؟ کله چې تاسو ددې پوښتنې په هکله فکر کوئ، د هغو دلايل را وسپړئ. که له حکومت څخه د اشخاصو د ځمکې د دايمي کارولو په خاطر د بدلې غوښتنه و نه شي، آيا حکومت کولای شي له بدلې پرته له ملکيت څخه کار واخلي؟ دا کار به د اساسي قانون پر ۴۰ مادې باندې څه اغېز ولري؟

### 3 . معکوس تصرف

د ملکيت د لېږد په هکله څېړکی در په ياد کړئ چې وايي ملکيت مالکيت ته تغير ورکوي کله چې دواړه خواوې د مالکيت د لېږد سره توافق ولري لکه د ملکيت د لېږد، وراثت، او بسپنې په صورت کې. کله چې يو څوک د اوږدې مودې لپاره د بل چا پر ملکيت باندې تصرف ولري، نوموړی کولای شي د مال اصلي خاوند مالکيت ونګوي.

په دې برخه کې، موږ هغه حالات تر کتنې لاندې نيسو چې د ملکيت خاوند د خپلې ځمکې د پرېښودلو په اړه د بل شخص د اړ ايستلو حق يعنې د معکوس تصرف حق له لاسه ورکوي. د معکوس تصرف حق وايي دا غوره ده چې ځمکه وکارول شي نه دا چې هغه بې له کارولو پرېښودل شي.[323] ددې بحث د لوستلو په ترڅ کې، د هېواد د کډوالۍ تاريخ او له ۱۹۷۸

[321] Kirchner & Geler-Noch, *supra* note 319, at 25.
[322] Case of Ayangil and Others v. Turkey, Application no. 33294/03, European Court of Human Rights (6 Dec. 2011), *available at* http://hudoc.echr.coe.int/sites/eng/Pages/search.aspx#{"fulltext":["Turkey%20AND%20\nschool%20AND%20property"],"sort":["kpdate%20Descending"],"respondent":["TUR"],"documentcollectionid2":["JUDGMENTS"],"itemid":["001-107725"]}; *see also ECHR Fines Turkey 184,000 euros in expropriation case*, DailyNews (Sept. 24, 2013), http://www.hurriyetdailynews.com/echr-fines-turkey-184000-euros-in-expropriation-case.aspx?pageID=238&nID=55057&NewsCatID=351.
[323] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 56.

ز کال وروسته هغو کسانو ته چې ځمکې يې له لاسه ورکړې، د ملکيت د استرداد په هکله د حکومت اوسنی تګلاره وڅېړئ. دا لاملونه تر کومه بريده اړونده حق لا نور هم پېچلئ کولای شي؟[324]

دا برخه څلور برخې لري. بحث له مدني قانون څخه پر بنسټيزو مطالبو پيلېږي: ځمکه وال نشي کولای هغه کسان و ننګوي چې د دوی ځمکه د پنځلسوکلونو او تر هغه زياتې مودې لپاره په تصرف کې لري. ورپسې، دا برخه له دې څخه بحث کوي چې د مالک له لورې د تصرف د ننګونې د مخنيوي لپاره، تصرف کوونکی بايد کوم شواهد برابر کړي. درېيم، دا د ۱۵ کلنې مودې محدوديت په اړه د تصرف کوونکي خلاف دعوا په هکله څلور استثناګانې لري. ددې برخې وروستی بحث هغه حالت بيانوي چې پکښې د ملکيت تصرف کوونکی کولای شي د مالکيت حق تر لاسه کړي.

### ۳.۱ د ناقانونه تصرف کوونکی خلاف د دعوا د اقامه کولو په اړه د پنځلس کلنې مودې محدوديت

مدني قانون په عامو اصولو سره پيلېږي چې وايي يوازې د وخت تېرېدل نشي کولای په حق کې تغير راولي.[325] خو، ځينې داسې حالات شته چې پکښې د ملکيت خاوند ددې وړتيا له لاسه ورکوي چې بل څوک دده د ملکيت له تصرف څخه منع کړي. د مثال په توګه، که کوم څوک په ناقانونه توګه د پنځلسو کلونو لپاره ملکيت په واک کې ولري، د ملکيت خاوند نشي کولای د تصرف کوونکی خلاف دعوا وکړي. په دې توګه، د ملکيت خاوند ښايي د خپلې ځمکې د کارولو حق له لاسه و رکړي.[326] خو، هغه هرومرو د ملکيت خپل حق له لاسه نه ورکوي. د ۹۶۵(۲) ماده وايي:" په منکر د حق دعوی په هر سبب چې وي د پنځلسو کلونو له تېرېدو ورو سته او د خاصو حکمونو په نظر کې نيولو او د لاندنيو استثناآتو په مراعات کولو سره، نه اورېدله کېږي."

د تصرف او مالکيت ترمنځ د توپير اهيمت په څه کې دئ؟ په دې هکله فکر وکړئ چې د تصرف کوونکی له مړينې وروسته د ملکيت سره څه کېږي؟ آيا ځمکوال يا د هغو وارثين بيا ملکيت په تصرف کې راوستلای شي؟

اوس د مدني قانون ۲۲۷۹ماده ولولئ. دا ماده هغه شرطونه يا مطالبات د ځان سره لري چې په ۹۶۷ ماده کې نشته: هغه شخص چې د د ملکيت له حق څخه د مالک د بې برخې کولو په لټه کې دی بايد د مخالفت يا ننګوونکي له هر ډول دعوی پرته د پنځلسو کلونو لپاره پر ملکيت باندې " مالکانه تصرف" اعمال کړي. لاندې موږ ګورو چې په څه ډول يو شخص د ۲۲۷۹مادې د " مالکانه تصرف" شرط پوره کوي.

**مدني قانون**

**۹۶۵ ماده:**

(۱) حق د زماني په تېرېدلو پای ته نه رسېږي.

(۲) په ملک د حق دعوی په هر سبب چې وي د پنځلسو کلونو له تېرېدو وروسته او د خاصو حکمونو په نظر کې نيولو او د لاندنيو استثنأ آتو په مراعاتولو سر، اورېدله کېږي:...

. .

**۲۲۷۹ ماد ه:** د ميراث په استثنی که څوک بې له انقطاع څخه د پنځلسو کلونو په اوږدو کښې پرله پسې د عقار يا کوم بل شي ذواليد وي او په هغې کښې بې د جګړې او معارضې مالکانه تصرف ولري، نو پر هغه باندې د ملکيت دعوی نه اورېدله کېږي.

[324] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 55. Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 1.
[325] Civil Code, Article 965(1).
[326] Civil Code, Article 965(2).

### ۳.۲ د تصرف شواهد: " مالکانه تصرف" او د دايمي تصرف  غوښتنې

د " مالکانه تصرف" په اړه مدني قانون دوه غوښتنې لري: (۱) د تصرف د اظهار لپاره د تصرف د اړينو شواهدو برابرول، او (۲) د شواهدو اندازه چې تصرف کوونکی يې بايد د پنځلسو کلونو په اوږدو کې برابر کړي.

د شواهدو ډول. د ملکيت له حق څخه د مال د مالک د اظهار د مخنيوي لپاره، تصرف کوونکی بايد د پنځلس کلن " مالکانه تصرف" شواهد برابر کړي. د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالۍ چارو د تنظيم قانون د " مالکانه تصرف" د مؤيداتو په هکله يو څه رڼا اچوي. په عمومي توګه، مالکانه تصرف له تصرف کوونکی څخه غواړي چې په ځمکه کې فزيکي تغيرات راوړي. د مثال په توګه، د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالۍ چارو د تنظيم قانون د ۸ مادې پر بنسټ باندې، يو شخص په ځمکه کې د کښت کولو يا ودانيو آبادولو له لارې تصرف څرګندولای شي.[327]

ستاسو له نظره ولې قانون د تصرف کوونکی څخه په ملکيت کې د فزيکي تغيراتو د رامنځته کولو غوښتنه کوي؟ د ملکيت د خاوند په هکله فکر وکړي. څنګه کېدای شي د ملکيت خاوند و پوهېږي چې ځمکه يې د بل کوم چا په تصرف کې ده؟

د شواهدو اندازه يا حجم: د دوامداره تصرف غوښتونکی دی. د مدني قانون د ۲۲۸۳ مادې له مخې، تصرف کوونکی دې ته اړتيا نه لري چې د " مالکانه تصرف" لپاره د پوره پنځلسو کلونو شواهد برابر کړي. ددې په عوض، محکمې د تصرف د پنځه لس کلنې مودې د پيل او پاي شواهد ګوري. هغوی ددې فرض کولای شي چې شخص ددې مودې په ترڅ کې ملکيت تصرف کړی و.[328] پردې سربېره، دا مهمه ده چې تصرف کوونکی د هغو د اصلي مالک په توګه له ملکيت څخه ګټه اخيستې وي. محکمې داسې فرض کولای شي چې د ملکيت تصرف دوامداره و.[329]

د ملکيت خاوندان د شواهدو په وړاندې کولو سره د دوامداره تصرف فرض ننګولی شي يعني دا چې تصرف کوونکی د ټولو پنځلسو کلونو په اوږدو کې ملکيت په واک کې نه درلود.[330] د مثال په توګه، کېدای شي يو مالک داسې شواهد ولري چې په واقعيت کې تصرف کوونکی د پنځلس کلنې مودې په پيل او پاي کې کوم بل ځای اوسېده او په دې صورت کې محکمه شواهد تر کتنې لاندې نيولای شي. د تصرف له لاسه ورکولو وروسته، پنځلس کلنه موده له صفر څخه پيلېږي، آن که تصرف کوونکی له اړونده ملکيت څخه شړل شوی هم وي. د تصرف کوونکی اشغال بايد دوامداره وي تر څو د مدني قانون ۲۲۷۹ ماده مصداق پيدا کړي. تصرف کوونکی نشي کولای د دوو بېلابېلو پړاوونو په يو ځای کولو سره د ملکيت اصلي خاوند له لوري د نوموړي  خلاف د دعوی مخنيوی وکړي.

په دې ترتيب، مدني قانون له تصرف کوونکی څخه ددې غوښتنه نه کوي چې د دوامداره تصرف شواهد وړاندې کړي. خو، مدني قانون بايد د دوامداره تصرف غوښتنه وکړي. که محکمه دا ومومي چې تصرف کوونکی د پنځلسو کلونو لپاره خپل ملکيت په تصرف کې نه درلود، د ملکيت مالک کولای شي د تصرف کوونکی له لوري د خپل ملکيت اشغال و ننګوي.

### ۳.۳ د تصرف کوونکی د ننګونو پنځلس کلن زماني محدوديت په اړه څلور استثنأآت

د تصرف کوونکی د ننګونو پنځلس کلن زماني محدوديت په اړه څلور استثنأآت شتون لري. لومړي درې استثناآت د ملکيت خاوندانو ته دا آسانوي چې تصرف کوونکی وننګوي. وروستی استثنأ، بيا د مالکانو له لوري د تصرف کوونکی خلاف دعوی په مخنيوي کې د تصرف کوونکی سره مرسته کوي.

[327] Civil Code, Article 2279.
[328] Civil Code, Article 2283.
[329] Civil Code, Article 2256.
[330] Civil Code, Article 2287.

لومړی استثنأ وراثت دی. د میراث په هکله شخره، د ملکیت خاوند د دعوی کولو لپاره پنځلس کاله نه بلکه دري دېرش کاله وخت لري.[331] ستاسو په نظر ولي مدني قانون د میراث په برخه کي زیاته موده په نظر کي نیولي ده؟

دوهمه استثنأ د حکومتي ځمکي تصرف دی. کله چي یو شخص د حکومت ملکیت اشغالوي، حکومت کولای شي په هر وخت کي تصرف کوونکی وننګوي، آن که تصرف کوونکی اړونده ځمکه د پنځلسو یا تر هغه زيات وخت په موده کي تصرف کړي وي.[332] په دي ترتیب د پنځلسو کلونو زماني محدودیت د حکومت په اړه د تطبیق وړ نه دی. دا ماد ه نورې زیاتوني هم لري چي لرغوني آثار او موقوف مالونه د استثناآتو په توګه پکښي لېست شوي دي.

درېیمه استثنأ دا وایي چي کېدای شي خلک ددې لپاره ښه عذر ولري تر څو تصرف کوونکی و نه ننګول شي. دا ډول عذر هغه څوک وړاندي کوي چي پر هغو باندي تکیه لري. د دعوی د وړاندي کولو زماني محدودیت په دريو حالتونو کي د پلي کېدو وړ نه دی: لومړی، که چېرې د مالک د غیابت لپاره قانوني عذر شتون ولري؛ دوهم، که شخص لېونی وي؛ او درېیم، که شخص صغیر وي.[333] په مشروع عذر کي د ظلم څخه د خلاصون په موخه له هېواد څخه تېښته راځي. بل مشروع عذر د جګړي مهال دی. خو، که شخص بېرته کور ته راستون شي او لېونی جوړ شي، یا صغیر د کبارت عمر ته ورسېږي، په دې صورت کي د دعوی د وړاندي کولو پنځلس کلن زماني محدودیت د پلي کېدو وړ دی.[334] دا په دې معنی دي چي ساعت د عذر سره متناسب ځنډېږي. دا شاني، هغه شخص چي د عذر پر بنسټ باندي دعوی وړاندي کوي، د امکان سره سم باید سمدلاسه نا قانونه تصرف کوونکی وننګوي.

وروستی استثنأ د تصرف کوونکی په ګټه ده چي اشغال شوي ملکیت یي را نیولی دی. که تصرف کوونکی د خوني خپلوانوپه حضور او نه مخالفت کي ملکیت رانیسي، په دې صورت کي خرڅلاو د اعتبار وړ دی او دا مهمه نه ده چي آیا تصرف کوونکی پنځلس کال اړونده ملکیت په اختیار کي درلود او که نه.[335] ( مدني قانون، ۲۲۸۲ ماده ). په دې ترتیب، مدني قانون د مالک خپلوانو ته دا دنده سپاري تر څو د ناقانونه لېږد په صورت کي مخالفت وکړي.

**د بحث وړ پوښتني**

۱ ) د اساسي قانون ۴۰ ماده در په یاد کړئ: " ملکیت له تېري څخه خوندي دی" آیا د مدني قانون ۹۶۵ ماده د اساسي قانون د ۴۰ مادي سره په ټکر کي ده؟ که داسي وي، ولي؟ آیا دا ممکنه ده وواېو چي ددي دوو مادو ترمنځ کوم اختلاف نشته؟

۲) کوم شی د ۹۶۵ مادې د دعوی د وړاندي کولو په اړه د پنځلس کلن زماني محدودیت د حق تأییدوي؟ آیا پنځلس کلن زماني محدودیت د ځینو حقونو په اړه د اهمیت وړ دی، د مثال په توګه، د ځمکي د دعوی په وړاندي د پور دعوی؟ ولي او ولي نه؟

۳) کېدای شي قاضیان د مدني قانون ۹۶۵ (۲) ماده په مختلف ډول تفسیر کړي. د مدني قانون د ۹۶۵ او ۲۲۷۹ مادو متن ولولئ. آیا دا دواړه مادې مالکیت لېږدوي؟ د مالکیت لېږد ولي اهمیت لري؟ در په یاد کړئ چي په عمومي توګه د ملکیت اصلي مالک له پنځلسو کلونو وروسته د تصرف کوونکی خلاف دعوی نشي کولای.

### ۳.۴ کله چي تصرف کوونکی د مالکیت دعوی کوي

در په یاد کړئ کله چي له ۱۹۷۸ تر ۲۰۰۰ کلونو پورې له افغانستان څخه خلک کډه شول، د هغوی زیاترو د خپل مالکیت رسمي سندونه تر شا پرېښودل. همدارنګه در په یاد کړئ چي د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالې چارو د تنظیم قانون په دې لټه

331 Civil Code, Article 2280(1).
332 Civil Code, Article 2280(2). See also Civil Code, Article 482(2) (specifying that for "public lands" "[p]ossession, attachment and ownership by laps of time of these properties shall not be permissible."
333 Civil Code, Article 2281.
334 Civil Code, Article 2281.
335 Civil Code, Article 2282.

کې دی چې له ۱۹۷۸ ز کال وروسته ملکیت بیا اعاده کړي.[336] د مدني قانون خلاف، یادشوی قانون تصرف کوونکو ته ددې حق ورکوي چې په ځینو حالاتو کې ملکیت خپل کړي.[337]

هغه شخص چې ملکیت یې اشغال کړی وي، کولای شي د مالکیت رسمي حق تر لاسه کړي آن که د ملکیت رسمي قباله هم و نه لري. د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالی چارو د تنظیم قانون د اتمې مادې پر بنسټ باندې هغه شخص ته چې ځمکه په تصرف کې لري، د مال د مالکیت حق ورکول کېږي په دې شرط که (۱) نوموړي ځمکه کرلې وي؛ (۲) د نوموړي ګاونډیان او ځایی حکومتي اداري پر ځمکه باندې د هغو تصرف تأیید کړي؛ او (۳) نور هېڅوک د ملکیت د مالکیت دعوی و نه لري. خو، که حکومت پر اړونده ځمکه باندې د تصرف کوونکي اشغال بې اعتباره نه کړي، نوموړي ته د ځمکې د خپلولو حق نه ورکول کېږي. [338] پر دې سربېره، حکومت کېدای شي له تصرف کوونکي څخه د پیسو د ورکړې غوښتنه وکړي. که چېرې ځمکه د زیات ارزښت وړ ( لومړۍ درجه ځمکه) او لویه ټوټه ( له لسو جریبو زیاته، یا ۲ هکتاره) وي، تصرف کوونکی باید د ځمکې قیمت د پنځو کلونو په اوږدو کې په قسطونو سره ورکړي.[339]

د مدني قانون د ۲۲۷۹ مادې او د د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالی چارو د تنظیم قانون تر منځ تعامل ته پام وکړئ. د مدني قانون ۲۲۷۹ ماده د ملکیت د خاوندانو له لوري د تصرف کوونکو له ننګوني څخه مخنیوی کوي، خو تصرف کوونکو ته د مالکیت حق نه ورکوي. د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالی چارو د تنظیم قانون ۸ ماده یوازې هغه وخت د پلي کېدو وړ ده چې هېڅوک د ملکیت مالکیت و نه ننګوي.

اوس لاندې وضعیت په پام کې ونیسئ: عبدل د ملکیت یوه ټوټه لري چې د حبیبی له خوا ۱۶ کاله تصرف شوې ده. آیا عبدل د خپل ملکیت په اړه له ۱۶ کلونو وروسته د ننګوني په وړاندې کولو سره د حبیبي د مالکیت حق مخنیوی کولای شي، که څه هم د مدني قانون ۲۲۷۹ ماده د حبیبي د اشغال د ننګولو په وړاندې د عبدل مخنیوی کوي؟ لکه چې تاسو ددې پوښتنې په هکله پوهېږئ، بیا نو د د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالی چارو د تنظیم قانون او د مدني قانون د ۲۲۷۹ مادې ترمنځ د تعامل څرنګوالی وڅېړئ. ددې پوښتنې ځواب د مدني قانون د ۲۲۷۹ مادې د وسعت سره تړاو لري. په ۲۲۷۹ ماده کې د زماني محدودیت په نظر کې نیولو سره، آیا د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالی چارو د تنظیم قانون ۸ ماده د عبدل له لوري د ننګوني باوجود حبیبي ته د مالکیت د قایمولو اجازه ورکوي.

## نتیجه

د افغانستان د اساسي قانون له مخې، " ملکیت له تېري څخه خوندي دی". دا څېړکي د اساسي موضوع په اړه دوه استثنأآت په نظر کې لري. لومړی، دلته په دې هکله بحث وشو چې څه وخت حکومت خصوصي ملکیت د هغو د مالک له اجازې پرته اخیستلای شي، یعني استملاک. ددې کار د ترسره کولو لپاره حکومت باید درې شرطونه تر سره کړي: (۱) حکومت باید ملکیت د "عامه ګټو د تأمین په مقصد" استملاک کړي؛ (۲) حکومت باید مالک ته " مخکنی او عادلانه بدله" تأمین کړي؛ او (۳) حکومت باید په دې هکله له واکمنې محکمې څخه حکم تر لاسه کړي.[340] په عمومي توګه، د "عامه ګټو" د شرطونو د پرځای کولو لپاره، حکومت باید د ټولنې د ګټې لپاره د ملکیت کارولو لپاره پلان جوړ کړي. د مثال په توګه، حکومت بنایي دا توان ولري چې ملکیت د روغتون یا لویې لارې د جوړولو لپاره و کاروي. البته حکومت به دا کار و نه کړي چې د حکومت مامورینو ته د کورونو جوړولو لپاره د یو شخص ملکیت استملاک کړي. د کورونو له جوړولو څخه اساسي ګټه د هر څه نه مخکې مامورینو او د هغوی کورنیو ته رسېږي نه ټولنې ته. حکومت همدارنګه باید د ملکیت خاوند ته تر استملاک د مخه د ارزښت وړ بدله ورکړي. حکومت کولای شي د ځمکې مالک ته پیسې ورکړي، هغه کولای شي د ځمکې خاوند ته ځمکه ورکړي، یا کولای شي پیسې او ځمکه دواړه ورکړي. د جبران مبلغ باید د هغې

---

[336] Norwegian Refugee Council, *supra* note 278, at 55. Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 1.
[337] See Civil Code, Article 2279.
[338] Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 8(2).
[339] Law on Managing Land Affairs of 2008, Article 8(2).
[340] Constitution of Afghanistan, Article 40.

ځمکي د ارزښت سره برابر وي چي حکومت يي استملاک کوي. د ملکيت ارزښت د مشخص کولو لپاره، حکومت بايد د ځمکي موقعيت، د هغی کيفيت او په هغي باندې جوړښتونه په پام کې ونيسي.

همدارنګه په دې څېرکي کې په دي هکله هم بحث وشو چي کله يو شخص کولای شي د مالک له اجازې پرته د يو چا په ملکيت کې پاته شي. کله چي يو شخص دا ثابته کړي چي نوموړی د مالک ملکيت د پنځلسو کلونو او يا تر هغه زياتي مودې لپاره اشغال يا کارولی دی، د ځمکي خاوند نشي کولای چي د بل چا له لوري د هغه د ځمکي غلط اشغال وننګوي. پر ځمکه باندې د يو شخص د حضور د ننګولو په اړه پنځلس کلن زماني محدوديت ځلور استثناآت لري. د مثال په توګه، که مالک د تصرف کوونکي دننګولو په اړه مشروع عذر ولري، په دې صورت کې پنځلس کلن محدوديت د پلي کېدو وړ نه دی. مشروع دليل کېدای شي د ١٩٧٨ - ٢٠٠٠ کلونو په اوږدو کې له هېواد څخه د مالک تېښته وي.

در په ياد کړئ چي د قانون د ا برخه ډېره ښه نه ده تعريف شوې. قانون د "عادلانه بدلي"، "عامه ګټو"، لندمهال يا موقت"، يا "ملکيت" د اصطلاحاتو وسعت نه دی تعريف کړی. د مثال په توګه، آيا اساسي قانون د بالقوه ګټي ملکيت لکه له پلار څخه په ميراث پاته شوې ځمکه کې د زوی ګټه، څخه دفاع کوي؟ څه وخت د حکومت له لوري د ملکيت مؤقت کارول پر دايمي کارولو باندې بدلېږي؟ د ترکيي په هکله مثال در په ياد کړئ، چي پکښي حکومت د ښوونځی د ښارګوټي لپاره خصوصي ځمکه کاروله خو د ملکيت خاوند ته يي هم اجازه ورکوله چي د ځمکي رسمي قباله د ځان سره وساتي. که پر خصوصي ملکيت باندې د حکومت فعاليتونه د هغو د ارزښت د کمېدو يا د مالک له لورې د هغو د کارولو د محدوديت سبب شي، آيا حکومت د ځمکي مالک ته د ضررد جبران په ورکولو مکلف دی؟

اوس د افغانستان د ځمکي وروستی تاريخ يعني له ١٩٧٨- ٢٠٠٠ ز کال پورې در په ياد کړئ چي په ترڅ کې يي افغانانو خپل هېواد پرېښود او په قدرت کې پاتي کسانو په ناقانونه توګه ځمکي تر لاسه کړې، او د ملکيت ډېر سندونه جعل شول. همدارنګه، د مالکيت او ملکيت د لېږد اړوند څېرکيو څخه د ځمکي د وثيقي کولو توضيحات در په ياد کړئ. آيا د پنځلس کلنې مودې د ننګوني د محدوديت په اړه د مشروع عذر استثنأ د ياد شوي زماني پړاو په ترڅ کې د هغو خلکو اندېښنو ته ځواب ويلای شي چي ځمکي يې له لاسه ورکړي؟ آيا د "مشروع دليل" استثنأ د ځمکي د حق د خونديتوب په اړه حکومتي موخې ته رسېدل لا نوره هم نه ستونزمن کوي؟

## شپږم څپرکی : د ملکیت د کارولو محدودیتونه

### سریزه

فکر وکړی،چې تاسو په خپل کور کې یاست او چای مو چمتو کړی دی.تاسو دخپل میز ترڅنګ ناست یاستئ او بوره لړئ خو وړاندې تر دې چې د چای یو غوړپ وکړئ د بد بوی احساس کوی.تاسو دکورپه شا او خوا کې د بوی د سرچینې پیداکولوپه لټه کې کیږئ خو هیڅ شی نه مومئ.په پای کې د خپل کور له کړکۍ څخه بهر ګوری او خپل ګاونډی فهیم وینئ، چې دخپل کور ترشا په یو لوی بیرل کې څه شی اچوي. بهر ته د کتلو په مهال تاسو ته روښانه کیږي،چې همدا بیرل د بد بوی سرچینه ده. تاسې له فهیم سره روغبړ کوی او له هغه څخه پوښتئ چې په څه مصروف دی. نوموړی تاسو ته وایي چې داضافي پیسو پیداکولو لپاره یې پریکړه کړې،خپل کوردځرمنو په آش خونه، په کوم ځای کې چې دځارویوله څرمنوڅخه چرم جوړیږي بدل کړي.تاسې فهیم ته وایی هغه بوی چې د څرمنو پاکولو له ځای څخه راځي تاسو ځوروي او د چای څښلو په مهال تاسو ته مزاحمت کوي.فهیم په ډیرې چټکۍ سره تاسو ته ځواب درکوي چې دا د هغه ملکیت دی او هغه کولای شي ورڅخه هرډول چې غواړي ګټه پورته کړ. هغه تاسو ته وایي چې نوموړی اضافي پیسو ته اړتیا لري او زیاتوي چې په ټولنه کې دڅرمنو کمښت دی او په دي توګه هغه غواړي له ټولوسره دخپل نوي کاراوبار په وسیله مرسته وکړي .



تاسو د خپل ځان سره وایی چې هو دا د فهیم ملکیت دی خو آیا هغه کولای شي له خپل ملکیت څخه د ګټې اخیستلو په ترڅ کې ګاونډیان نا آرامه کړي؟ آیا دا د اهمیت وړ خبر ده چې نوموړی اضافي پیسو ته اړتیا لري او یا دا چې ادعا کوي د چرم جوړولو له لارې له ټولنې سره مرسته کوي؟ تاسو په یادلری چې د ملکیت درلودل تاسو ته حق درکوي له خپل ملکیت نه ګټه پورته کړی او په دې وجه فکر کوی، ښایي فهیم په حق وي. خو نتیجه یې مناسبه نه ښکاري.

تراوسه پورې مو په دې درسي کتاب کې دا زده کړل چې د مالکیت سره یوشمیرحقونه تړلي دي . د مالک په توګه تاسو دا زده کړل چې خپل ملکیت وپلوری یایې په اجاره ورکړی.همدارنګه تاسې زده کړل چې له خپل ملکیت څخه دنورو د بې برخې کولو حق لری.ددې ترڅنګ تاسوته څرګنده شوه چې د ملکیت درلودونکي په توګه حق لری دخپل ملکیت له

سرچينو څخه ګټه پورته کړی او حق لری،څنګه چي په عمومي توګه در ته مناسبه ښکاري، له خپل مال څخه ګټه واخلی . خو هغه حقونه چي تاسو يي په هکله معلومات تر لاسه کړل، مطلق نه دي. په دې څپرکي کي، به تاسو ددې حقونو د محدوديتونو په هکله معلومات تر لاسه کړئ.

خو قانون بايد ترکومه بريده ستاسو د ملکيت حق محدود کړي؟ تاسو لا له وړاندې زده کړي،چي د ملکيت د حق شتون له اقتصادي ودې، د ثبات له هڅولو او د ټولو له هوسايني سره مرسته کولای شي.خو له بده مرغه چي تاسو د خپل ګاونډي فهيم د نوي کار و بار له بد بوی څخه دا ومونډله چي ځيني وختونه د يو شخص له لوري له خپل ملکيت څخه ګټه اخيستل نوروته ضرر رسولای شي.دا لومړی دليل دی چي ولي قانون بايد له ملکيت څخه ديو شخص د ګټي اخيستلو بڼه او ډول محدود کړي او په دې توګه نورو ته د ضرر رسولو مخنيوی وکړي.ځيني وختونه دې ته اړتيا ليدل کېږي چي ديو شخص دحقوقو دخونديتوب لپاره بايد دبل شخص حقوق محدود کړای شي .

ددې څپرکي په لومړی برخه کي به تاسو په دې هکله معلومات تر لاسه کړئ چي له ملکيت څخه پر داسې ګټې اخيستلو باندې چي نورو ته په کښې دضرر رسيدو مخه ونيول شي، قانون څه ډول محدوديتونه وضع کړي دي.دا موضوع د خصوصي ګټوپه اړه د ملکيت د کارولو د محدوديت په نوم يادوو.تاسو به دا زده کړئ چي اساسي قانون، موضوعه قوانين او حنفي فقهه له ملکيت څخه پر داسې ګټه اخيستلوباندې چي دنورو ګټې اغيزمنوي، څه ډول مهم محدوديتونه وضع کوي.همدارنګه تاسي به زده کړی چي په ځانګړو حالتونو کي قانون د تاسو له ملکيت څخه د نورو اشخاصو د بې برخه کولو مخه نيسي .

ددې څپرکي په دوهمه برخه کي به تاسو دا زده کړی چي عامه ګټو ته د ضرر رسولوپه صورت کي، له خپل ملکيت څخه پر ګټې اخيستلو باندې قانون څه ډول محدوديتونه وضع کړي. دا موضوع د عامه ګټو په اړه د ملکيت کارولو د محدوديت په نوم يادوو.تاسو به زده کړی چي اساسي قانون او موضوعه قوانين دعامه ګټو خونديتوب ته ډيرازرښت ورکوي او له همدې امله کيدای شي،د ملکيت له ځينو حقوقو څخه ګټه اخيستل محدود کړي. په پای کي به د ناحيه بندي په هکله بحث وکړو.په ياد ولرئ چي کيدای شي په ځينو حالتونو کي خصوصي لوري د قراردادونو په وسيله له ځمکي څخه دګټې اخيستلو حق محدود کړي.داډول قرارداونه په دې څپرکي کي شامل نه دي خو دومره پوه شئ چي ددې ډول قراردادونو احکام کيدای شي شتون ولري .

## 1 . د خصوصي ګټو په اړه د ملکيت د کارولو محدوديتونه

په دې برخه کي به موږ په دې بحث وکړو چي قانون هغه حالتونه څرنګه حل کوي،چي ديو شخص له ملکيت څخه دګټې اخيستلو په صورت کي خصوصي ګټوته ضرر رسوي.لکه دهغه حالت په څير چي ستاسو ګاونډي فهيم پريکړه کړې وه تر څو خپل کور دڅرمنو پاکولو پر آش خونه باندې بدل کړي. موږ به لومړی پر موضوعه قوانينو باندې،چي خصوصي ضرر د شتون له امله يي د ملکيت د کارولو پر حق باندې محدوديتونه وضع کړي دي بحث وکړو.بيا به موږ دا روښانه کړو چي دا ډول حالتونه داسلامي حقوقو له مخې په څه ډول حل کيږي. په پای کي به موږ په هغو حالتونوباندې هم بحث وکړو چي په کښې د خصوصي ګټو شتون د ملکيت له خاوند څخه هغه حق اخلي ،چي له مخې يې له خپل ملکيت څخه نور وګړي بې برخې کوي.د خصوصي ګټو په هکله ددې برخې له لوستلو څخه وروسته فکر وکړئ که تاسي قاضی شي او ستا اوستاسو د ګاونډي فهيم ترمنځ پيښه شوې قضيه تاسو ته راجع شي نوتاسو به د هغو د څېړلو لپاره کوم لاملونه په پام کي ونيسی .هڅه وکړی، ترڅو معلومه کړی چي د نظر وړ لاملونو د قانون له مخې هم د اهميت وړ وي .

### ۱.۱ ګاونډيانو ته ضرر

دابرخه هغه قانون چي له ځکمي نه د ګټي اخيستلو په صورت کي نورو ته دمستقيم يا غيرمستقيم ضرر له موضوع څخه بحث کوي، وڅيړي. مستقيم ضرر په هغه حالت پورې ترلی ګڼل کيږي چي په کي د يو شخص ملکيت ته فزيکي ضرر اوړي.دبيلګي په توګه ناولتيا (فاضل آب) چي د يو شخص له ځمکي څخه د بل شخص ځمکي ته بهيږي. لکه د تنين ماده

چي د فهيم دځرمنو پاکولو له ځای څخه ستاسو ځمکي ته ورسېږي او ستاسو باغ له منځه ولاړشي.غير مستقيم ضرر په هغو حالتونو پورې اړه لري چي په کښي هوا ککړه او يا دبل شخص ځمکي ته بد بوی ورسېږي. لکه ستاسو د ګاونډي فهيم د څرمنو پاکولود ځای په قضيه کي.

خولوموړی راځي لږ پر دې باندې په ژورتيا سره تم شو چي ولي قانون له ملکيت څخه ستاسو د ګټي اخيستلو په اړه انديښمن دی؟ موږ داپوښتنه وړاندې مطرح کړې وه چي که تاسو ملکيت ولرئ، آيا کولای شئ چي له هغه څخه په خپله خوښه ګټه پورته کړی؟ بې له شکه لکه چي د قانون په اړه له نورو بحثونو څخه تاسو پوهېږئ، په دې هکله ځواب همېشه روښانه نه وي. خو راځی لومړی دهغه څه په اړه چي څرګند دي، بحث وکړو.ددې لپاره چي دا کار ترسره کړو، لومړی بايد د دايمي منع شوو او په ځانګړو حالتونو کي منع شوو شيانو ترمنځ توپير وکړو.ځيني کړني پرته له دې چي په کوم ځای کي ترسره کيږي، دتل لپاره منع دي. غلا، سپکاوی او وژنه، هغه کړني دي چي په ښکاره توګه د قانون له مخي منع شوي.که يو عمل په يوبل ځای کي غيرقانوني وي نوداعمل په يقيني ډول د خصوصي ملکيت په برخه کي غيرقانوني دی.دابه ډېره د تعجب وړ وي که يوه غيرقانوني کړنه لکه غلا له دې امله چي په خصوصي ملکيت کي ترسره شوې، په ناڅاپي توګه قانوني وګڼل شي.د هغو حالتونو معلومول چي په ترڅ کي يې د قانون خلاف کړني ترسره شي که هغه په عامه ملکيت کي وي او يا خصوصي، آسانه دي . خو دا هروخت دومره آسانه نه ده. ځيني ستونزمن حالتونه هم شته چي په کښي ترسره شوې کړني يوازې په ځانګړو حالتونو کي منع شوي وي.دا داسي حالتونه دي چي به په کښي بله کړنه بشپړ قانونيت ولري، لکه د څرمنو آش خونه چي له امله يې د ګاونډي له خوا د خپل ملکيت پر کارولو باندې اغېز ښندي، غير قانوني دي .

خوهغه څه،چي په "ځانګړو حالتونو کي دمنع شوو" کړنو حل د "دايمي منع شوو" کړنو دحل په پرتله ډېر ستونزمنوي دادی چي په دې ډول کړنو کي دملکيت د خاوند او د ټولني دواړو ګټي له ګواښ سره مخامخ کيږي.يعني دا د فهيم په ګټه ده چي په خپله حويلی کي دځرمنو آش خونه ولري او دا د ټولني په ګټه ده چي فهيم له څرمنو څخه چرم توليد کړي او دټولني غړي ورڅخه ګټه واخلي.داسيالی کوونکي ګټي هغه څه دي چي موږ هڅه کوو په دې برخه کي د حل لاره ومومو.له نېکه مرغه، مدني قانون او حنفي فقهه موږته داسي وسايل برابروي چي په د هغو په مرسته داډول سيالی کوونکو ګټي لپاره د حل لاره پيدا کړو.

خو بيا هم پوښتنه په خپل ځای پاتي ده او هغه داچي قانون ولي ددې ډول حالتونو په اړه انديښنه لري؟ يوځواب يې دادی چي د ګاونډيو ترمنځ دسوله ايزو اړيکو ټينګول د هرډول حقوقي سيستم يوه موخه ګڼل کيږي.د مقرراتو له مخي تاسو له خپل ملکيت څخه د ګټي اخيستلو په وسيله پرخپل ګاونډی باندې څه ډول اغېز ښندی، قانون د ګاونډيانو ترمنځ دوستانه اړيکو ته پراختيا ورکوي.د ګاونډيانو ترمنځ ددې ډول دوستانه اړيکو شتون دهرې ټولني لپاره ضروري ګڼل کيږي.تاسي کولای شی د فضليت له کتاب څخه دښه سلوک او اړيکو په اړه حديث شريف در په ياد کړئ.ابوهريره(رض) دګاونډيانو په وړاندې زموږ د دندو د اهميت په اړه ويلي دي: "جبرئيل عليه سلام به تل ماته (محمد (ص)) د ګاونډی په اړه توصيه کوله تر دې چي ما داسي انګېرله چه هغه په ميراث کي برخوال ګرځوي"[341] يو دليل چي قانون له ځمکي نه د ګټي اخيستلو په اړه دا ډول مقررات وضع کوي دادی چي د حديث سره سم له ګاونډيو سره ښه سلوک ته پراختيا ورکړل شي.

بل دليل او دضرر دمخنيوي عمومي موخه ده.هغه قوانين چي دهمېشنيو منع شوو کړنو لکه غلا مخه نيسي، په پراخه کچه شتون لري.ځکه چي هغوی د ضرر مخنيوی کوي. يعنی کله چي غلا صورت نيسي نو يوچاته يې ضرر رسيږي. په همدې توګه کيدای شي تاسو له خپل ملکيت څخه په داسي ډول ګټه واخلی لکه د څرمنو پروسس کول چي د بدبوی توليدوي او ګاونډيانو ته يې ضرر رسېږي او ټولني ته ددې ډول ضرر په مخنيوي کي ګټه ده. ددې برخي د لوستلو په مهال، هڅه وکړی چي دا دوه منطقي انګېرني په ياد وساتئ :لومړی دګاونډيانو ترمنځ سوله ييزو اړيکو ته پراختيا ورکول؛ او دوهم، د ضرر مخنيوی کول .

---

[341] Raj Bhala, *Understand Islamic Law*, p. 494 (2011).

### ۱.۱.۱موضوعه منابع ـ فاحش ضرر ته يوه كتنه

اوس راځئ چې د قانون د موضوعه منابعو په بحث پيل و كړو.د افغانستان د۱۹۷۷ زكال مدني قانون د خصوصي ضرر د مخنيوي په موخه د ملكيت د محدوديتونو په اړه دقانون اصلي سرچينه يا منبع ده.۱۹۰۰ ماده د مالكيت له حق څخه بحث كوي او وايي" يوازې مالك كولای شي چې د قانون د حكمونو په حدودو كې " له خپل ملكيت څخه گټه واخلي. هغه ستونزمنه پوښتنه چې بايد ځواب شي داچې" د قانون د حكمونو په حدودو كې" څه معنی وركوي؟ دا حكم په ښكاره مخكې ياد شوې" دايمي منع شوی" كړنې په بر كې نيسي خو داحكم د نورو كړنو په اړه په څه ډول پلي كيږي؟.د قانون هغه ماده چې دې پوښتني ته له ځواب ويلو سره مرسته كوي هغه ۹ ماده ده.

**مدني قانون**

۹ ماده :

(۱) كه څوک د خپل حق څخه تېريوكړی ضمان پرې لازميږي

(۲) له حق څخ تېری په لاندنيو مواردو كې پيداكيږي:

۱ ـــ د عرف او عادت مخالف كارونه

۲ ـــ د بل په حق باندې د تېري د قصد لرل

۳ ـــ د شخص د ښېگڼو جزئي والی نسبت هغه ضرر ته چې بل ته يې رسوي

۴ ـــ د ښېگڼې ناروا والی

۹ ماده يوعمومي حكم دی اونه يوازې دملكيت حق بلكې له حقوقوڅخه دگټې اخيستلوټول موضوعات په بركې نيسي.ويل كيږي چې موږ كولای شو،له عمومي حكمونوڅخه د گټې اخيستلو په وسيله دملكيت حق په اړه دمحدوديتونو لپاره يو لړاساسي اصولو ته ورسيږو.۹ ماده له حق څخه د ناوړه گټې اخيستنې په نوم يوڅه ترپوښښ لاندې نيسي. كه چيرې تاسو د مكلفيتونو په هكله مطالعه كړې وي هرو مرو به ددې اصطلاح سره مخامخ شوي ياستئ.۹ وايي كه آن تاسو يو حق هم ولرئ، خو تاسو بايد له هغو څخه سرغړونه يا ناوړه گټه پورته نه كړئ او كه چيرې تاسو له خپل حق څخه ناوړه گټه پورته كړئ نوپه دې صورت كې تاسو دزيان مسوليت په غاړه لرئ.په لنډ ډول حق مطلق نه دي .

اوس راځئ د۹ مادي د حكمونو په پلټولو سره دا معلوم كړو چې د مالكيت له حق څخه ناوړه گټه اخيستل له ځانه سره څه لري. په بل عبارت، ۹ ماده څنگه د ملكيت له حق څخه گټه اخيستل محدودوي. تاسو به ووينئ چې ۹ ماده څلور كړنې له حق څخه ناوړه گټه بولي.لومړی له حق څخه ناوړه گټه اخيستل هغه وخت صورت نيسي چې په ځانگړې طريقه له ياد حق څخه گټه اجازه و نه لري.په لومړي سركې دا موضوع يوڅه پيچلې ښكاري خو دا داسې نه ده. غيرمجازه گټه غيرقانوني گټه ده.د مثال په توگه ستاسو پر ځمكه باندې د ترياكو كښت يوه غير مجازه گټه ده له دې امله دا له حق څخه ناوړه گټه اخيستل دي. دوهم، د دود او دستور پرضد يوه كړنه له حق څخه ناوړه گټه اخيستل دي.دريم، كه چيرې له حق څخه ستاسو گټه اخيستنه د نورو له حق څخه سرغړونه وي، نو دا له حق څخه ناوړه گټه اخيستل دي. اوس موږ د ۹ مادي د حكمونو له مخې يوه اساسي قاعده رامنځ ته كوو- كله چې د ملكيت له حق څخه گټه اخيستل غيرقانوني وي نوپه دې صورت كې قانون د ملكيت له حق څخه گټه اخيستل محدودوي، كله چې دملكيت له حق څخه گټه اخيستل دود ترپښو لاندې كوي او د نورو حقوق ماتوي، په دې صورت كې قانون د ملكيت له حق څخه گټه اخيستل محدودوي .

خوڅرنگه چې تاسو به په چټكی سره ووينئ له اضافي شواهدو پرته به دا قاعده ستاسو سره تل ددې پوښتنې په حل كې مرسته و نه كړي چې كوم شی قانوني او كوم شی غيرقانوني دی. د مثال په توگه، آيا د څرمنو د آش خونې جوړول يوه

غیرمجازه ګڼه ده (آیا داغیرقانوني ده)؟ نه، آیا د څرمنو د آش خوني جوړول د دود خلاف کار دی؟ په احتمالي توګه، نه.آیا تاسو ددې حق لرې چې په خپل کورکي کښینئ او له خپل چای څخه ، د ګاونډي د څرمنو آش خوني څخه د راپورته شوي بد بوی پرته، خوندواخلئ؟ په احتمالي توګه، نه .

له نیکه مرغه، لکه چې تاسو مخکې ولیدل، ۹ ماده موږ ته یو بل معیار په ګوته کوي چې له مخې یې موږ په دې هکله پریکړه کولای شو چې آیا له حق څخه سرغړونه ترسره شوې ده او که نه.دا ماده وایي که چیرې له حق څخه د ګټې اخیستلو لپاره کارول شوی طریقه کوم بل شخص ته ضرر ورسوي او د رسېدلي ضرر په پرتله د شخص ګټه ډیره کمه وي، له حق څخه په غیرقانوني ډول استفاده شوې(له حق څخه ناوړه ګټه). په دې ډول موږ ویلای شو، که چیرې تاسو د داسي یو حالت سره مخامخ شئ چې پکښې یوشخص له خپل ملکیت څخه ګټه اخلي خو د ملکیت دا کارونه بل شخص او یا دهغه ملکیت ته ضرر رسوي، په دې صورت کې تاسو د رسیدلي ضرر اندازې ته پام وکړئ. بیا د مالک د ملکیت د کارولو له حق څخه ترلاسه شوې ګټه د هغو څخه د رامنځ ته شوي ضرر سره پرتله کړئ.که چیرې ګټه دزیان په پرتله کمه وي نو په دې صورت کې دا کړنه غیرقانوني ده.هغه قاعده چې موږ ورته رسیږو داده : چې که له ملکیت څخه ګټه اخیستل نورو ته ضرر ورسوي او دا ضرر د ملکیت کارولو طریقې څخه تر لاسه شوې ګټې په پرتله ډېر زیات وي، دا کړنه غیر قانوني ده.

دا قاعده زموږ د بحث لپاره ښه پیل دی، تاسو کولای شئ یو مقیاس یا تله وټاکئ.له یوه لوري، په یوې ځانګړې طریقې سره د خپلې ځمکې په کارولو کې د مالک ګټه ده او له بل لوري ددې ډول ګټې اخیستلو له امله درامنځ ته شوي ضرر اندازه ده.هرڅومره چې د ضرر اندازه زیاته وي په هماغه اندازه د ملکیت د خاصې طریقې کارولو خلاف د تلې پله درنده وي.که چیرې ضرر په کافي اندازه وي او ګټه کمه وي نوپه دې صورت کې دا ډول ګټه اخیستنه منع ګڼل کیږي. تاسو به دا واورئ چې د ګټو ترمنځ دا انډول د ضرر او ګټې د تحلیل سره تړاو لري. مدني قانون د زیاتې کچې د ضرر اړوند کړنې سره تماس نیسي. د انډول آزموینت له تر سره کولو وروسته (د لګښت- ګټې تحلیل) موږ دا وموندله چې ضرر له اجازې وړ اندازې څخه خورا زیات دی ، دا ډول ضررد فاحش ضرر په نوم یادیږي .

**مدني قانون**

۱۹۰۶ ماده : فاحش ضرر پخوانی وي او که نوی د مینځه وړل کیږي

۱۹۰۷ ماده : فاحش ضرر هغه دی چې د بنأ د ماتېدو یا نړېدو سبب شي یا دا چې د اصلي احتیاجونو چې د هغې د مقصوده ګټو څخه عبارت دی، مانع و ګرځي

لکه چې تاسو په ۱۹۰۷ ماده کې کتلای شئ، مدني قانون له فاحش ضرر په عمومي دول تعریفوي. په دې تعریف کې مدني قانون موږ ته د فاحش ضررردوه کتګوري په ګوته کوي.لومړی، هغه ضررچې د یوبل شخص د ملکیت د له منځه تلو سبب شوی وي، او دوهم، هغه ضررچې یو مالک د خپل ملکیت په اړه د نظر وړ ګټې د تر لاسه کولو مخنیوی کوي.د نظر وړ ګټه دهغې ګټې په دې معنی نه ده چې مالک او یا ګاوندیان یې له ملکیت څخه د ترلاسه کولو نیت لري.بلکه دا هغه ګټه ده چې قانون یې د ملکیت د ځانګړو ډولونو په اړه ټاکي. د مثال په توګه، قانون وایي چې د کورنی لپاره د استوګنې د ملکیت ګټه په امن او هوساینه کې ژوند کول دی. اود یوې کرنیزې ځمکې د نظر وړ ګټه د مالک لپاره داده چې د کروندې په توګه ورڅخه ګټه پورته کړي .

تاسي له ۱۹۰۷ مادې څخه پوهیږئ چې د یو عمل په نتیجه کې د رامنځ ته شوي ضررد ارزونې لپاره مدني قانون موږ ته یوعمومي حکم راکوي.عمومي حکم د پراخو معیارونو یوه مجموعه ده چې د هغو په واسطه موږ دا معلومولای شو چې یوه کړنه فاحش ضرر لري او که نه. دعمومي حکمونو ترڅنګ، مدني قانون همدارنګه فاحش ضرر د ځانګړو حالتونو په اړه حکمونه هم لري. داهغه حالتونه دي چې د حکومت د پریکړې کولو په نتیجه کې په اتوماتیک ډول فاحش ضرر

تشکیلوي. حکومت موږ ته داحالتونه آسانه کړي دي.که تاسو له دي ډول حالتونو سره مخامخ شی نو په آسانی سره ویلای شی چي ضررله حده زیات دی.په دې ډول حالتونو کي د کټي او ضررتحلیل ته اړتیا نشته ده .

ددې خبرې په یاد ساتل مهم دي چې د حکمونو دا مشخص موارد فاحش ضرر په ګوته کوي خو دا د هغو کړنو بشپړ لیست نه دی چي فاحش ضرر جوړکړی شي. کیدای شي تاسو د موضوعه قوانینو د تفسیرولو په ترڅ کي د بشپړ او تشریحي لیست ترمنځ اختلاف سره آشنا شوی یاستئ . بشپړ لیست داسې یو لیست دی چې د هرځانګړي حالت او عمل بیلګه ولري. تشریحي لېست دځانګړو حالتونو او کړنو بیلګي برابروي خو د هرحالت او عمل ځانګړې بیلګې نه وړاندې کوي.د مثال په توګه، که یوڅوک له تاسو څخه پوښتنه وکړي چې کوم ښارونه مو لیدلي دي؟ او تاسو ځواب ورکړی کابل، هرات، کندوز، مزارشریف، قندهار،غزني او فراه. ستاسو ځواب د هر هغه ولایت یادونه وکړه چې تاسو لیدلی دی او له همدې امله ستاسو ځواب بشپړ دی . خو که تاسو ځواب ورکړي چي "زه د کابل او هرات په شمول لویو ښارونو ته تللی یم". په دې صورت کې کوم ښارونه چي تاسو لیست کړل د هغو ښارونو توضیح یا څرګندونه کوي کومو ته چې تاسي تللي یاست .

مخکې تر دې چې د فاحش ضرر په اړه د۱۹۰۷ مادې د عمومي حکمونو تطبیق په تفصیل سره روښانه کړو، موږ به لومړی دځانګړو حالتونو حکمونه وڅیړو. موږ به یوحکم په تفصیل سره وڅیړو چې تاسو ته ددې ذهنیت درکړي چې په ځانګړو حالتونو کي یو حکم په څه ډول عملي کیږي او وروسته به په چټکی سره دی ته دوام ورکړو چې څه په برکې نیسي. لومړی، د مدني قانون ۱۹۰۸ ماده د یوځانګړي حالت په اړه حکم دی. دې مادې ستاسو د ګاونډي کورته د روښنایي د لاس رسی مخنیوی، منع کوي. داماده وایي،"له کور څخه په کلي توګه د رڼا مانع، فاحش ضرر ګڼل کیږي".دایو له هغو حالتونوڅخه دي چې تاسو کولای شی د کټي او ضررله تحلیل له مخکني بحث پرته، فاحش ضرر مشخص کړی. د بشپړې رڼا مخنیوي فاحش ضرر رامنځ ته کوي. کله چې موږ ته فاحش ضرر شتون څرګند شو، نو بیا موږ دحل لپاره ۱۹۰۶ مادي ته ،چي وایي " فاحش ضرر پخوانی وی او که نوی د مینځه وړل کیږي" مراجعه کوو.دا چلند به د روښنایي د بندولو یا مخنیوی په لیرې کولو سره پای ته ورسیږي.

**د بحث وړ پوښتني**

۱ - آیا تاسو د۱۹۰۷ مادې د عمومي حکم ثابتولای شئ چې له کور څخه په بشپړ ډول د رڼا مانع کېدل فاحش ضرر دی؟

۲ – هغه ضرر چې د رڼا د بندیدلو په صورت کې رامنځ ته کیږي، مستقیم ضرردی او که غیر مستقیم؟

۳ - تاسو یو مشتري لرئ او نوموړی تاسو ته هر وخت وایي چې د کور رڼا یې د هغه د ګاونډي ودانی بنده کړې.آیا په دې اړه ۱۹۰۸ ماده د پلي کېدو وړ ده ؟که نه، بیا نو کوم حکم د پلي کېدووړ دی؟

**احتمالي ځوابونه**

۱ - د۱۹۰۷ مادې عمومي حکم وایي چې ضرر هغه وخت فاحش ضرر دی چې مالک د اړونده ملکیت د نظر وړ ګټې د ترلاس کولو مانع ګرځي. بشپړه رڼا د ملکیت خاوند له لوري د خپل ملکیت څخه د نظر وړګټې اخیستنې مخنیوی کوي.

۲ - داچې رامنځ ته شوی ضرر فزیکي نه دی،لکه ستاسو د ګاونډي ځمکي ته چټلاوبو بهېدل، دا ډول ضررغیر مستقیم دی.

۳ - داچې ۱۹۰۸ ماده یوازې رڼا په " بشپړه توګه" بندوي، ستا ګاونډی کیدای شي استدلال وکړي چې په دې حالت کې ۱۹۰۸ ماده د تطبیق وړ نه ده ، ځکه ستاسود تولو مشتریانو رڼا نه ده بنده شوې بلکه یوازې د " نژدې تولو". د قانون له محدودې مطالعې څخه داسې ښکاري چې د ۱۹۰۸ مادې حکم پلی نه شي. خو دا به یو ارزښت لرونکی استدلال وي چې د "نژدې تولو" رڼا په اغیزمنه او بشپړه توګه بنده شوې او ۱۹۰۸ ماده باید پلې شي. . خوکه له ۹۰ سلنوڅخه زیاته رڼا بنده شوې وي دا کار شونی دی، خو نه د رڼا د کمې اندازې د بندېدو لپاره. په بدیله توګه، که چیرې ۱۹۰۸ ماده تطبیق نه شي ځکه کوم شی چې ستاسو د مشتري له تجربې معلومېږي چې رڼا په بشپړ ډول نه ده بنده شوې. نو بیا تاسو ۱۹۰۷ مادې ته په مراجعې سره استدلال کولای شی چې د رڼا د یوې اندازې بندیدل ستاسو د مشتري مخه نیولې ترڅو له خپل ملکیت څخه ګټه پورته کړي. تاسو استدلال کولای شی چې د رڼا د یوې اندازې بندیدل فاحش ضرر دی او د۱۹۰۶ مادې له مخې باید له منځه ولاړشي. دا د ضرر او ګټې تحلیل(اندولیزه آزموینه) چې مخکې ورته اشاره وشوه، په برکې نیسي.

اوس تاسو ګورئ چې څرنګه په ځانګړو حالتونو کې له حکمونو څخه ګټه اخیستل کیږي. موږ به په مدني قانون کې د نورو حالتونو په اړه په ځانګړو او مشخصو حکمونو په هکله په لنډ ډول بحث وکړو. مدني قانون د کورد کړکیو په اړه چې ورڅخه ستاسو د ګاونډي کور ښکاري، د حالت په اړه مشخص حکمونه لري.که تاسو داسې یو حالت سره مخامخ شی چې کړکۍ پکښې ستونزه وي، نو لومړی باید ۱۹۲۱ ماده او ۱۹۲۹ ماده تر۱۹۳۱ مادې پورې وګورئ. مدني قانون د شریکو دیوالونو او پوړونو په اړه د ځانګړو حالتونوپه په هکله حکمونه لري.تاسو کیدای شي هغه ستر ضرر درک کړی چې کله ستاسو چت د بل شخص بام وي او له تاسو څخه یو وغواړی په هغه کې تغیر راولې. په دې ډول حالتونوکې لومړی له ۱۹۲۲ څخه تر۱۹۲۸ مادو ته مراجعه وکړئ. مدني قانون له اوبو څخه د ګټې اخیستلو دځانګړو حالتونوپه اړه احکام لري.د مثال په توګه، د مدني قانون ۱۹۱۴ ماده وایي " که څوک خپله ځمکه په عادي صورت چې ځمکه یې زغم و کولای شي خړوبه کړي او د هغې په اثر اوبه د بل چا ځمکه کښې جریان پیدا کړي او کښت یې له منځه ولاړ شي، ضامن نه ګڼل کیږي.".دا د مستقیم ضرر یوه ښه بیلګه ده .

تاسو کیدای شي په یاد ولری چې له اوبو څخه د ګټې اخیستلو په اړه دا ماده د " رڼا بشپړ بندیدل" په اړه د ۱۹۰۸ مادې په څیر په آسانی سره نه پلې کیږي . لدې امله د بشپړې رڼا د مخنیوې د معیارونو خلاف د"غیرمعمولي طریقي" معیار لاهم ډیر مبهم دی.هغه څه چې موږ پرې پوهیږو دادي چې موږ په آسانی سره "بشپړ بندېدل" په یوه ځانګړي حالت پورې تړلی شو.خو د "غیرمعمولي طریقي " په وسیله د ځمکې خړوبولو معلومول ستونزمن کار دی او دیو حقوق دان په توګه تاسو اړیاست ترڅو په دې اړه نوره څیړنه هم وکړئ او معلومه کړی چې کوم شی دغیرمعمولي اوبولګولو سبب کیږي. بل حکم چې پر ورته موضوعاتو باندې رڼا اچوي ۱۹۳۲ ماده ده. دا ماده کیدای شي په ډیرو حالتونو کې د پلې کېدو وړ وي او په همدې وجه هغه باید په یاد ولرو:

**مدني قانون**

۱۹۳۲ ماده: فابریکه، دستګاه یا کوهي یا نور داسې تأسیسات چې ګاونډی ته ضرر رسوي، باید داسې مسافې کښې آباد شي چې ګاونډی ته یې ضرر و نه رسیږي.

څرنګه چې تاسوګورئ،۱۹۳۲ ماده د ۱۹۰۷ مادې دعمومي حکمونو او زموږ دځانګړو حالتونو د حکمونو ترمنځ واقع ده.۱۹۳۲ ماده په پراخو بیلابیلو حالتونو کې د تطبیق وړ ده. په حقیقت کې دا به څرګنده شي چې د قانون دا حکم به د فهیم د څرمنو آش خونه په برکې ونیسي. که چیرې تاسو په یوه محکمه کې د فهیم د څرمنو آش خونه د کاروبار د یو شرکت په توګه یاد کړئ نو په دې صورت کې کیدای شي محکمه د۱۹۳۲ مادې له مخې په دې اړه پریکړه وکړي. د۱۹۰۶ مادې د حکمونو خلاف چې وایي فاحش ضرر باید له منځه ولاړشي، دلته ددې ډول زیان د جبرانولو لپاره کوم لیست نشته .دا په دې معنی دې چې که چیرې تاسو له داسې یو حالت سره مخامخ شی چې په ۱۹۳۲مادې کې ورته اشاره شوې او تاسې وغواړی چې آبادي له منځه ولاړه شي، نوپه دې صورت کې تاسو مجبور یاستئ د ګټو ترمنځ یوڅه اندول رامنځ ته کړی ترڅو معلومه شي چې رسیدلی ضرر فاحش ضرردی او که نه .که چیرې اړونده کړنې ګاونډیانو ته زیان رسوي،۱۹۳۲

مادي ته د مراجعي کولو ګټه داده چي محکمه کیدای شي د هغو حالتونو په اړه چي په ۱۹۳۲ مادي کي ذکر شوي دي شکمنه شي. په دې صورت کي به تاسي د ضرر د غیر مجاز ښودلو لپاره ښه فرصت ولري .

دا له ملکیت څخه د ګټي اخیستلو په اړه د ځانګړو حالتونو د حکمونو په هکله زموږ بحث بشپړوي.تاسو اړتیا نه لری چي دځانګړو حالتونو په اړه حکمونه په یاد زده کړی. مهمه خبر داده چي په دې پوهـ شی چي دا حکمونه شتون لري. نو که تاسو له داسي یو حالت سره مخامخ شی چي په کښي یو شخص د بل شخص له لوري له خپل ملکیت څخه د ګټي اخیستلو له امله زیانمن شوی وي، تاسو پوهیږی چي باید کوم متن او ځای ته مراجعه وکړئ. دا اساسي متیود دی چي تاسو یي باید ترې ګټه واخلئ.

لومړی، مدني قانون ته وګورئ او معلومه کړی چي آیا له ملکیت څخه د ګټي اخیستلو له امله د رامنځ ته کیدونکي ضرر د ځانګړو حالتونوپه اړه حکمونه شتون لري. که چیری شتون ولري نو په دې صورت کي د خپل حالت واقعیتونه ته د قانون له مادې سره سر ورکړئ.که چیرې ددې حالت په اړه په قانون کي ځانګړی حکم شتون و نه لري، په دې صورت کي د ضرر په اړه په ۱۹۰۷ مادې کي عمومي حکمونو او که ممکن وي نو ۱۹۳۲ مادې ته هم مراجعه وکړی. په راتلونکي برخه کي به موږ د قانون د عمومي احکامو په چوکاټ کي د فاحش ضرر د شتون د معلومولو او د هغو سره د چلند د څرنګوالی وڅیړو.لاندې د بهیر یو جدول دی چي د شخصي ضرر د څیړلو په موخه تاسو ورڅخه د لارښود په توګه ګټه اخیستلای شی. موږ به وروسته د عامه ضرر په اړه له بحث کولو وروسته د بهیر جدول اضافه کړو.

**د جدول دمتن ژباړه:**



### ۱.۱.۲ د فاحش ضرر د معلومولو لپاره د لګښت او ګټې د تحليل کارول

اوس به موږ داروښانه کړو چې د فاحش ضرر د معلومولو لپاره څنګه د لګښت اوګټې له تحليل څخه استفاده کولای شو. په ياد راوړی چې د لګښت اوګټې تحليل په ساده ډول يوه داسې لارده چې په وسيله يې د يو شخص دعمل په وسيله رامنځ ته شوی لګښت او هغه ګټه چې شخص يې د ياد عمل ترسره کولو لپاره هڅولی له يوبل سره پرتله کيږي.د لګښت اوګټې لپاره به موږ په بحث کې له ۱۹۰۶ او ۱۹۰۷ مادو څخه د خپلو اصلي سرچينو په توګه او همدارنګه د حنفي فقهې له حکمونو څخه ګټه واخلو. موږ ځکه دا کار تر سره کوو چې د مدني قانون وده او پراختيا تر ډېره بريده د اسلامي حقوقو په سرچينو او اصولو پورې تړلې ګڼل کيږي او دا بهير ډيری وختونه ګټور تماميږي ځکه چې د قانون د يوعمومي حکم د تفسير او تطبيق په موخه د اسلامي حقوقو اصولو ته مراجعه کيږي.له ملکيت څخه د ګټې اخيستلو لپاره او دا چې آيا "فاحش ضرر" شتون لري، د اسلامي حقوقو سرچينې په زړه پورې لارښوونې لري. په ياد ولرئ چې موږ يوازې د ځانګړو حالتونو په اړه په مدني قانون کې د حکم د نشتوالي په صورت کې د لګښت او ګټې له تحليل څخه ګټه اخلو(لکه د رڼا بشپړ بندېدل) چې د قضيې واقعيتونه په برکې نيسي .

په ياد راوړئ چې ۱۹۰۶ مادي کې راغلي و چې فاحش ضرر بايد له منځه ولاړ شي او ۱۹۰۷ ماده بيا د فاحش ضرر د معلومولو لپاره يو شمير عمومي شرايط وړاندې کوي. پروفيسور محمد هاشم کمالي داسلامي حقوقو کارپوه وايي چې د حنفي فقهې له مخې دا ډول معيارونه په عمل کې پلي کېدای شي:

> که د ملکيت د حق له کارولو څخه ټولنې اويا کوم بل شخص ته څرګند زيان ورسيږي، په دې صورت کې چارواکي بايد دا معلومه کړي چې د خپل حق د پلي کېدو په نتيجه کې رامنځ ته شوی ضرر ترلاسه شوي ګټې زيات دی او که نه. که ضرر کم وي او د ملکيت له اساسي حق څخه پر ګټې اخيستلو باندې محدوديتونه وضع نه کړي نوپه دې صورت کې د زغم وړ دی.خو که په پرتله ايز ډول زيان ډير وي، په دې صورت کې د ملکيت خاوند د کارولو حق بايد ترهغې کچې محدود کړای شي، ترڅو زيان له منځه ولاړ شي، او که شوني وي، د زغم وړ ترکچې راټيټ کړای شي.[342]

د "څرګند" کلمې په اړه انديښنه مه کوئ.ددې معنې داده چې ضرر په کافي اندازه ستر او يا کافي اندازه څرګند دی ترڅو محکمه پکښې دخيله شي. تاسو د يو داسې حالت په اړه فکروکړی چې يو شخص په غرمه کې رباب غږوي او تاسو يې په خپل کور کې اوری. د رباب غږ غمجنوونکی دی خود يوې محکمې لپاره دومره سترنه دي چې هغه تر غور لاندې ونيسي يعنې "څرګند اوښکاره." نه دی. خو د فهيم د څرمنو آش خونه او له هغو څخه را پيدادشوی بد بوی د محکمې لپاره په کافي اندازه د پام وړ ضرر دی (لږترلږه تاسې داهيله لری). دا پړاو يوازې د هغو قضيو د چاڼ کولو لپاره دی چې په ښکاره توګه دومره ضرر نه رامنځ ته کوي تر څو د حقوقي سيستم د دخالت سبب شي. پدې ترتيب وروسته له هغه چې محکمې د دخالت لپاره د څرګند ضرر شتون معلوم شي ، بيا نو موږ د لګښت - ګټې تحليل ترسره کوو تر څو د هغو په وسيله هغه زيان چې د يوشخص له لوري دترسره شوي مضر عمل په پايله کې رامنځ ته شوی دی، د هغو له ګټې سره پرتله شي.که ضرر د ګټې په پرتله زيات وي، نو دا "فاحش ضرر" دی او له همدې امله بايد اړوند فعاليت ودريږي يا د منلو وړ کچې پورې محدود کړای شي .

پروفيسورکمالي موږته يوڅو بېلګې راکوي چې "فاحش ضرر" ګڼل کيدای شي.دا د تشريحي ليست يوه بيلګه ده.د "فاحش ضرر" بيلګې لاندې موارد په بر کې نيسي:

- د عطرو د پلورنځي يا در ملتون ترڅنګ د نانوايي جوړول.
- د خپل ګاونډي کورته نږدې د اوبو ترلاسه کولو لپاره د څاه کيندل.
- د خځلو د اچولولپاره د داسې ډېران جوړول چې ګاونډي ته ضرر پېښوي.

[342] Mohammed Hashim Kamali, *The Right to Life, Security, Privacy and Ownership in Islam*, p. 278 (The Islamic Texts Society 2008).

- د یو داسي ودانۍ جوړول چي د ګاونډي د کور بهر ته د لیدو مخه بنده کړي .[343]
-

وروستی مثال وګورئ. د ګاونډي د کور په وړاندې د کړکۍ جوړولو موضوع د ۱۹۲۹،۱۹۲۱-۱۹۳۱ مادوکي د ځانګړو حالتونوحکمونه په ترڅ کي ترپوښښ لاندې نیولي دي.دا یو له هغو حالتونو څخه دی چي موږ پکښي د لګښت او ګټي تحلیل ته اړتیا نه لرو ځکه چي قانون موږ ته ځواب لري. یا په بل عبارت په دې ځای کي د لګښت اوګټي تحلیل خپله دنده لاله وړاندې ترسره کړې او دې پایلي ته رسیدلی چي ضرر فاحش دی.کیدای شي تاسو دا هم په یاد لرئ چي دا ټول د غیرمستقیم ضرر بیلګي دي.کیدای شي تاسو تعجب وکړئ چي ولي پروفیسور کمالي یوازې دغیرمستقیم ضرر بیلګي غوره کړي دي. ځواب دادی چي د غیر مستقیم ضرر اړونده قضیو حل کول ډیر ستونزمن دي. که ګاونډی داسي کار ترسره کوي چي ستاسو ملکیت ته فزیکي ضرر رسوي، دا به په یقیني توګه " فاحش ضرر" وي.د پروفیسور کمالي د څرګندوني له مخي، مستقیم ضرر څرګند دی.دا ساده حالتونه دي .سخت حالتونه په بوی، ککړتیا او شورماشور پورې تړلي ګڼل کیږي او په دې ډول حالتونو کي د ضرر لیدل آسانه خبر نه ده .

سامورا بن جندوب د خرما ونه درلوده او د وني څانګي له انصاروڅخه د یوسړي بڼ ته چي له خپلي میرمني سره یي ژوند کاوه غزیدلي وې.کله به چي سامورا هڅه کوله د وني څانګو ته ځان و رسوي دې کار به د بڼ د خاوند د ناآرامی سبب شو.سړي له سامورا څخه وغوښتل چي خپله ونه ورباندې وپلوري. سامورا مثبت ځواب ورکړ. بیا سړي له سامورا څخه غوښتنه وکړه،چي ونه وکاږي او ټوټي یي کړي خو نوموړي لاهم ددې کار له کولوڅخه ډډه کوله. سړي حضرت پیغمبر(ص) ته شکایت وکړ اوپیغمبر(ص) له سامورا څخه و غوښتل چي یوځل بیا دخپلي وني دپلورلو په اړه فکر وکړي، خو نوموړي بیا هم د وني له پلورلو څخه ډډه وکړه. همدارنګه سامورا د پیغمبر(ص) هغه وړاندیز هم رد کړ چي ونه دې هغه سړي ته د ډالۍ په توګه ورکړي. پیغبر(ص) سامورا ته وویل "ته زیان رامنځ ته کوي" بیا پیغبر(ص) سړي ته وویل"لاړشه او دخرما ونه چپه کړه"[344]

ابوداوود

### ۱.۱.۳ د پیشبیني شوي ضرر مخه نیول

اوس موږ فاحش ضرر د شتون د معلومولو لپاره د لګښت او ګټي تحلیل د ترسره کولو پروسي په اړه خپل بحث بشپړ کړ. تاسو کابو ټول هغه وسایل چي اړتیا ورته لرئ له ځانه سره لرئ . خو دلته یوه وسیله پاتي ده چي باید د بحث د دوام مخکي ورته اشاره وکړو. له دې وسیلي سره تاسو هغه وخت مخامخ کیږی چي تاسو داسي یو مشتري ولرئ چي نوموړی د خپل ګاونډی د پلان شوي کړنو په اړه اندېښنه لري او فکر کوي چي د ګاونډي دا کار به په راتلونکي کي دده لپاره د ضرر سبب شي . دا به داسي یو حالت وي چي کله ستاسو ګاونډی فهیم ووایي چي غواړي د څرمنوآش خونه جوړه کړي خو تاسو غواړی مخکي تر دې چي نوموړی په دې کار سره ستاسو کور له بدبويي څخه ډک کړي د هغه د کار مخه ونیسی .هغه څه چي دلته یي تاسو په لټه کي یاستئ هغې ته پیشبیني شوي مداخله وایي. داپه ساده ډول دمحکمي له لوري د فعالیت د پیل د مخه ستاسو ګاونډي ته یو امر دی تر څو له دې کار څخه ډډه وکړي .اساسي توپیر د هغه څه ترمنځ چي موږیي پورته په اړه بحث وکړ، دا دی چي ضرر لا شتون نه لري .تاسو یوازې باور لری چي ضرر به ډیر ژر رامنځ ته شي .د دې موضوع لپاره د حقوقو اصلي سرچیني به مدني قانون او حنفي فقه وي .دمدني قانون د۷۹۶ (۲) مادې حکم د پیشبیني شوي ضرر مخنیوی ترپوښښ لاندې نیسي .

[343] *Id.* at 278–82.
[344] *Id.* at 278–79.

**مدني قانون**

۷۹۶(۲) ماده: که ځوک د بل چا د عمارت له پلوه د خطر سره مخامخ وي، کولی شي چې د هغې د مالک څخه د خطر د مخنیوی لپاره د لازمو تدبیرونو د نیولو غوښتنه وکړي، که مالک دا غوښتنه و نه منله نو هغه کولای شي د محکمې د اجازې د حاصلولو وروسته د مالک په حساب د داسې تدبیرونو نیولو ته اقدام وکړي.

لکه چې تاسو ګورئ، ۷۹۶(۲) ماده دا په ګوته کوي کله چې د ملکیت خاوند باور لري کوم بل ځوک غواړي له خپل ملکیت څخه په داسې طریقه ګټه واخل چې ضرر لري، خاوند حق لري تر څو د داسې کار د نه کولو غوښتنه وکړي. او که سره ددې هم نوموړی شخص د زیان رسوونکي کار د تر سره کولو پلان لري، په دې صورت کی له محکمې څخه د کار د مخنیو په موخه د مداخلې غوښتنه کولای شي. خو لکه چې تاسو یې ګورئ، ۷۹۶(۲) ماده د کار د مخنیوي په اړه د محکمې د مداخلې په هکله په کافي اندازه معلومات نه وړاندې کوي. له نیکه مرغه، حنفي فقه موږ ته په دې هکله زیات معلومات راکوي چې څه وخت باید محکمه د اړونده کار په مخنیوي کې مداخله وکړي. د حنفي فقهي له نظره، د محکمې له لوري دا ډول مداخله د دوو لاملونو سره تړاو لري: (۱) د نظر وړ ضرر د اندازې اټکل او (۲) د ضرر د رامنځ ته کېدو احتمال.

د لومړي لامل په اړه ، د نظر وړ ضرر د اندازې ټاکل، تاسو د هغو په هکله د ځواب لپاره کافي معلومات لري. د کار د مخنیوونکي مداخلې په اړه باید وویل شي چې اړوند ضرر باید فاحش ضرر وي. تاسو تر دې دمه له زده کړې عین طریقي څخه ګټه اخیستلای شئ او د لګښت – ګټې په تحلیل سره معلومولای شئ چې آیا اړونده ضرر فاحش ضرر دی او که نه.

د دوهم لامل په اړه یعني د ضرر د رامنځ ته کېدو احتمال، حنفي فقه څلور سناریوګانې وړاندې کوي چې د ضرر د رامنځ ته کېدو پر احتمال باندې تکیه لري:

1. د ضرر د رامنځ ته کېدو یقیني احتمال – په دې حالت کې د ضرر رامنځ ته کېدو احتمال ډېر زیات دی.
2. رامنځ ته کېدونکي ضرر احتمال ـ په دې حالت کېدای شي ضرر رامنځ ته شي
3. غیر یقیني احتمال – په دې صورت کې د ضرر د رامنځ ته کېدو په هکله شک شتون لري.
4. کم یا کمزوری چانس – په دې صورت کې ډېر کم احتمال یا د ضرر د رامنځ ته کېدو شونتیا ډېره کمه ده.

په لومړیو دوو سناریو ګانو کې، چې په ترڅ کې یې د ضرر د رامنځ ته کېدو چانس ډېر یقیني یا احتمال لري، د مخنیوي مداخله باید تر سره شي. په دوو وروستیو سناریوګانو کې، چې د ضرر رامنځ ته کېدل یقیني نه دي او د ضرر د رامنځ ته کېدو لپاره ډېر کمزوری چانس شتون لري، د مخنیوي مداخله د توجیې وړ نه ده. تاسو کېدای شی تعجب وکړئ چې که چېرې موږ په ۱ او ۲ سناریوګانو کې عین نتیجې ته ورسیږو او همدارنګه په ۳ او ۴ سناریوګانو کې عین نتیجې ته ورسیږو، بیا نو په دې هکله څلورو مختلفو سناریو ګانو ته څه اړتیا ده؟ دوه سناریو به په دې هکله بسنه و نه کړي؟ ځواب دادی چې د اسلامي فقهي مختلف مذهبونه د بحث شوو نتیجو څخه مختلفو پایلو ته رسیږي. د مثال په توګه، مالکي او حنبلي مذهبونه ځیني وختونه د دریېمې سناریو په اړه چې د ضرر د پېښېدو احتمال یقیني نه دی، د مخنیوي مداخلې ته اجازه ورکوي. په داسې حال کې چې کېدای شي تاسو د حنفي مذهب له مخې په تر لاسه شوو نتیجو باندې تمرکز وکړئ، داسې مثالونه هم شته چې د شخړو د لورو په نظر کې نیولو سره، تاسو ته ښایي د موضوع په اړه له مختلف چلندونو څخه کار واخلئ. د مثال په توګه، د اساسي قانون ۱۳۱ ماده محکمو ته حکم کوي چې په هغو قضایاو کې چې د شیعه مذهب وګړي پکښې ښکېل وي، د شیعه فقهي څخه کار واخلئ. که څه هم دا حالت ډېر کم رامنځ ته کېږي، خو تاسو باید په دې هکله معلومات ولري ځکه چې تاسو دداسې حالتونو سره مخامخ کېږئ.

په دې سره ګاونډي ته د ضرر له امله د خصوصي ملکيت پر کارولو باندې محدوديت بحث پای رسيږي. په دې برخه کې، تاسو دا زده کړل چې قانون د شخصي ملکيت دې دا ډول کارولو سره څکه تماس نيسي چې غواړي د ګاونډيانو ترمنځ د دوستی اړيکې پیاوړې کړي او همدارنګه دا چې د ضرر په مخنيوي کې د ټولنې ګټه ده. تاسو زده کړل چې قانون د ملکيت داسې کارول چې د فاحش ضرر سبب شي، منع کوي او مدني قانون د فاحش ضرر د معلومولو په هکله عمومي حکمونه او همدارنګه د محدودو وضعيتونو لپاره ځانګړي او مشخصو حکمونه وړاندې کوي. تاسو په دې باندې هم و پوهېږئ کله چې د يوې قضيې د کشف په اړه د يو فاکت سره مخامخ شئ، لومړی بايد ځانګړو او مشخصو حکمونو ته مراجعه وکړئ او که په اړه يې حکمو شتون و نه لري، د فاحش ضرر د معلومولو لپاره د لګښت- ګټې له تحليل څخه کار اخلئ. لکه چې پرې بحث وشو، حنفي فقه د لګښت – ګټې د تحليل په ترسره کولو کې ستاسو سره مرسته کوي. بالآخره، تاسو دا هم زده کړل که چېرې ضرر لا نه وي رامنځ ته شوی، د فاحش ضرر په صورت کې يا دا چې د ضرر رامنځ ته کېدل احتمالي يا يقيني وي، تاسو کولای شی د مخنيوي تدابير وسنجوي. اوس بلې موضوع ته دوام ورکوو.

### ۱.۲ ارتفاق، د مالکيت په حقوقو کې د محدوديت په توګه

سوچ وکړئ چې تاسو د خپل کور په چاپېر کې قرار لرئ. له نېکه مرغه، د ګاونډيانو له څو ښکايتونو وروسته ستاسوګاونډي فهيم پرېکړه کړې تر څو د استوګنې د سيمې په منځ کې د ځرمنو د آش خونې له جوړولو څخه ډډه وکړي. هغه هوډ کړي چې د ځرمنو د پروسس پر ځای د اوبدلو کار وکړي چې دا نوی کار ګاونډيانو ته د مزاحمت او بدبويی سبب نه کېږي. بالآخره، تاسې کولای شئ په کور کې کښېنئ او له چای څکلو څخه خوند واخلئ. يوه ښه پسرلنی ورځ ده او تاسو اراده کړې چې له کوره څخه په بهر کې کېښنئ، کله چې تاسې غواړئ له چای څخه لومړی غوړپ وکړئ تاسو متوجه کېږئ چې ستاسو له ګاونډيانو څخه يوه ګاونډی، جميله ستاسو د کرنيزې ځمکې له منځه چې غنم مو پکښې کرلي تېرېږي او ستاسو د پيداوارو د ضرر سبب کېږي. هغه ځواب درکوي چې د ارتفاق حق له مخې قانون هغې ته اجازه ورکوي چې ستاسو د ځمکې څخه تېره شي ، تاسو له دې ځواب څخه هک پک کېږئ او خپل کورته ځئ تر څو په په آرام سره فکر وکړئ چې د نوموړې منظور څه دی داسې ښکاري چې تاسو به هېڅکله ونه توانېږئ له چای څښلو څخه خوند واخلئ.

په دربيم څپرکي کې تاسو د ارتفاق له حق سره پېژنګلوي پيدا کړه. تاسو زده کړل چې د مدني قانون ۲۳۴۰ ماده د ارتفاق حق د حق په توګه تعريفوي " ارتفاق په عقار باندې د داسې حق څخه عبارت دی چې د بل شخص د عقار ګټې لپاره وي." دا يوازې په دی معنی دي چې د ځمکې له خاونده پرته بل کوم څوک حق لري چې د مالک د ملک له يوې برخې څخه استفاده وکړي او يا هم د مالک د استفادې حق محدود کړي. که دا موضوع په بل عبارت، يو ملک په نورو املاکو حق لري. د بېلګې په توګه، د ارتفاق د حق له مخې ستاسو له ګاونډيانو څخه يو ګاونډي کور ته د رسېدو لپاره ستاسو له کروندې څخه د تګ راتګ حق لري. د ارتفاق دا ډول حق د تګ راتګ حق په نوم يادېږي.

خو د ارتفاق حق يوازې د تګ راتګ په حق پورې محدود نه دی. د ارتفاق په حق کې همدارنګه هغه محدوديتونو هم شامل دي چې تاسو خپله ودانۍ څومره لوړه کړئ، يا په خپل ملک کې څه ډول ودانۍ آباده کړئ، او يا د خپل ملکيت څخه په کومه طريقه ګټه واخلئ. همدا شان ممکن يو شخص ستاسو په ځمکه کې د اوبو د چينې يا ويالې څخه د اوبو د ترلاسه کولو په اړه د ارتفاق حق لري. په دې برخه کې موږ د تګ راتګ حق او ارتفاق پر حقونو بحث کوو ځکه دا ډول حقوق دارتفاق حق له مخې د ملکيت د حق محدوديت په ګوته کوي. ولې متوجې اوسئ چې د ارتفاق حق ممکن ستاسو پر ملکيت باندې نور محدوديتونو هم زيات کړي. ددې خبرې يادونه مهمه ده چې که تاسو د ارتفاق حق لکه د تګ راتګ حق ولرئ، د ارتفاق حق د غير منقول مال سره ملګری دی او ترې نه بېلېږي. دا موضوع يو څه مبهمه ده. د مثال په توګه، که تاسو د ارتفاق حق او د خپل ګاونډي له ځمکې څخه د تګ راتګ حق ولرئ او خپله ځمکه وپلورئ، په دې صورت کې به ستاسود ځمکې نوی خاوند د ارتفاق حق ولري نه تاسې.

په دربيم څپرکي کې تاسې زده کړل چې د ارتفاق حق د ملکيت حق خپلول دي. خو د ارتفاق د حق په هکله بل ليد د ملکيت د مالک له نظره دی چې نورو ته له ځمکې څخه د ګټې اخيستلو يا نه اخيستلو اجازه ورکوي. که تاسو د ملکيت مالک وی او بل څوک ستاسو په ځای د ارتفاق حق ولري په دې صورت د ارتفاق دا حق ستاسو د ملکيت پر حق باندې يو محدوديت شمېرل کېږي. په مشخصه توګه د ارتفاق دا حق د نورو مخه نيسي. په ياد راوړئ چې په لومړي څپرکي

کې تاسې زده کړل چې د ملکیت د مالک په توګه کې د نورو د مداخلې مخه نیول، ستاسو له اساسي حقونو څخه دی. په دې برخه کې موږ هغه محدودیتونه څېړو چې قوانین یې د خصوصي ګټې له مخې پردې حق باندې وضع کړي دي.

مګر ولې قوانین ستاسو په ملکیت کې د نورو د مداخې د مخنیوي حق محدود کړي. په یقیني توګه که څمکه په تاسو پورې تعلق ولري، نو په دې صورت کې تاسو باید حق ولرئ چې په هغې کې د نورو د مداخلې څخه مخنیوی وکړئ. هو، دا په ډېرې مواردو کې حقیقت لري. مګر په ځینې حالتونو کې د نورو له خوا د محدودو مقاصدو لپاره ستاسو له ملکیت څخه ګټې د اخیستلو اړتیا کچه دومره لوړه وي چې قوانین د نورو مخنیوی په اړه ستاسو حق محدودوي. په بل عبارت، قوانین د خصوصي منفعت له مخې دې ته میلان لري چې له خپل ملکیت څخه ستاسو پر ګټه اخیستنې باندې محدودیت وضع کړي. راشئ چې د یوې بېلګې په هکله بحث وکړو. داسې فرض کړئ چې جمیله ستاسو ګاونډۍ د پنځه جریبو په مساحت ځمکه کې ستاسو د کور شاته ژوند کوي. خو د هغې له کور سره عمومي وصل شوی لاره نشته. که جمیلې ته اجازه ورنکړل شي چې ستاسو له ځمکې څخه تېره شي هېڅ امکان نه لري چې جمیله دې خپل کور ته ورسېږي ( مګر دا چې نوموړې یوه الوتکه ولري!). په دې حالت کې یوازنۍ منصفانه لار داده چې قانون دې ستونزې ته لار پیدا کړي تر څو جمیلې ته ستاسو له ځمکې څخه خپل کور ته د تېرېدو محدود حق ورکړي. البته، دا کار په دې سره منتج کېږي چې قانون ستاسو په ملکیت کې د نورو د مداخلې د مخنیوي پر حق باندې محدودیت وضع کړي. د دې برخې په نورو برخو کې موږ لومړی په دې بحث کوو چې څرنګه داسې محدودیتونه د ارتفاق حق له لارې ستاسو د ملکیت پر حق باندې رامنځ ته کېږي. وروسته موږ توضیح ورکوو چې د ارتفاق حق په اړه اړوند حکمونه کوم دي. بلآخره داچې د ارتفاق حق څرنګه ختمېږي، تر بحث لاندې نیسو. د وضاحت په منظور موږ د ارتفاق حق در لودونکي په توګه د ارتفاق د حق د خاوند او د عقار د مالک په توګه چې پرې د ارتفاق حق شته، تماس نیسو.

ترجمه جدول

د جمیلې ملکیت

د ارتفاق حق

ستاسو ملکیت




**۱.۲.۱ د ارتفاق د حق رامنځ ته کېدل**

لومړی موږ غواړو پر دې باندې بحث وکړو چې په څه ډول یو څوک د مثال په توګه ستاسو ګاونډۍ جمیله د ارتفاق حق تر لاسه کوي او په دې ترتیب ستاسو د ملکیت پر کاروني باندې محدودیت رامنځ ته کوي. ددې محدودیت د رامنځ ته کېدو دوې لارې شتون لري. لومړۍ لاره د مدني قانون په ۱۹۱۹ ماده کې راغلې.

**مدني قانون**

۱۹۱۹ ماده: د هغې ځمکي مالک چي د عمومي لارې سره بېخي اتصال نه لري یا د هغې ته د تلو راتلو لار کافي نه وي او سخته وي، په دې توګه د چي د کافي لارې جوړول بې د زیاتو مصرفونو یا بې دزیاتو سختیو څخه ممکن نه وي، نو کولای شي چي د عادلانه تعویض په بدل کي د ګاونډي په ځمکه کي په لازمي اندازې تصرف وکړي، او هغه استعمال کړي. خو په دې شرط چي د معتادې اندازې څخه تېرې و نه کړي او دا حق په هغې ځای کي استعمالېدی شي چي تګ او راتګ ورباندې په ډېر کم ضرر ممکن شي.

څرنګه چي تاسي ګوری د مدني قانون ۱۹۱۹ ماده له جمیلې سره ایجاد شوی حالت تنظیوي. د قانون دا ماده ډېره اوږده او بېلابېلې برخي لري . اوس موږ هغه د تنظیمېدو وړ پر څو برخو وېشو ترڅو له دې لارې دا حکم په عمل کي تطبیق کړو. په لومړي ګام کي د دې لپاره چي د مدني قانون ۱۹۱۹ ماده تطبیق شي جمیلې ځمکه باید له "عامې لارې سره اتصال و نه لري" . په دې معنی چي د جمیلې کور نباید هېڅ عمومي لارې سره تړلی وي. په مدني قانون ۱۹۱۹ ماده کي د بدیل حل بله لار هغه حالت دی چي د جمیلې ځمکه له عامې لارې سره تړلې وي او د دې لارې څخه استفاده ډېرې ستونزې ولري. دا په هغه حالت کي د پلي کېدو وړ ده چي ځمکه غره ته نژدې موقعیت ولري او عمومي لاره د غره شاته خوا کي وي. کله چي یو له دغو دواړو حالتونو څخه شتون ولري، یا ۱) د عمومي لارې سره اتصال نه وي یا ۲) عمومي لارې ته لاسرسی ستونزمن وي ، په هغه صورت کي ۱۹۱۹ ماده د پلي کېدو وړ ده . کله چي موږ مشخصه کړه چي ۱۹۱۹ ماده پلي کېدای شي، باید جمیلې ته اجازه ورکړل شي چي ستاسو له ملکیت څخه تګ راتګ وکړي یا په بل عبارت باید جمیلې د تګ راتګ حق ورکړل شي.

همدارنګه ۱۹۱۹ ماده دا هم مشخص کوي چي جمیله له دې حق څخه څرنګه استفاده وکړي. په لومړي ګام کي جمیله باید تاسو ته د دې حق د لاسته راوړلو په خاطر یو عادلانه جبران درکړي. په دې مفهوم، قانون اړین لیدلي تر څو تاسو د خپل دې حق د محدود کېدو په خاطر عادلانه تعویض لاس ته راوړئ. وروستی ټکی دا چي د ۱۹۱۹ مادې سر سم جمیله نشي کولای ستاسو د مالکیت په هره برخه کي تګ راتګ وکړي، باید پر هغه ځای باندې تګ راتګ وکړي چي ستاسو ملکیت ته ډېر کم زیان رسوي. یعني که تاسي په خپله ځمکه کي کښت کړې وي جمیله اجازه نه لري ستاسو د کروندې په منځ کي تګ راتګ وکړي، بلکي باید له کرنیزې سیمي راتاو شي. پر دې سر بېره، ستاسو د ملکیت له لارې د جمیلې تګ را تګ باید د عرف مطابق وي. دا له تاسو څخه غواړي د اړتیا په صورت کي د ځایي تګ راتګ د عرف په اړه څېړنه وکړئ.

د ۱۹۱۹ مادې له مخي د ارتفاق د حق پر تر لاسه کولو سربېره، بله طریقه هم شته چي د تګ راتګ د حق په اړه د ارتفاق حق موضوع را ولاړېږي. همدارنګه په ځینو نورو حالتونو کي هم د تګ راتګ په اړه د ارتفاق حق رامنځ ته کېږي چي د زمان د تېرېدو د محدودیت په نوم یادېږي. دا ډول محدودیت په ساده ډول د مالکیت له داسي حق څخه عبارت دی چي د یوې ټوټې ځمکي د اوږد مهاله او غیر شخړه ایز استعمال څخه را پیداکېږي. تاسو د زماني محدودیت نظریه د ملکیت د لېږد سره په تړاو کي په څلورم څپرکي کي تر بحث لاندې ونیوه. خو دا نظریه د ارتفاق د حق په اړه هم د تطبیق وړ ده. د مدني قانون ۲۲۷۹ ماده مشخص کوي چي یوشخص هغه وخت هم د مالکیت حق تر لاسه کولاي شي چي پر یوه ټوټه ځمکه باندې اوږد مهال تصرف ولري او د ځمکي د اصلي مالک توګه هغه وکاروي او نور څوک پر هغو باندې دعوی یا عتراض و نه لري. د مدني قانون ۲۲۷۹ ماده مشخص کوي چي دا اوږد مهاله استعمال د ۱۵ پرله پسي کلونو لپاره وي. مالکیت په پرله پسي توګه د پاینت وړ او بې وقفي کارولو په مفهوم دی. د مثال په توګه، که تاسو له یوې ټوټې ځمکي ۱۰ کاله استفاده وکړئ او یو کال تري لیرې واوسئ، او دوه ځلي بیا دغې ځمکي ته راشئ او څلور کاله نور له دغې ځمکي څخه ګټه پورته کړئ نو له اړونده ځمکي څخه ستاسو ګټه اخیستنه د پرله پسي ۱۵ کلونو په مفهوم نه ده.

.

اوس راشئ ستاسو د ګاونډي جميلي په هکله فرضيه بدله کړو، تر څو وپوهېږو چې د زمان تېرېدل په عمل کې څه ډول پلي کېږي. داسي انځور کړئ چې جميله ۱۵ کاله ستاسو ګاونډۍ وه او ستاسو له ملکيت څخه دا ۱۵ کاله هره ورځ خپل کور ته د رسېدو په منظور تګ راتګ کړی دی. کله چې ستاسو په ملکيت کې هغې تګ راتګ کاوه په دې تاسو په دې هکله اعتراض نه دی کړئ او هېڅکله مو دا له دې کاره نه ده منع کړې. د مدني قانون د ۲۲۷۹ مادې سره سم وروسته له دې اوږد مهاله او غير شخړه ايز تګ راتګ، جميله ستاسو په ملکيت کې د تګ راتګ ارتفاق حق لاس ته راوړی. ددې خبرې يادول هم اړين دي چې د مدني قانون د ۲۳۴۲مادې مطابق د زمان تېرېدل يوازې د تګ راتګ د لارې د حق په اړه مطرح دي. د زمان تېرېدل نشي کولای د ارتفاق حق يو بل ډول ايجاد کړي. په دې معنی چې د زمان تېرېدل يوازې د ارتفاق د حق په توګه د تګ راتګ لارې په اړه مطرح دي.

#### ۱.۲.۲ د ارتفاق حق

اوس مو چې زده کړل د ارتفاق حق څرنګه ايجادېږي، راځئ په دې موضوع بحث وکړو وروسته له دې چې يو شخص د ارتفاق حق تر لاسه کوي، له دې حق څخه څرنګه استفاده کولای شي. لومړی، واضح ده چې که يو شخص د ارتفاق حق ولري دا شخص له دې حق څخه په اړونده منظور استفاده کولای شي. د جميلي د تګ راتګ د حق په اړه، نوموړې کولای شي ستاسو د ملکيت له لارې خپل کور ته د رسيدو په خاطر ګټه واخلی . مګر د ارتفاق پر اساسي حق سربېره، د ارتفاق نور بېلابېل حکمونه هم شته چې تاسوته ښايي د هغو په هکله هم معلومات ولرئ. دا حکمونه د مدني قانون په ۲۳۵۵ تر ۲۳۶۱ مادو کې راغلي دي. موږ دا احکام په لنډيز سره تر بحث لاندې نيسو، خو په ياد ولرئ په دې هکله د پوښتنې په صورت کې بايد د مدني قانون اړونده مادو ته مراجعه وکړئ.

**مدني قانون**

**۲۳۵۵ ماده:**

د ارتفاق د حق خاوند کولی شي داسي کارونو ته اقدام وکړي چې په ارتفاق کښې د هغه د حق د استعمالولو لپاره ضروري وي يا داچې د ذکر شوی حق د ساتنې لپاره لازمي و ګڼل شي او بايد چې ذکر شوی حق داسي استعمال کړي چې د هغې څخه ضرر پيدا نشي.

**۲۳۵۹ ماده:**

د ارتفاق کړه شوي عقار مالک نه شي کولای چې داسي کارونو ته اقدام وکړي چې د هغه په اثر د ارتفاق د حق استعمال کم شي....

د مدني قانون دا دوه حکمونه د ارتفاق د حق په هکله ډېر اړين ټکي د ځان سره لري. لومړی پام وکړئ چې د ۲۳۵۵ مادې له مخې هر شخص چې د ارتفاق حق لري کولای شي هر هغه کړنه ترسره کړي چې د ده د ارتفاق د حق په خاطر اړينه ووی د مثال په توګه، دا کړنې کېدای شي د تګ راتګ د آسانتيا په خاطر د لارې پاکول، د تيرو ليرې کول وي او يا هم د هغو اوبو لپاره د ويالو کيندل چې د دغې تګلورې د مينځلو لپاره ترې ګټه اخيستل کېږي. مګر له ټولومهمه دا چې ۲۳۵۵ ماده دا هم په ګوته کوي چې دا کړنې نبايد ملکيت ته زيان ورسوي. د مثال په توګه، که تاسو پرېکړه وکړئ چې په دې تګلورې کې وياله وکنئ او جاري شوې اوبه د مالک کروندې ته ورشي او هغه زيانمنه کړي، د مدني قانون د ۲۳۵۵مادې له مخې د اکړنه منع ده.

مهمه دا چې ۲۳۵۶ او ۲۳۵۷ مادې حکم کوي د ملکيت مالک معمولاً مجبور نه دی چې پخپله هم داسې کړنې تر سره کړي او د ۲۳۵۵ مادې له مخې پر دې باندې هم مکلف نه دی چې د ارتفاق د حق د خاوند له خوا د دا ډول کړنو د تر سره کېدو په صورت ي د هغو لګښت ورکړي. په دې اړه په ۲۳۷۵ ماده کې یوه استثناء لیدل کېږي او هغه په هغه صورت کې ده چې د ارتفاق د حق د خاوند له خوا ترسره شوی عمل د ۲۳۵۵ مادې سره سمون ولري او دا عمل د ځمکې د خاوند لپاره ګټوروي بيا نو د ځمکې مالک مکلف دی چې د لاسته راغلې ګټې سره متناسب لګښت ورکړي. دې ته ورته يو حالت وخت هم را منځ ته کېږي چې د ځمکې مالک په منظمه توګه د ارتفاق د حق درلودونکي له خوا له جوړې شوې لارې څخه د خپل ملکيت بېلابېلو برخو ته د رسېدو په خاطر، ګټه واخلي. همدا شان په هغه صورت کې چې د ۲۳۵۶مادې له مخې د ځمکې خاوند اړ شي يوه کړنه تر سره کړي يا پیسې ولګوي، نوموړی کولای شي د ارتفاق حق خاوند ته د ځمکې د اړونده برخې د مالکيت د حق د لېږد له لارې ددې ډول مکلفيتونو له ترسره کولو څخه اوږه خالي کړي.

پر دې سر بېره، لکه چې تاسو د مدني قانون په ۲۳۵۹ ماده کې ګورئ د ملکيت د مالک هغه کړنې چې د ارتفاق د حق خاوند زيانمنوي منع شوي. بلآخره ۲۳۶۰ او ۲۳۶۱ مادې هغه حالات تر پوښښ لاندې راولي چې ملکيت وېشل شوی وي. تاسو ته اوس نه ښايي چې د دې حق سره ځان بوخت وساتئ، يوازې دا په ياد ولرئ دا ډول حکمونه چې ستاسو سره د ويشل شوو ملکيتونو اړوند حالتونو په مشخص کولو کې مرسته کوي ، شتون لري.

### ۱.۲.۳ د ارتفاق د حق پای ته رسېدل

اوس چې پردې باندې وپوهېدو چې د ارتفاق حق په څه ډول رامنځ ته کېږي  او د ارتفاق د حق په اړه احکام څرنګه عملي کېږي، دلته په لنډه توګه دا څېړو چې د ارتفاق حق څرنګه پای ته رسېږي. دا چې د ارتفاق حق څرنګه پای ته رسېږي يو څه په دې پورې اړه لري چې په لومړي ګام کې د ارتفاق حق څرنګه رامنځ ته شوی دی. په ياد راوړئ د مدني قانون د ۱۹۱۹ مادې له مخې د ارتفاق حق لکه چې مخکې پرې بحث وشو، د ضرورت له امله رامنځ ته کېږي، خو په ورته وخت کې د  دا حق د زمان د تېرېدو له امله هم  رامنځ ته کېږي. در په ياد کړئ چې د زمان د تېرېدو محدوديت د اورد مهال تېرېدو او د ځمکې دغير شخړه ايزو کارولو سره تړاو لري او يوازې د لارې په اړه د ارتفاق د حق په هکله مطرح کېږي.

د ارتفاق د حق پای چې د مدني قانون د ۱۹۱۹ مادې پر اساس رامنځ ته کېږي، د مدني قانون په ۲۳۶۲ تر ۲۳۶۶ مادو کې تر پوښښ لاندې نيول شوی. ۲۳۶۲ ماده وايي چې د ارتفاق حق هغه وخت پای ته رسي چې د ارتفاق د حق په هکله د مشخصې مودې په هکله هوکړه شوي وي او دا موده تېره شوی وي. په دې حالت کې ښايي تاسوتصور وکړئ چې د ملکيت مالک د ارتفاق حق د ۵ کلونو لپاره پلوري او په دې توګه د ۵ کلنې مودې په پای ته رسېدو سره د ارتفاق حق هم پای مومي. سربېره پر دې، کېدای شي د ارتفاق حق په هغه حالاتو کې هم پای ته رسېږي چې که چېرې هغه عقار چې د ارتفاق د حق اجازه ورکوی يا هغه عقار چې د ارتفاق د حق د رامنځ ته کېدو سبب کېږي، په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي. همدارنګه که  هغه ملکيت چې د ارتفاق حق ته اجازه ورکوي او يا هغه ملکيت چې د ارتفاق د حق سبب کېږي د عين شخص له خوا وپېرل شي، د ارتفاق حق هم پای ته رسېږي. دا موضوع د درک وړ ده ، په هغه حالت کې چې د ملکيت مالک او د ارتفاق حق لرونکی يو شخص وي په هغه صورت کې نور د ارتفاق حق ته اړتيا نه ليدل کېږي. بلاخره ۲۳۶۳ ماده وايي چې که د ارتفاق حق" د ۱۵  کلونو لپاره نه وي کارول شوی، پای ته رسېږي."

د زمان د تېرېدو په نتيجه کې د رامنځ ته شوي ارتفاق حق په اړه ، تاسو کولای شئ د ۲۳۶۲ تر۲۳۶۶ مادو څخه هم استفاده وکړئ.  خو د دې حق د پای ته رسېدو د سبب په هکله بل معيار هم بايد په نظر کې ونيول شي.  دا معيار په ۲۲۸۶ماده کې راغلی چې پکښې ويل شوي د زمان په تېرېدو سره د ارتفاق حق " د موجبه سببونو د موجوديت سره متوقف کېږي." د دې مادې معنی دا ده هر کله چې د لارې اړوند ارتفاق حق سبب شوی وضعيت له منځه ولاړ شي ، په هغه صورت کې د ارتفاق حق چې د زمان په تېرېدو سره رامنځ ته شوی و، هم له منځه ځي. نو کولای شو ستاسو ګاونډی جميله ته ووايو چې ستاسو د ګاونډي په توګه وروسته له شلو کلونو (د زمان د تېرېدو له مخې د تګ راتګ حق

لاس ته راوړلو ځخه ښځه کال وروسته) د ښاروالۍ چارواکي پرېکړه کوي عمومي لاره چې د هغې ځمکې ته رسېږي، جوړه کړي. ددې کار په ترسره کېدو سره، ستاسو د ځمکې له لارې د د جميلې د تګ راتګ حق پای ته رسېږي.

### ۱.۲.۴ د ارتفاق حق په اړه وروستی څرګندونې

دا زموږ بحث د ارتفاق د حق په هکله پای ته ر سوي. په دې برخه کې تاسې زده کړل چې د ارتفاق حق يومحدوديت دی چې د ملکيت د بل مالک په وړاندې د مکلفيت له امله د مالک له لوري د خپل ملکيت استعمالول محدودوي. په خپله ځمکه کې د ودانيو د جوړولو محدوديتونو، يا د خپل ملکيت د کارولو د څرنګوالي په اړه محدوديتونو او هم ستاسو په ملکيت کې د نورو د مداخلې د مخنيوي په اړه د محدوديتونو په شمول ، تاسو زده کړل چې د ارتفاق حق بېلابېل ډولونه لري. په دې برخه کې موږ د ارتفاق حق پر يو ډولحق باندې تمرکز درلود او هغه د ارتفاق د حق يو ډېر معمول ډول يعنې د تګ راتګ اړوند د ارتفاق حق. د ارتفاق دا ډول حق مالک ته اجازه ورکوي تر څو په هغه ملکيت کې چې په نوموړي پورې اړه نه لري، تګ راتګ وکړي. تاسو زده کړل چې که يو شخص خپل کور ته له بلې لارې لاس رسی ونه لري او يا ستاسو د ملکيت له لارې ځخه خپل کور ته يې تګ او راتګ ډېر ستونزمن وي، قانون هغه شخص ته اجازه ورکوي چې د عادلانه خسارې له جبران وروسته ستاسو د ملکيت له لارې تګ راتګ وکړي. تاسو همداشانې زده کړل چې که يو شخص ستاسو له ملکيت ځخه له ۱۵ کلونو ځخه په زياته موده کې تګ راتګ کړی وي او تاسو ددې کار مخالفت نه وي کړی، نوموړی شخص د ارتفاق د تګ راتګ حق تر لاسه کوي. دا پروسه د زمان د تېرېدو په نوم يادوي.

ورپسې تاسو زده کړل چې که يو شخص د ارتفاق حق تر لاسه کړي نوموړی شخص کولای شي د ارتفاق حق د کارولو لپاره ټول اړين اقدامات تر سره کړي لکه په هغه حدودو کې د لارې جوړول چې دا کړنې ملکيت ته زيان ونه رسوي. همدارنګه تاسو زده کړل چې د ملکيت د مالک په توګه تاسو هيڅ داسې کار نه شی کولای چې د ارتفاق حق ته ضرر ورسوي. بلآخره، تاسې زده کړل چې په کومو لارو سره د ارتفاق حق پای ته رسېږي لکه د ارتفاق د حق لپاره د پای مشخصه نيټه ټاکل شوې وي، او يا دواړه ملکيتونه د عين شخص له خوا وپېرل شي، او يا د ملکيت د خاوند د ارتفاق حق له منځه ولاړ شي، او يا د ارتفاق له حق ځخه د ۱۵ کلو لپاره استفاده ونشي. تاسو همدا شان زده کړل چې په ځانګړو قضيو کې د زمان د تېرېدو اړونده قضيه کې زده کړل چې د مثال په توګه د تېرېدلو حق هغه وخت پای ته رسېږي چې د هغو دليل له منځه ولاړ شي لکه د جميلې د کور په اړه چې د ښاروالۍ چارواکو د پرېکړې له مخې د نوموړې د کور لاره له عمومي سرک سره وتړل شوه.

د ارتفاق حق د ملکيت د خاوند په توګه ستاسو پر حق باندې محدوديتونه دي. د تګ راتګ ارتفاق حق په مشخصه توګه هغه محدوديت ستاسو په ملکيت د نورو د مخنيوي په اړه ستاسو پر حق باندې محدوديت دی. قوانين ځينې وخت داسې محدوديتونه ستاسو پر مالکيت باندې تحميل کوي تر څو انصاف تامين شي. بې له شکه، دا چې جميله خپل کور ته د رسېدو توان و نه لري، عادلانه کار نه دی. آيا تاسو له دې سره موافق نه ياستئ؟ په داسې حال کې چې موږ په دې برخه کې د تګ راتګ پر حق باندې تمرکز درلود، د محدويت نور شکلونه هم ستاسو پر حق باندې راتلی شي. وروسته به تاسو په اووم څپر کې کې به ډېر څه زده کړئ چې ستاسو د ځمکې له لارې د اوبو د تېرېدلو په اړه تاسو څوک ياستئ او د کوم کار د ترسره کولو اجازه لری. دا هم ستاسو د ملکيت پر حق يو ډول محدوديت دی. وروسته کله چې تاسو د اوبو ځخه د استفادې اړوند قواعد زده کوی، هڅه وکړئ ترڅو يو ځل بيا په دې څپرکي کې د ملکيت د خپل حق د محدوديتونو په هکله فکر وکړئ او وګورئ که تاسو د هغو قوانينو تر منځ ورته والی او توپير پيدا کړې چې تر دې دمه پرې بحث شوی دی.

**عملي مثالونه**

۱. ستاسو ګاونډی جميله خپل کور ته د رسېدو لپاره ستاسې د ملکيت له لارې د تګ راتګ حق لري. تاسو متوجه کېږی چې جميله ستاسو د غنمو د کروندې په منځ کې تګ راتګ کړی او ستاسو کښت يې زيانمن کړې دی. جميله تاسو ته وايي چې خپل کور ته د رسېدو لپاره ستاسو د ملکيت له لارې ځکه ځي چې دا لار ډېره لنډه ده او نوموړې د ارتفاق حق په درلودلو سره اجازه لري تر څو دغه کار وکړي.آيا جميله دا حق لري؟

۲. تاسو د حمید په نوم یو بل ګاونډی لرئ چې ستاسو له ملکیت څخه خپل کور ته د رسېدو په خاطر شل کاله کېږي ګټه اخلي کله چې تاسو هر ځل نوموړی له څمکي د تېرېدو په حال کې وینئ ، هغه ته وایئ چې دغه کړنه یې ستاسو په ملکیت تېری ده او تر ي غوښتنه کوئ چې کور ته د رسېدو لپاره د عمومي جادې څخه کار واخلي. تاسوآن په دې هکله د حقوقو ریاست ته شکایت کړی دی. هر ځلې حمید تاسو ته وایي که د عمومي جادې له لارې خپل کور ته ولاړ شي نو لار یې یو مایل اوږدېږي او دا استدلال کوي چې هغه ډېر وخت کېږي چې ستاسو د ملکیت له لارې خپل کور تګ راتګ کوي او اوس د زمان د تېرېدو له مخې د تګ راتګ حق لري.آیا د حمید استدلال سم دی؟ که نه، تاسوته ښایي چې د حمید له لوري د عادلانه بدلې په ورکړې سره نوموړي ته د تګ راتګ ارتفاق حق ورکړئ؟

**احتمالي ځوابونه**

۱ . نه، جمیله حق نه لري. د مدني قانون ۱۹۱۹ ماده در په یاد کړئ چې وایي د ارتفاق حق " په هغه ځای کې استعمالېدی شي چې تګ او راتګ ورباندې په ډېر ضرر ممکن شي." بې له شکه د کروندې له لارې د ډېر لنډ واټن په غوره کولوسره، جمیلې ستاسو کرونده زیانمنه کړې. جمیلې په دې کار سره د مدني قانون ۱۹۱۹ مادې له حکم څخه سرغړونه کړې. نوموړې مجبوره ده چې ستاسو له کروندې راتاو شي، که څه هم دا تګ یو څه زیات وخت نیسي.

۲. نه، د حمید استدلال سم نه دی. د مدني قانون ۲۲۷۹ ماده در په یاد کړی چې وایي د دې لپاره چې د زمان په تېرېدو سره د تګ راتګ حق تر لاسه شي، دزمان تېردل باید د ۱۵ پرله پسې کلونه او د نه اعتراض په صورت کې وي. دا چې د کروندې له لارې تاسو د حمید د په تګ راتګ اعتراض کړی او د دې موضوع په اړه مو د ښاروالۍ چارواکو ته راپور هم ورکړی ، په دې صورت کې دا حق له اعتراض څخه ګوښی نه دی. قوانین حمید ته اجازه نه ورکوي چې له دې امله د زمان د تېرېدو له مخې حق تر لاسه کړي. سر بېره پر دې ، قوانین احتمالاً تاسو پر دې باندې نه مکلف کوي چې د خسارې د عادلانه جبران په صورت کې ، حمید ته د تګ راتګ حق ورکړئ. د مدني قانون ۱۹۱۹ ماده در په یاد کړئ چې وایي یوازې په هغه صورت کې تاسود تګ راتګ په اجازه ورکولو مکلف یاستئ چې ملکیت ته ستاسو د څمکې له لارې د بل شخص رسېدل ډېر ستونزمن یا ناشوني وی. د یو مایل په اندازه د واټن لیرې والی په ډېر احتمال د حمید لپاره « ډېر ستونزمن» شرط نه دی او داسې ښکاري چې د خسارې د عادلانه جبران په صورت کې هم د تګ راتګ د حق وړ نه ګڼل کېږي.

**2 . د عام ګټو له امله د ملکیت د کارولو محدودیتونه**

تاسو په آخر کې په دقت سره دا مشخصه کړه چې آیا ستاسو ګاونډۍ جمیله په واقعیت کې ستاسو له څمکې څخه د ارتفاق د تګ راتګ حق لري او که نه. خو ددې موضوع معلومولو دومره وخت ونیو په پیاله کې هغه چای چې تاسو اچولي و او تاسو یې د چښلو اراده درلوده له څمکې څخه د جمیلې د تېرېدو په مهال اوس سوړ شوی دی. له همدې امله تاسو بیا خپل کور ته ننوزی او تازه چای برابروی. تاسو د پخلنځي لوري ته ځئ او غواړئ چې چای وکړئ. کله چې د اوبو نل خلاصوی وینئ چې له نل څخه خاورینه مایع راځي. تاسو ددې کار د علت په هکله فکر کوئ. وروسته بیا خپلو ګاونډیانو فهیم او جمیلې ته زنګ وهئ او له هغوی پوښتنه کوئ چې دوی هم د ورته ستونزې سره مخامخ دي او که نه. هغوی په ځواب کې وایي چې د اوبو په اړه د ورته ستونزې سره مخامخ دي او د دوی د اوبو له نل څخه هم خاورینه مایع راځي. په دې وخت کې فهیم تاسو ته وایي له دوستانو څخه یې اورېدلي چې د اوبو د زېرمې په اړه ستونزه په دې کې ده چې یو

نوي شرکت سیند ته نژدې ډېران جوړ کړی او تاسو بیا فهیم ته وایي چې باید ددې کار مخنیوی وشي خو تر دې د مخه د موضوع د سپیناوي په موخه باید پلټنه وشي.

په مخکنۍ برخه کې تاسو د هغو لارو چارو په هکله معلومات تر لاسه کړل چې قانون د خصوصي ګټې له مخې د ملکیت پر کارولو باندې محدودیت وضع کوی. تاسو دا هم زده کړل چې د خپل ملکیت په کارولو سره ګاونډی ته ضرر رسول منع دي، او دا چې قانون کولای شي ستاسو د ملکیت پر حق باندې محدودیت وضع کړي ځکه چې بل شخص د ارتفاق د حق درلودونکی دی.په دې برخه کې موږ به د ملکیت د حق په اړه د نورو محدودیتونو په هکله څېړنه وکړو. خو اوس موږ پر دې موضوع باندې بحث کوو چې قانون د ملکیت حق په څه ډول محدوي ځکه چې هغه عامه ګټو ته ضرر رسوي.

په داسې حال کې چې خصوصي ګټه یوازې د یو فرد د هوساینې سره تړاو لري، عامه ګټه د ټولنې د ټولو وګړو د هوساینې موضوع په بر کې نیسي. د نظر وړ جماعت یا ټولنه کېدای شي د کلي په اندزه کوچنۍ وي او یا د افغانستان په شان د یو هېواد په اندازه لویه وي. داسې ښکاري چې ستاسو ښارګوټی د اوبو له زېرمې څخه د خاورینې مایع له امله د ستونزې سره مخامخ شوی دی، نو دا ډول مایع پر عامه ګټو باندې اغېز ښندي. که د اوبو له زېرمې څخه نوره ګټه وا نه اخیستل شي، ددې ضرر یوازې تاسو ته متوجه نه دی. او ټول ښارګوټی ته ضرر رسېږي.

خو ددې خبرې یادونه مهمه ده چې د خصوصي ضرر او عامه ضرر تر منځ وېشونکې کرښه ډېره څرګنده نه ده . " عامه ګټو ته ضرر" او " خصوصي ګټو ته ضرر " ترمنځ تداخل شتون لري. د مثال په توګه، په یقین سره ستاسو له شیردان څخه د خاورینې مایع راتلل، خصوصي ګټې ته ضرر دی. خو په ورته وخت کې، جماعت په ټوله کې هم له هغو څخه زیان وینې. ځینو محصلینو ته دا ډول تداخل واضح نه دی. دا یوه عادي خبر ده. خو تداخل همدارنګه د یو حقوق پوه یا وکیل په توګه تاسو ته ګټور هم دی، ځکه تاسو کولای شي استدلال وکړی ستاسو موکل ته رسېدلی ضرر په دوه دلیله جواز نه لري – ځکه هغه خصوصي ګټې ته ضرر دی او هم عامه ګټو ته ضرر دی.

په دې برخه کې، به موږ د بېلابېلو هغو لارو چارو په هکله خبرې وکړو چې عامه ګټو ته د بالفعل او بالقوه ضرر په صورت کې د ځمکې په کارولو باندې محدویتونه په څه ډول وضع کېږي. لومړی موږ به د عامه ضرر په اړه په مدني قانون کې راغلی عام حکمونه تر څېړنې لاندې ونیسو، یعنې کله چې کار او بار په داسې ډول جریان لري چې عامه ګټو ته فاحش صرر رسوي. وروسته بیا موږ په لنډ ډول کرنیزو ځمکو په اغیزناک کارولو کې د عامه ګټو رول ته نظر کوو. موږ به همدارنګه د چاپېریال اړوند محدودیتونه هم را واخلو، د هر څه نه مخکې دا موضوع و څېړي چې د ککړتیا کوم ډول منع دي او ورسره یو ځای به د ښکار کولو او کب نیولو د محدودیتونو په هکله هم معلومات وړاندې کړو. ورپسې به موږ د عامه ګټو په نظر کې نیولو سره تاریخی او کلتوري آثار د کارولو او ساتلو په هکله هم و غږېږو. که چېرې تاسو ددې نومونو او اصطلاحاتو سره آشنایي و نه لرئ نو اندېښنه مه کوی وروسته به موږ په دې هکله په تفصیل سره معلومات وړاندې کړو او اوس اجازه راکړئ بحث ته دوام ورکړو.

### ۲.۱ د مدني قانون د پلي کېدو وړ عام حکمونه

لکه چې یادونه وشوه، ددې ترمنځ چې خصوصي ضرر څه دی او عام ضرر څه ته وایي، ډېر تداخل شته. په داسې حال کې چې دا موضوع ابهام لري، دا به ستاسو لپاره ګټوره وي چې عین قانوني اصطلاحات د مختلفو حالاتو لپاره وکاروئ. تاسو ددې څېرکي په لومړۍ برخه کې د فاحش ضرر اړوند عام ممانعتونه د مدني قانون په ۱۹۰۶ ماده کې ولوستل. دا ممانعتونه همدارنګه د عامه ضرر په اړه هم د پلي کېدو وړ دی. عین مطلب د ۱۹۳۲ ماده کې د خصوصي تشبث له لوري د رامنځ ته شوې ضرر د ممنوعیت خلاف په اړه هم مطرح دی. په دې ترتیب، کله چې تاسو د عامه ضرر له حالت سره مخامخ کېږئ، دا حکمونه په یاد ولرئ ځکه چې هغه ستاسو لپاره په دې حالتونو کې هم پکارېږي.

### ۲.۲ د کرنیزې ځمکې د اغېزمن کارولو هڅول

په دې برخه کې موږ په دې هکله بحث کوو چې عامه ګټې ستاسو د ملکیت د کارولو پر حق باندې محدودیت وضع کوي تر څو په دې طریقې سره له کرنیزې ځمکې څخه اغېزمن کارول و هڅول شي. تاسو به دا زده کړئ چې له کرنیزو ځمکو څخه په اغېزمنتیا سره ګټه اخیستل هم د ځمکو د تنظیم او هم د اوبو د مدیریت اړوند قوانینو کې تر بحث لاندی نیول شوي دي او د ملکیت پر حق باندې یې محدودیتونه وضع کړي دي. خو تر دې د مخه چې دا قوانین تر بحث لاندې ونیسو،

لومړی اجازه راکړئ د هغو اصطلاحاتو د تعریف سره آشنا شو چي په بحث کي تري استفاده شوي. لومړی، کرنیزي ځمکي تر بحث لاندي نیسو. دا ډول ځمکي پر هغو ځمکو باندي دلالت کوي چي د نباتاتو لکه غنم او ونو لکه مېوه لرونکي وني، د کرلو لپاره کارول کېږي. که چېرې ځمکه د کرلو وړ و نه ګڼل شي، په دې صورت کي به ناشوني یا ډېره ستونزمنه وي چي په هغو کي بوټي وکرل یا نیالګي کښېنول شي. هغه کرنيزې ځمکي چي د کښت وړ نه دی، د نورو موخو لکه د څارویو د روزلو لپاره کارول کېږي. همدارنګه، موږ به په دې اړه چي له کرنيزي ځمکي څخه اغېزمن کارول و هڅول شي، هم بحث کوو. د کرنيزې ځمکي د اغېزمن کارولو له هڅولو څخه زموږ هدف دادی چي له اړونده ځمکي څخه د کمو ضايعاتو په ورکولو سره ډېر پیداوار تر لاسه شي.

اوس چي موږ د غوره اصطلاحاتو تعریف سره آشنا شو، راځئ په لنډ ډول دا ووایو چي ولي موږ له کرنيزي ځمکي اغېزمن کارولو د هڅوني سره علاقه لرو. په لومړي ګام کي، باید وویل شي چي کرنيزي ځمکي کمي دي. دا موضوع تر ډېره بریده د کښت وړ ځمکو په برخه کي صدق کوي. په افغانستان کي یوازي ۱۲٪ ځمکه د کښت وړ ده. دا په دې معنی دي چي نباتات او بوټي یوازي د افغانستا په ډطره یوه وړه برخه کي وده کولای شي. په دې دلیل چي د ځمکي یوه کوچنی برخه د کرني لپاره مناسب ده، ره همدې امله ټولنه د دې ځمکو په اغېزمن کارولو کي ګټه لري. که څه هم ډېر وګړي کرنيزې ځمکي په واک کي نه لري، خو د ټولني ټول وګړي د هغو د ګټي اخيستني په څرنګوالي کي ګټه لري . د مثال په توګه، غنم په افغانستان کي یو مهم کرنیز پیداوارو دی او همدارنګه غنم په افغانستان کي د خوړو د اړتیا وړ مهم توکي په توګه پېژندل کېږي. ټولنه په دې کي ډېره ګټه لري تر څو باور تر لاسه کړي چي له ځمکي څخه د خوراکي توکو د تولید لپاره په اغېزمنتیا سره ګټه اخیستل کېږي. په دې ترتیب سره تاسو ګورئ چي له کرنیزو ځمکو څخه ګټه اخيستل د ټولو په ګټه دي. له همدې امله بنايي قوانین له کرنيزې ځمکي څخه داغېزمن کارولو ا و هڅولو په موخه، د ملکيت پر حق باندې محدودیتونه وضع کړي.

اوس راځئ موضوع وڅېړو چي د کرنيزې ځمکي په اغېزمن کارولو کي د عامه ګټو له مخي د خپل ملکيت سره چي قانون پري محدودیت وضع کړی، څه کولای شئ. په دې اړه د پلي کېدو وړ قوانين د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکوالي د چارو د تنظیم قانون، د ۲۰۰۹ ز کال د اوبو قانون او د ۱۹۷۷ زکال مدني قانون دی. تاسو به ددې قوانينو په هکله په ورپسې څپرکي کي چي د کرني او اوبو په هکله دی په تفصیل سره معلومات تر لاسه کړی. که په دې اړه زموږ بحث ډېر لنډ دی دهغو دليل يي دادی چي موږ یوازي د هغو غوره ټکي دلته تر بحث لاندي نیسو تر څو تاسو ته په دې هکله چي د مالکیت حق ددې قوانینو په ترڅ کي په څه ډول محدود شوی، اجمالي انځور وړاندې کړو. ځمکي او اوبو پورې اړوند قوانين د عیني حقوقو د مهمو برخو څخه دي او تاسو باید دا قوانین په ځیر سره وګورئ او په همدې دلیل هم هغو ته یو ځانګړی څپرکي بېل شوی دی.

**د ځمکوالی چارو د تنظیم قانون**

**۹۰ ماده:** په کرنیزه ځمکه کي د سړکونو،ودانیو او تأسیساتو جوړول او غیر کرنيز فعالیتونه اجازه نه لري. په استثنایي حالاتو کي، کارونکی باید د کرني، اوبو لګولو او اوبو له وزارت څخه مخکنی اجازه تر لاسه او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس جمهور له لوري تأیید شي.

لکه څرنګه چي تاسو يي ګورئ د ځمکوالی د چارو د تنظیم قانون د ۹۰ مادي له مخي که تاسو کرهنیزه ځمکه ولرئ، قوانين د خپلي ځمکي د څرنګوالي پر کارولو باندې محدودیت وضع کوي. دا محدودیت له دې څخه عبارت دی چي تاسو نشی کولای کرنيزه ځمکه د غیر کرنيزو مقاصدو لپاه رو کاروئ. په حقیقت کي، له کرنيزو ځمکو څخه سمه ګټه اخيستنه په هغه اندازه مهم دی تر څو عامه ګټي پکښي خوندي شي. په دې اړه قوانين تاسو مکلف ګڼي چي د ځمکي د غیر کرنیزو کارولو لپاره د رییس جمهور له لوري جواز تر لاسه کړئ! د ځمکوالی چارو د تنظیم د قانون پر حکمونو سربېره، مدني قانون هم په دې هکله زيات شمېر حکمونه لري (۱۴۰۸،۱۹۹۲،۱۹۹۱مادي) چي له ځمکي څخه اغېزمن ګټه اخیستل هڅوي.

اوس راځئ چې موضوع په یو مثال سره واضح کړو. تاسو یو مشتري لرئ چې غواړي د کرنیزو ماشینو لپاره ټایرونه تولید کړي. نوموړی تاسو ته وایي چې د فابریکې د جوړولو لپاره یې د ځمکې یوه ډېره ښه ټوټه پیدا کړې چې د کابل په شمال کې موقعیت لري. د اړونده اوسنی خاوند له کلونو راهیسې په ځمکه کې غنم کري، خو اوس غواړي کابل ته کډه شي. ستاسو مشتری تاسو ته وایي چې د ځمکې قیمت ډېر مناسب دی او وړاندیز کوي مخکې تر دې چې بل څوک یې واخلي، تاسو یې وپېرئ. تاسو به خپل مشتري ته څه ډول مشوره ورکړئ؟

تاسو باید خپل مشتري ته داسې مشوره ورکړئ چې دا ډول رانیول ښایي ډېر عاقلانه نه وي. په دې دلیل چې دا کرنیزه ځمکه د کښت وړ ځمکه ده او که چېرې یې را ونیسي نو نوموړي ته به ددې اجازه ور نکړل شي چې د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون د ۹۰ مادې له مخې هغه د غیر کرنیزو موخو لپاره وکاروي او په دې صورت کې ښایي نوموړی دی ته اړ شي تر څو له رییس جمهور څخه د فابریکې د جوړولو لپاره استثنایي اجازه تر لاسه کړي. دا ډول اجازې یوازې د استثنایي قضیو په اړه ورکول کېږي. له دې امله د موضوع په اړه لوی خطر شتون لري او نوموړی به و نه کړای شي چې په یاده ځمکه کې د ټایرونو فابریکه جوړه کړي. دا سمه ده چې ستاسو مشتري تاسو ته د داسې ټایرونو د تولید وړاندیز کړی چې په کرنیزو ماشینونو کې تر کار اخیستل کېږي او دا ماشینونه په کرنه کې کارول کېږي، خو دا استدلال به دومره اغیزمن نه وي. په زیات احتمال کرنیزه ګټه اخیستل کرنیز ماشین آلات په بر کې نه نیسي.

سر بېره پر دې چې د کرنیزو ځمکو د کارولو د څرنګوالي په هکله محدودیتونه شته، حکومت همدارنګه د اوبو د سرچینو د تنظیم په موخه له ځمکې څخه اغېزمنه ګټه اخیستل هم هڅوي. لکه چې پوهېږئ چې کرنه له اوبوپرته ناشوني ده، په همدې وجه په دې کې د ټولنې ډېره ګټه ده چې د کرنیزو پیداوارو د زیاتوالي په مقصد د اوبو له سرچینو څخه سمه ګټه واخیستل شي. په همدې دلیل د ۲۰۰۹ ز کال د اوبو قانون له اوبو څخه د ګټې اخیستلو پر اندازې او له هغو څخه د مالک د ګټې اخیستنې پر څرنګوالی باندی محدودیتونه وضع کوی. په دې هکله به د نورو جزیاتو په هکله په ورپسې څپرکي کی معلومات تر لاسه کړئ. د اوس لپاره یوازې په یاد ولرئ چې د محدودیت د وضع کولو یو دلیل د خوراکي توکو د عرضې په برخه کې له عامه ګټو څخه ملاتړ دی.

**۲.۳ د ژوند چاپېریال په اړه محدودیتونه**

د عامه ګټې له مخې د کرنیزې ځمکې په اغېزمن کارولو کې د محدودیتونو په هکله له بحث وروسته، اجازه راکړئ د ژوندانه چاپېریال په اړه د ځینو محدودیتونو په هکله هم معلومات شریک کړو. د ژوندانه چاپېریال ته ضرر عامه ګټو ته ضرر دی. موږ به په دې برخه کې د دوو غوره موضوعګانو په هکله بحث وکړو.لومړی، به موږ د ککړتیا او دا چې ژوندانه چاپېریال ته د فاحش ضرر د مخنیوي په موخه قوانین د ملکیت پر حق باندې څه ډول محدودیتونه وضع کوي، بحث وکړو. دوهم، موږ به د حیات د تنوع په اړه د عامه ګټو د خوندیتوب په موخه د ملکیت د کارولو د محدودیت په هکله بحث وکړو.

**۲.۳.۱ د ککړتیا په اړه محدودیتونه**

هر وګړی د ژوند چاپېریال په ساتنه کې ګټه لري. که خطرناکي خځلي یا زباله له لازم احتیاط پرته په میشتو سیمو کې خښ شي، دا به په زیاتېدونکی توګه د ناروغیو لکه کلورا، د وینې پیچ او د زېږون ټاکلو نیمګړتیاو او سرطان د خطرسبب شي. همدا شانې دا کېدای شي چې کښت زهرناک کړي او وحشي ژوي ووژني. له دې امله حکومت دا د عامه ګټې په توګه مشخص کړی او د دا ډول خطرناکو خځلو پر خښولو باندې یې محدودیت وضع کړی دی.

پر دې موضوع باندې د ښه پوهېدو لپاره ، راځئ د هغو پر عادلانه اړخ باندې و غږېږو. داسې انځور کړئ چې یو څوک د ځمکې یو لویه ټوټه په واک کې لري چې فابریکه یې پکښې جوړه کړې او نوموړی شخص له فابریکې څخه زباله خښوي. د فابریکې خاوند له فابریکې څخه ډېره ګټه تر لاس کوي، خو خښ شوې زباله تر ځمکې لاندې اوبو ته سرایت کوي او د اویو رسولو شبکه زیانمنوي. څوک چې له دې اوبو څخه ګټه اخلي، ناروغ کېږي. آیا دا به غیر عادلانه نه وي چې نوموړی شخص له فابریکې څخه د زیاتې ګټې د ترلاسه کولو اجازه ولري خو د ککړتیا له امله د رامنځ ته شوې ناروغې له لګښت څخه ځان غړوي؟ د ضرر دا ډول چې د ککړتیا له امله رامنځ ته کېږي د اقتصادي فعالیت بهرنی ضرر (Externality) په نوم یادېږي. دا ډول ضرر د اقتصادي فعالیت د نا اړونده دریېم لوري له لارې رامنځ ته کېږي. په دې

اړه " پایله " یا ناروغی د ککړتیا په وجه رامنځ ته کیږي. " نا اړونده درېیم لوری " هغه خلک دی چې د ککړتیا له امله ناروغه شوي دي. که څه هم موږ په دي اصطلاحاتو سره د هغوی په هکله خبري نه کوو، هغه ضرر چې تاسو ته د فهیم د څرمنو آش خوني له فعالیت څخه رسېدلی و هم بهرنی ضرر و. فهیم اقتصادي فعالیت درلود (د څرمنو آش خونه) چې نااړوند درېیم لوري (تاسو) ته یې ضرر رساوه. د ۲۰۰۷ ز کال د ژوند چاپېریال قانون په دې لټه کې دی چې دې دا ډول بهرنی ضررونو د رامنځ ته کوونکو له لوري د اړونده ضرر د لګښت ورکړه تأمین کړي. ددې قانون ۵(۵) ماده وایي :" د موجود او راتلونکي نسل د پرمختیایي او چاپېریالي اړتیاوو لپاره د پرمختیا او پراختیا د دوامداره حق تأمینول"



سربېره پر دې، عام وګړي د راتلونکو نسلونو لپاره د ژوند چاپېریال په ساتنه کې ګټه لری. د ۲۰۰۷ ز کال د ژوند د چاپېریال قانون ۵ (۴) ماده ددې د توجیې لپاره د ملکیت پر حق باندې د محدودیت د وضع کولو په ترڅ کې وایي: " د راتلونکو نسلونو د ګټو د تأمینولو لپاره د ژوند په چاپېریال کې د روغتیا او د حیات د تنوع او تولیدي طاقت ساتنه."

اوس چې ددې ډول محدودیتونو تر شا توجیه مو تر پوښښ لاندې راوسته، اوس اجازه راکړئ مهم قوانین و څېړو. هغه قوانین چې په چاپېریال ساتنه کې د عامه ګټو له نظره د ملکیت حق د کارولو په اړه له محدودیتونو څخه بحث کوی، د ۲۰۰۷ ز کال د ژوند د چاپېریال قانون او د ۲۰۰۹ ز کال د اوبو قانون دی. د اوبو د قانون په روانو اوبو، سیندونو او رودونو کې د توکو خښول محدودوي. د اوبو د قانون ۳۱(۱) ماده حکم کوي: " حکمي او حقیقي شخصیت نشي کولای د ټاکلې شوې محدودې څخه زیات، د اوبو سرچینې د زبالې په کارولو یا تشولو سره ککړې کړي، د چټلو اوبو، صنعتي ضایعاتو، کمیاوي یا زهرجنو توکو په واسطه یې ککړې کړي." دلته " ټاکل شوی محدوده" په دې معنی ده چې حکومت د دا ډول ککړتیا لپاره مجاز حد ټاکلی دی. ۲۹(۱) ماده د عامې روغتیا وزارت او نورو ادارو سره په همکاری، د چاپېریال ساتنې ملي اداري ته دې دا ډول محدودې د ټاکلو واک ورکوي. په دې ترتیب د زبالې د خښولو د غیر قانوني والي د معلومولو په مهال، تاسو باید دا مقررات چې د ککړتیا د مختلفو ډولونو لپاره حدود تعینوي، په پام کې ونیسئ. لکه چې مخکې یې یادونه وشوه، تاسو به د اوبو د حکمونو په اړه په وروستي څپرکي کې په تفصیل سره معلومات تر لاسه کړئ.

.

د ۲۰۰۷ ز کال د ژوند د چاپېریال قانون د اوبو د قانون سره په ډېرو مواردو کې تداخل لري، خو همدارنګه له اوبو پرته نوره ککړتیا لکه د خطرناکو جامدو موادو زباله، او د هوا ککړتیا هم تر پوښښ لاندې نیسي. اوس راځئ د ژوند د چاپېریال پر مهمو برخو باندې نظر واچوو او بیا وروسته د هغو د پلي کېدو څرنګوالی تر بحث لاندې نیسو.

**د ۲۰۰۷ کال د ژوندچاپېریال قانون**

**۱۳(۱) ماده:**

د داسو فعالیتوو سرته رسول یا د پروژو او پلانونو تطبیقول چې د ژوند پر چاپېریال باندې ناوړه اغیزه کوي، جواز نه لري خو داچې ددې قانون په شپاړلسمه ماده کې درج شوي حکم په دې هکله په پام کې نیول شوی وي.

**۲۷(۱) ماده:**

هېڅ شخص حق نه لري ککړوونکي د ژوند په چاپېریال کې تش کړي یا د ژوند د چاپېریال د ککړېدو سبب شي یا اجازه ورکړي چې د ژوند چاپېریال (ځمکه، اوبه او هوا) تر هغه حده پورې ککړ شي چې ناوړه اغېزې یې د ژوند پر چاپېریال یا دا نسان پر روغتیا باندې جدي وي، خو داچې د زبالو د کنترول جواز لیک ددې قانون د اته ویشتمې مادې د حکم مطابق په لاس کې ولري او دهغه مطابق عمل وکړي.

**۳۰ ماده (۱):**

هېڅ شخص نشي کولای زبالې داسې راټولې، انتقال، دسته بندي، لیږې، زېرمه یا یې په داسې ډول اداره کړي چې د ژوند پر چاپېریال باندې ناوړه سترې اغېزې واردې کړي.

دا حکمونه به د ملکیت د استعمال په اړه د چاپېریالي محدودیتونو په برخه کې به زموږ سره ډېره مرسته وکړي. د قانون ۱۳(۱) ماده د مراعاتولو عام مقررات وړاندې کوي ـ د هغو فعالیتونو ممنوعیت چې پر چاپېریال باندې د پام وړ ناوړه اغېز ښندي. د ۴(۱) له مخې ناوړه اغیزه " هغه بالفعل یا بالقوه اغېزې دي چې په حاضر حال یا راتلونکي وخت کې د ژوند چاپېریال او د انسان ژوند زیانمنوی، د روغتیایي، مصؤنیت، او اقتصادي او فرهنګي سوکالۍ د امکاناتو په برابرولو کې د بشري ټولنو ځواکمنی ته د زیان رسولو سبب کېږي." ۱۳ (۱۹ ماده لکه چې تاسو مخکې ولیدل د ۱۶" مادې د حکمونو" سره تړاو لري. ۱۶ ماده د ځانګړو کړندودونو یوه ټولګه ده چې باید پلي شي او د هغو فعالیتونو پلانونه دي چې حکومت ته د تأیید لپاره وړاندې شي . دا د جواز اخیستلو د مطالباتو یوه بڼه ده چې حکومت د ضرر د رامنځ ته کېدو د مخه د هغه مخنیوی وکړي او یوازې هغه ټولنیز ګټور فعالیتونه تأمینوي چې ضرر هم رامنځ ته کولای شي. د جواز اخیستلو مطالبات کېدای شي د بالقوه ضرر د رامنځ ته کېدو د مخنیوي لپاره هم وکارول شی.که څه هم موږ نه غواړ د ۱۶ مادې کړندودنو تر پوښښ لاندې ونیسو، هر کله چې تاسو وخت پیدا کړ هغه ولولئ تر څو د جواز د مطالباتو یا شرطونو سره آشنا شئ.

۲۷(۱) ماده تر ۱۳(۱) مادې څخه یو څه زیاته مشخصه ده. دا یوازې تشول په بر کې نیسي. تشول کېدای شي داسې فعالیتونه لکه هوایي تشعشات او د مایع یا جامدو زبالو خښول. لکه تاسو چې وینئ، پر ناوړه اغېزې باندې عین ممنوعیت یو معیار یا سټانډارډ دی. همدارنګه تاسو یې ګورئ چې د ۱۳(۱) مادې په شان، حکومت ددې غوښتنه کوي مخکې تر دې چې په چاپېریال کې زباله تشه شي، باید جوازتر لاسه شي.

۳۰(۱) ماده لا نوره هم مشخصه ده. دا د زبالو د مدیریت په هکله ده. ددې مثال به داسې وي چې که ستاسو ګاونډي فهیم پرېکړه وکړي چې پخپل ملکیت کې ډېران جوړ کړي. لکه مخکې، دا ډول فعالیتونه چې د ناوړه اغېز سبب کېږي، منع دي. حکومت، د ۳۱(۱۹ مادې له مخې همدارنګه له هغه شخص څخه چې غواړي د زبالې د مدرېریت فعالیت لکه د ډېران جوړول تر سره کړي ، باید د زبالې د مدېریت جواز تر لاسه کړي.

تاسو کېدای شي دې ټکی ته متوجه شوی یاستئ - هغه فعالیتونه چې پر چاپېریال باندې د ناوړه اغېز سبب کېږي په عمومي توګه منع دي. خو پر چاپېریال باندې د ځینو ناوړه اغېزو مخنیوی ناشونی دی. ټولنه فابریکو او ځمک کېندنی ته اړتیا لري. قانون د جواز ورکولو له لارې پر چاپېریال باندې د ناوړه اغېز او اقتصادي ودې اړتیا ترمنځ انډول تنظیموي. دا د حکومت لپاره د ضرر د پېښندو د مخه د هغو د مدېریت لپاره یوه لار ده چې په دې کار سره چاپېریال ته د ضرر ناوړه اغېز یوې منل شوې کچې ته ورسوي.

**۲.۳.۲ د ژوند تنوع**



همدا اوس کېدای شي تعجب وکړئ چې ولې ستاسو د ملکیت حقوقو په درسي کتاب کې د مېږې انځور راغلی. په ظاهر کې هغه بې ځایه معلومېږي خود عادي مېږو له جملې څخه نه دی. دا مېږه د آرګالي له نسل څخه ده چې د افغانستان په ټاکلو سیموکی یو بومي ژوی دی. ددې ژوي نسل د ګواښ سره مخامخ دی. په دې معنی چې د آرګالي د نسل مېږې په دومره اندازه کمی شوي چې د هغو د بېخي ورکېدو خطر شته. په دې برخه کې موږ په دې هکله بحث کوو چې قوانینو د آرګالي په شان ژویو د ورکېدو د مخنیوي په موخه د ځمکو د کارولو په اړه څه ډول محدودیتونه وضع کړي دي. د ملکیت پر حق باندې د دا ډول محدودیتونو وضع کول د ژوند تنوع په برخه کې د عامه ګټو د ساتلو په موخه تر سره کېږي.

د ۲۰۰۷ ز کال قانون د ژوند تنوع داسې تعریفوي:" د ټولو سرچینو د ژوندیو موجوداتو، خاورینو او اوبو د ایکو سیستمونو یا ایکولوژیکي تعاملاتو تر منځ تنوع ده او د ایکو سیستمونو په منځ کې د ډول ډول نباتاتو، اشجارو او ژوند لرونکو انواعو تر منځ تنوع پکښې شامله ده." د ایکو سیستم دا اصطلاح په آسانۍ سره په یوه ساحه کې د ژوند د ټولو بڼو په معنی ده. په دې کې داسې څېزونه راځی لکه ونې، بوټي، حشرات، باکتریا ګانې، کبان، الوتونکی مرغان، او تې لرونکې. د هغو ژوندیو موجوداتو ډولونه چې په یوه ټاکلې ساحه کې ژوند کوي، د خپل ژوند د دوام لپاره یو پر بل باندې تکیه لري. د مثال په توګه، الوتونکي مرغان کېدا شي د سمندرونو کبان ښکار کړي او کبان له حشراتو څخه ګټه واخلي او حشرات پخپل وار سره له الجیګانو تغذیه کوي. په دې ترتیب ایکو سیستم په دې ځای کې له الوتونکو مرغانو، کبانو، حشرو او الجې څخه جوړ شوی دی. که چېرې ککړتیا د الجیګانو د له منځ تلو سبب شي، حشرات چې له الجیګانو څخه تغذیه کوي هم له منځه ځي او ورپسې کبان چې له حشرو څخ ګټه اخلي له منځه ځي او په پایله کې الوتونکي مرغان چې

له کبانو څخه ګټه اخلي هم نابودېږي. د ژوند د تنوع یو بل ډول دا دی چې د حشراتو ډېر ډولونه د بوټو په وده کې رول لوبوي او له همدې امله ددې حشراتو موجودیت د خوړو په برابرولو کې ډېر مهم دی. په دې ترتیب، تاسو ګورئ چې د ژوند تنوع د عامه ګټو لپاره ډېر مهم دی.

د عامو ګټو د زیات اهمیت له امله، قانون د ژوند د تنوع په اړه ستاسو د ملکیت پر حق باندې محدودیت وضع کوی. دا ډول محدودیتونه د ۲۰۰۷ ز کال د ژوند د چاپېریال قانون په ۶ څپرکي کې بیان شوی دي. دا څپرکي د ژوند تنوع په دوو لارو سره تنظیموي: د ځانګړو ساحو ټاکل او د ساتل شوو انواعو ټاکل. په دې ډول د ژوند چاپېریال قانون د ژوند تنوع د هغو د استوګنځایونو په ساتلو او همدارنګه په مستقیم ډول پخپله د انواعو په ساتلو سره تأمینوي. د ساتل وړ انواعو استوګنځایونه د "حیواناتو/نباتاتو د تنظیم ساحو" په نوم یادېږي. د قانون ۴۱(۳) ماده وایي :" هېڅ شخص نشي کولی د ساتل شوو انواعو استوګنځایونه ویجاړ کړي . مرتکبین یې تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي."

د ژوند د چاپېریال ساتنې ملي اداره د ساتنې وړ انواعو د ټاکلو واک لري. کله چې دا اداره د ساتنې وړ انواع مشخص کړي، تاسو نور اجازه نه لری آن په خپل ملکیت کې هغه ووژنئ. ۴ ماده په دې هکله داسې وایي: " ...د ساتل شوو ټولو انواعو نیول منع دي... مګر داچې د ژوند چاپېریال ساتنې ملي ادارې د مخه اجازه یې لاس ته راوړې وي." د ژوند د چاپېریال ساتنې ملي اداره کولای شي په بندیتوب کې د نسل ګیري، تکثیر یا مصنوعي خپرونو، علمي – روزنیزو مقاصدو لپاره اجازه ورکړي.

### ۲.۴ د تاریخي او فرهنګي آثارو ساتنه

د ملکیت د کارولو په هکله د چاپېریال ساتنې بحث له بشپړېدو وروسته، اوس موږ په دې هکله بحث کوو چې څرنګه عامه ګټې د تاریخي او فرهنګي آثارو د ساتلو په موخه د ملکیت پر حق باندې محدودیت رامنځ ته کوي. تاسو به دا زده کړئ چې قانون د تاریخي او فرهنګي آثارو سره د چلند په هکله غوره محدودیتونه وضع کوي او دا محدودیتونه د ملکیت پر حق باندې د پام وړ محدودیت رامنځ ته کوي.



د تاریخي او فرهنګي آثارو سره د قانون اړیکه څه اهمیت لري؟ ددې پوښتنې ځواب د ۲۰۰۴ ز کال د افغاستان د تاریخي او فرهنګي آثارو د ساتنې د قانون په ۲ ماده کې راغلی چې وایي:" د هېواد تاریخي او فرهنګي آثار، د افغانستان په خلکو پورې اړه لري او د ټول بشریت د فرهنګي میراثونو د تکامل په لاره کې، د دوی د برخې اخیستنې ښکارندوی دي. د تاریخي او فرهنګي آثارو ساتنه د افغانستان د دولت او د خلکو دنده ده." په دې ډول تاسو ګورئ چې تاریخي او فرهنګي

آثار په حقیقت کي د هر وګړي مال دی. په دې ترتیب، هر وګړی د هغو په ساتلو کي ګټه لري. په واقعیت کي، دا ګټه دومره مهمه ده چي د اساسي قانون په ۹ ماده کي حکومت ته دنده سپارل شوې چي دې دا ډول آثارو ساتنه وکړي.

مخکي تر دې چي نور مخکي ولاړ شو، راځئ دا معلومه کړو چي" تاریخي او فرهنګي آثار څه ته وايي؟" د تاریخي او فرهنګي آثارو د ساتنې قانون په ۳ (۲-۱) ماده کي په دې هکله داسي راغلي دي:"

۱ – د بشر د کار ټول منقول یا غیر منقول محصول چي له تاریخي، علمی، هنري او فرهنګي نظره د لوړ او جامع ارزښت لرونکي وي، لږ تر لږه سل کلن عمر ولري.

۲- هغه آثار چي له سلو کلو څخه لږ عمر ولري، خو د علمي، هنري او فرهنګي ارزښت له نظره د ساتنې وړ ګڼل کيږي."

۴ ماده وايي چي د اطلاعاتو او فرهنګ وزرات وروستی پرېکړه کوي چي تر سلو کلونو د کم عمر کوم اثر په تاریخي او فرهنګي آثارو کي راتلی شي. د لرغون پېژندني انستیتوت او د تاریخي آبداتو د ساتنې او رغونې ریاست دنده لري چي د ساحوي محدودیت ټاکلو په موخه د تاریخي او فرهنګي آثار و په هکله سروې تر سره کړي. تر هغه وروسته چي د سروې له مخي اړونده ساحه محدوده شی، بیا " هېڅوک حق نه لري د لرغون پېژندني انستیتوت له اجازې پرته، د لرغون پېژندنې په راجستر شوې ساحه کي ودانۍ جوړه کړي او یا بل چاته ددې کار اجازه ورکړي."

پردې سربېره، د مادي له مخي(د کومی مادی له مخی معلومه نده)، که تاسو ځمکه تر لاسه کړئ تاسو اجازه نه لرئ" د ځمکي د ملکیت په استناد، د ځمکي پرمخ یا ترځمکي لاندې موجود تاریخي، او فرهنګي آثار تصرف کړی یایي په پلټنه لاس پوري کړئ." همدارنګه ۱۱ ماده وايي تاسو اجازه نه لرئ په خپله ځمکه کي داسي ودانی جوړه کړئ چئ تاریخي یا فرهنګي آثارو ته زیان ورسوي. او بیا د ۱۶ مادې سره سم " د مړي خښول، د څاه، کاریز او خندق کیندل، نقب وهل، سورنګ الوزل، د داشونو جوړول، د درنو عراده جاتو سوقول او هر ډول هغه عملیات چي د تاریخي او فرهنګي اثر د ضایع کېدو او زیانېدو سبب شي، د لرغون پېژندنې د انستیتوت د سجل شوو حوزو د حدود په د ننه کي د لرغون پېژندني د انستیتوت له اجازې پرته جواز نه لری." دا ټول د ملکیت د کارولو په اړه ټول ممنوعیتونه نه دي، خو هغه تاسوته ښه اېډیا در کوي چي قانون د تاریخي او فرهنګي آثارو په هکله څومره محدودیتونه وضع کړي دي. د تاریخي او فرهنګي آثارو د ساتنې قانون په پرتله ایز ډول لنډ دی او کله چي وخت ولري د هغو مطالعه به تاسو ته ګټوره وي.

همدا شاني، د ملکیت د کارولو پر محدودیت سربېره، د تاریخي او فرهنګي آثارو د ساتنې په قانون کي د مثبت دندو د تر سره کولو یادونه هم شوې. د مثال په توګه، که چېري تاسو په خپله ځمکه کي تاریخی یا فرهنګي آثار ومومئ، ۱۹ (۱) ماده په دې اړه داسي وايي:" د غیر منقول تاریخی او فرهنګي اثر میندونکی یا د هغې ځمکي خاوند چي د غه ډول اثر پکښې کشف شوی دی، موضوع د هغه د کشف له نېټي څخه په ښاري سیمو کي په یوه اوونی او په کلیو کي په دوو اوونیو کي د سیمي د اداري ډېر نېږدې آمریت ته خبر ورکړي..."

همدارنګه، د تاریخي او فرهنګي آثارو د ساتنې قانون حکومتي ادارو ته واک ورکوی هغه ځمکه ونیسي چي پکښې تاریخي او فرهنګي آثار ولاړ دی البته له مخکنی او عادلانه بدلي له ورکړې و روسته. دې ته استملاک ویل کېږي. په دې درسي کتاب کي وروستی څېرکی په بشپړ ډول دې موضوع ته ځانګړی شوی، لدې امله دلته موږ د موضوع پر تفصیلاتو باندې نه غږېږو.

### ۲.۵ د عامه ګټو په هکله وروستی څرګندوني

موږ ددې بحث چي قانون د عامه ګټو ته د ضرر د مخنیوي لپاره د ملکیت پر حق باندې محدودیت وضع کوي، پای ته ورسېدو. موږ ددې بحث په ترڅ کي زیاتي موضوعګاني تر بحث لاندې و نیوی چي دلته یي په لنډ ډول یو ځل بیا یادونه کوو. تاسو دا زده کړل چي عامه ګټو ته د مخنیوي په خاطر قانون د ملکیت حق پر کارولو باندې محدودیت وضع کوي. په دې اړه تاسو لومړی دا زده کړل چي د مدني قانون ډېری عام حکمونه خصوصي اشخاصو ته د فاحش ضرر د ممنوعیت موضوع په بر کي نیسي چي دا عامه ګټو ته د ضرر د ممنوعیت په اړه هم د پلي کېدو وړ دی. ورپسې تاسو زده کړل چي قانون د ملکیت د حق پر کارولو محدودیت وضع کوي تر څو له ځمکي څخه اغیزمن کارول و هڅوي. موږ په

دي اړه بحث وکړ چې که چېرې تاسو کرنیزه ځمکه ولرئ، تاسو د حکومت له اجازې پرته، هغه د غیر کرنیزو موخو لپاره نشئ کارولای. بیا تاسو دا هم زده کړل چې قانون پر چاپېریالي ضرر باندې مخکې تر دې چې د ککړتیا د ناوړه اغیز فعالیت تر سره شي، د پلي کېدو وړ ځانګړو کړندودونو او جواز اخیستلو سره محدودیت وضع کوي. موږ همدارنګه دا موضوع هم و څېړله چې د ژوند د تنوع په اړه د ځانګړو استوګنځایو په ټاکلو او د ساتنې وړ انواعو د وژنې د ممنوعیت له لارې، قانون له عامه ګټو څخه څه ډول دفاع کوي. بالآخره، موږ د تاریخي او فرهنګي آثارو د ساتنې په اړه د عامه ګټو موضوع و څېړله او په دې بحث کې مو دا هم زیاته کړه چې قانون دې آثارو ته د ضرر رسولو کوم فعالیتونه منع کړي دي. اوس چې موږ عامه ګټو ته د ضرر د مخنیوي له امله د ملکیت د حق د کارولو محدودیتونو په هکله له خپل بحث څخه یو ځل بیا یادونه وکړه، د ناحیه بندي تر سرلیک لاندې وروستۍ موضوع څېړو.

### 3. ناحیه بندي او ښاري ماستر پلان



کېدای شي تعجب وکړئ چې دا څرنګه نقشه ده او داسې معلومېږي چې کوم ماشوم پخپل سر دا کرښې کښلې دي. خو که هر څومره هم هغه د تعجب وړ ښکاره شي، د هغو د بېلابېلو برخو مختلفو رنګونو لپاره مهم دلایل شته. کوم څه چې تاسو همدا مهال ګورئ، د ناحیه بندي نقشه ده. همدارنګه دا کله کله د ښار د ماستر پلان په نوم هم یادېږي. د ښار ماستر پلان داسې یوه نقشه ده چې ښار په مختلفو ناحیو باندې وېشي. د ناحیې ډول په هغو کې په مجاز فعالیتونو پورې اړه لري. د مثال په توګه، په پاسنۍ نقشه کې نارنجي رنګ د هستوګنې د سیمو معنی ورکوي. په دې معنی چې په دې سیمه کې یوازې د کورونو او آپارتمانونو جوړول اجازه لري. ګلابي رنګه دفترونه، دېرچون خرڅلاو او د کار او بار خدماتي مراکز ښيي. سور رنګ د سوداګریزو ناحیو ټاکلي ډولونه دي چې داسې ځایونه لکه زېرمتونونو، د وېش د مرکزونه او نور هلته موقعیت لري. تیاره آسماني رنګ صنعتي ساحه ده. یوازې صنعتي فعالیتونه لکه د سیمټو فابریکې، د کانې تېږو پروسس کول، او نورې فابریکې هلته فعالیت کولای شي. شین رنګ پارکونه ښيي. دا ناحیوی محدودیت د ملکیت پر حق باندې محدودیت دی.

اوس یو ځل بیا د څېړکي پیل ته ور ګرځو کله چې ستاسو ګاونډي فهیم د خپل کور تر شا د څرمنو آش خونه په کار واچوله او دا کار ددې سبب شو چې تاسو د چای له څښلو څخه خوند وا نه اخلئ. که چېرې د ښار دا ډول ماستر پلان شتون درلودی، تاسو به د فهیم سره د نارنجي سیمې په یوه ناحیه کې اوسېدلای، چېرې چې یوازې کورونو جوړولو ته اجازه ده. دا چې د څرمنو پروسس کول یوه سوداګریزه چاره ده، نو هغو ته په نارنجي رنګه سیمه کې د فعالیت اجازه

نشته. د فهيم د ځرمنو آش خوني ته يوازې په صنعتي ناحيه يا د صنعتي ناحيې په تياره آسماني رنګه ناحيه کې د فعاليت اجازه شته. په دې ډول ستاسو او د فهيم تر منځ به ستونزه نه وی رامنځ ته شوی.

په دقيق ډول له همدې امله حکومت د ماستر پلان جوړولو ته اړتيا لري – ددې لپاره چې خلک د زيات شور ماشور، ککړتيا يا بدبويي څخه پخپلو کارونو کې د خوندي ژوند کولو څخه ډاډ تر لاسه کړي. دا کار هله شونی دی چې په ټاکلو سيمو کې مشخصو فعاليتونو يا کارونو ته اجازه ورکړل شي. دا کار خلک په خپلو کورونو کې خوشالوي او د وګړو ترمنځ د شخړو د رامنځ ته کېدو مخنيوی کوي. البته، بياهم شخړې رامنځ ته کېږي؛ د مثال په توګه، کېدای شي ستاسو ګاونډي ټوله شپه پخپل کور په لوړ آواز موسيقي و غږوي.خو ښاري ماستر پلان د استوګنځايونو، سوداګرۍ، او صنعت د بېلولو له لارې د ملکيت له کارولو څخه عامه او خصوصي ګټو ته د ضرر په راکمولو کې مرسته کوي.

د ښاري ماستر پلان په اړه مواد د ۲۰۰۰ ز کال په قانون کې راغلي دي. ددې قانون د ۵ ماده غوښتنه کوي، چې " د مرکزي انجينری او ښاري پلان جوړوني رياست او همدارنګه د هغو اړونده ځانګې د ښاروالیو سره په همکارۍ او مشورې ماستر پلان جوړ او اصلاح کړي." دا ماستر پلانونه له جوړولو وروسته، د " وزيرانو شورا او د افغانستان د اسلامي امارت د مشر" له لوري تأييد کېږي." له تأييد وروسته، ښاروالی دې پلانونو د پلي کېدو مسووليت په غاړه لري.

تاسو ګورئ چې د ماستر پلان د جوړولو کار د ښاروالیو او حکومت تر منځ ګډ کار دی. دا کار د ښار دقيقي مطالعې ته اړتيا لري تر څو د مجازو فعاليتونو لپاره غوره ځايونه و ټاکل شي. کله چې دا پلانونه تيار شي، نو د مرکزی حکومت له لوري تأييدېږي او له هغه وروسته د اړونده ښاروالیو له لوري د ښاري چارو د پلان کولو لپاره ترې کار اخيستل کېږي. که چېرې دا ډول ماستر پلانونه ښه کار وکړي ، نو د ملکيت د کارولو له امله د ګاونډيانو ترمنځ د شخړو په راکمېدو کې مرسته کوي. د ښار ماستر پلان مخکې تر دې چې عامه او خصوصي ګټو ته ضرر رامنځ ته شي، هغه محدودوي.

**نتيجه**

اوس چې موږ ناحيه بندي تر بحث لاندې ونيوه، د بحث په پای کې موږ د ملکيت د کارولو يا استعمال د حق محدوديتونو ته ورسېدو. له دی امله راځئ هغه څه چې مو زده کړل يو ځل بيا را ياد کړو. ددې څپرکي په ټولو برخو کې تاسو زده کړل چې د عامه او خصوصي ګټو د تأمين په موخه قوانين د کارولو د حق د محدودلو په اړه مختلفي طريقې لري. تاسو ولوستل چې د ملکيت د حق د محدودلو يوه لاره د ارتفاق حق دی. په دې اړه مو ستاسو د ګاونډي په توګه د جميلې د قضيې سره تماس ونيو چې د ارتفاق د حق له مخې يې ستاسو له ځمکې څخه خپل کورته د تګ راتګ حق درلود. د ارتفاق پر حق سربېره، تاسو همدارنګه دا زده کړل چې قوانين د ملکيت پر حق باندې محدوديت وضع کوي تر څو په دې ډول ستاسو ګاونډی ته د ضرر مخنيوی وکړي. د ضرر دا ډول تاسو د فهيم د کور تر شا د ځرمنو د آش خوني په جوړولو سره وليد. تاسو همدارنګه دا زده کړل چې ګاونډيانو ته په خصوصي ضرر رسولو سربېره، قوانين د عامه ګټو د خونديتوب په موخه هم د ملکيت پر حق باندې محدوديت وضع کوي. دې ته ورته دلايل مو د کرنيزې ځمکې د اغېزمن کارولو په بحث کې لکه تر حد زيات ککړتيا، د ژونديو موجوداتو ساتنه، او د تاريخي او کلتوري آثارو ساتنه، وڅېړل.

اوس چې تاسو د ټولو هغو مختلفو ضررونو په کله معلومات تر لاسه کړل کوم چې قوانين يې د ملکيت پر حق د محدوديت د وضع کولو له لارې د مخنيوی هڅه کوي، راځئ اوس ګرځنده جدولونو ته چې ددې څپرکي په لومړی برخه کې پرې بحث وشو، تېر شو. اوس چې موږ د عام ضرر او ناحيه بندي په هکله معلومات تر لاسه کړل، موږ د خوځنده جدول پر لړی باندې دا ورزياتولای شو تر څو تاسو ته په دې هکله چې آيا د ملکيت د کارولو له امله رامنځ ته شوی ضرر منع دی او که اجازه لري، د ارجاعاتو لارې در په ګوته کړي. يوازې له پاسنی خوا څخه پيل وکړي، د دوارو مخونو له تېرېدو سره به تاسو د قناعت وړ ځواب ته ورسېږئ. دا خوځنده جدولونه د قوانينو او ځوابونو لپاره کوم بديل نه دی خو دې جدلونو ته مراجعه ستاسو سره په دې هکله مرسته کوي چې کوم ځای ته مراجعه وکړئ.

کله چې دا جدولونه مطالعه کوي، تاسو به ووينئ چې ځينې موضوعګانې دوه ځله يادې شوې دي. دا د کلي حکمونو موارد د مدني قانون په ۱۹۰۶ او ۱۹۳۲ مادو کې راغلي دي. په ياد راوړئ چې موږ د عام او خصوصي ضرر تر منځ د تداخل په هکله خبرې وکړې، د تکرار علت هم په همدې مطلب کې دی. که څه هم ۱۹۰۶ او ۱۹۳۲ مادې د خصوصي ضرر د

مخنیوي په هکله ډېر کارول کېږي، تاسو کولای شئ همیش دا مادي د عامه ضرر په اړونده مواردو کې هم وکاروئ او له هغو څخه ګټه واخلئ.




CONTINUED FROM PREVIOUSS PAGE
AGRICULTURAL HARM?
YES
MISUSE OF AGRICULTURAL LAND
YES
PERMISSION FROM THE GOVERNMENT?
NO
NO
YES
EXCESSIVE WATER USE?
YES
NO
NO
ENVIRONMENTAL HARM?
YES
SIGNIFICANT ADVERSE EFFECTS?
YES
PROPER LICENSE?
NO
NO
NO
YES
HARM TO CULTURAL AND HISTORIC PROPERTIES?
YES
NO
FROM A FACTORY, WELL, OR OTHER CONSTRUCTION?
YES
USE CIVIL CODE ARTICLE 1932.
NO
EXCESSIVE HARM UNDER THE CIVIL CODE ARTICLE 1906 COST BENEFIT ANALYSIS TEST?
YES
FORBIDDEN
NO
PERMITTED

اوس راځئ له دې جدول څخه د ځینو هغو ستونزو د حل لپاره چې ددې څپرکي په اوږدو کې ورسره مخاخ شو، ګټه واخلو. راځئ بحث له فهیم او د هغو د څرمنو له آش خوني پیل کړو. تاسو په دې اړه یو څه پلټنه تر سره کړه او دا مو معلومه کړه چې د ښاروالی چارو لا هم د ښار د پراختیا په ماستر پلان باندې کار کوي چې په هغو کې لا تر اوسه هم په ښار کې ناحیوی محدودیتونه نشته. اوس کوښښ وکړئ دې جدول ته په مراجعي سره دا مشخصه کړې چې آیا د څرمنو د آش خوني د جوړېدو په اړه د فهیم فعالیت منع دی او که اجازه لري.

که تاسو ورپسې مخ ته مراجعه وکړې نو ځواب به تر لاسه کړئ. د رنګ شني کرښې هغه تګ لوری دی چې تاسو یې باید په دې جدول کې تعقیب کړئ. له پلټنې څخه تاسو دا وموندله چې د فهیم دستګاه د ښاري ماستر پلان له مخې منع نه ده، له دې امله موږ کولای شو د "نه" ځواب غوره کړ. بیا کله  چې تاسو مدني قانون ګورئ تاسو دا ومومئ چې د فهیم د فعالیت په هکله کوم مشخص حکم نشته. به دې ترتیب تاسو کولای شئ د "نه" ځواب په غوره کولو سره بلې برخې یا بکس ته ولاړ شئ.

که څه هم هرو مرو داسې نه ده، خو ښایي تاسو داسې استدلال وکړئ چې د فهیم د څرمنو آش خونه یوه سوداګریزه فابریکه ده او یا هم دې ته ورته د نورو تأسیساتو په جمله کې راځي. ستاسو دا استدلال د " هو " ځواب لکه څرنګه چې په جدول کې ښودل شوي دي، رسوي، چې په خپل وار سره تاسو د مدني قانون ۱۹۳۲ مادې ته رهنمایي کوي: " فابریکه، دستګاه یا کوهې یا نور داسې تأسیسات چې ګاونډی ته ضرر رسوي، باید په داسې مسافې کې آباد شي چې ګاونډي ته یې ضرر و نه رسېږي." په یاد ولرئ چې په مخکني بحث کې موږ یادونه وکړه که څه هم ضرر د مدني قانون د ۱۹۳۲ مادې پواسطه تنظیم شوی دی، موږ لا هم باید د فاحش ضرر د معلومولو لپاره د لګښت – ګټې تحلیل له طریقې څخه کار واخلو. ۱۹۳۲ ماده په دې دلیل مهمه ده چې محکمې د هغو فعالیتونو په اړه چې د ۱۹۳۲ مادې پواسطه تنظیم شوي دي، شک کوي او له دې امله ددې زیات احتمال شته چې ستاسو په ګټه حکم وکړي. هر کله چې کولای شئ له ۱۹۳۲ مادې څخه ګټه پورته کړئ.

په دې ترتیب اوس موږ د ۱۹۳۲ مادې اړوند بکس څخه ۱۹۰۶ مادې ته تېرېږو چې په ترڅ کې یې د لګښت – ګټې تحلیل تر سره کوو. له یوې خوا، موږ د څرمنو د آش خوني د جوړلو په اړه پخپل کور کې د فهیم ګټه وینو او له بلې خوا بیا ستاسو ګټه په دوامداره توګه د بد بوی په نشتوالي کې ده. دا چې تاسو د فهیم د ضرر له امله د خپل کور څخه ګټه نشی اخیستئ، احتمال شته چې قاضي به دا ضرر د فاحش ضرر په توګه مشخص کړي. کله چې دا ضرر فاحش ضرر شي، موږ کولای شو ورپسې بکس ته و خوځېږو چې موږ ته د منع شوي فعالیت په هکله معلومات راکوي.

ستاسو ځواب همدلته دئ!


START HERE.
FORBIDDEN BY CITY MASTER PLAN ZONING?
YES
NO
PUBLIC OR PRIVATE HARM?
PUBLIC
GO TO NEXT PAGE.
PRIVATE
FORBIDDEN BY CIVIL CODE SITUATION SPECIFIC PROVISION?
YES
NO
FROM A FACTORY, WELL, OR OTHER CONSTRUCTION?
YES
USE CIVIL CODE ARTICLE 1932.
NO
EXCESSIVE HARM UNDER THE CIVIL CODE ARTICLE 1906 COST BENEFIT ANALYSIS TEST?
YES
FORBIDDEN
NO
PERMITTED

اوس راځئ د دوهمې ستونزې په حل باندې کار وکړو. په یاد راوړئ کله چې تاسو د چاې د چمتو کولو لپاره ولاړئ، متوجه شوی چې د اوبو له نل څخه خاورینه مایع بهېږي؟ تاسو ددې موضوع په هکله یوه اندازه څېړنه وکړه او دا مو وموندله چې یوه شرکت سیند ته نژدې کیمیاوی توکي خښ کړي له کومه ځایه چې د ښار اوبه برابرېږي . تاسو ښاروالي ته مراجعه کوی او وروسته معلومېږي چې فابریکې ددې کار د ترسره کولو لپاره له حکومت څخه جواز نه دی اخیستی. اوس راځئ ددې موضوع په اړه پاسني جدول ته نظر وکړو. په دې هکله تاسو باید په دواړو مخونو کې کار وکړئ. ددې موضوع ځواب اړوند جدول په ورپسې مخ کې ښودل شوی، خو تر دې د مخه کوښښ وکړئ چې پر جدول باندې په یوازېتوب سره کار وکړئ او وګورئ چې عین ځواب مو تر لاسه کړ.

لومړی موږ ولیدل چې ستاسو په ښار کې ناحیوي مقررات نشته، له دې امله موږ کولای شو د ښار د ماستر پلان په اړه ورپسې برخې ته مراجعه وکړو چې ځواب یې منفي دی. دا جدول اوس موږ د خصوصي او عامه ضرر برخو ته رسوي. که څه هم امکان لري چې دا مثال داوړه هم خصوصي او هم عامه ضرر په بر کې ولري، خو ابتدا موږ عامه ضرر ته مراجعه کوو. اوس موږ د جدول په دوهم مخ کې قرار لرو. رامنځ ته شوی ضرر په واقعیت کې د کښت وړ کرنیزې ځمکې د ضرر سره تړاو نه لري، له دې امله موږ د "نه"ځواب غوره کوو او خپل تګ لوري ته دوام ورکوو.

دا کار موږ ورپسې جدول ته چې د چاپېریا ساتنې ضرر په اړه دی رسوي. د سیند سره دکیمیاوی ککړتیا توکو خښول، بې له شکه د ژوند چاپریال اړوند یو ضرر دی، له دې امله موږ د "نه" ځواب غوره کوو او مخ ته ځو. دا لاره موږ د ناوړه اغیز برخې ته رسوي. په دې هکله د لږ شک احتمال شته چې د اوبو د سرچینې ککړتیا د ژوند پر چاپېریال باندې د پام وړ ناوړه اغېز ښندي. له دې امله موږ کولای شو د "هو" ځواب غوره کړو او جدول تعقیب کړو. دا برخه موږ د جوازونو ورپسې بحث ته رسوي. په یاد راوړئ چې هر ډول سوداګریز فعالیت چې د ژوند پر چاپېریال باندې ناوړه اغېز ښندي یوازې په هغه صورت کې جواز لري چې مناسب اجازه لیک ولري. خو لکه چې تاسو ولیدل فابریکه دا ډول اجازه لیک نه لري، تاسو کولای شی د جدول د" نه" ویکتور په لاره ولاړ شی. ددی جدول د تعقیبولو له لارې تاسو خپل ځواب تر لاسه کولای شئ. په دې ځای کې ددې توکو خښول منع دي!


START HERE.
FORBIDDEN BY CITY MASTER PLAN ZONING?
YES
NO
PUBLIC OR PRIVATE HARM?
PUBLIC
GO TO NEXT PAGE.
PRIVATE
FORBIDDEN BY CIVIL CODE SITUATION SPECIFIC PROVISION?
YES
NO
FROM A FACTORY, WELL, OR OTHER CONSTRUCTION?
YES
USE CIVIL CODE ARTICLE 1932.
NO
EXCESSIVE HARM UNDER THE CIVIL CODE ARTICLE 1906 COST BENEFIT ANALYSIS TEST?
YES
FORBIDDEN
NO
PERMITTED


CONTINUED FROM PREVIOUSS PAGE
AGRICULTURAL HARM?
YES
MISUSE OF AGRICULTURAL LAND
YES
PERMISSION FROM THE GOVERNMENT?
NO
NO
YES
EXCESSIVE WATER USE?
YES
NO
NO
ENVIRONMENTAL HARM?
YES
SIGNIFICANT ADVERSE EFFECTS?
YES
PROPER LICENSE?
NO
NO
NO
YES
HARM TO CULTURAL AND HISTORIC PROPERTIES?
YES
NO
FROM A FACTORY, WELL, OR OTHER CONSTRUCTION?
YES
USE CIVIL CODE ARTICLE 1932.
NO
EXCESSIVE HARM UNDER THE CIVIL CODE ARTICLE 1906 COST BENEFIT ANALYSIS TEST?
YES
FORBIDDEN
NO
PERMITTED

ډېر ښه کار! تاسو دې نتېجې ته ورسېدی چې دواړه د فهيم د څرمنو آش خونه او سيند ته د کيمياوي موادو بهېدل منع دي. د فهيم د څرمنو آش خونه ځکه منع وه چې گاونډيانو ته فاحش ضرر و، او د فابريکي فعاليت منع و ځکه چې له جواز پرته يې د ژوندانه پر چاپېريال باندی معکوس اغيز کاوه (عامه ضرر).

اوس چې د ټولو په هکله پاملرنه شتون لري، ښايي بالآخره تاسو په آرامۍ سره کښېنۍ او د چای له چښلو څخه خوند واخلئ.

## اووم څپرکی : د کرنی او اوبو مقررات

**سریزه:**

فرحان د غنمو په یو کښت کی بزګر دی،د نوموړی کورنی تر سلو کلونو زیات په هلمند ولایت کی ژوند کړی ده،او ټوله کورنی به یی په همدی کښت کی بوخته وو، ددوی د ځمکی خواته یوه ټوټه شاړه ځمکه ده چی دوی هیڅکله د هغی نه کټه نده اخیستی،فرحان د ډیرو نورو په څیر د جنګ له امله د هلمند له ولایت څخه وتښتیدو،اوس مهال فرحان خپل هیواد ته را ستون شوی او خپله ځمکه غواړی،دهماغه وخت نه را پدی خوا یو ودانیز(ساختمانی) شرکت د فرحان د ځمکی په یوه شاړه برخه کی د یوه هستوګنځای د جوړولو په کار بوخت ده چی دا هستوګنځای د ۷۵ کورنیو لپاره چمتو کیږی.

اوس نو څوک په نوموړي ځمکی د مالکیت ډیر حق لری؟ دا پوښتنه باید څه ډول ځواب شی؟ فرحان باید څه وکړی؟345

کرنه: د انسانانو د ژوند دساتنی لپاره د نباتاتو کرل او یا د څارویو ساتل د کرنی(زراعت)څخه عبارت دی.

د کرنی اړونده چاری د اوبو سره ډیری نژدی اړیکی لری دا ځکه چی د باران اوریدل او یا داوبو لګول دکرنی د ودی او د څارویو د ساتنی لپاره ډیره اړینه ده،اوبه او کرنه د افغانستان د خلګو ژوند سمبالوی نو لدی کبله لازمه ده چی ددی سرچینو دښه مدیریت لپاره په عمل کی یو سیستم موجود وی،له همدی امله موږ د حقوقو او دغو موضوعاتو تر منځ اړیکی او تړاو څیړو.

- د ۲۰۰۴ کال داساسی قانون نهمه ماده: د دولت د ملکیتونو ساتنه او اداره او له طبیعی زیرمو او نورو عامه ملکیتونو څخه د سمی استفادی ډول د قانون له لیاری تنظیمیږی.
- د ۲۰۰۴ کال داساسی قانون څوارلسمه ماده: دولت د کرنی او مالداری د پراختیا،د بزګرانو او مالدارانو د اقتصادی،ټولنیزو او د ژوند د شرایطو ښه کولو او د کوچیانو د میشتولو او ددوی د ژوند د سمون لپاره ددولت د مالي توان په حدودو کی اغیزمن پروګرامونه طرح او تطبیقوي.
- دولت مستحقو اتباعو ته د استوګنځای دبرابرولو په منظور او دعامه ملکیتونو د ویش لپاره،دقانون له حکمونو سره سم او دمالی امکاناتو په حدودو کی لازم تدبیرونه نیسی.

افغانستان یو په لوړه پروت او وچ هیواد دی،چی دښتو او غرونو یی د خاوری ډیره برخه نیولی ده.دا پدی معنی ده که څه هم کرنیزه ځمکه د ټول مساحت ۵۸ سلنه جوړوی خو په حقیقت کی ددغي ځمکی یواځی ۱۲ سلنه د کښت او کر وړتیا لری346. نو دا پدی معنی ده چی کرنیزه ځمکه د کم پیدا سرچینو څخه ګڼل کیږی،یعنی شته ځمکه نشی کولاي چی ټولی انساني اړتیاوی پوره کړی.

ددی لپاره چی ځمکه د راتلونکي نسل غذایی خواړه پوره کړی،نو لازمه ده چی د ځمکی نه ساتنه او پالنه وشی. دا کار د هغه اعمالو د مخنوی په وسیله شوني ده کوم چی د ځمکی دوام ته تاوان رسوی یا ځمکه په اوږد مهال کی له منځه وړی لکه ډیره او بی حده کرنه.

---

345 345 Foschini, Fabrizio, "Land Grabs in Afghanistan: Naghrahar, the Disputed Rangeland," Afghanistan Analysts Network (2012), http://www.afghanistan-analysts.org/land-grabs-in-afghanistan-1-nangrahar-the-disputed-o-rangeland/.
346 USAID, "Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile," 4.

د ۲۰۰۶ کال د ملی پراختیا ستراتیژي د کليو د اقتصاد په پراختیا  څرخيری  او د کرنیزو فعالیتونو د اسانتیا لپاره یی وعده ورکړی.347

همدا شان دا سند وعده کوی چی کرنیزي او د کتی وړ ځمکی به د اوبو لګولو د شبکو د جوړولو له لاری زیاتی کړي.

په افغانستان کی د ځمکی د ډولونو ویش:348




ځمکه یا (۱)دخصوصی وګړو (۲)تولني (۳)دولت (۴)خلګو په واک کی دي[349].  ۷۸ سلنه خلک په کليو کی ژوند کوی،او د کليو شل سلنه خلک کوچیان دی چی یو دایمی کورنلری او یا خپل  هستوګنځای د موسم سره سم بدلوی.

زراعت د افغانستان د اقتصاد لویه برخه جوړوی د بیلګی په توګه خلک یا خپله د کرنیزی ځمکی خاوندان دي،یا یی د نورو څخه په اجاره نیسي،یا د بل چا پر ځمکه کرنیز کار کوی، او یا د کرنیزو محصولاتو په تولولو او سوداګري بوخت دی.[350] بی ځمکی توب په کلیوالو سیمو کی هغه ستونزه ده چی ورځ تر بلی زیاتیږی[351] ډیري خلک د خپلو ځمکو د له لاسه ورکولو په حال کی دی او د نورو خلکو سره په کار کولو اړ دی،معمولآ هغوی اړ کیږی چی خپلی ځمکی د اوبو او یا هوا د نه سمون له امله یا د اقتصادی ستونزو له کبله  پر نورو خرڅی کړي.[352]

په همدی وخت کی د ځمکو واک اختیار د محدودو خلکو په لاس کی یوه بله ستونزه ده چی ورځ تر بلی زیاتیږی،څو کسان چی د ډیرو ځمکو خاوندان دی د لا ډیرو ځمکو د را تولولو په هڅه کی دی.[353]

[347] USAID, “Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile,” 11.
[348] Food and Agriculture Organization of the United Nations, “Afghanistan Country Profile,” http://www.fao.org/countryprofiles/index/en/?iso3=AFG
[349] USAID, “Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile,” 6.
[350] *Id.* at 4.
[351] Wily, Liz Alden, “Looking for Peace on the Pastures: Rural Land Relations in Afghanistan,” Afghanistan Research and Evaluation Unit (2004), 8.
[352] Wily, Liz Alden, “Putting Rural Land Registration in Perspective: The Afghanistan Case,” Afghanistan Research and Evaluation Unit (2004), 3-5.
[353] Wily, “Peace on the Pastures,” 12.

که څه هم د افغانستان اقتصاد د زراعت څخه پر مخ روان دی خو تر ډیره بریده کرنیزی ځمکي دغصب له لاری او یا د لویو او زوروړو شرکنو نو یا وګړو یا دولت له لوری دځمکو پراخ تملک،ځمکي په پوره ډول تاوانی کړي دی .په ښارونو کی ژوند ته لیوالتیا په نیغه توګه د کرنیزو ځمکو د ساتنی په وړاندی یو ګواښ دي.

د بیلګی په توګه: څرنګه چی کابل ولایت د ښار څخه د باندی سیموته د هستوګنی لپاره پراختیا مومی،د کرنیزو ځمکو او شنو سیمو(ساحه سبز) غصب او د پر هغوی باندی د هستوګني ځایونو جوړول او د صنعت پراختیا یوه لویه ستونزه ده. بهرنی پانګوال چی غوښتل یی نوی کابل د اوسنی کابل په څنګ کی پراخ کاندی د ځایی کرونده ګرو او کوچیانو د مخالفت سره مخ شول کوم چی اوس ددی ځمکو څخه د حیوانی محصولاتو د پراختیا او د څارویو د ساتلو لپاره کار اخلی. په ننګر هار ولایت کی د حاصلخیزو ځمکو غصب چی په ختیځ کی د کډوالو د راستنیدو اصلی سیمه ده یوه بله غټه ستونزه ده.[354] پدی ورستیو کی د ننګرهار د کانال خواته حاصلخیزی ځمکی خصوصی پانګوالوته په اجاره ورکړل شوی چی د ویش څخه وروسته په هستوګن ځایونو بدلی او څرخی شوی[355] د ځینو لاملونو له کبله لکه دځمکو غصب او دځمکو تملک د محدودو خلګو له لوری ددی سبب شوی چی کرنیزی ځمکي په یوه کم پیدا سرچینی بدلی شی.

اوبه هم د هغو سرچینو څخه دي چی کمی پیدا کیږی.[356] د هیواد د اوبو اتیا سلنه برخه دهندوکش د غرونو د واورو د اوبه کیدو څخه سر چینه اخلی چی په دریو اصلی برخو کی شتون لری. د کلنیو سیلونو بهیدل،وچ کالی،ککړتیا،د ښناک د اوبو کمښت ،اوبوته د لاس رسی پر سر اختلاف او د اوبو د زیرمو ناکامی او نه وړتیا دنني افغانستان د اوبو د حقوقو اصلی ستونزی دي.[357]

په افغانستان کی په څو تیرو لسیزو کی د جګړو له امله دولتی مدیریت له منځه تللی چی په پایله کی یی د عمومی ځمکو څخه ډیره ګټه واخستل شوه او د اوبو ډیری زیرمی او سرچینی وچاړی شوی.[358] داوبو او هوا بد شرایط د ځمکی د وچاړتیا د اوبو کمښت ، د ځنګلونو د منځه تلو او سیلونو د را وتلو سره مرسته کوی .

د اوبو د کمښت له امله هر کال د هیواد دتولی وړ ځمکی څخه نیمایی کرل کیږی. د هیواد ۱۱ سلنه د اوبو هیڅ سرچینه نلری [359] دا پدی مانا ده چی د اوبو د مدیریت لپاره د یو نوی سیستم د طراحی لپاره ډیر فرصتونه شته دی.

د اوبو او کرنی اړوند حقوق نن په افغانستان کی د تر تولو پیچلی حقوقی برخه ده. دا حقوقی برخه د ډیرو لویو شخړو او لانجو لامل ده – د بیلګی په توګه: د کوچیانو او ځایی خلګو تر منځ د څر ځای پر سر لانجه،د عمومی او دولتی ځمکو پر سر لانجی او اختلافات چی دولت ته سپارل شوی دي،د راستنو شویو کډوالو تر منځ د ځمکی د مالکیت پر سر دعوی او د عامه اوبو د عادلانه ویش پر سر اختلافات

هغه قوانین او سیاستونه چی دغه موضوعات تنظیموی تر ډیره بریده پیچلی او د تداخل لرونکی دي،دا قوانین او پالیس ګانی د نظری مباحثو سره کوم چی مخکی ولوستل شوی چندانی تناسب او اړخ نه لګوی،خو موږ هڅه کوو تر څو ددغو موضوعاتو څخه منطقی مانا او اخیستنه د نظری مقرراتو په چوکاټ کی لاس ته راشی.

پدی فصل کی به په ترتیب سره د کرنی او اوبو بنسټیز موضوعات وڅیړل شی او همدا شانته د مالکیت اړوند مسایل لکه مالکیت،انتقال او په کټه اخیستنه کی محدودیت به ددی کتاب په نورو فصلونو کی وڅیړل شی او همداراز د اوبو او کرنی اړوند د اختلافتو حل به وڅیړو.

تاسو به دا فصل دیوی مفکوری سره د اوبو او کرنی اړوند حقوقی دعوو د اساسی برخو په لوستلو سره پای ته ورسوی.

---

[354] Foschini, Fabrizio, "Land Grabs in Afghanistan: Deh Sabz, the New and the Old," Afghanistan Analysts Network, http://www.afghanistan-analysts.org/land-grabs-2-deh-sabz-the-new-and-the-old.
[355] Foschini, "Land Grabs in Afghanistan: Nagrahar."
[356] Ministry of Rural Rehabilitation and Development, Islamic Republic of Afghanistan, "Strategic Intent" (2010), 10.
[357] IS Academie, "Afghanistan – Food Security and Land Governance Factsheet," 7.
[358] Department for International Development, "Islamic Republic of Afghanistan: Capacity Building for Land Policy and Administration Reform" (2008), 1.
[359] USAID, "Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile," 11.

## 1. اړونده قوانین او پالیس ګانی:

د حقوقو هغه برخه چې په کرنه او د اوبو په سرچینو پلی کیږی ډیر پیچلی دی،د کلیوالو ځمکو اړوند تر ۷۰ زیات قوانین شتون لری ،دپخوانیو مجریه اداراتو ځینی حکمونه بیاځلی خپاره شوی دی، ځینی نور مقررات د پخوانیو نسخو څخه تعدیل شوی پرته لدی چې د پخوانیو نسخو لغو په واضح ډول معلومه وی،د فرمانونو په ځانګړی ډول د طالبانو د وخت فرمانونه نا معلومه دی ،شونی ده چی ځینی دغه فرمانونه د قاضیانو او یا نورو عدلی چاروکو له لوری منسوخ وګڼل شی پرته لدینه چی دا فرمانونه د ۱۹۶۴ او ۲۰۰۴ کال د اساسی قانون د اصولو مخالف وی ،کیدای شی هر قانون د اړوند وزارت د ځیرنی لاندی وی خو دغه بهیر لا تر اوسه بشپړ ندی.[360] له همدی کبله موږ یواځی تر ټولو مهم او نوي قوانین په پام کی نیسو کوم چی دکرنی او اوبو سره تړاو لری.

په لاندی ډول د هغو مهمو قوانینو او پالیسی ګانو نوم لړ تر سترګو کیږی کوم چی نن په افغانستان کی د کرنی او اوبو اړوند موضوعات تنظیموی. موږ به ددی لړ څخه څو مادی ددی فصل په اوږدو کی وڅیړو،څرنګه چې تاسو دی نوم لړ ته ګوری نو په یاد ساتي چې قوانین د وګړو او بنسټونو پر کړنو الزامی ډول لری خو پالیسی ګانی غیر الزامی موخی دی چی دولت یی په یو ځانګړی وخت کی هغوی ته د رسیدو په موخه جوړوی

| عنوان | کال | ارتباط |
|---|---|---|
| اساسی قانون | 2004 | په نیغه توګه یی دځمکی د مالکیت حقوق ندی تنظیم کړی خو دخصوصی ملکیت ضمانت کوی ،دولت ته د خصوصی ځمکی د اجباری استملاک اجازه دعامه ګټو په موخه ورکوی. (ددی فصل په راتلونکی برخه کی به وڅیړل شی).[361] |
| د افغانستان مدنی قانون | 1977 | ددی قانون ځینی مادی د مالکیت،تملک او زراعتی ځمکو د انتقال په اړه دی او دا قانون تر ډیره بریده د اسلام د حنفی فقهی اصول بیانوی . |
| د ارضی چارو دتنظیم قانون | 2008 | دا قانون د ځمکو د چاور لاربښود دی او موخه یی د ځمکی د ښه مدیریت لپاره د یوه شانته سیستم جوړول دی تر څو د۲۰۰۷ کال د ځمکی د ملی پالیسی مندرج اصول په ښه ډول عملی شي او د ځمکو اړونده ستونزی چی د تیر رژیم څخه پاتی دی حل شی .[362] دی قانون د ځمکی د بیلابیلو ډولونو بیلابیل تعریفونه کړی،د ځمکی بیلابیل ډولونه او ویش یی بیان کړی د ځمکی د ملکیت د قبالی اړین الزامات ،د دولت له لوری د دولتی ځمکو تخصیص،د ځمکی اجاره ،دځمکی دحقوقو حل،او دځمکی بیا ښتن کیدل وړاندی کوی ،دا قانون د اسلامی شریعت حکمونه په نظر کی نیسی.[363]<br><br>ددی قانون په اړه اساسی اندیښنه داده چی دا قانون به ونشی کړای تر څو د ځمکو بیلابیل ډولونه په واضح ډول بیان کړی. موږ په پدی اړه په دی فصل کی لا ډیر معلومات ورکړو همدا شانته ددی او نورو قوانینو د شکلی بهیر په اړه اندیښنی شته چی آیا دا به د ملی شورا له لوری په ښه ډول |

[360] Wily, "Peace on the Pastures," 31.
[361] IS Academie, "Afghanistan – Food Security and Land Governance Factsheet," 4.
[362] Katawazi, Nezamuddin, "Land Disputes and Governance in Afghanistan," TransConflict, http://www.transconflict.com/2013/10/land-disputes-governance-afghanistan-110/
[363] *Id.*

| | | |
|---|---|---|
| | | تصویب شوي وی او که نه.[364] |
| د اوبو قانون | 2009 | دا قانون د اوبو د ملی زیرمو د جوړولو چوکاټ د رسمی بنسټونو په نظر کی نولو سره په یو شان سره بیانوی[365] |
| د علفچر او عامه ځمکو قانون | 2000 | په تفصیل سره د عمومی علفچر او خصوصی علفچر د مالکیت د حق تر منځ توپیر بیانوی . |
| دځنګلونو د تنظیم قانون | 2011 | دا قانون دځنګلی سیمو لکه د وړو سیندونو او زیرمو د ساتنی لپاره تر ټولو ښی لاری چار بیانوی او اجازه نه ورکوی تر څو ځنګلونه په کرنیزو ځمکو یا د حیواناتو پر څر ځای بدل شی.[366] |
| عرفی حقوق | | د عدلی وزارت اټکل کوی چی د افغانستان ۹۰ سلنه خلک یواځی په عرفی(دودیز) قوانینو بسنه لری،مدنی قانون د ځمکی د حقوقو په اړه د عرفی قوانینو څخه ګټه اخیستنه په رسمیت پیژنی،عرفی حقوقی سیستم د ځینو توپیرونو لرونکي دی خو په ځانګړتیاو کی لاندینی ورته والی(شباهتونه) لری: د کلیو شوراګانی د منځګړیتوب او حکمیت نه په ګټه اخیستو سره د ښنی(عذر) له لاری د شخړو په حل کی کار کوی،عرفی قوانین معمولاً د اوبو څخه په خصوصی ځمکو کی په ګټه اخیستو باندی حاکمیت لری عرفی قوانین د اوبو ویش د ټولنی د غوښتنو او دودونو سره سم تنظیموی.[367] |
| اسلامی حقوق | | د اسلام اخلاقی او دینی قوانین په اوس وخت کی د ډیرو عینی حقوقو بنسټ او تهداب جوړوی او د ځایي شخړو په حل کی ځانګړی ځای لری ،د نورو جزیاتو لپاره دویم فصل ته مراجعه وکړی. |
| دځمکی ملی پالیسی | 2007 | د ځمکی د حقوقو د اړونده شخړو دحل کولو لپاره غیر رسمی لاری په رسمیت پیژنی او د د ځمکی د مالکیت په اړه دمختلفو چارواکو او بنسټونو د تداخل موضوع څیړی. |
| داوبو د سکتور ستراتیژی | 2008 | دا ستراتیژی د اوبو د هر اړخیز مدیدریت (**IWRM**) اصول بیانوی،چی دا د اوبو د مدیریت د غوښتنی پر بنسټ ،دلګښت د ښه والی،د اوبو نوی تخصیص او د چاپیریال د ساتنی لپاره ده.دا ستراتیژی د۲۰۰۹ کال داوبو د قانون بنسټ ګڼل کیږی. |
| د کلیو د پراختیا ستراتیژی | 2010 | دغه ستراتیژی په کلیو کی د بی وزلي (فقر) د کمیدو لپاره د هراړخیزه مرستو له لاری کوښښ کوی او د کلیو د تل پاتی پراختیا لپاره کار کوی. |
| د تل پاتو څر ځایونود مدیریت ملی طرح | 2011 | د کرنی،اوبو لګولو او مالداری وزارت او د هغوی پراختیایی ملګرو ته د مراتع مدیریت د اسانتیا لپاره د یو هر اړخیزه چوکاټ جوړولو کوښښ کوی . |

[364] Wily, Liz Alden, "Recommended Strategy for Competing High Pasture Claims of Settled and Nomadic Communities in Afghanistan," United Nations Environment Programme (2009), 26.
[365] USAID, "Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile," 11.
[366] 2011 Law on Regulating Forest Affairs, Articles 28 and 37
[367] USAID, "Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile," 6.

## 2. کرنه

### 2.1 بنسټیز چوکاټ:

په افغانستان کی بیلابیل پنسټونه د کرنی د مدیریت مسولیت په غاړه لری خواصلی مسولیت یی د کرنی،اوبولګولو او مالداري وزارت پوری اړه لری. [368] د کرنی په وزارت کی د ځمکی د ثبت او مدیریت ټولی چاری د افغنستان د اراضی په اداره (ALA) پوری تړلی دی[369] دا اداره ددولتی ځمکو د بیرته تر لاسه کولو او پانګوالو ته یی په اجاره ورکولو مسولیت هم په غاړه لری.

د کرنی وزارت سره د افغانستان د اسلامی جموریت ستره محکمه،د اوبو او بریښنا وزارت،د مالي وزارت،د جیودوزی او کارتوګرافی اداره او نوری محلی اداری په ګډه کار کوی تر څو په اداری موضوعاتو او د لانجو په حل کی سره مرسته وکړی. [370] ددغو ادارو استازی په یو کمیسیون کی چی د ځمکی د مدیریت او دعوو د حل لپاره مرکزی کمیسیون دی او په یو ولایتی کمیسیون کی غړیتوب لری[371] دځمکی د شخړو د حل کمیسیون د ځمکو اړونده دعوي،او د ځمکو دمالکیت اسناد او مدارک او د ځمکو د اوبو حقوق او مالیاتی موخی څاری. [372] دکادسترد اداری یو ټیم د جیدوزی او کارتوګرافی په په لویه اداره کی په ساحوی کچه د ځمکی د څیړنی او د ځمکی د پولو د ټاکلو لپاره کار کوی .[373] مرکزی او ولایتی کمیسیونونه د ساحوی کارونو سره مرسته او د هغوی تر منځ هم غږ.ی را منځ ته کوی.

محکمي قوالی چمتو کوی او او د ځمکو د ملکیت د انتقال لپاره پریکړی صادره وی همدا شانته هغوی د شخړو د حل لپاره رسمی مسول کڼل کیږ.ی.حکومت په ۲۰۰۲ کال کی د ځمکو د اختلافاتو د حل یوه ځانګړی محکمه جوړه کړه تر څو د راستنو شویو وګړو تر منځ د ځمکی پر سر اختلافات حل او د رسمی او غیر رسمی ادارو ترمنځ اړیکی تنظم ګړی.شورا ګانی، جرګی او د کلیو شوراګانی د ځمکی د دعوو د حل لپاره فعاله غیر رسمی لاری چاری دی. ډیری خلک پدی باور دی چی د کلیو شوراګانی د ټولنی په کچه د شخړو او اختلافاتو د حل لپاره تر رسمی محکمو ډیری اغیزمني دی . [374]

### 2.2 مالکیت او قباله :

څرنګه چی په دریم فصل کی بحث وشو،یو وګړی کولای شی چی د دولتی ځمکی دتخصیص،اخیستو او یا د ملکیت د انتقال له لاری د ځمکی خاوند شی[375] ډیری خلک د کلیو ځمکی د ارث د انتقال له امله چی ډیری یی د مرګ څخه مخکی منځ ته راځی تر لاسه کوی. [376] لدی امله د کلیوالو ځمکو ډیری مالکیت په کورنی کی پاتی کیږ.ی،ډیري بزګران یا دځمکی مستآجران دی یا دا چی خپله ځمکه نه لری خو د بل چا ځمکه یی په بزګری نیولی ده او د محصولاتو څخه یی ګټه اخلی،ځینی نور بیا یا پوره او یا په نیم ډول کوچیان دی چی د یو ځای څخه بل ځای ته کډه کوی او دځمکی څخه د موقت وخت لپاره د استوګنی یا د حیواناتو د ساتنی لپاره ګټه اخلی [377]

---

[368] د ۱۳۸۷کال دځمکی د تنظیم د قانون ۴ ماده

[369] IS Academie, "Afghanistan – Food Security and Land Governance Factsheet," 6.

[370] د ۱۳۸۷کال دځمکی د تنظیم د قانون ۱۳ ماده

[371] د ۱۳۸۷کال دځمکی د تنظیم د قانون ۱۴، ۱۹، ۲۰مادی.

[372] د ۱۳۸۷کال دځمکی د تنظیم د قانون ۱۵ ماده

[373] د ۱۳۸۷کال دځمکی د تنظیم د قانون ۱۶ ماده

[374] USAID, "Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile," 8.

[375] *Id.* at 6.

[376] Wily, "Peace on the Pastures," 29.

[377] IS Academie, "Afghanistan – Food Security and Land Governance Factsheet," 4.

نو د ځمکې نه د ګټې اخیستلو دری لاری عبارت دی له: دځمکې لرل؛د ځمکې اجاره؛او د ځمکې حقوقو ته د لاس رسی یوی پریکړی(توافق) پر اساس.

که تاسو د ځمکې څښتن اوسی نوموړی ځمکه له قانونی نظره په تاسو پوری اړه لری ،که تاسو ځمکه په اجاره اخیستی وی نو د ځمکې نه د ګټې اخیسو په موخه به د ځمکې خاوند ته یوه اندازه پیسی ورکوی. نن د ځمکې اصلی مؤجر دولت ده چی لیواله ده تر څو د دغو ځمکو د اجاره ورکولو له لاری پانګونه تشویق کړی، د بیلګی په توګه: د۲۰۰۸ کال د ځمکو د تنظیم قانون دداسی مقرراتو لرونکی ده چی دولت ته اجازه ورکوی تر څو د ځمکی اجراه د اوږد مهال (۵۰ کاله د حاصلخیزی ځمکی او ۹۰ کاله د بکری او بایری ځمکی ) لپاره کورنیو او بهرنیو پانګوالوته په اجاره ورکړی.[378] د ځمکی څخه د ګټی اخیستو دریمه لاره ځمکی ته د لاس رسی د حق لرل دی،که تاسو ځمکی ته د لاس رسی حق ولری نو د اوبو او ځمکی نه دانحصاری او غیر انحصاری حقوقو نه ګټه اخیستی شی کوم چی معمولاً په دولت پوره اړه لری [379]

## 2.2.1 د ځمکی ډولونه:

مخکی له دی نه چی موږ د کرنیزو ځمکو په اړه ځانګړی قوانین وڅیړو لازمه ده تر څو د ځمکی د ویش اوډولونو په اړه ټولیز معلومات ولرو، د ځمکو د ویش او مالکیت موضوع هم لکه د کرنیزو بنسټونو په څیر یو جنجالی،پیچلی او د تناقض نه ډکه خبره ده .دافغانستان ۱۳۷۷ کال مدنی قانون، د۲۰۰۸ کال د ځمکی د مدیریت قانون،دجمهوری ریاست بیلابیل فرمانونه،شریعت او نور اړوند قوانین، ځمکه په بیلابیلو ډولونو ویشی.[380]

لاندینی تعریف چی د ځمکی د تنظیم د چارو د قانون له ۳ مادی څخه اقتباس شوی په نظر کی ونیسی سر بیره پر دی چی ددی سیستم د ویش موخه مو په پام کی وی :

**د۲۰۰۸ کال دځمکوالی دچارو د تنظیم قانون ، ددریمی مادی لنډیز :**

- کرنیزه ځمکه: د ځمکی هغه ساحه چی ددی قانون د حکمونو مطابق،ترکرنیزی ګټی لاندی ونیول شی.
- د مرعی ځمکی ساحه(څرځای،مالچر،متروکه): مرعی هغه بکری او بایری ځمکی دي چی شرعآ ددولت یا شخص ملکیت پر هغو باندی ثابت نشی.که چیری د کلی(قریی)یابنار وروستی کور کی جهورالصوت(دلوړغږخاوند) ودریږی او په لوړ غږ،غږوکړی،ترهر ځایه چی ددغه لوړږغ خاوند غږ ورسیږی دغه ځمکه مرعی ګڼل کیږی.
- د وقفی ځمکو ساحه: وقف،هغه موقوفه عین دي چی د واقف له ملکیت څخه بهر او د موقوف علیه په ملکیت کی نه داخلیږی .
- بکره(موات)ځمکه: هغه ځمکه چی اصلآ تر کرینی لاندی نیول شوی نوی .
- بایره ځمکه: هغه ځمکه چی پنځه کاله پرله پسی په عادی شرایطو کی کرل شوی نوی او له اصلاح او د اوبو لګولو د نوی سیستم له جوړیدو وروسته تر کرکیلی لاندی ونیول شی.

آیا تاسو په خپلو سیمو کی د ځمکی دا ډول ویش لیدلی او یا مو دهغه په اړه اوریدلی دی؟ آیا دا تعریفونه ستاسو له نظره معنی لری؟آیا کولای شی چی د هغوی په منځ کی شکاره توپیر بیان کړی.؟په یاد ولری چی څر ځایونه هم د هغوی د مالکیت د ډول او هم د خپلو پلو له نظره تعریفدای شی،دغه ځمکی بکری یا وچی دی چی دقانونی نظره نه ددولت او نه د خصوصی وګړو مالکیت ګڼل کیږی،او پولی(سرحد)یی تر هغه ځایه پوری ده چی د کلی او یا ښار نه د یو سړی اواز هلته ورسیږی،آیا تاسو فکر کوی چی د سرحد دا ډول تعریف دی نن ورځ زموږ په ژوند کی د پلی کیدو (تطبیق) وړ وي؟

---

[378] USAID, "Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile," 6.
[379] IS Academie, "Afghanistan – Food Security and Land Governance Factsheet," 5.
[380] IS Academie, "Afghanistan – Food Security and Land Governance Factsheet," 4.

ځرځایونه نن ورځ په افغانستان کی تر ټولو جنجالی او د بحث وړ حقوقی دعوي جوړوی لدی کبله موږ باید یو څه وخت د هغوی د معنی پر پوهیدلو ولګوو، په ساده ډول ویلی شو چی څر ځای هغی ځمکی ته ویل کیږی چی د وښو خوړونکو حیواناتو لپاره تری ګټه اخیستل کیږی.په افغانستان تر ۷۰ سلنی ځمکه پدی موخه کارول کیږی،دا اندازه ځمکی د هغو ځمکو په ګډون دی چی ځینی سرچینی یی(مرتع) بولی،همدا شانته هغه ځمکی هم پکی شاملی دی چی له مسلکی پلوه یی موات اراضی(مړی ځمکی) ګڼل کیږی ځکه چی د ډېرو څخه ډکی دی او د نا سمو اوبو او هوا او لوړی ارتفاع له امله تری په سخته ګټه اخیستل کیږی. څرځایونه د درو له لمنو تر وچو غونډیو اوبیا دغرونو تر منځ په هوارو ځمکو کی ادامه مومی .[381]

په افغانستان کی د ځمکی ډولونه [382]




هم جایي افغانان او هم کوچی افغانان د ژوند د دوام لپاره څرځایونو ته اړتیا لری،دا څرځایونه د هیواد په ګوډګوډ کی دمخ پر زیاتیدونکو شخړو او جنګونو سرچینه ګڼل کیږی. د اوړی په موسم کی ډیری کوچیان د هیواد مرکزی لوړو سیموته باریږی تر څو د هغو وښونه چی د واوری د ویلی کیدونه وروسته منځ ته راغلی ګټه واخلی ځکه د اوسیدو په ځایونو کی یی وابنه وچ شوی وی.[383] یو دهغو دلایلو څخه چی د څرځایونو پر سر یی لانجی او اختلافات زیات کړی دی داده چی په تیره نیمه پیړی کی دځینو کارول شویو څرځایونو حال مخ په خرابیدو دی،د اندازی نه زیات څرول اود سنتی څرځایونو بدلیدل په کرنیزو ځمکو باندی ددی خرابی سره مرسته کوی،څرځایونه په یوه کم پیدا سرچینی بدل شوی دی.[384]

[381] Wily, "Competing High Pasture Claims," 13-14.
[382] Wily, "Competing High Pasture Claims," 13.
[383] Wily, "Competing High Pasture Claims," 13-14.
[384] Wily, "Competing High Pasture Claims," 17.

د کوچیانو دکډوالی ډیروالی مرکزی لوړو څرځایونو ته د اوړی په موسم کی.[385]




### 2.2.2 د ځمکی دمالکیت ډولونه:

له تاریخی پلوه او عملاً په افغانستان کی ټولي ځمکی په خصوصی برخی،ټولنی او دولت پوری اړه لری او یا عامه ځمکی دی.[386] د۲۰۰۷ کال دځمکی په ملی پالیسي کی په دغه څلور ډوله ځمکو باندی ټینګار شوی ده.**خصوصی ځمکی** په وګړو،کورنیو او شرکتونو پوری تړاو لری، **د ټولنی ځمکی** د هغو مالونو څخه عبارت دی چی د یوی ټولنی په واک کی وی او د ټولنی د ټولو غړو لپاره دمساوی ګټی اخیستو په موخه کارول کیږی د هغو کسانو په ګډون چی د ځانه نوره ځمکه هم ولری،**دولتی ځمکی** ددولت په واک کی دی او په دولت پوری اړونده ثبت شوی او د عامه ګټو لپاره اختصاص شوی دی، **عامه ځمکی** هغه ځمکی دی چی په ټوله کی دافغانستان په خلکو پوری اړه لری ،دا ځمکی دولت یا کومی دولتی اداری ته

385 Wily, “Competing High Pasture Claims,” 14.
386 Wily, “Competing High Pasture Claims,” 70.

د ټولو د ګټې لپاره سپارل شوی دی،فکر کیږی چې عمومی ځمکې، دځمکې د لاندې سرچینې،خیریه ځمکې،ځنګلونه او څرځایونه وی.[387]

ډیری اختلافات د دولتی ځمکو پر سر دی که څه هم بیلابیلو قوانینو کوښښ کړی تر څو هغه تعریف کړی خو ددولتی ځمکیو تعریف ستونزمن کار دی، د ۱۹۸۰ لسیزی را پدیخوا دولتونو ډیری هڅې کړی ترڅو تر څو دهغو ځمکو دمالکیت دعوه وکړی چې مخکی په دولت پوری اړونده وی او یا یی مالکیت معلوم ندی،دولت دهغو ځمکو دعوه کړی چې یو وخت په ټولنه او یا په خصوصی برخی پوری اړوندی وی، دجمهوری ریاست حکمونو دهغو ځمکو شمیر ډیر کړی کوم چې دولت یی د مالکیت دعوه کولای شی ،دبیلګی په توګه د۲۰۰۳ کال تقنینی فرمان چې ددولتی مالونو د انتقال په اړه ده صراحت لری چې (ټول هغه غیر منقول مالونه چې د وزارت خونو او یا نورو دولتی ادارو په واک کی وی او یا دهغوی په واسطه کارول شوی وی ددولت ځمکه ګڼل کیږی،دا وینا دومره پراخه ده چې د ټول هیواد۸۵٪ ځمکه پکی شاملیږی[388] دولت قانونی حق لری چې خصوصی ځمکې تصاحب کړی البته په هغه صورت کی چې د عمومی ګټو لپاره وی او عادلانه تاوان(دخساری جبران) یی ورکړل شی،موږ به وروسته کله چې د ګټې د اخیستو په محدودیتونو خبری کوو دا موضوع به وڅیړو.

ددولتی او عامه ځمکو تر منځ پولی(سرحد)ډیر پیچلی ده دا موضوع له دی کبله مهمه ده چې دولت د دولتی ځمکو خاوند او د عامه ځمکو امین(ساتونکی) ګڼل کیږی چې دا دوه سره توپیر لری[389] که دولت د یوی ټوټې ځمکی خاوند وی دیو خصوصی مالک په څیر کولای شی چې هغه ځمکه خرڅه کړی اویا یی د خصوصی وګړو او ټولنو قانونی استازی ته په اجاره ورکړی،خو که دولت د یوی ځمکې امین اوسی په هغه صورت کی دولت د ټولو وګړو په استازولی د هغی نه ساتنه کوی .[390]

د ځمکی اړوند ډیری قوانین،د ټولنی اړوند او عامه ځمکی په صریح او واضح ډول سره نه منی د بیلګی په توګه د ۲۰۰۸ کال د ځمکوالی د مدیریت قانون خصوصی ځمکه څنګه چې لاندی لیدل کیږی تعریفوی خود هغه ځمکه چې په سنتی ډول په یوه ځانګړی ټولنه پوری اړه لری نه تعریفوی،خصوصی ځمکی په غیر دولتی حقوقی وګړو پوری تړاو لری ،غیر دولتی حقوقی وګړی(شخص) د افغانسان د ۱۹۷۷ کال د مدنی قانون د۳۳۷ مادی له مخی هغه اداره یا موسسه بلل کیږی چې دقانونی اهلیت لرونکي وی، په دی تعریف کی ټولنه نه شاملیږی.[391] دولتی ځمکی ټولی هغی ځمکی دی چې ددولت په نامه ثبت دی او یا هم ثبت ندی(عامه ځمکی)، همدا راز پدی ځمکوکی هغه ځمکی هم شاملیږی چې د کوم وګړی مالکیت نوی، خو قانون یی نه ځانګړي کوی چې آیا په وګړیز(فردی)مالکیت کی ټولنیز مالکیت هم شامل دی او که نه؟

**د۲۰۰۸ کال د ځمکوالی د تنظیم د چارو قانو، ددریمی مادی لنډیز:**

خصوصی ځمکه:دځمکی هغه قطعه یا قطعات دی چې دقانون د حکمونو مطابق دحقیقی یا حکمی غیر دولتی اشخاصو په ملکیت کی قرار لری.

دولتی ځمکی عبارت دی له: باغی،آبی،للمی،غونډی،چمنی،جبه زاری،ځنګل زاری،څرځای،نی زاری ځمکی او نوری هغه ځمکی دی چې ددولت داراضی د اساس په دفتر کی ثبت وي.

هغه ځمکی چې عامه ملکیت ګڼل شوی، خو ددولت داراضی د اساس په دفتر کی ثبت نه وی.

هغه ځمکی چې د تصفیي په بهیر کی شرعآ یا قانونا د اشخاصو ملکیت پر هغو باندی ثابت نشی.

---

[387] Wily, Alden Liz, "Current Land Issues in Afghanistan," Afghanistan Research and Evaluation Unit (2003), 12.
[388] Wily, "Peace on the Pastures," 31
[389] Wily, "Current Land Issues in Afghanistan," 2.
[390] Wily, "Peace on the Pastures," 45.
[391] دافانستان مدنی قانون 337.ماده

اوس چې موږ د مالکیت د ډولونو په اړه خبرې وکړې بیرته د ځرځایونو بحث ته ورګرزو د ځمکو د مدیریت دقانون په ۸۲ ماده کې دځرځای حقوقی تعریف د عمومي مالکیت،باکره یا وچې بې خاونده ځمکې په توګه چې نه د وګړي وي او نه ددولت شوی دی، مګر داچې شریعت کوم بل حکم کړی وي،په عمل کې د ځرځای نه ګاونډیان ګټې اخلی که څه هم هغوی په قانونی ډول ددې مالکیت څښتن نه اوسی،په شریعت کې دا ډول مالکیت د **نسبی مالکیت** په توګه پیژندل شوی دی پدی معنی چې یو کس کولای شی د ځانګړې ځمکې د بنیګنونه څخه ګټه واخلي ولی د هغې د لیږد(انتقال) واک نلری ځرځایونه د ځایې کلیوالو دعامه اړتیاوو د پوره کولو لپاره خالی پاتی شوی دی خو دا ځرځایونه په هغوی پوری اړه نلری.[392]

د ۲۰۰۸ کال د ځمکې د مدیریت د قانون لید لوری د ځرځای دمالکیت په اړه نسبت د ۲۰۰ کال د ځرځای او عمومي ځمکو دقانون سره توپیر لری،د ځرځای دا تعریف په پراخ ډول د ځمکې ټول ډولونه لکه غونډی،دښتې،غرونه او دځنګل هغه ځایونه چې د حیواناتو د څریدو لپاره وابڼه لری شاملوی. دی قانون دخصوصي او دولتي ځرځایونو تر منځ توپیر کړی دی خو په زغرده بیانوی چې خصوصي ځرځای کولای شي په ټولنې پسې اړه ولرې.

- ښنګه کولای شو چې خپل بیلابیل لید لورو ته ددی په هکله چې ځرځای څه شی دی او ښنګه لاس ته راځی سمون ورکړو؟ آیا تاسو د نسبی مالکیت په اړه د ۲۰۰۸ کال د ځمکوالی د مدیریت په قانون کې د کومې ستونزې وړاندوینه کړې ده؟

- فکر وکړی چې تاسو د یو کلی مشر یاست او د خپلو حیواناتو د خوړو لپاره یو نژدی ځرځای ته اړتیا لری،د اوړی په اوږدو کې ستاسو کلی دا ټوټه ځمکه دهغو کوچیانو سره چې له غرو راځی ګډه وی،د تیرو لسو کلو په ترڅ کې ستاسو د کلی نفوس ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو دی،تاسو دلا زیاتو حیواناتو د ساتلو لپاره اړ یاست ددی نه پرته به ستاسو کلی وږی پاتی شی.ستاسو په نظر د ځرځای خاوند څوک دی؟څه کولای شی؟آیا نوی قانون دغو موضوعاتو ته د رسیدو اړتیا لری ؟

### 2.2.3 دځمکی ثبت:

د ځمکې د ثبت لپاره اساسی سند **قباله** ده، قباله یو رسمی قانونی سند دی چې د یو وګړی مالکیت پر یوی ټوټې ځمکې باندی ثابتوی، یوه قباله کولای شی چې په محکمه کې د ثبت شوی سند په توګه وی،یا ددولت نه دځمکې د اخیستو حکمونه ،د مالیو د ورکولو اسناد، غیر عرفی ثبت شوی قباله او هغه رسمی سند چې دقانونی حل او فصل نه وروسته صادر شوی وي.[393] د دی لپاره چې یوه شی چې څه شی کولای شي یوه قباله اوسی د لا ډیرو جزیاتو لپاره د ۲۰۰۸ کال د ځمکوالی د تنظیم د چارو د قانون پنځمې مادی ته مراجعه وکړی، دابتدایه محکمی قاضیان معمولآ د قبالی د مخ لیکنی(پیش نویس) او ارشیف کولو مسولیت په غاړه لری،او د کلیوالو ځمکو لپاره د اراضی دفتر چې د کرنی په وزارت پوری اړوند دی د مالک د پیژندنی(هویت)تصدیق کوی.[394] نوی قباله وروسته له دی چې مالک دځمکې ټوله بیه ورکړی ورکول کیږی.[395] غیر منقول کرنیز ابزار لکه د اوبو ژرنده هم په رسمی ډول د املاکو او مالیې په دفترونو کې ثبتیږی.[396]

د قبالو د ثبت د واحد سیستم نه هدف داده چې دولت وکولای شی تر څو د مالکیت سابقه وساتی او د ځمکو مالیات را ټول کړی.دولت کولای شی چې ځمکې پانګوالوته په اجاره ورکړی. که خلک د ځمکې قانونی مالکیت ولری هغوی کولای شی چې نوموړی ځمکخه د **وثیقی** په توګه وکاروی او تعهد وکړی چې که یې پور ور نکړای شو نو خپله ځمکه به د پور خاوند ته ورکوی[397] همدا شانته خلک کولای شی چې خپل مالکیت د هغې ځمکې په اړه ثابت کړی چې د پوښتنې یا اختلاف لاندی

---

[392] دځمکوالی د چارو د تنظیم دقانون 82ماده.
[393] دځمکوالی د چارود تنظیم دقانون ، 5 مادة
[394] USAID, “Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile,” 8.
[395] دځمکوالی دچارو د تنظیم د قانون 10-11. مادة
[396]
[396] دځمکوالی دچارو د تنظیم د قانون 7. مادة
[397] Foley, Conor, “A Guide to Property Law in Afghanistan,” Norwegian Refugee Council (2005), 53.

دي. په افغانستان کی ډیرو دولتونو کوښش کړی چی د املاکو د ثبت لپاره یو رسمی سیستم جوړ کړی خو د لړو برياوو سره مخ شوی[398]

یوه ستونزه داده چی کله د لومړی ځل لپاره په اویاومه او اتیاومه زیږدیزه لسیزو کی د ثبت یو سیستم په کار پیل وکړ د۳۰٪ نه کمی کرنیزی ځمکی د څیړنی لاندی ونول شوی او ثبت شوی،نن ورځ کلیوال مالکیت د ۱۰٪ نه کم شرعی قباله لری،پخوانی ارشیف شوی سندونه هم تر ډیره بریده زاړه او نا سم دی.[399] د ځمکی د ثبت پخوانی سیستم د بزګرانو په دوطلبانه راپورونو ولاړ وو نه د کاداستر په یو سیستم چی ځمکي به په رسمی ډول د مسلکی وګړو له لوری اندازه او څیړل شوی وي.[400] له هغه ځای نه چی د ځمکی اندازه د ځمکی پر مالیاتو اغیزه لری څینی بزګران دخپلو ځمکو اندازه د اصلی اندازی نه کمه حسابوی.[401] څینو نور بیا د خپلی ځمکی اندازه د واقعی اندازی نه ډیره حسابوی څکه غواړی لدی لاری نه د هغی ارزښت لوړ وښایی.

حتی وروسته لدی نه چی ۲۰۰۸ کال د ځمکوالی د چارو د تنظیم قانون دا سیستم په کاداستر بدل کړ لا هم څینی ستونزی شته.[402] د املاکو د عمومی ریاست سوابق او په محکمو کی درج شوی سوابق تل د یو بل سره سمون او مطابقت نلری.[403] چارواکی د هغو وګړو چی په ریښتیا د ځمکی خاوند دی او هغو وکړو چی د نورو ځمکی په اجاره ورکوی په توپیر کولو او بیلولو کی د ستونزو سره مخ دی . هغوی، د هغو ځمکو دثبت په پریکړه کی هم د ستونزو سره مخ دی چی په یو تولنه یعنی ډیرو خلکو پوری اړه ولری، د بیلګی په ډول: څرځایونه او للمی ځمکی چی د کرنی لپاره د اوبو لګولو پر ځای د دباران په اوبو پسی تړلی دی او ډیری دا ډول ځمکی په ځانګړو ټولنو پوری تړاو لری چی ثبتول یی ستونزمن کار دی[404] بله ستونزه داده چی په تیرو رژیمونو کی څینی خلک مجبور شول تر څو د ډار او زور له امله خپلی ځمکی په غیر قانونی ډول بل چاته انتقال کړی.[405] د دا ډول وګړو د ځمکی د مالکیت تایدول ستونزمن کار دی.

له هغه ځایه چی د ځمکو د ثبت سیستم نیمګړی ده ، د اراضي اصلاح او رژیمونو د وخت په تیریدو سره په افغانستان کی بدلون موندلی،یواځی رسمی قباله د ځمکی دمالکیت د اثبات لپاره نده ،د ۲۰۰۷ کال د ځمکی ملی پالیسی بیانوی چی چی د ځمکی مالکیت کیدای شی په ټولنه کی د مالکیت د یوسند د صادریدو په بهیر کی ثابت شی.[406] محکمو مالکیت د کادستر د سوابقو چی د ځمکی مسلکی ارزونه ده،دمخکنی رژیمونو د اسنادو، او داوطلبانه راپورونو او عرفی اسنادو له مخی تثبت کړی ده . په عرفی اسنادو کی د پلورلو او پیرودلو حساب(خرڅولو،اخیستلو)،رهنی موافقت،وصیت لیک،د ځمکی ویښل په څو ټوټو،او دخپلوانو ،ملګرو او ځایی رهبرانو شهادت شاملیږی [407] حتی که د مالکیت هیڅ ډول سند هم نوی موجود خو یو وګړی د ځمکی نه تولیدی ګټه اخیستی وی ،شونی ده چی نوموړی سړی ددی ځمکی د مالکیت په دعو کولو کامیاب شی،یا ددی نه پرته شونی ده چی دولت د ځمکی د مالکیت دعوا وکړی او وروسته په همدی ګټه اخیستونکی وپلوری یایی په اجاره ورکړی.[408] د بیلګی په توګه دقانون لاندی حکمونه په نظر کی ونیسی:

**د۲۰۰۸ کال د ځمکوالی د چارو د تنظیم قانون،اتمه ماده**

**اتمه ماده :**

**1)** هغه ځمکوال چی مدار حکم سند نلری او د هغه متصرفه ځمکه ددولتی املاکو په دفتر کی ثبت نه وی او نورو خلکو په هغه کی د ملکیت ادعا نوی کړی او د ابادی او کرنیز کار نښی پکی ولیدل شی او د پولي شریکان له ۳۵ کلونو

[398] Foley, "A Guide to Property Law in Afghanistan," 41.
[399] USAID, "Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile," 8.
[400] Foley, "A Guide to Property Law in Afghanistan," 42.
[401] USAID, "Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile," 8.
[402] Foley, "A Guide to Property Law in Afghanistan," 41.
[403] IS Academie, "Afghanistan – Food Security and Land Governance Factsheet," 5.
[404] Wily, "Peace on the Pastures," 7.
[405] Foley, "A Guide to Property Law in Afghanistan," 46.
[406] Wily, "Competing High Pasture Claims," 70.
[407] Wily, "Peace on the Pastures," 35.
[408] Foley, "A Guide to Property Law in Afghanistan," 46.

ځخه زیات د هغه تصرف تاید کړی او ددولتی پروژی لاندی قرار ونلری،نوموړی ځمکه تر ۱۰۰ جریبه اصل مساحت پوری د مالکانه تصرف پربنسټ د شخص ملکیت ګڼل کیږی.

2) په هغه صورت کی چی دولت ددی مادی په(۱) فقره کی ددرج شوی شخص دتصرفاتو مبطل سندونه وړاندی کړی،ځمکه ددولت ملکیت ګڼل کیږی ،پدی حالت کی لاندی اجراآت رعایتیږی: په هغه صورت کی چی د متصرفه ځمکوالی ساحه تر(۱۰) جریبو لومړی درجی ځمکی یا یی معادل پوری وی،په وړیا توګه دځمکوال په تصرف کی ورکول کیږی،د لومړی درجی معدله له لسو جریبو ځخه پورته د ورځی په نرخ پر ځمکوال باندی د پنځوکلونو په قسط پلورل کیږی.

دا پدی معنی ده چی یو وګړی کولای شی د یوی قطعی ځمکی رسمی مالکیت د اوږد مهاله تصاحب او مالکانه رفتار له لاری لاس ته راوړی،ددی قانون موخه شاید دا وی چی د غیر رسمی تصاحب شویو ځمکو د رسمی تصاحب لپاره یوه نوی لاره پیدا کړی،یا شاید موخه یی دا وی چی خلک وهڅیوی تر څو په هغه ځمکو باندی پانګونه وکړی چی بل چا ندی تصاحب کړی،لدی سره سره که یو وګړی یوه لویه قطعه ځمکه تصاحب کړی، لا دهغی ځمکی د ارزښت په ورکولو مکلف دی .

- د ځمکو د رسمی ثبتولو د سیستم ښیګڼی او نیمګړتیاوی څه دی؟
- کله چی د یوی ټوټی ځمکی لپاره قباله صادره شی معمولآ د مالکیت په سند کی یواځی یو نوم لیکل کیږی.[409] دا موضوع د هغه ځمکی په اړه چی د یوی کورنی یا یوی ټولنی په تملک کی ده څنګه تطبیقیږی؟آیا د ثبت بهتره سیستم موجود دی؟
- هوشمند او جهاندار د دو کروندو خاوندان دی چی د یو بل خواته واقع دی،هغوی په هغه پنځه جریبه ځمکه دعو لری چی ددوی د کروندی خواته پرته ده او ددی ځمکی په یو لیک د لیموګانو ونی هم شنی شوی دی،هوشمند د ۱۹۷۳ کال ددولت نه یو سند لری چی د لیموګانو ونی هم پکی شاملی دی،دا سند د هوشمند د تملک لاندی ځمکی د داوطلبانه راپور پر بنسټ جوړ شوی، احمد چی د کلی ریس دی وایی چی د لیموګانو ونی پر هوشمند پوری اړه لری.جهاندار پدی وروستیو کی خپله کرونده په ۲۰۱۴ کال کی اخیستی ده او دمحکمی سندونه ښیی چی د لیموګانو ونی په اخیستل شوی ځمکه پوری تړلی دی او دجهاندار ملکیت ګڼل کیږی،دچاه دعو د لیموګانو د ونو په اړه سمه ده؟ آیا یوی پریکړی ته درسیدو لاره شته؟ څنګه کولای شو ووایو چی دا اسناد واقعی دی او جعلی ندی؟
- کامبیز په پنجوایی ولسوالی کی د یوی کروندی دایمی مالکیت لری چی په هغه کی مالوچ کری،خو له کله چی د مالوچو کرکیله او تولید نا سم حالت خپل کړی،هغه د زیاتو پیسو دلاس ته راوړلو لپاره د خپلی ځمکی په خوا کی، په یوه بله ځمکه ختکی کری هغه په تیرو ۳۵ کلونو کی ۱۷ کاله پدی کار بوخت وو پرته له دی چی د کلی نور خلک پکی مداخله وکړی.اوس کامبیز غواړی چی د ختکیو پر ځمکه په رسمی ډول د ملکیت دعو وکړی.آیا هغه دغه کار کولای شی؟

### 2.2.4 د ملکیت نه ګټه اخیستنه:

ډیری نافذه قوانین بیانوی چی د ځمکی نه ګټه اخیستنه د ګټی نه اخیستنی نه غوره ده ،د بیلګی په توګه که یو ځل یو وګړی یوه ځمکه د پنځلسو کلو لپاره په خپل تصاحب کی لرله ، هیڅوک نشی کولای چی د دهغی ځمکی د مالکیت ادعا په محکمه کی وکړی،مګر دا چی دا ادعا د ارث د ادعا پر اساس وي چی په هغه صورت کی دا وخت ۳۳ کالو ته زایتیږی.[410] دولت کولای شی چی د مالک ترک شوی ځمکه بل چاته په اجاره ورکړی مګر دا چی د ځمکی قانونی خاوندان یا وارثان د هغی د استرداد غوښتنه وکړی یا یی د اجاری پیسی وغواړی.[411] دولت پدی ورستیو کی علاقه پیدا کړی چی په ځمکو کی د سوداګریزی پانګونی تشویق او ملاتړ وکړی،ډیری داسی حکمونه یی صادر کړی چی دولتی ځمکی خصوصی وګړو ته سپاری،خلک کولای شی چی ددولت نه د بی مالکه کرنیزو یا بی ثمره ځمکو اجازه لاس ته راوړی البته په هغه صورت

---

[409] Wily, “Competing High Pasture Claims,” 24-25.

[410] مدنی قانون ، 2279 – 2289. مادی

[411] د ځمکوالی د چارو د تنظیم د قانون 32 مادة.

کی چې ددی ځمکو نه د تولید لپاره ګټه واخلی.[412] کله کله دولت هم عامه ځمکی خرڅوی یا یی په اجاره ورکوی که هرڅه هم عامه ځمکی په عامه خلکو پوری اړه لری.[413]

دځمکی نه د ګټی اخیستو د پالیسی د ترویجیدو په وړاندی یوه ستونزه داده چې د راستنیدونکو له لوری د ځمکو د مالکیت د ادعا په وړاندی څنګه چلند وشی. په اخیرو کلونو کی افغانستان ته د ډیرو او تیزو مهاجرینو را ستنیدل دځمکی پر موضوعاتو باندی شخړی را منځ ته کړی دی. ډیر مهاجرین خپلو ټاټوبو ته د ستنیدو توان نلری ځکه کیدای شی ځمکی یی د بل چا له لوری نیول شوی وی او هغوی تری ګټه واخلی،ځینی نور چې پر ځینو ځمکو کی یی ژوند کاوه د کډوالو د راستنیدو او د مالکیت د ادعا څخه وروسته د هغو ځمکو نه بی ځایه کیږی.[414]

د بیرته راستنو شوو له لوری د کرنیزو ځمکو مالکیت ، 2002 تر 2004کال پوری [415]

| وخت | په سلو کی هغه کسان چی ځمکه یی نلرله |
|---|---|
| د2002 کال د مارچ نه تر ډسمبر پوری | 46.4 |
| د 2003کال د جنوری نه تر ډسمبر پوری | 60.4 |
| د 2004 کال دجنوری نه تر اپریل پوری | 67.0 |

ماخذ: UNHCR, 2004b

- د 2004 اساسی قانون دولت مکلف کړی دی چی " د هستوګنځای د چمتو کولو او مستحقینوته دعامه ملکیتونو د ویش لپاره د قانون سره سم او د مالی امکاناتو په حدودو کی لازم تدابیر ونیسی " آیا دولت ددی حکم نه په ګټه اخیستو سره کولای شی چی ځینی دولتی ځمکی راستنیدونکو ته ورکړی؟که کولای شی آیا دولت باید پدی اړه څه محدودیتونه منځ ته راوړی؟آیا دا یوه سمه پالیسی ده؟

### 2.2.5 د کوچیانو له لوری د ځمکی نه ګټه اخیستل:

کوچیان د کال په اوږدو کی په منظم ډول د تودو او سړو یا وچو او لمدو سیمو تر منځ تګ راتګ کوی،ډیر کوچیان یو اصلی څرځای خپل کور بولی ،د کوچیانو ژوند په وچو اونیمه وچو سیمو کی وی له هغه ځایه چی اوبه او کرنیزی ځمکی کمی پیدا کیږی نو دوی د یوی ځمکی نه ګټه اخلی او مخکی له ډیرو څرولو بلی سیمی ته کډه کوی.[416] که څه هم کوچیان خپل د هستوګنی ځایونه تل بدلوی خو ځینی یی د عمرونو لپاره په هغو سیمو کی په حرکت کی وی او دهغو سیمو اشغال او ګټه اخیستنه د میراث په څیر خپل حق بولی،ځینی نیمه ډوله کوچیان د کوچیانو او کرونده ګرو په څیر ګډ ژوند لری .

څنګه چی مخکی ذکر وشو د کوچیانو او ځایی بزګرانو تر منځ د څرځای نه د ګټی اخیسو لانجی په افغانستان کی د جنګ تر ټولو لویه سرچینه ګڼل کیږی، لکه څنګه چی څرځایونه لږ پیدا کیږی او مخ په زیاتیدو نفوس د خپلو خوړو د پوره کولو لپاره کرنی ته پراختیا ورکوی چی په دی وخت کی کروندګر ښایی دهغو څرځایونو د مالکیت دعو وکړی کوم چی د کوچیانو له

[412] مدنی قانون ، 1991 – 1992.مادی
[413] IS Academie, "Afghanistan – Food Security and Land Governance Factsheet," 3.
[414] Foley, "A Guide to Property Law in Afghanistan," 46.
[415] Wily, "Peace on the Pastures," 13.
[416] Wily, "Competing High Pasture Claims," 6.

لوری تری ګټه اخیستل کیږی. جګړی دهیواد په ځینو مرکزی سیمو کی چی کوچیان کوښښ کوی د اوړی په موسم کی هلته څرځایونو ته ورننوځی په لویه کچه تاوتریخوالی ته رسیږی.[417] کوچیان یا نیم ډوله کوچیان په قانونی ډول کولای شی چی د ځایی چارواکو نه د خپلو اړتیاو په بیانولو سره د حیواناتو د څرځای په موخه د ځمکی غوښتنه وکړی .[418] په عمل کی شاید چی چارواکی دوی ته د ځمکی د مالکیت د ورکولو لپاره زړه ښه نکړی،لدی امله چی ځمکی کمیږی او د تصاحب لپاره خالی ځمکی مخ په کمیدو دي.

### 2.3 د ځمکی د مالکیت انتقال:

لکه څنګه چی د مالکیت د انتقال په فصل کی بحث وشو،وګړی کولای شی د خپلی ځمکی د مالکیت یا ګټی اخیستو حق په دایمی یا موقتی ډول بل چاته انتقال کړی،،دځمکی خاوند اړ(مجبور)ندی چی د ځمکی اړوند ټول حقوق بل چاته انتقال کړی بلکه کولای شی چی د لیکل شوی یا ژبنی تړون له مخی وټاکی چی خپل کوم حقوق انتقالوی. پدی فصل کی به په لنډ ډول د کرنیزی ځمکی د دایمی انتقال په هکله بحث وشی،له هغه ځایه چی ډیری جنګونه د لنډ مهاله تړونونو پر سر، د اجاره اخیستونکو او اجاره ورکونکو تر منځ واقع کیږی نو موږ به پدی موضوع تر ډیره بریده تمرکز وکړو.

### 2.3.1 دځمکو خرڅول:

د کلیوالو ځمکو د خرڅلاو بازار په ځینو سیمو کی تود او په ځینیو سیمو کی یی خونده نشته ،د خرڅلاو ترټولو تود بازار په هغو سیمو کی ده چی هلته اوبه لرونکی ځمکی کمی دی چی په پایله کی یی هلته ځمکی کمی او د کرنی لپاره ډیر ارزښت لری،شریعت،رسمی قوانین او عرفی قوانین د ځمکو د پلور او پیر پر بازار اغیزتیا لری،ددی قواعدو غوښتنه داده چی د ځمکی خاوند د خرڅیدو په صورت کی باید لومړی خپلی ورثی او بیا ګاونډیانو ته د اخیستو وړاندیز وکړی که هغوی نه اخیسته بیا د ځمکی خاوند کولای شی چی ځمکه ازاد بازار ته د پلور لپاره وړاندی کړی. دا قوانین د ځمکی انتقال خپلی کورنی او خپلوانوته غوره ګڼی .[419]

دځمکی خاوند کولای شی چی خپله ځمکه د تل لپاره یا د لنډ مهال لپاره انتقال کړی.د ځمکی د ملکیت،دځمکوالی د ساحی د غیر منقولو تآسیساتو او تجهیزاتو قطعی لیږدیدل د شرعی سند پر بنسټ صورت مومی، یو وګړی لدی نه وروسته چی د ځمکی بیه ورکړی او قباله تیاره کړی په هغه صورت کی کولی شی ځمکه تر لاسه کړی.[420] د ځمکی انتقال د محکمو او د اراضی د مدیریت د څار لاندی انتقالیږی .[421] انتقال شوی ځمکه باید د مالیاتو په ورقو کی ثبت شی .په عمل کی شاید خرڅونکی یوه لیکل شوی شرعی قباله ونلری یا اخیستونکی د نویو لیکل شویو اسنادو د چمتو کولو توان ونلری، لدی امله دځمکو ډیری پیر او پلور پرته له کوم رسمی څار نه صورت مومی.

دولت کولای شی چی هغو بزګرانو ته چی ځمکه یی د دولت له لوری د عامه ګټو لپاره اخیستل شوی د ویش یا خرڅولو اول حق ورکړی (یو بهیر ده چی موږ به وروسته د هغه په هکله پدی فصل کی معلومات ورکړو).دا پریکړه د کرنی وزارت له لوری چمتو کیږی او د جمهور رییس له لوری منظوریږی،نوموړی ځمکه تر هغه پوری د اجاری په ډول پاتیږی چی ټولی پیسی یی ورکړل شی.[422] ځمکه په هغو حالاتو کی ویشل کیږی چی ددولت ځینو پروژو ته اړتیا نوی.[423] دولت کولای شی چی بکره یا بایره ځمکه د کرنیزو کروندو لپاره خرڅه کړی.[424]

### 2.3.2 دځمکی اجاره

د افغانستان د مدنی قانون ۱۳۲۲ ماده د **اجاری قرار داد** داسی تعریفوی " د اجاری عقد عبارت د هغه عین د ګټی د تملیکولو څخه چی په اجاره ورکول کیږی،دعین دګټو تملیکول د اجاری ورکونکی په وسیله،اجاری اخیستونکی ته په داسی

---

[417] IS Academie, "Afghanistan – Food Security and Land Governance Factsheet," 8.
[418] USAID, "Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile," 6.
[419] USAID, "Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile," 8.

[420] د ځمکوالی د چارو د تنظیم د قانون ، 50مادۀ.
[421] د ځمکوالی د چارو د تنظیم د قانون 51 ماده .
[422] د ځمکوالی د چارو د تنظیم د قانون 36. مادۀ
[423] د ځمکوالی د چارو د تنظیم د قانون 39، 46. مادی
[424] د ځمکوالی د چارو د تنظیم د قانون 48. مادۀ

عوض صورت مومی چی د بدل قابلیت ولری" د کرنیزو ځمکو په محدوده کی د اجاری قرارداد د مؤجر یا دځمکی د خاوند او مستآجر تر منځ توافق ده چی دهغه په اساس مؤجر مستآجر ته د ځمکی نه دګټي اخیستو اجازه ورکوی د پیسو یا کرنیزو محصولات په بدل کی.د پیسو ورکړه کیدای شي یو ځلی وی یا هم په قسطونو، هغه وخت چی مستآجر په پیسو بدل ورکوی دغو پیسو ته د **کرایی** مبلغ وایی ،د کرایی قرارداد په هغه وخت کی معمول دی چی مستآجر هم په ځمکه کی اوسی او هم د هغی نه ګټه اخلی. دځمکی د اجاری په خواکی د **بزګری** قرارداد هم معمول دی چی په هغه کی مستآجر د ځمکی نه د کرنیزو محصولاتو نه خپله برخه اخلی. ځینی د لږ مساحت لرونکی ځمکو خاوندان هم د خپلو ځمکو نه ګټه اخلی او هم د لا زیاتی ګټی لپاره د نورو په ځمکه کی بزګری کوی[425] بزګران او د ځمکو خاوندان کولی شی هوکړه وکړی چی دبزګری قرارداد د اجاری په قرار داد بدل کړی.[426]

د بیلګی په ډول فکر وکړی چی آسا ددو کروندو خاوند دی،خو هغه یواځی په یوه کی ژوند کوی او غواړی چی ددویمی کروندی د اجاره ورکولو له لاری زیاته ګټه لاس ته راوړی،خیال وکړی چی فریاد یو بی ځمکی بزګر دي چی غواړی د اوسیدو لپاره یو ځای ولری.آسا او فریاد کولای شی چی هوکړه وکړی تر څو فریاد آسا ته د میاشتی ۳۰۰۰ افغانی اجاره ورکړی او په بدل کی یی فریاد کولای شی تر څو د آسا د ځمکی نه هر ډول چی وغواړی تری ګټه واخلی.اوس خیال وکړی چیرته چی د آسا دویمه کرونده ده هلته په کلی کی فریاد د یو کوچینی کور خاوند دی خو هغه د کر کیلی لپاره هیڅ ځمکه نلری،آسا او فریاد شاید په یو ډول هوکړه وکړی چی د هغه پر اساس فریاد د آسا دځمکی نه د کښت لپاره ګټه اخلی خو ژمنه کوی چی د حاصلاتو په موسم کی به دریمه برخه محصولات آسا ته ورکوی، تاسو کولای شی چی د مؤجرانو او مستآجرانو تر منځ ډول ډول قراردادونه د هغوی د اړتیاوو پر اساس سره وګوری.

پام مو وی چی دافغانستان مدنی قانون د اجاری هوکړه د (اجاری عقد) په نامه،او دبزګری ځانګړي هوکړه یی د (دهقان نی او باغوانی عقد) په نامه یاد کړی دی. د **دهقانی قرارداد** دځمکی د خاوند او بزګر تر منځ بیانوی چی کښت په داسی ډول وشی چی د ځمکی محصولات ددوی تر منځ داسی وویشل شی چی دوی سره هوکړه کړی ده.[427] که هغوی په قرارداد کی د هر یو برخه نوی ټاکلی،د هر یو ه برخه د عرف له مخی ټاکل کیږی ددی نه پرته په مساویانه ډول ویشلکیږی..[428] **باغوانی قرار داد:** د ځمکی د خاوند او باغوان تر منځ صورت مومی او بل چاته د ونو او تاکونو ورکولو ته وایی د پالنی لپاره دهغی د یوی ټاکلی حصی د ثمر په بدل کښی.پدی هوکړه کی ونه د هغه نبات څخه عبارت دی چی په ځمکه کی یو کال یا تر هغی زیاته ثابته او باقی پاتی شی.[429]

**د افغانستان د ۱۹۷۷ کال د مدنی قانون ۱۴۱۲ ماده**

ددهقانی دعقد دصحت شرطونه په لانی ډول دی:

1-د کښت دپاره دمځکی تیاری،

2-د تخم،سری،دآفتونو ضد دواګانو او نورو ضروری مصرفونو دبرابرولو دپاره د معین شخص معلومول

3- دکښت دوسیلو د برابرولو دپاره دمکلف شخص معلومول،

4-دهقان ته دکښت د خالی مځکی تسلیمول که څه هم تخم د مځکی د مالک وی.

د اختلافاتو نه د مخنوی په موخه مهمه ده چی د مؤجر او مستآجر د هوکړی(توافق) د اثبات لپاره سند موجود وی، ددی کار لپاره تر ټولو آسانه لاره د یو قرارداد چمتو کول دی چی کیدای شی ټول جزیات په هغه کی په تفصیل سره بیان شی د بیلګی

[425] Wily, “Peace on the Pastures,” 17-18.

[426] دافغانستان د مدنی قانون ، 1423.مادۀ

[427] دافغانستان د مدنی قانون ، 1411مادۀ.

[428] د افغانستان مدنی قانون، 1426. مادۀ

[429] د افغانستان مدنی قانون، 1432. مادۀ

په توګه:څوک کرنيز وسايل تياروی يا اجاره څنګه ورکول کيږی يا برخی څنګه ويشل کيږی. که د هوکړی هيڅ سند نه وی موجود په هغه صورت کی قانون د ځمکی د خاوند د مالکيت څخه ملاتړ کوی لکه څنګه چی د قانون په لاندينی ماده کی ښکاری.لدی امله هيڅوک نشی کولای چی د بل چا ځمکه د هغه د اجازی څخه پرته وکری .

**د افغانستان د 1977 کال د مدنی قانون 2208 مادهٔ**

که څوک د بل چا ځمکه بی د هغی د مالک د اجازی څخه وکری اوپه ځمکه کی کرل شوی تخم را شين شی نو کرهڼه د ځمکی په مالک پوری اړه نيسی.

دی قانون د کرنيز موسم طبعی څرخ په نظر کی نيولی ده.مګر دا چی څوک د بل چا ځمکه د اجازی نه پرته وکری.د ځمکی پر اجاری حاکم قوانين د ځمکی نه د انسان د جسمی زحمت په وسيله ګټی اخيستو ته احترام کوی [430] د بيلګی په توګه،د ځمکی خاوند نشی کولای هغه ځمکه چی په اجاره يی ورکړی او پر هغی کښت شوی د حاصل د اخيستو نه مخکی بل چاته ورکړی.[431] دبزګری او باغوانی قرار داد د محصولاتو او ميوو د اخيستو تر معمول وخت نه کم جواز نلری. [432]ا که د ځمکی خاوند د نويو ميوو د ظاهريدو نه مخکی مړ شی بزګران او باغوانان له قانونی پلوه کولای شی چی آن د ځمکی يا باغ د ورثی د اجازی نه پرته خپل کار دوام ورکړی.[433]

څه به کيږی که د اجاری يو قرار داد د محصولاتو يا ميوو د پوره رسيدو نه مخکی منقضی شی؟ د يو کارکونکی له لوری د هغو محصولاتو اخيستل او ټولول چی په خپله يی کرلی دی د يو حق په توګه د قانون له لوری په ښه ډول ساتل شوی ده. د بيلګی په توګه،که دځمکی دخاوند او مستآجر تر منځ د اجاری يوه هوکړه د محصولاتو د رسيدو نه مخکی منقضی شی او پدی کار کی د مستاجر ګرمه نه وی، نوموړی مستآجر حق لری د اجاره شوی ځمکی نه د محصولاتو تر ټوليدو پوری ګټه واخلی[434] که همدا حالت د بزګری په قرارداد کی منځ ته راشی کرونکی د محصولاتو تر ټولولو کولای شی خپلی کرنی ته ادامه ورکړی او د کرنی کوم لګښتونه لکه د اوبو لګول او غونډه ول چی بزګر کړی به د ځمکی خاوند او بزګر دواړه د خپلی برخی سره سم پريکوی .[435] که همدا حالت د باغوانی په قرارداد کی منځ ته راشی،باغوان حق لری چی د ميوو تر بشپړه پخيدو پوری د کومی حق الزحمی نه پرته د باغوانی کار ته ادامه ورکړی. ډيری دغه قواعد د قراردادونو په رڼا کی چی په نورو درسی کتابونو کی پری بحث شوی ښه معلوميږی.

که د محصولاتو ټولول خلاص شول او د اجاری قرارداد منقضی شو د هغه نه وروسته د قرارداد دواړه لوری کولای شی پريکړه وکړی چی قرارداد نه تمديده وی،که دځمکی خاوند پريکړه کړی وی چی نور قرارداد نه تمديده وی نو بايد له مخکی نه مستآجر ته خبر ورکړی تر څو هغه د خپلو محصولات د انتقال لپاره پوره وخت ولری .[436] که د اجاری نوی قرارداد صورت مومی په هغه صورت کی اوسنی قرارداد بايد د نوی کښت لپاره ځمکه چمتو کړی[437] ځينی وختو نه شايد کرنيز محصولات په اجاره ځمکه کی له منځه لاړ شی،پدی اړه دا سوال منځ ته راځی چی آيا مستآجر لا هم د تاوان په ورکولو مکلف دی ؟ که کرنيز محصولات د مستآجر د کنترول له شرايطو نه بهر وی په هغه صورت کی معمولاً مستآجر د هغه نه وروسته په تاوان ورکولو مکلف ندی .[438]

---

[430] د افغانستان مدنی قانون، ، .1400 مادهٔ
[431] د افغانستان مدنی قانون، 1399. مادهٔ
[432] د افغانستان مدنی قانون، 1413 ,1435.مواد
[433] د افغانستان مدنی قانون، ، 1429 ,1442 مواد.
[434] د افغانستان د مدنی قانون 1334 ,1407.مادی
[435] د افغانستان د مدنی قانون 1428. مادهٔ
[436] د افغانستان د مدنی قانون 1334 مادهٔ.
[437] د افغانستان د مدنی قانون م 1410. ادهٔ
[438] د افغانستان د مدنی قانون م1405. ادهٔ

- ستاسو په نظر ولی قوانینو د مستأجر نه د کرنیزو محصولاتو په اړه دومره ملاتړ کړی ده؟
- د یو لیکل شوی قرارداد ګټی نسبت یوی لفظی هوکړی ته څه دی ؟ او آیا پدی کار کی کومی نیمګړتیاوی شته دی؟
- خیال وکړی چی افشان دځمکی خاوند دی او د دلبر سره چی بزګر دی دبزګری قرارداد کوی چی د هغه په اساس دلبر کولای شی د ځمکی ددریمی برخی حاصلاتو نه ګټه واخلی، د کښت او کار د فصل په نیمایی کی داسی معلومیږی چی سږ کال به وچکالی وی او کرل شوی محصولات به لږ وی،افشان له دلبره غواړی چی د محصولاتو تر اخیستو پوری د میاشتی یوه اندازه پیسی هغه ته ورکړی.آی افشان دا کار کولی شی ؟ هو\نه ولی؟
- خیال وکړی چی افشان په کندز کی د یوی ځمکی خاوند دی او ددلبر سره چی هلته بلد ندی قرارداد کوی چی پر اساس یی دلبر د کرنیزو محصولاتو په دریمه برخه بزګری کوی، دکال په نیمایی کی دلبر پوهیږی چی په کندز ولایت کی عرف دادی چی د ځمکی خاوند په بزګری معامله کی یوائی پنځمه برخه لاس ته راوړی .دلبر غواړی چی باید دوی قرارداد ته بدلون ورکړی آیا دلبر دا کار کولی شی؟هو\نه ولی؟

څرنګه چی په مخکینی فصل کی د ځمکی د مالکیت او انتقال په اړه بحث وشو په ورستیو کلونو کی دولت ډیری خصوصی،د ټولنی او عامه ځمکی، ددولتی ځمکو په لړ کی شمیرلی دی د بیلګی په توګه د ۲۰۰۳ کال تقنینی فرمان د دولتی اموالو د انتقال په اړه اعلان کوی چی ټول هغه ملکیتونه چی ۳۷ کلونو زیات ددولت په واک کی دی ددولت ،په دولت پوری اړه لری.ددولت دا ملکیتونه د څر ځایونو په ګډون کولای شی د مزایدی له لاری اجاری ته ورلاندی کړی. اصلی اوسیدونکی په هغه کی اول حق لری.[439] د 2008 کال د ځمکوالی د چارو د تنظیم قانون د کرنی وزارت ته واک ورکړی چی حاصلخیزی ځمکی تر ۵۰ کلونو او بکری او بایری ځمکی تر ۹۰کلونو پوری خصوصی پانګوالوته په اجاره ورکړی.[440]

د ځمکی د اجاری په اړه ددولت په نوی سیاست کی ښیګڼی او نیمګړتیاوی شته دی. قانون د 2008 کال د ځمکوالی د چارو د تنظیم قانون " د زراعت ،مالداري،د بنوالي د فارمونو او داسی نورو د جوړولو لپاره پانګونه ".[441]که خلک پر ځمکو باندی جوړونی او رغونی وکړی په هغه صورت کی د ځمکی ارزښت نور هم لوړیږی ،په همدی حال کی که خلک پرهغو ځمکو چی په سنتی ډول د څرځایونو په توګه تری کار اخلی کښت وکړی دا ځمکی کولی شی چی د جنګونو په یوه سرچینه بدلی شی څګه چی څرځایونه هغه سرچینی دی چی لږ پیدا کیږی.

| |
|---|
| قوانین څنګه کولای شی چی په کرنیزو پروژو کی د پانګونی د تشویق وسیله وګرزی؟ |

### 2.4 د استعمال د حق په وړاندی محدودیتون:

څنګه چی په شپږم فصل کی بحث وشو،محدودیتونه بیانوی چی د یو ملکیت خاوند یا څوک چی ملکیت یی په تصاحب کی دی د ملکیت په وړاندی کوم کارونه کولی شی او کوم کارونه نشی کولی. محدودیتونه کیدای شی د خصوصی ګټو یا **دعمومی ګټو** پر بنسټ وی ،په دی معنی چی دا محدودیت کیدای شی د عمومی هوساینی لپاره وی. د کرنی په برخه کی ډیری محدودیتونه پر خصوصی لوری پوری تړاو لری هغه داسی چی مستأجر د ځمکی د تصاحب په وخت کی د کومو کارونو د اجرا کولو اجازه لری. پر عامه ګټو ولاړ محدودیتوه تر ډیره بریده دا بیانوی چی دولت کوم وخت کولای شی چی خصوصی ځمکی واخلی، او څنګه کیدای شی چی د کرنیزو ځمکو نه داسی ګټه واخیستل شی چی چاپیریال ته یی ګواښ کم شی.

---

[439] 2000 Law on Pasture and Public Land, Articles 66-67, in Wily, “Competing High Pasture Claims,” 66.

[440] د ځمکوالی د چارو دتنظیم قانون 64. مادة

[441] قانون تنظیم امور زمینداری مصوب سال 1387، مادة 64.

### 2.4.1 د خصوصی ګټو پر بنسټ محدودیتونه:

د خصوصی ګټو پر بنسټ تر ټولو لوی محدودیت داده چی یو وګړی نشی کولای چی د مالونو نه داسی ګټه واخلی چی نورو ته د تاوان سبب شی.د افغانستان په مدنی قانون کی دا اصل د کرنی په برخه کی د اجاری د محدودیت په هکله لیدل کیږی .لکه څنګه چی د قانون په لاندینی ماده کی لیدل کیږی،یو مستآجر په ټوله کی باید د ځمکی نه داسی ساتنه وکړی چی وروستی ګټه اخیستونکو ته مناسبه وی،او داکار د کرنی د متعارفو لارو په کار اچونه او د داسی لارو نه ډډه چی دایمی منفی آثار ولری،شونی ده. داسی ګټه اخیستنه چی منفی آثار ولری هر هغه کار دی چی چاپیریال وجاړ کړی لکه د اندازی نه ډیره څرونه،یا د اندازی نه ډیر کښت یا نورو ته بل هر ډول تاوان رسول.

| |
|---|
| **دافغانستان د 1977 کال دمدنی قانون1408 مادهٔ** دا ماده (1808) اشتباه ده |
| اجاره اخیستونکی مکلف دی چی د کرنیزی ځمکی نه داسی ګټه واخلی چی خلک پری پوهیږی او په داسی توګه دی په کښی کار وکی چی د ګټی اخیستو لپاره تیاره پاتی شی.اجاره اخیستونکی نشی کولای چی د اجاری ورکونکی د اجازی په غیر د ځمکی نه په داسی ټوګه ګټه واخلی چی په ځمکه کښی دومره تغیر راوړی چی منفی اثر یید اجاری د پای ته رسیدو وروسته دوام وکړی. |

د ځمکی په وړاندی د مستآجر د ژمنو لوی نوم لړ کولای شو د 2008 کال د ځمکوالی د چارو د تنظیم د قانون په 61 ماده کی پیدا کړو. دبیلګی په توګه، یو مستآجر باید د ځمکی اړونده اوبه پاکی وساتی او د ځمکی خاوند ته دځمکی یا دځمکی د اړونده تجهیزاتو د ضرر تاوان ورکړی،مستآجر نشی کولای چی اجاره شوی ځمکه بل چاته انتقال کړی یا یی د وثیقی په توګه وکاروی .[442] همدا شانته د افغانستان مدنی قانون پر بزګرانو او باغوانانو باندی د ځمکی نه د ګټی اخیستو ځینی بیلابیل محدودیتونه وضع کړی دی.[443] یو بزګر نشی کولی چی په اجاره ځمکه کی جوړی ځمکی پری کړی. باغوان نشی کولی چی ونی او نور نیالګی د ځمکی دخاوند د اجازی نه پرته پری کړی.[444] بزګران او باغوانان نشی کولی چی اجاره شوی ځمکه د ځمکی د خاوند د اجازی نه پرته بل چاته په اجاره ورکړی .[445]

### 2.4.2 د عامه ګټو پر بنسټ محدودیتونه

د عامه ګټو پر بنسټ د ځمکی پر وړاندی ځینی محدودیتونه د یو ډول ځمکی نه د خلکو د ګټی د اخیستو مخه نیسی د یوی بلی موخه لپاره.د بیلګی په توګه یو وګړی نشی کولی چی ددولتی ځمکی د مالکیت ادعا وکړی.[446] همدا شان هغه نشی کولی چی کرنیزی ځمکی د غیر کرنیزو چارو لکه د سړکونو او ودانیو لپاره وکاروی پرته لدی چی د کرنی د وزارت اجازه او د جمهور ریس منظوری ولری.[447] همدا شانته که یو وګړی یو ډول ځمکه په بل ډول ځمکی بدله کړه د جزا سره مخ کیږی،هغه نشی کولی چی ځنګل په کرنیزی ځمکی بدل کړی یا د ځنګل د ځمکی نه د حیواناتو د څر لپاره ګټه واخلی[448] ددی قوانینو موخه داده چی دولت د ټولو ځمکو څارنه وکړی او دځمکی د ویش نه ساتنه وکړی بله موخه یی داده چی د هیواد دطبعی سرچینو نه ساتنه وکړی.

---

[442] د ځمکوالی د چارو د تنظیم د قانون ، 61.مادهٔ
[443] د افغانستان د مدنی قانون ، 1420. مادهٔ
[444] د افغانستان د مدنی قانون ، 1438. مادهٔ
[445] د افغانستان د مدنی قانون ، 1417, 1438مادی
[446] د ځمکوالی د چارو د تنظیم د قانون 1387 88. ، مادی
[447] د ځمکوالی د چارو د تنظیم د قانون ، 90مادهٔ
[448] 2011 Law on Regulating Forest Affairs, Articles 28, 37.

په افغانستان کی د طبعی سرچینو قانونی چوکاټ د2007 کال دچاپیریال د ساتنی قانون ده،پدی قانون کی د ځمکی نه دګټی اخیستو مندرج محدودیتونه، طبیعت د احترام او د پاتیکیدو پر اصولو ولاړ دی.[449] **پاتیکیدل**(پایداری) د طبعی سرچینو د ژوند ملاتړ په داسی ډول چی دا سرچینی د راتلونکو نسلونو اړتیاوی پوره کړی.[450] په بل عبارت پاتیکیدل د ځمکی نه په داسی ډول ګټه اخیستلو ته وایی چی په راتلونکی کی نورو ته د ځمکی نه د ګټی اخیستلو شونتیا موجوده وی. د چاپیریال د ساتنی قانون د۹- ۱۲ مادو پوری دهغو ملی ادارو قانونی جوړښت بیان کړی چی د چاپیریال د پاتیکیدو مدیریت رواجوی .

د چاپیریال د ساتنی د قانون دطرحی یوه برخه،د پاتیکیدو د رواجولو لپاره، د افغانستان په طبیعت کی د ځایی بوټو او ژویو بیا پیژندنه ده .دا په چاپیریال کی د ژوندو او غیر ژوندو موجوداتو د تنوع لامل کرځی.دا کار به په هیواد کی د دښتو د ډیریدو مخه هم ونیسی، په دی حال کی د بوټو بیا پیژندنه ځر ځایونوته د لاس رسی امکانات محدوده وی.[451] د چاپیریال د ساتنی ملی اداره به هم د هغو بوټو د ډولونو لړ لیک تیار کړی چی د ګټی اخیستو وړ دی ،بزګرانوته اجازه نه ورکول کیږی چی د ساتل شویو بوټو د ودی لپاره کار وکړی.[452]

آیا دا عادلانه ده چی د 2007 کال د چاپیریال ساتنی قانون د شپنو لپاره سیمی محدودی کړی دی چی په هغه کی څاروی وڅروی،او دا چی بزګران باید څه ډول بوټی وکری ؟ ددی پالیسیانو ګټی او منفی اغیزی څه دی؟

عمومی ګټی هم د عامه ادابو او نظم پر خلاف د ځمکی نه ګټه اخیستل منعه کوی،د بیلګی په توګه د خاشخاشو تولید د مخدره توکو د نړیوال سوداګیری په موخه غیر قانونی دی،لدی امله چی دا کار مستی او فساد ته د هڅولو له لاری د ټولنی عمومی نظم خرابوی.

**د مخدره توکو غیر قانونی تولید :**

نن په افغانستان کی د خشخاشو غیر قانونی تولید د مخدره توکو د جوړولو لپاره تر ټولو ډیر لیدل کیږی،د مخدره توکو د نړیوال سوداګری اصلی سرچینه د افغانستان په تریاکو کی دی،زموږ هیواد نن د مخدره توکو دنړیوال تجارت د هیروینو لویه برخه جوړوی. له هغه ځایه چی مخدره توکی د ګټی نه ډکه او د ډاډ وړ مالی سرچینه ده لدی امله په دی ورستیو کلونو کی ددغو توکو تولید زیات شوی ده. په 2013 کال کی د مخدره توکو د تولید کچه د تیر کال په نسبت ۴۹ سلنه زیاته شوی ده. جنګیالی او حتی د ځینو فاسدو چارواکو خپلوان د مخدره توکو تولید تشویقوی څکه هغوی ددی توکو د ګټی په لاس ته راوړلو سره بزګران دی کارته اړ باسی.[453]

تاسو په پنځم فصل کی د استملاک په اړه ځینی موضوعات ولوستل،په یاد مو وی چی دولت له قانونی پلوه کولی شی چی د خصوصی وګړو ځمکه په هغه صورت کی استملاک کړی چی دا کار د عمومی ګټو لپاره وی او خاوند ته یی مناسب بدل او تاوان ورکړي.[454] دا چی د عادلانه تاوان معنی څه ده د پوښتنی وړ ده، خو معمولآ دا کار د یوی ټاکل شوی کمیټی له لوری د بازار د روان ارزښت په نظر کی نیولو سره حسابیږی. [455] د تاوان ورکړه(جبران خساره) باید دځمکی د ارزښت، د ځمکی پر سر د ودانی د ارزښت او د هر بوټی او ونی د ارزښت په نظر کی نیولو سره ولاړه وی.[456] دا چی عمومی ګټی څه ته

---

[449] دچاپیریال قانون ، 5مادۀ.
[450] دچاپیریال قانون ، 4مادۀ.
[451] دچاپیریال قانون ، 45-44.مادی
[452] دچاپیریال قانون ،49-47. مادی
[453] Associated Press, "Afghan Opium Production at Record High," *Al Jazeera,* November 11, 2013.
[454] قانون تنظیم امور زمینداری مصوب سال 1387، مادۀ 21 و مادۀ 40 قانون اساسی.
[455] Wily, "Current Land Issues in Afghanistan," د 11.
[456] Foley, "A Guide to Property Law in Afghanistan," 62.

وایی هم د پوښتنې وړ ده، خو عامه ګټې کیدای شي،عمومي پروژې وی لکه سړکونه،بازارونه،د اوبو پراختیا،مسجدونه،پوځی ودانی،کارخوني،روغنتونونه،د بې وزلو لپاره کورونه،دولتي اداری او یتیم خوني.[457]

دولت غواړي په یوه کرنیزه ټولنه کې د 10000جریبه ځمکې د استملاک پلان د عادلانه ورکړې په بدل کې عملی کړی، دا ټولنه د خپلو اړتیاوو نه زیات کرنیز محصولات تولیده وی او په 30 کیلومتری کې یو بل ښارګوټی ته هم محصولات تولیده وی،دولت غواړي چې د ګازو یو نل لیکه ددی کلی د ځمکې نه تیره کړی او د ښار خلکو ته ګاز ورکړی. دا ټولنه د دولت ددی کار د مخ نیوی لپاره څه استدلال کولی شي؟ دولت به ددی ځمکو په مقابل کې څه ځواب وایی؟

### 2.5 د اختلافاتو حل:

څنګه چې ددی کتاب په یوه بله برخه کې هم یادونه وشوه،په افغانستان کې د شخړو د حل سیستم ډیر پیچلی ده. پدی سیستم کې رسمی اداری او محکمې شاملې دي چې د قانون له لوری د اختلافاتو د مدیریت لپاره جوړی شوی دی. همدا شانته د کلیو غیر رسمی شورا ګانی هم په کې شاملیږی چې د ټولنی په کچه د منځګړیتوب او مذاکری نه ګټه اخلی،او د ډیرو په باور دا غیر رسمی بنسټونه د رسمی ادارو نه ډیر پیاوړی او اغیزمنی دی ، د هغه چا لپاره چې ددی ټولنو نه بهر دی، ددغو جریانونو پوهیدل ستونزمن کار دی ځکه دا ټول بهیر په ځایی ادابو او رواجونو باندی ولاړ وی،ځینی وختونه شاید یو ستونزمنه شخړه د رسمی او غیر رسمی ادارو ترمنځ تاو را تاو شی.

#### 2.5.1 د رسمی او غیر رسمی عدالت کړن لاری:

له قانونی پلوه د اراضی د مدیریت اداری او محکمې د ځمکې داختلافاتو د حل مسؤلیت لری[458] د کرنې او مالداری وزارت هغه دولتی اداره ده چې په لومړی قدم کې د املاکو او ځمکو په موضوعاتو کې صلاحیت لری که څه هم د ښاروالیو چاروکی په ځایی موضوعاتو باندی له نژدی څارنه کوی، محکمې د والسوالیو،ولایتونو او په ملی کچه تنظیم شوی دی او په اداری او حکمیتی موضوعاتو کې قاضیان لری،یعنی هغوی قبالې چمتو کوی او ساتنه یې کوی او همدا شانته اختلافات حل کوی،دا په دی معنی ده چې قاضیان ډیر مسؤلیتونه لری.[459] د قضاوت دنده ستونزمنه ده په ځانګړی ډول له دی پلوه چې ډیر قاضیان لازمه زده کړه نلری،یا د محکمې د مخ ته بولو لپاره پوره مادی امکانات نلری،یا شاید دقوانینو په اړه د ستونزو سره مخ وی ځکه ډیری قوانینو په تیرو 30 کلونو کې د رژیمونو په بدلون سره بدلون موندلی دی[460]ډیر هغه اسناد چې محکمې باید دهغو پر اساس اصلی مالکیت ثابت کړی ورک شوی دی.[461]

په 2002 کال کې دولت د ځمکو ددعوو لپاره ځانګړی محکمه جوړه کړه خو دا محکمه د هغو موخو په پلیکیدو چې په 2005 کال کې ټاکل شوی وی کامیابه نشوه. [462] داځانګړی محکمه یوه ابتدایه محکمه او یو استناف محکمه لری، دا محکمه په افغانستان کې د کډوالو د راستنیدو سره سم ، دځمکو په اړه د هغوی شکایتونو او دعواګانو ته د رسیدو لپاره جوړه شوی ده . دا ځانګړی محکمه په هغو دعوو کې انحصاری واک نلری چې په هغه کې بیرته راستنیدونکی داخل وی. دا ډول دعواګانی کولی شی د والسوالیو یا ولایتونو په محکمو کې یا د غیر رسمی کړنلارو له لوری پر مخ لاړی شی.دی محکمې د کابل نه بهر دعوو ته لاړښونه یا تخنیکی ملاتړ د بریتوب لپاره نه لاره.. [463] او پریکړی یې هم نیم ګړی وی او عامه خلکو هم ورته لاس رسی نه لاره.[464]

---

[457] Foley, “A Guide to Property Law-88-/+- in Afghanistan,” 60.

[458] دځمکوالی د چارو دتنظیم دقانون 81 ,23.مادی

[459] Foley, “A Guide to Property Law in Afghanistan,” 28.

[460] Foley, “A Guide to Property Law in Afghanistan,” 28-29.

[461] Wily, “Current Land Issues in Afghanistan,” 12.

[462] IS Academie, “Afghanistan – Food Security and Land Governance Factsheet,” 9.

[463] Foley, “A Guide to Property Law in Afghanistan,” 29-32.

[464] Wily, “Current Land Issues in Afghanistan,” 2.

د2007 کال د ځمکې ملي پیالیسي بیانوي چې د سنتي او ټولنیزو لارو نه، حل شوي اختلافات په هغه صورت کې چې د قانون سره په ټکر کې نوي،د عدلي او قضایي ادارو لخوا بشپړه اعتبار ورکول کیږي."[465] په دې هیواد کې د رسمي عدالت لپاره د اختلافاتو کچه د اندازې نه ډیره زیاته شوې ده تر څو په یواځې ورته ورسیږي. رسمي او غیر رسمي برخې د ښه هم غړي لپاره هڅې کوي.

د افغانستان خلک په لومړي ګام کې خپل اختلافات د غیر رسمي لارو چارو نه حل کوي.[466] د اطرافیانو د دعوو د حل لپاره په غیر رسمي بهیر کې ډیرې لارې چارې موجودي دي،هغوی کولی شي چې خپل اختلافات،د کورنی غړو ،ګاونډیانو،یا د ټولنی مخورو یا یوې جرګې یا د کلي شورا ته وړاندې کړي.[467]په ځینو سیمو کې کوچیان او بزګران په ګډه سره ددغو امکاناتو نه د ګټې اخیستو هوکړه کوي.[468]

دا ډول پریکړې په ځانګړي ډول د ځمکې د هغو دعوو په حل کې ګټوري دي چې د ادعا کوونکو د غوښتنو تر منځ تداخل موجود وي ،او هر لورې د خپلې دعوې لپاره قانوني او تاریخي دلایل وړاندې کوي،پدې بهیر کې د غالبي ټولنی دلایل په نظر کې نول کیږي،په داسې حال کې چې محکمې په یوه کړنلاره ټینګار کوي چې په هغه کې یو لورې بایلونکی او بل لورې ګټونکی وي ،د اختلافاتو د حل غیر رسمي لارې پر روغه او جوړه باندې ټینګار کوي. د بیلګې په ډول:

د هزاروو په سیمه کې د څر ځای پر سر د هزاره وو او کوچیانو تر منځ جګړې جریان لري. هزاره ګان پدې سیمه کې د استوګنې سابقه لري چې په تاریخي لحاظ یې د ذکر شوي څرځای نه ګټه اخیسته،که څه هم په تیره پیړۍ کې ددولت داداري پالیسیو له امله چې د هزاره ګانو په وړاندې یې توپیرېز چلند کړی دا موضوع مختل شوی ده . د هزاره ګانو ژوند په پورتنی څرځای پورې تړلی تر څو په اوړي کې د حیواناتو دڅړیدو لپاره او په ژمي کې چې کوچیان تودو سیموته کډه کوي، دوښو او د سون توکو د چمتو کولو لپاره ترې ګټه واخلي. پدې حال کې د کوچیانو د ټولنو ډیرو غړو په 1928 او 1929 کلونو کې مدون قانوني اسناد لاس ته راوړي،چې دهغو پر اساس، په قانوني ډول د اوړي په موسم کې د حیواناتو د څرولو لپاره،ددې څرځای نه د ګټې اخیستو اول حق لري.ځینو غړو دا حقوق اخیستي دي. دواړه لورې د څرځای په وړاندې د حقوقو لرونکي دي چې باید ورته پام و شي.[469] دواړه لورې د ژوندي پاته کیدو لپاره دې څرځای ته د لاس رسي اړتیا لري. ددې څرځای نه دحد نه زیاته ګټه اخیستنه د څرځای د خرابیدو سبب ګرځي. تاسو ددوی د اختلاف د حل لپاره څه ډول لاره وړاندې کوی؟

په یاد ولرئ چې یو ځل یو اختلاف حل کیږي خو کیدای شي چې دا حل د لنډ مهال لپاره وي.د بیلګې په توګه: کله چې د شخړې دواړه لورې د هوکړې لپاره مذاکره کوي،شاید هغوی په راتلونکې کې بلې مذاکرې ته اړتیا ولري،کله چې شرایط بدلون مومي کیدای شي،داختلاف حل یو دوامداره بهیر شي.[470]

### 2.5.2 د اختلاف وړ موضوعات :

د ځمکو پر سر اختلافات د رسمي محکمو د قضیو تر ټولو لویه برخه.[471] ځمکې ته د لاس رسي حق،دځمکې حدود،د میراث مسایل،دځمکې تصاحب او د اوبو مسایل جوړوي.[472] د شخړو دا ډول ویش د شخړو د ښه پیژندو لپاره دي،خو کیدای شي ځینې اختلافات ډیر پیچلي وي،او ددې شخړو پیلابیل ډولونه یکې شامل وي ددغو اختلافاتو د ښه پوهاوي لپاره،او د هغه موضوعاتو د تکرار لپاره چې تر اوسه مو د کړنې په اړه ولوستل،موږ په لنډ ډول ځینې کیسې او بیلګې بیانوو.

**د ځمکو لوی اختلافات:**

---

[465] Wily, “Competing High Pasture Claims,” 70.
[466] USAID, “Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile,” 9.
[467] IS Academie, “Afghanistan – Food Security and Land Governance Factsheet,” 8.
[468] USAID, “Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile,” 9.
[469] Wily, “Competing High Pasture Claims,” 39.
[470] Wily, “Competing High Pasture Claims,” 30.
[471] IS Academie, “Afghanistan – Food Security and Land Governance Factsheet,” 9.
[472] Deschamps and Roe, “Land Conflict in Afghanistan,” 7.

Figure 1. Breakdown of NRC recorded disputes by conflict category (n=1168)




| اسم کتگوری | تعریف |
|---|---|
| دستیابی | چالش های فراروی حق دسترسی موجود، شامل چالش های مالکیت نمی گردد |
| حد و مرز | دعاوی در مورد موقعیت حد و مرز |
| میراث | دعاوی ناشی از انتقال حقوق مالکیت بعد از وفات مالک، خواه از طریق سیستم عدالت رسمی یا از طریق عرفی |
| حیازت | دعاوی ناشی از این که آیا ملک یک شخص توسط دیگری گرفته شده است. |
| آب | دعاوی مربوط به تخصیص منابع آبی (دعاوی بالای منابع ارضی که حقوق مهم در ارتباط به آب را دارد نیز به این بخش ارتباط میگیرد) |
| تعریف نشده | قضایای در دیتابس ILAC که معلومات اندک برای تشخیص نوعیت دعوای در مورد آن وجود دارد. |

### 2.5.2.1 د لاس رسی حق:

د لاس رسی په اړه اختلاف، د ځمکی نه د ګټی اخیستو په هکله وی لکه د اجاری او د ارتفاق د حقوقو، د ځمکی د مالکیت په اړه ، د کرنیزو ځمکو په هکله دا ډول اختلافات کیدای شی د مؤجر او مستآجر تر منځ واقع شی،پداسی ډول چی دواړه لوری د مستآجر د حقوقو د حدودو،دا ډول اختلافات معمولآ په هغه صورت کی منځ ته راځی چی قرارداد په شفاهی ډول سره شوی وی،موجر اومستآجر شاید د حجری د اندازی یا دهر یو د محصولاتو د برخی په اړه اختلاف ولری . یا پدی اړه وی چی آیا مستآجر کولی شی،چی د مؤجر تخمونو او کرنیزو وسایلو ته لاس رسی ولری.

څنګه چی مخکی په تفصیل سره بیان شوه، د کرنی په برخه کی،ځمکی ته د لاس رسی په اړه دعوی تر ټولو سابقه لرونکی دعوی دی،ځکه چی ځرځایونه اکثرآ د ټولنو لخوا تصاحب شوی،او د ټولو پر مخ خلاصی دی ،او معمولآ ډیره ساده ده چی دا سیمی په خپل تصاحب کی راولی، ډیری ټولنی شاید د څرځایونو په یوه برخه کی د لاس رسی او ګټی اخیستو په حقوقو کی سره تداخل ولری، چی هغوی ددی حقوقو پر سر په خپل منځ کی شخړی کوی، چی داپیښی په هغو سیمو کی را منځ ته کیږی چی قومی توپیرونه موجود وی.

اختلافات شاید په هغه حالت کی وی چی وګړی ځمکی ته د لاس رسی د حق لرونکی وی، خو په عمل کی د ځمکی د خاوند په ځیر کړنه کوی. د بیلګی په وتوګه: هغه حالت په نظر کی ونیسی،چی دوه ټولنو دعین څرځایونو نه،پیری پیری ګډه ګټه اخیستی ده، خو اوس یوه د دغو ټولنو نه هوډ کوی چی، د نباتاتو د کښت او د کرنیزی ځمکی د پراختیا په موخه، خپله

ځمکه د څرځای پلو اوړده کړی، او د بل لوری د لاس رسی د حق نه منکر شی.

بل حالت په نظر کی ونیسی، چی په هغه کی د یوی قبیلی ریس، د قانونی قبالی په لرلو سره،د څر ځای د یوی برخی خاوند دی،ولی په عمل کی ټول خلک دی څرځای ته د لاس رسی حق لری. که د قبیلی ریس یوه ورځ وغواړی چی ددی قبالی پر مټ، د نورو د لاس رسی د حق مخه ونیسی،کیدای شی داکار د یوی شخړی لامل وګرزی.

هغه ټولنی چی د یوی ځمکی نه په ګډه ګټه اخلی،شاید د ځمکی نه د ګټی اخیستو د څرنګوالی په اړه بیلابیل لید لوری ولری. په ځینو ځایو کی،ځینی کوچیان شکایت لری چی ځایی خلک ډیر حیوانات لری،او ډیر نباتات شکوی، چی په څرځایونو کی د اندازی نه زیات د څریدو لامل کرزی، همدا شانته هغوی شکایت کوی چی ځایی خلک د عامه ځمکو نه داسی ګټه اخلی چی د اوبو د سرچینی له منځه وړی. داډول کړنی تل پاتی نه وی.[473] په ټولنه کی هغه کسان چی حیوانات نلری، شاید وغواړی چی، د ځمکی نه د حیواناتو دڅریدو پر ځای، د کرنی لپاره کار واخلی.[474]

### 2.5.2.2 دځمکو پولي:

د ځمکی د پولو په اړه اختلافات هغه مهال منځ ته راځی، چی د ځمکی د پولو موقعیت مطرح شی. د بیلګی په توګه: په هغو سیمو کی چی د دو ځمکو پولي، د کوم څیز په وسیله نوی بیلی شوی،شاید د ځمکی خاوند ددی په هکله چی دده ځمکه تر کومه ځایه ده، او د بل لوری ځمکه له کوم ځای نه پیلیږی، اختلاف پیدا کړی. د ځمکی د ثبت یو رسمی سیستم،چی ځمکی سروی کړی،ددی سبب کرځی، چی د ځمکو پولي په سمه توګه وټاکل شی. ولی تر اوسه دځمکو د ثبت سیستم نیمګړی ده، او همدا شانته د ځمکی د رسمی سروی ګانو د صحت او دقت په اړه اندیښنی شته.

همدا شانته د ځمکو د پولو ستونزی، شاید د نوو پولو د جوړو لو له امله منځ ته راشی. داسی حالت په نظر کی ونیسی، چی دوو ټولنو په ګډه سره له تاریخی پلوه له یو څرځای نه ګټه اخیسته، په دی موده کی داسی فکر کیده چی یوه ټولنه ددی څرځای خاونده ده، او بله ټولنه د کلنی بیي د ورکولو په بدل کی، ددی څرځای نه ګټه اخلی، هغه ټولنه چی د څرځای خاونده ده، غواړی چی دا کلنی بیه زیاته کړی، خو هغه ټولنه چی دا څرځای یی په اجاره نیولی ده، ددی اضافه ورکړی نه ډډه کوی. په پایله کی د څرځای خاونده ټولنه د څرځای خوا او شاته د تیږو یو دیوال جوړوی، تر څو هغه بله ټولنه څرځای ته د ننوتو حق ونلری. دا د تیږو دیوال یوه پوله ګڼل کیږی.

### 2.5.2.3 ارث:

د ارث اړونده دعووی د مرګ نه وروسته منځ ته راځی، ځکه چی معمولاً ځمکه د مرګ نه وروسته د یو نسل نه بل نسل ته انقالیږی. د میراث په سر ډیری اختلافات د یوی کورنی د غړو تر منځ واقع کیږی. که چیری مړه شوي، لیکل شوی وصیت لیک نوی پری ایښی،په هغه صورت کی شاید دکورنی غړی ددی په هکله چی د مړه شوي مال او دارایی څنګه وویشی، سره اختلاف وکړی.

د بیلګی په توګه: په 2003 کال کی د بامیانو ولایت د یکاولنګ ابتدایه محکمی، د ورونو او خوندو تر منځ د یوی جالبی دعوی په اړه پریکړه وکړه. پدی قضیه کی، دوه خوندو خپلی ځمکی ورونو ته سوغات ورکړی، چی ورونو یی دا ځمکه د کرنی لپاره کاروله، کله چی دا خوندی مړی شوی، د هغوی اولادونو کوښښ وکړ چی بیا ددی ځمکی دعو وکړی، او دا دلیل بولی چی مورانی یی د ځمکی پر انتقال مجبوري شوی دي. په دی قضیه کی د مدعی علیه ورور هغه عرفی سند وړاندی کوی،چی د ځایی ملا په شتون کی لیکل شوی وه، که څه هم ادعا کوونکی دعو کوی چی دا ملا د باور وړ ندی، ځکه چی نوموړی دده د ماماګانو د نژدی خپلوانو څخه ده، خو لدی سره سره محکمی پریکړه وکړه چی دا ملا بی پری ده، او له دی امله چی د ادعا کونکو میندو دا سند لاس لیک کړی ده، ځمکه د هغو ورنو ملکیت ګڼل کیږی.[475] د دی قضی د قبالی په اړه د ډیری پوښتنی را پیدا شوی دی. او همدا شانته دا کار هم ستونزمن کیږی چی ددی اسنادو جعلی والی ثابت شی.

---

[473] Wily, "Competing High Pasture Claims," 29.
[474] Wily, "Competing High Pasture Claims," 72.

[475] Wily, "Peace on the Pastures," 40.

د ارث په اړه اختلافات کیدای شی د ټولنو پر منځ کی وی، د معاملو د ډولونو او د ټولنو تر منځ د هوکړو پیچلتیا ، په مهاجرتونو کی بدلونونه،د پخوانیو رژیمونو او د هغوی د پالیسی ګانو بدلونونه په شلمه پیړی کی،د ټولنو تر منځ د ځمکی نه د ګټی اخیستو د څرنګوالی په اړه دعووی منځ ته راوړی دی.

### 2.5.2.4 غصب:

د ځمکی د اشغال په اړه هغه مهال اختلاف منځ ته راځی، چی یو لوری ادعا وکړی چی بل لوری یی ځمکه په غیر قانونی ډول غصب کړی ده. دبیلګی په ډول: دا موضوع هغه وخت منځ ته راتلی شی چی بیرته راستنیدونکی د یوی ټوټی ځمکی د مالکیت ادعا وکړی چی اوس د بل چا له لوری اشغال شوی ده. یا کله چی یو زور واکی رهبر د خصوصی وګړو ځمکی په زور سره اشغال کړی. کیدای شی یو وګړی ادعا وکړی چی دولت یی ځمکه د عامه ګټو د موخو نه بغیر او یا پرته له عادلانه ورکړی نه استملاک کړی ده.

د 2003 کال د جون په میاشت کی د بامیانو ولایت د یکاولنګ د والسوالی ابندایه محکمی د غصب ددعوی په اړه یو پریکړه کړی ده ، پدی قضیه کی یو مؤجر چی د آبی او للمی ځمکو خاوند دی، دا ځمکه یی د پور د اخیستلو لپاره د وثیقی په توګه کارولی، خو د پور په بیرته ورکړه ندی بریالی شوی،لدی امله د کرنی وزارت ددی ځمکی مالکیت په خپل لاس کی اخیستی او هغه یی په اجاره ورکړی ده. د اړونده کلی نه څلور کسه محکمی ته ورغلی ، ادعا یی کړی او اسناد یی وړاندی کړی چی ثابتوی دا ځمکه د هغوی ده، نو لدی امله په لومړی ګام کی نوموړی سری ددی ځمکی د تصاحب صلاحیت نه لارو،همدا شانته د کرنی وزارت هم په هیڅ ډول ددی ځمکی د تصاحب حق نلری. وروسته لدی چی محکمی د څلورو ادعا کونکو د اسنادو اعتبار تاید کړ پریکړه یی وکړه چی دا ځمکه د هغوی ملکیت دی او ور ویی سپارله.[476]

### 2.5.2.5 اوبه

د ځمکی په اړه وروستی لویه برخه اختلافات د اوبو د حقوقو په اړه دی، اوبه د کرنی سره نژدی اړیکه لری، (اوبه د غذا لپاره) اصطلاح ، هغه اصطلاح ده چی داوبو لګولو او آبی او للمی ځمکو په کرنه ، مالداري،ځنګل لرلو او د حیواناتو د ساتنی لپاره تری ګټه اخیستل کیږی. د کرنی برخه د ۹۰ سلنه اوبو د لګښت مسولیت لری. د اوبو د لګښت نه کمه ګټه پورته کیږی ،کله کله پنځوس سلنه اوبه د ګټی اخیستو په وخت کی له منځه ځی. د نویو ماشینونو په مټ له ځمکی نه د اوبو را ایستل، د شته اوبو سرچینی وچوولای شی. را ایستل شوی اوبه کیدای شی د شخصی ګټی لپاره وی یا یی خرڅی کړی.

ددی په اړه چی آیا د ملکیت خاوند کولای شی چی د اوبو یوی نژدی سرچینی ته، د اوبو د را ایستو په موخه څا وشکوی هم د اختلافاتو سبب کیدای شی. وچ کالی او زیات سیلونه هم د اوبو سرچینوته تاوان رسوی. په راتلونکو کلونو کی به د اوبو او هوا د بلون له امله اقلیم هم په بی ساری ډول بدلون ومومی.[477]

اوبو ته لاس رسی د کرنی نه پرته د ډیرو نورو تولیدی کارونو لپاره هم ډیری اړینی دی، په کورنیو کی اوبه د څښلو او روغتیا په موخه کارول کیږی،په صنعت او معدنو کی اوبه د حل کوونکی مادی او د لیږد را لیږد لپاره کارول کیږی. اوبه د بریښنا د تولید لپاره هم ډیری مهمی دی.[478]

د اوبو په اړه اختلافات کیدای شی ددی په اړه وی چی څوک د اوبو د یوی ځانګړی سر چینی د مالکیت حق لری، او دا چی اوبه څنګه باید په ټولنه کی وویشل شی؟ او دا چی آیا اوبه په سمه توګه کارول شوی دی که نه؟ دنفوس ډیر والی او د کډوالو بیرته راستنیدو، اوبو ته اړتیا ډیره کړی ده.[479] اوبه یوه مهمه او لویه موضوع ده چی موږ غواړو هغه لا ډیره وڅیړو. د اوبو د حقوقو په اړه د لا ډیرو معلوماتو لپاره ددی فصل وروستی برخه ولولی!

### ۳. اوبه

### 3.1 بنسټیز چوکاټ

---

[476] Wily, "Peace on the Pastures," 40.
[477] "Water Resource Management," Islamic Republic of Afghanistan National Development Strategy (2008), 24.
[478] *Id.*د کچه
[479] *Id.* at 4.

د اوبو د ویش سیستمونه کیدای شی په بیلابیلو کچو باندی وی، داسیستم شاید د اوبو د لیږدولو را لیږدولو لپاره د بیلابیلو ویالو(کانال)لرونکی وی چی د اوبو د ویش له لویو جوړښتونو سره نښتی وی، او دا جوړښتونه اوبه په بیلابیلو برخو ویشی. دسیندونو په اوږدو کی د اوبو د ویش بیلابیل سیستمونه د اوبو **دلوړیدو(آبخیز)** په ځایونو کی، نښلیدی شی، څو واړه د اوبو حوضونه د اوبو یو لوی سیند جوړوی. دا پلان شوی کچی د تکنالوژی له لاری طراحی شوی دي، دا کچی غالباً د بیلابیلو ادارو له لوری اداره کیږی.[480]

د اوبو د مدیریت لپاره بنسټیز چوکاټ دوه کچی لری، لومړي کچه د اوبو د تخصیص لپاره د ټولنی سیستم دی، چی په سنتی او عرفی قواعدو ولاړ دی. دا سیستم معمولاً ځایی ویالی او د اوبو د ویش حوضونه کنترولوی. دویمه کچه یی د اوبو ملی مدیریت ته هڅه ده چی ریښه یی د 2008 کال د اوبو په ستراتیژی کی ده او د 2009 کال د اوبو په قانون کی تصویب شوی ده. په ملی کچه کوښښ داده چی د اوبو د ویش لپاره داسی سیستم جوړ شی چی په لوړه کچه د اوبو ویش د د سیندونو د سرچینو او سریزو نه تنظیم کړی.که څه هم ددغو دو سیستمونو ادغام ستونزمن کاردی،د اوبو قانون د ټولنی سیستم او د عرف اغیزه د اوبو په مدیریت کی په رسمیت پیژنی او حتی هغه ته ترجیح هم ورکوی، او کوښښ کوی چی دا دوه سیستمه په اوږدمهال کی سره ګډ کړی.

### 3.1.1 پر ځایی کړن لارو ولاړ سیستم

عرفی قوانین تر ډیره بریده په خصوصی ځمکو کی د اوبو نه ګټه اخیستل،د اوبو پر سر د اختلافاتو حل، او د اوبو د سرچینو نه ساتنه،تنظیموی. د تاریخ په اوږدو کی د اوبو تنظیم په کلیو کی صورت موندلی، په ځایی کچه د اوبو د تنظیم تر ټولو مروج سیستم کاریز ده . کاریز داسی سیستم ده چی د ځمکی لاندی اوبه د ویالو پر مټ د ځمکو د خړوبیدو لپاره تر لاسه کیږی .[481] په دی سیستم کی، اصلی رهبر د میراب په نامه یادیږی، او دا وګړی تر خپل لاس لاندی استازو ته واکونه ورکوی.د میراب،بزګرانو او دولت تر منځ هوکړی د اوبو د تخصیص ډول ټاکی. میراب باید د اوبو په سر د جنجالونو او شخړو سره د مقابلی ټولنیز مهارت ولری. *ساعتچی* هغه وګړی ده چی د وخت څارنه کوی چی اوبه د میراب لخوانه د ټاکل شوی نوبت او تخصیص سره سمی بیلا بیلو برخو ته ورسیږی.ساعت چی باید د اوبو د نوبت د بدلون ،او د اوبو د بدلون په سر د شخړو له منځه وړو لپاره لازم تخنیکی مهارت ولری.[482]دکلو او بانډو شوراګانی د عرفی قوانینو له لاری د اختلافاتو په حل کی کار کوی.[483] په یاد ولری چی په ځینو اطرافو کی پوځی قوماندانانو د اوبو د سرچینو اداره په غاړه اخیستی، چی دا تر ډیره بریه د میراب او ساعتچی ځای ناستی شوی دی.[484]

تر ډیره بریده ساعتچی په هغه ټولنه کی چی د اوبونه څار کوی د ځمکی خاوند نه وی، یا دا چی نوموړی بیخی د بلی ټولنی نه وی، تر څو دا ټکی هغه د اوبو سره د علاقی نه بی اړتیا کړی.[485] آیا تاسو فکر کوی چی دا یوه ښه پالیسی ده؟ آیا په دی اړه ستونزی شته دی؟

د ټولنی په کچه د اوبو د مدیریت یوه په زړه پوری سنتی لاره داده ،چی د کلیو خلک په کده د اوبو د یو ګډ سیستم د تنظیم لپاره سره را ټولیږی، او ډیر وخت دا کار د ژوندی موسیقی سره سرته رسوی. ټولنو د تاریخ په اوږدو کی د اوبو د ښه مدیریت لپاره، د یووالی له ځانګړو لارو چارو نه کار اخیستی ده.

### 3.1.2 ملی سیستم-

د 2009کال د اوبو قانون ، د ځمکی د لاندی اوبو ذخیرو ته د لاس رسی، د اوبو د سرچینو مدیریت،د اوبو کیفیت، د اوبو لګولو سیستم او د پولو نه د بره اوبو لپاره یو بنسټیز چوکاټ جوړکړی ده[486]

---

[480] AREU 12
[481] *Id.*
[482] AREU Water 53-54

[484] IS Academie, "Afghanistan – Food Security and Land Governance Factsheet," 7.
[485] AREU Water 53

د اوبو د ویش د سیستم نه د څارنی اصلی مسؤلیت، د اوبو او بریښنا وزارت په غاړه دی. دی وزارت د اوبو د ویش لپاره پروگرامونه جوړ کړی دی، معلومات را ټولوی، داوبو په اړه وړاندوینه کوی، د برق د تنظیم کړنی په مخ بیایی او د ذخیره کولو سیستومونه ساتی، د اوبو لګولو نوی سیستم یې طراحی کړی، د اوبو نه د ګټی اخیستو جواز وړاندی کوی، د ابو په اړه په را منځ ته شویو اختلافاتو کی منځګړیتوب کوی. همدا شانته دا وزارت د سیندونو په برخه کی د استازولیو، دسیندونو د شوراګانو، او د اوبو نه د ګټی اخیستو دځایی انجمنونو په جوړولو او څارنه کی برخه اخلی.[487] موخه داده چې په لومړی ګام کی د اوبو مدیریت په ملی کچه، دیو متمرکز بهیر له لوری جوړ شی، ولی ورو ورو دا بهیر،درود خونو او فرعی برخو کی په یو غیر متمرکز بهیر بدل شی.[488]

د اوبو او بریښنا وزارت او څو نوری اداری د اوبو پر ویش څارنه کوی،د کرنی او مالداری وزارت، دپریکړو د نولو په بهیر کی د ګډون، او د تکنالوژی او پالیسی د ترویج په موخه د اوبو لګولو انجمنونه جوړکړی دی. [489] د بیلګی په توګه: د اوبو د ذخیره کولو ښه سیستم، د اوبو د با ثباته عرضه کولو لپاره د یو ډاډ په توګه کمک کوی. د اوبو او بریښنا وزارت له نورو اړونده وزارتونو لکه د کانونو وزارت،د عامی روغتیا وزارت، د چاپیریال د ساتنی ملی اداره،د ښاری پراختیا وزارت او دکلو د پراختیا وزارت سره کار کوی، تر څو پلانونه جوړ کړی، داوبو سرچینی ولټوی، او ډاډ حاصل کړی چی د څښاک اوبه صحی دی. د اوبو او بریښنا وزارت له بهرنیو چارو وزارت،کورنیو چارو وزارت او د سرحدونو اوقومونو چارو وزارت سره کار کوی تر څو د اوبو د نړیوالی پولی مدیریت وکاندی.[490] ددی بیلابیلو ادارو چارواکی په مجموع کی د اوبو دچارو د مدیریت عالی شورا جوړوی.[491]

په لاندنی جدول کی د 2009 کال د اوبو دقانون د 8 او 9 مادو لنډیز بیانیږی چی په هغه کی په ځانګړی ډول د اوبو په هکله د اړوندو دولتی ادارو دندی ذکر شوی دی. په ترتیب سره، د اوبو او بریښنا وزارت او د کرنی او مالداری وزارت دندی د اوبو د مدیریت په هکله ، د اوبو د قانون په 10 او 11 مادو کی بیانیږی..

| د اوبو په اړه بیلا بیلی دندی | پلی کوونکی اداره |
|---|---|
| پلان جوړول،مدیریت کول او د اوبو د سر چینو پراختیا | د اوبو او بریښنا وزارت |
| د ځمکی لاندی اوبو ارزونه او ساتنه. | د کانونو وزارت<br>دعامی روغتیا وزارت<br>دچاپیریال د ساتنی ملی اداره |
| د ځمکی پر مخ اوبو ارزونه او ساتنه | دچاپیریال د ساتنی ملی اداره<br>د کرنی،اوبو لګولو او مالداری وزارت<br>د اوبو او بریښنا وزارت<br>د ښاری پراختیا وزارت |

---

486 داوبو دقانون 8.
487 د اوبو دقانون 18 ,17 ,16 ,15 ,14 ,13 ,12 ,10.مواد
488 "Water Resource Management," 2.
489 د اوبو دقانون 11. مادۀ
490 د اوبو دقانون 8 مادۀ.
491 داوبو دقانون 9.ماده

| | |
|---|---|
| | دعامی روغتیا وزارت<br>د کانونو وزارت |
| داوبو لګولو د معیارونو ټاکل | د کرنی،اوبو لګولو او مالداری وزارت<br>د اوبو او بریښنا وزارت<br>د ترانسپورت او هوایی چلن وزارت<br>دعامی روغتیا وزارت<br>دچاپیریال د ساتنی ملی اداره |
| په ښاری سیمو کی د ژوندانه لپاره د اوبو چمتو کول، فاضله اوبه او روغتیا | د ښاری پراختیا وزارت<br>د اوبو او بریښنا وزارت<br>دکانونو وزارت<br>دعامی روغتیا وزارت<br>د کرنی،اوبو لګولو او مالداری وزارت<br>دعامی روغتیا وزارت<br>دچاپیریال د ساتنی ملی اداره |
| په کلیو کی د ژوندانه لپاره د اوبو چمتو کول، فاضله اوبه او روغتیا | دکلو دپراختیا وزارت<br>د اوبو او بریښنا وزارت<br>دکانونو وزارت<br>دعامی روغتیا وزارت<br>د کرنی،اوبو لګولو او مالداری وزارت<br>دښاری پراختیا وزارت<br>ا دچاپیریال د ساتنی ملی اداره |
| د اوبو د سرچینو لپاره د لاری ټاکل، د بنسټیزو ودانیو جوړول،ساتل او څارل. | د اوبو او بریښنا وزارت<br>د کرنی،اوبو لګولو او مالداری وزارت<br>دکانونو وزارت<br>دکلو دپراختیا وزارت |
| داوبو د نړیوالو پولو نه ساتنه | د اوبو او بریښنا وزارت |

| | |
|---|---|
| | دبهرنیو چارو وزارت<br>دکورنیو چارو وزارت<br>دسرحدونو او قومونو وزارت |
| د اوبو دچارو هم غږی | داوب دچارو د مدیریت عالی شورا |

که څه هم په نظری ډول، داوبو دمدیریت د ملی سیستم بنسټ ایښودل شوی ده، خو په عمل کی یی اجرا کول له ګواښونو نه ډک دی ، دولت د ملی نظام دطرحی د چوکاټ په جوړولو، دنو پروژو د څیړلو، داوبو د ویش د ځینو بنسټیزو پروژو په جوړولو، د نوو څاګانو په جوړولو،پمپونو،توالتونو او د فاضله اوبو لپاره د سیستم په جوړولو، دهیواد په ځینو سیمو کی بریالی شوی ده 492 پداسی حال کی چی دولت انسانی او مالی سرچینی نلری، او همدا شانته دځانګړو مهمو معلوماتو نه لرل، په ډیرو سیموکی د مناسبو بنسټیزو پروژو نه شتون او د پروګرامونو د هم غږی کیدو لپاره د یو سیستم نه شتون، په دی اړه ددولت ستونزی.493 په اوس وخت د اوبو غوښتنه(تقاضا) د اوبو د ورکړی(عرضی) نه زیاته ده .

په کابل کی د اوبو تقاضا د هغی د عرضی په وړاندی[494]




ځینی خلک وایی چی د اوبو ملی نمونه ، داوبو د شته عرفی او ټولنیزو سیستمونو، په نظر کی نیولو نه پرته جوړه شوی ده . [495] د اوبو نه د ګټی اخیستونکو ځایی انجمن چی د اوبو دقانون لخوا جوړ شوی، شاید په دی موضوع کی ګډون ورکړل شوی، او کیدای شی کوښښ وکړی چی ددی عرفی او ټولنیزو سیستومونو ځای ونیسی. د اوبو نه د ګټی اخیستونکو دا

[492] "Water Resource Management," 5.
[493] *Id.* at 6.
[494] *Id.* at 23.
[495] Thomas, Vincent, Mujib Ahmad Azizi and Ihsanullah Ghafoori, "Water Rights and Conflict Resolution Processes in Afghanistan: The Case of the Sar-i-Pul Sub-Basin," Afghanistan Research and Evaluation Unit (2012), 4-5.

انجمنونه واک لري چې، د اوبو په لګونکو باندي بيه او لګښت وضع کړي.[496] ډير بزګران ددی نه ډاريږي چې دا لګښتونه، په ددوی د وس نه زيات وی.[497]

په ملی کچه د اوبو د ویش دسیستم ښیګڼی او نیمګړتیاوی څه دی؟ آیا فکر کوی چې د ملی سیستم او تولنیز سیستم، د یوه تو‌ټه کولو لپاره کومه لاره شته ده؟

په ملی کچه د اوبو د مديريت ځينی انتقاد کوونکی وايی، چې د اوبو په مديريت کی د ډيرو زياتو ادارو ګډون، پيچلتيا، نه هم غړی او د حد نه زياتی بوروکراسی لامل ګرزی. تاسو څه فکر کوی؟

که څه هم د 2009 کال د اوبو قانون تر ډيره حده د اوبو د مديريت لپاره په يو ملی سيستم ټينګار کوی، دا قانون په 6 ماده کی د عرف د اغيزی په اړه داسی بيانوی " د اوبو د سرچينو نه ددی قانون دحکمونو،او دعرف او ښو عنعناتود رعايت سره سم،د څښلو،ژوندانه،کرنی،صنعت،عامه ګټو،بريښنا،ترانسپورت،کښتی چلونی،کب ساتنی او چاپيريال، د اړتياوو د پوره کولو لپاره ګټه اخيستل کيږی." دا په څه معنی ده چی قانون،عرف په دی ډول په رسميت پيژنی، که قانون او عرف په ټکر کی واقع شی نو څه به کيږی؟

### 3.2 د ځمکی مالکيت او تصاحب:

هم د 2008 کال د اوبو ستراتيژی او د 2009 کال داوبو قانون، بيانوی چې اوبه د عامه شتمنيو نه دی چې د دولت له لوری يی مديريت کيږی.[498] دا موضوع په اسلامی شريعت کی په هغه اصل ولاړه ده، چې د اوبو حق د سا(نفس)ايستلو او د ورځی د رڼا ليدلو سره پرتله شوی ده.[499] دافغانستان مدنی قانون ادامه ورکوی چې، سيندونه او د هغوی فرعی شاخونه، عامه شتمني دی او هرڅوک کولی شی خپله ځمکه پری خړوبه کړی،مګر دا چې دا کار د عمومی ګټو يا ځانګړی قانون پر خلاف وی .[500]

کله چې يوه ټولنه د اوبو د يوی سرچينی نه په ګډه ګټه اخلی، په دی صورت کی د اوبو نه د **نوبت** په توګه کار اخيستل کيږی، دوګړی د اوبو نوبت، دهغه اندازی اوبو او وخت نه عبارت ده چې په قانونی ډول هغه ته اختصاص ورکړل شوی. [501] هغه د اوبو د نوبت په وخت کی، اوبه د يوی وړی ويالی نه لاس ته راوړی چې دا وياله د يوی لويی ويالی نه بيليږی، او په نيغ ډول اوبه دده تر ځمکی رسوی .[502] د اوبو دحقوقو ويش له لويو ويالونه، د هری ځمکی اړتيا ته په کتو سره چې اوبو لګولو ته يی لری ټاکل کيږی.[503] دا چې هره ټوټه ځمکه څومره اندازی اوبو ته اړتيا لری، په اړه يی د نظر اختلاف ده، او کيدای شی دا موضوع تنازع منځ ته راوړی.

کله کله د اوبو نوبت لکه څنګه چی ټاکل شوی ده په دقيق ډول نه رعايتيږی، د اوبو نوبت شايد په پلان شوی وخت شروع نشی، کيدای شی يو بزګر خپل د اوبو نوبت په نابيره ډول له لاسه ورکړی.[504] د اوبوغلا، يا په هغه کی لاس وهنه يا داوبو د نوبت ناسم مديريت کولی شی د جګړو سبب شی. په سرپل ولايت کی،ولايتی ميراب د اوبو دغله د پيژندلو لپاره، د لرګی له يو مهر نه کار اخلی، هغه په وياله کی، د مجاز اوبو حد اکثر اندازه ، د ويالی په سر کی ددی مهر په وسيله نښه کوی، که دا نښه د اوبو په رسيدو سره پاکه شی نو هغه پوهيږی چی د اوبو غلا واقع شوی ده.[505] د اوبو د نوبت د اندازی د ټاکلو لپاره يوه بله معموله وسيله **"فنجان"** يا د اوبو پخوانی ساعت ده، چی دا وسيله د اوبو نه ډک يو لوی لوښی او يوه کاسه ده چی په

[496] د اوبو قانون 7. مادة

[497] IS Academie, "Afghanistan – Food Security and Land Governance Factsheet," 7.

[498] د اوبو قانون 2. مادة

[499] NRC 68

[500] د افغانستان مدنی قانون، 2347.مادة

[501] د افغانستان مدنی قانون 2346. مادة

[502] Thomas, et al., "Water Rights and Conflict Resolution Processes," viii.

[503] د افغانستان مدنی قانون 2349 ,1911. مواد

[504] Thomas, et al., "Water Rights and Conflict Resolution Processes," 53.

[505] *Id.* at 48.

منځ کی سوری لری، کله چی کاسه د اوبونه ډکه شی په لوښی کی غرقیږی او میراب یی خالی کوی، دا کار بیا بیا تکراروی، او هر ځل چی دا کار کوی، حساب یی په یو لوښی کی د وړی ډبری په اچولو سره نیسی[506]

د اوبو لګولو د تنظیم مهر



د اوبو د جریان د تنظیم لپاره پخوانی د اوبو ساعت



نوي قوانین ادعا کوی چی اوبه وړیا دی، خو دولت کولی شی چی د اوبو د بنسټیزو ودانیو د جوړولو او خدماتو د وړاندی کولو په بدل کی، په خلکو باندی حق الزحمه وضع کړی.[507] د اوبو نه ګټه اخیستل د څښاک او کورنی ګټی اخیستنو نه پرته، د نورو موخو لپاره لکه بی ضرره لیږد را لیږد او د اور مړه کول په اوس وخت کی ددولت اجازی ته اړتیا لری.[508]

پر اوبو د ګټی اخیستو محدودیت کیدای شی د تجارتی موخو لپاره د اوبو نه ګټه اخیستل وی، د اوبو نه د بیلابیلو ګټو اخیستو او د اوبو د کیفیت لپاره بیلابیل معیارونه موجود دی. د څښلو د اوبو د کیفیت، دلګولو د اوبو دکیفیت او دصنعتی وروسته اوبو(پساب) لپاره لازم معیارونه په خپلواکه توګه ټاکل کیږی.[509] اوبه کولای شو چی د اداری چارواکو د څارنی لاندی، د بریښنا د تولید، ددولتی پروژو د جوړولو او لیږد را لیږد لپاره له ژورو څاګانونه لاس ته راوړو.[510]

کله چی اوبه د کرنی لپاره کارول کیږی، دکرنی وزارت کولای شی، چی د ویش مسولیت یی ځایی انجمنونو ته وسپاری. د ابولګولو انجمنونه کولای شی چی د ټولنی په کچه د اوبو لګولو مسؤلیت میراب ته وسپاری.*[511]* په افغانستان کی په اوس

---

[506] Wikipedia, “Qanat,” http://en.wikipedia.org/wiki/Qanat.

[507] د اوبو قانون 7.ماده

[508]د اوبو قانون 19. مادۀ

[509]د اوبو قانون 24مادۀ.

[510]د اوبو قانون 25, 26, 27, 38. مواد

[511]د اوبو قانون 23. مادۀ

وخت کی عملاً اتیا سلنه د اوبولګولو  شبکی د ځایی ټولنو له لوری په بریا سره مدیریت کیږی.[512]

که څه هم د اوبو سرچینی ددولت د مالکیت لاندی دی، خو اوبو ته لاس رسی ،کیدای شی په خصوصی برخه پوری اړه ولری،لکه د خصوصی ویالو جوړول یا په خصوصی ډول د اوبو ذخیری جوړول. په افغانستان کی پر ځمکه باندی خصوصی مالکیت او ټولنیز مالکیت دواړه د هغو حقوقو شامل دی چی د ځمکی پرمخ وی او هم د هغو اوبو د مالکیت حق لری چی د ځمکی دلاندی وی، که څه هم ځینی وختونه  کیدای شی اوبه د یوی بیلی قبالی پر اساس د وګړی ملکیت وی.[513] د ځمکی خاوند کولای شی چی د عمومی اوبو نه یوه خصوصی ویاله جوړه کړی تر څو خپلی ځمکی ته اوبه ورکړی، یا دخپلو وسایلونه په ګټی اخیستو له ځا نه اوبه را وباسی او تری ګټه واخلی.

د افغانستان مدنی قانون پر اوبو باندی د خصوصی مالکیت او د اوبو د ذخیرو په اړه صراحت لری، دبیلګی په ډول: که د ځمکی خاوند د خپلی ځمکی د اوبوکولو لپاره ویاله جوړه کړی نور خلک نه شی کولی د هغه له اجازی پرته تری ګټه واخلی.[514] فکروکړی چی د یوی لویی لاری په اوږدو کی چی د غره په منځ کی تیره شوی ،ښی لاس ته یی څو واړه رستوراتونه او یو دموټر مینځلو ځای، او کیڼ لوری ته یی یوه رود خونه پرته ده، په معمولی ډول د باران او واوری اوبه له غره نه په رود خونه کی چی عامه ملکیت ده تویږی، د کار کسب خاوندان کولای شی چی په غره کی د اوبو له وړو سرچینو نه د اوبو د ټولولو لپاره دغره نه لاندی ګټه واخلی، چی په پایله کی یی ددولتی اوبو یوه برخه د کار او کسب لپاره په خصوصی اوبو بدلی کړی .

هغه خاوندان چی اوبه په خپل تملک کی لری لا هم باید د خپلو ګاونډیانو اړتیاوی اوبوته په نظر کی ونیسی.[515]  هغوی باید عمومی ګټو ته د تاوان رسولو نه ډډه وکړی، او د اوبو نه دی د خپلو ځمکو د اړتیاوو سره متناسبه  ګټه پورته کړی .[516] دهغه ځمکی خاوند چی د اوبو لګولو یو شبکه جوړوی چی لاریی د نورو د ځمکو نه تیریږی باید د **ارتفاق حق** یا دنورو د ځمکی نه خپلی ځمکی ته د اوبو د رسولو حق ولری، مګر دا چی اوبو ته دلاس رسی بله لار موجوده وی. د ځمکی خاوند مکلف دی چی د مناسبی بیی په بدل کی، د خپلی ځمکی له لاری دنورو خلکو هغو ځمکو ته د اوبه کیدو لپاره اجازه ورکړی چی د اوبو د سرچینی نه لری پرتی دی خو عمومی ویالی ته تر ټولو نژدی.[517]

یوه ټولنه یا بیلابیلی ټولنی کولای شی چی د اوبو مالکیت ولری. هغوی پریکړه کوی چی د اوبو د ویش قواعد په شفاهی یا کتبی ډول سره منځ ته راوړی.[518] ددی پریکړی د شرایطو  نه روښتیا کولی شی د اختلافاتو یو سرچینه وی. کله چی اوبه ګډی وی ددی ټولنی هر غړی دنده لری چی د اوبو لپاره لازم اصلاحات، د ټولنی د هر غړی په غوښتنه سرته ورسوی.[519] ځینی وختونه چی ټولنی څرځایونه سره ګډه وی ، کله چی یوه ټولنه غواړی تر څو د اوبو لګولو یوه شبکه ددی څرځای له لاری جوړه کړی، پرته لدی چی د بلی ټولنی نه یی اجازه اخیستی وی ، کیدای شی چی  ددی موضوع پر سر ، شخړی او لانجی منځ ته راشی.[520]

دولت باید څنګه پریکړه وکړی چی د اوبو نه کوم ډول ګټه اخیستنه ډیره ښه ده؟ ستاسو په نظر ولی د بیلابیلو اوبو او بیلابیلو ګټو اخیستو لپاره د کیفیت استندارډونه نشته؟
د یو لوی سیند یوی غاړی ته، یوه کرنیزه ټولنه پرته ده، بل لوری ته یی یو ښار موقعیت لری چی د پر مختګ په حال کی ده، دا سیند د دواړو سیمو د اوبو سرچینه ده.بزګران د اوبو لګولو لپا اوبو ته اړتیا لری،خو  ښار بیا د بریښنا د تولید لپاره اوبو ته ، ورځ تر بلی زیاته اړتیا پیدا کوی. آیا د بزګرانو او ښاریانو لپاره داسی لاره شته چی داوبو نه د ګټی اخیستو د څرنګوالی لپاره پری هوکړی ته ورسیږی؟

[512] USAID, “Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile,” 11.
[513] *Id.*
[514] دافغانستان مدنی قانون، 2348 ,1910. مواد
[515] دافغانستان مدنی قانون، 1912. مادهٔ
[516] دافغانستان مدنی قانون، 2349. مادهٔ
[517] دافغانستان مدنی قانون، 1917. مادهٔ
[518] Thomas, et al., “Water Rights and Conflict Resolution Proclesses,” 43.
[519] دافغانستان مدنی قانون، 1918. مادهٔ
[520] Thomas, et al., “Water Rights and Conflict Resolution Processes,” 23.

امیر، د یوی ځمکی خاوند دی چی د ځمکی نه یی یوه وړه ویاله د کلی د نورو ځمکو د اوبه کولو لپاره تیره شوی ده، د نوموړی ځمکه هغه سیند ته نژدی ده له کومه چی د ویالی اوبه بهیږی، په دی وروستیو کی امیر دوه غوایی اخیستی او غواړی چی په خپله ځمکه کی غویو ته کوډله جوړه کړی، ددی کار لپاره مجبوره ده تر څو دا ویاله له بنده کړی،آیا امیر دا کار کولی شی که نه او ولی؟

کله کله اقلیمی بدلونونه کولی شی چی د ځمکو د مالکیت شته جوړښتونه بدل کړی، که سیل د یو سړی ځمکه لاندی کړی هغه لا هم د ځمکی خاوند دی که څه هم ګټه تری نشی اخیستی.[521] د اقلمی بدلونونو په وسیله جوړی شوی ځمکی معمولآ په دولت پوری اړه لری. د بیلګی په ډول، که د سیل له امله نوی ځمکه جوړه شی حتی که دا ځمکه د یو وګړی دخصوصی ځمکی سره نښتی هم وی، ددولتی اموالونه ګڼل کیږی.[522] همدا شانته کله چی د سیند اوبه کمیږی، او په پایله کی یی د سیند په څنډو کی نوی ځمکی پیدا کیږی،هغه ځمکی ددولت دی.[523] که د سیند د مسیر د بدلون له امله نوی ځمکی پیدا شی، دا ځمکی د ځانګړی قانون له لوری تنظیمیږی.[524]

### 3.3 د ځمکی انتقال:

هغه بزګران چی بیلابیلی ټوټی ځمکی، په بیلابیلو ځایونو کی دیوی ویالی په اوږدو کی لری،کولی شی چی د اوبو نه د ګټی اخیستو نوبت ، دیوی ځمکی نه بلی ځمکی ته انتقال کړی. هغوی کولای شی چی د اوبو نوبت د کوزی ټوټی ځمکی نه بری ټوټی ځمکی ته انتقال کړی، همدا شانته هغوی کولی شی، چی د خپلو اوبو برخه په اغیزمن ډول په یو ټوټه ځمکه باندی په متمرکز ډول ولګوی، همدا شانته کولای شی چی خپل د اوبو نوبت د ټولنی نورو غړو ته ورکړی. کیدای شی هغوی دا کار د اجاری د یو قرارداد په وسیله، په هر نوبت کی یا د اوبو لګولو د ټول فصل لپاره، تنظیم کړی. داوبو د نوبت د انتقال لپاره هغوی باید ساعتچی ته خبر ورکړی، تر څو هغه د اوبو دنوبت وخت تنظیم کړای شی.[525]

کله چی د اوبو یوه لاره په خصوصی برخه پوری اړه ولری، هغه کولی شی چی د اوبو دا لاره په ارث یوسی، یا د هغه نه ګټه اخیستل دیو وصیت خط له مخی خپلو ځای ناستو ته انتقال کړی[526] په معمولی ډول د یوی ځمکی داوبوحق(حقابه) له نوموړی ځمکی سره یو ځای انتقال مومی، همدا شانته یو ځمکوال کولی شی، چی خپل حقابه، د پلور، سوغات یا اجاری په وسیله بل چا ته د ګټی اخیستو په موخه انتقال کړی.[527] په ځینو ځایونو کی د ټولنی شتمن غړی ، بی وزلو ته د حقابی د انتقال په وسیله، چی په رسمی یا غیر رسمی ډول صورت مومی، هغوی ته داوبو د لاس رسی اجازه ورکوی.[528]

فکر وکړی چی د بشیر کورنی، یوه شتمنه کورنی ده، د ډیرو املاکو لرونکي دی، یوه رود خونه د هغوی د ځمکو نه تیریږی چی هغوی تل د خپلی اړتیا نه زیاتی اوبه په واک کی لری، هغوی اضافه اوبه ډیر کلونه د ټولنی نورو غړو ته ور کړی دی ، سږ کال چی په دی سیمه کی ډیره وچ کالی ده، د بشیر کورنی نه غواړی چی لدی وروسته خلکو ته اوبه ورکړی. آیا هغوی نورو ته د اوبو د ورکولو په دوام مکلف دی؟

د مستآجرانو د اجاره شویو ځمکو د اوبو حق په ټینګه سره ساتل کیږی، هغوی ددی حق او حقابه نه حتی که د اجاری په قرارداد کی ذکر هم نه وی، ګټه اخیستی شی.[529] که ځمکه د اوبو لاندی شی یا یی اوبه قطع شوی وی،له هغه وروسته د

521 دافغانستان مدنی قانون، 2198. مادة
522 دافغانستان مدنی قانون، 2199. مادة
523 دافغانستان مدنی قانون ، 2200. مادة
524دافغانستان مدنی قانون ، 2201. مادة

525 Thomas, et al., “Water Rights and Conflict Resolution Processes,” 46.

526دافغانستان مدنی قانون ، 1915. مادة
527دافغانستان مدنی قانون ، 1916. مادة

528 USAID, “Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile,” 11.

529 دافغانستان مدنی قانون ، 1402. مادة

اجاری بیه نه ورکول کیږی تر څو چی دا حالت د مستآجر د ملامتی نتیجه وی.[530] که پروین له رفیع نه ځمکه په اجاره ونیسی، او وچ کالی ددی لامل شی چی اوبه د ځمکی نه قطع شی، پروین،رفیع ته د اجاری د بیی د ورکولو په دوام مجبوره ندی. که اوبه له امله قطع شی چی پروین د حیواناتو پاتی شونی په بی پروایی سره د اوبو ذخیری ته واچوی، په دی صورت کی پروین مجبوره ده چی د اجاری د بیی ورکړی ته ادامه ورکړی.

په اوس وخت کی عملاً اوبه ټولو ټولنو ته وړیا دی، او ټولنی د اوبو د ویش د څرنګوالی په اړه په خپلوکی آزادی لری. یو سیستم د حشر په نامه رواج دی، د ټولنی غړی د خپلو اوبو د برخی په بدل کی په یو اغیزمن کار لکه د ویالو په جوړولو او پاکولو کی ګډون کوی.[531] د2009کال د اوبو قانون په پام کی لری چی تر څو په تدریجی ډول، شته حقابی په هغه مجوزونو بدلی کړی چی د سیندونو د انجمنونو له لوری ورکول کیږی.[532] ګټی اخیستونکی انجمنونه به د حشر سیستم وساتی، ولی هغوی به د پراختیایی پروژو، د ګندونو او فاضله اوبو د له منځه وړلو او د کرنیزو موخو لپاره، د اوبو نه د ګټی اخیستو داجازی په موخه، په ټولیز ډول سره وړاندیز کوی. ددی ډول جواز اخیستل او خرڅول له قانونی نظره منع دی.[533] ځینی انتقاد کونکی د اجازی د یو سیستم په عملی کیدو باندی شک لری. ځینی بیا وایی چی سیاسی ملحوظات به د اجازی په ورکړه کی مداخله وکړی.[534]

### 3.4 پر ګټه اخیستو باندی محدودیتونه:

د ځمکی نه د ګټی اخیستو دوه اصلی محدودیتونه په یاد راولی- چی د مالکیت حق باید په داسی ډول ونه کارول شی چی خصوصی وګړو ته ضرر ورسوی، یا په داسی ډول وکارول شی چی د عمومی ګټو سره په ټکر کی وی. د بیلګی په توګه: دهغه ویالی نه چی د څو ځمکو نه تیریږی داندازی نه زیاتی اوبه اخیستل چی ددی لامل وګرزی چی ګاونډیان، د ځنګلو،ځان مینځلو او کرنی نه بی برخی شی. د بل چا د ملکیت په ویاله کی د کثافاتو اچول، چی دا ویاله له سیند سره لاره ولری، ددی لامل کیدای شی چی د اوبو سرچینه ککړه شی اویا د کبانو او حیواناتو لپاره چاپیریال خراب کړی او د هغوی د ورکیدو سبب وګرزی.

#### 3.4.1 دخصوصی ګټو پر بنسټ محدودیتون:

د خصوصی ګټو پر بنسټ د اوبو نه د ګټی اخیستو محدودیت اساسی اصل داده چی یو وګړی نشی کولی د خپل حق نه په داسی ډول ګټه واخلی چی بل چا ته د تاوان سبب وګرزی. د بیلګی په ډول، یو وګړی چی غواړی ودانی جوړه کړی نه شی کولی چی د اوبو یوه لاره د هغه د خاوند د اجازی نه پرته بنده کړی.[535] حتی که د اوبو د تیریدو یو خصوصی حق، دسیل حق یا د اوبو نه د ګټی اخیستو حق د اوږده وخت لپاره موجود وی، په هغه صورت کی چی دا ډول حق بل چاته ښکاره تاوان سبب وګرزی، نوموړی حق له منځه ځی[536]

د 2009 کال د اوبو دقانون پر اساس، څوک چی د اوبو د سرچینی مخه ونیسی یا یی له منځه اوسی،د اندازه کولو دستګاوی له منځه یوسی، د اوبو مسیر ته بدلون ورکړی، یا د عامه اوبو سرچینی د ټاکل شوي حد نه زیاتی ککړی کړی، مجازات کیږی. [537] په یاد ولری چی **د حد نه زیاته اندازه** د اوبو په قانون کی نه ده تعریف شوی او تفسیر ته اړتیا لری.

ددی لپاره چی د ملکیت خاوند جزایی مسولیت ولری، نورو ته یی باید په عمدی ډول تاوان رسولی وی. د بیلګی په ډول، که د ځمکی خاوند په معموله توګه اوبه لګوی خو نا څاپه اوبه د بل چا پر محصولاتو ور خوشی شی اوله منځه یی یوسی، په

---

[530] دافغانستان مدنی قانون ، 1404. مادۀ

[531] USAID, “Water Users Associations in Afghanistan” (2006), 25.

[532] د اوبو قانون ، 20.مادۀ

[533] د اوبو قانون ، 21. مادۀ

[534] Thomas, et al., “Water Rights and Conflict Resolution Processes,” 120.

[535]دافغانستان مدنی قانون 2353 مادۀ.

[192] دافغانستان مدنی قانون 2351 ماده

[537] د اوبو قانون 35. مادۀ

دی صورت کی د ځمکی خاوند جزایی مسؤلیت نلری.[538] دلیل یی داده چی هغه د محصولاتو د له منځه وړو قصد نه لاره، لدی امله د وچاړیدو ملامتیا پر هغه باندی نده.

فکر وکړی دینا چی یوه ماشومه ده، د اوبو په یوه ویاله کی چی د هغی نه ګاونډیان د څښلو او ځان مینځلو لپاره ګټه اخلی، پرته لدی چی وپوهیږی کثافات اچوی، آیا دینا د هغه تاوان مسولیت لری چی ګاونډیانوته یی اړولی؟ آیا هغه جزایی مسولیت لری که مدنی مسؤلیت؟

### 3.4.2 دعامه ګټو پر بنسټ محدودیتونه :

یو وګړی نشی کولی چی د خپلو اوبو د حق نه داسی ګټه واخلی چی پر چاپیر یال او یا د خلکو پر روغتیا باندی ناوړه اغیزه وکړی. د بیلګی په ډول، د اوبو د بندونو خاوندان باید پر امنیتی معیارونو سمبال مسلکی کار کونکی ولری.[539] یو وګړی نشی کولی چی په عامه سیمه کی ویاله یا مستراب په داسی ډول سره جوړ کړی چی اخلالونکی وی یا روغتیا ته تاوان ولری.[540]

د چاپیر یال په اړه د اوبو اصلی محدودیتونه د 2007 کال د اوبو په ستراتیژی، او د 2009 کال د اوبو او د چاپیریال په قانون کی بیان شوی دی، ټول خلک باید د اوبو د سیستمونو په ساتلو او د اوبو د سرچینو دککړتیا په مخ نیوی کی کوښښ وکړی .[541] د ځمکی ټول خاوندان باید د کثافاتو د مدیریت له چارونه پیروی وکړی، د اوبو د ککړیدو مخه اونیسی او که اوبه ککړی شی باید پاکی یی کړی.[542] څوک چی په خپله د اوبو د پراختیا غټی پروژی لری، باید پر چاپیریال باندی ددغو پروژو اغیز وڅیړی، او پام وکړی چی د اوبو نورو ګټه اخیستونکو ته تاوان ونه رسوی.[543] دولتی بنسټونه باید د پلان په جوړولو کی د اوبو د لګښت تل پاتی لاری، د انسان روغتیا،او طبعی سیستمونه په نظر کی ونیسی.[544]

**د اوبو دقانون 30 ماده :**

(1) حقیقی او حکمی اشخاص نشی کولی د اوبو سرچینی د کثافاتو، صنعتی ککړو اوبو دضایعاتو،کیمیایی او سمی موادو په استعمال یا تویولو سره تر مجاز حد زیاتی ککړی کړی. (2) سرغړوونکی ددی قانون د حکمونو مطابق د اړول شوی زیان د جبران او دحالاتو سره سم د جزا مستوجب دی.

د اوبو په لګښت کی د چاپیریال په اړه تر ټولو شدید محدودیتونه د 2009 کال د اوبو د قانون په 30 ماده کی بیان شوی، چی په نغدی جریمه او حتی په جزا یی ګواښلی دی، په همدی حال کی دا هم بیانوی چی دا عواقب هغه وخت منځ ته راځی چی خلک د اوبو سرچینی د مجاز حد نه زیاتی ککړی کړی. دی قانون ددی لپاره چی دا حد کوم دی ، هیڅ کړن لاره نده بیان کړی.

آیا تاسو فکر کوی چی د 2007 کال د چاپیریال ساتنی قانون او د 2009 کال د اوبو قانون په بشپړه ډول ځواکمن دی؟ ددی قوانینو،مقرراتو او کړن لارو پلی کول ستونزمن ښکاری، دولت څه ډول قوانین یا سیاستونه عملی کولی شی چی تر څو داډ منځ ته راشی چی خلک د اوبو د سرچینو د پاک ساتلو لپاره انګیزه لری؟

[538] د افغانستان مدنی قانون 1914. مادۀ
[539] د اوبو قانون، 33. مادۀ
[540] د افغانستان مدنی قانون 2354 مادۀ.
[541] د چاپیریال د ساتنی قانون 34 مادۀ.
[542] د چاپیریال د ساتنی قانون ، 35 مادۀ.
[543] د اوبو قانون .32 مادۀ
[544] د چاپیریال د ساتنی قانون .34 مادۀ

### 3.4.3 جوازونه او تعرفي:

څنګه چې د 2009کال د اوبو قانون بیانوي،د اوبو د سرچینو نه ګټه اخیستل له اجازې پرته جایز ندي مګر د څو حالتونو نه پرته. که اوبه د څښلو یا نورو اساسي اړتیاوو لپاره وي او اندازه یې د هر کور لپاره تر پنځو مترو مکعبو کمه وي، که د اوبونه د لیږد را لیږد لپاره ګټه واخیستل شي او د تاوان لامل نشي، که اوبه د اور د مړه کولو لپاره وکارول شي او که حقابه موجوده وي او شخص یې د جواز د اخیستو په انتظار کې وي. نو په دې حالاتو کې هیڅ ډول اجازې ته اړتیا نشته.[545] معلومه نده چې د ټولو حقابو د بدلون لپاره څومره وخت ته اړتیا ده او یا دولت د جوازونو د نلرلو سره څنګه چلند کوي.د 2009 کال د اوبو د قانون پر اساس په روښانه څرګندیږي چې ټولې نوې حقابې د استثنآتو سره سره، داوبو او برېښنا له وزارت نه یا د هر بل اړونده بنسټه یوې دولتي اجازې ته اړتیا لري.[546]

د نوي قانون پر اساس دولت هم واک لري چې د اوبو په مقابل کې یوه اندازه پیسې د تعرفې په نامه سره وضع کړي. څوک چې د تعرفې پیسې نه پریکوي او یا د اوبو نه په غیر قانوني ډول ګټه اخلي، د اوبو نه د ګټې اخیستو حق یې ځنډول کیږي.[547] معلومه نده چې څه وخت به دا تعرفې عملي شي، یا به په څه توګه اجرا شي.

### 3.5. د اختلافاتو حل:

د ټولنې په کچه د ویالو په اړه ډیرې شخړې د ځایي رهبرې له لورې حل کیږي. که ساعتچي یا میراب ونه شي کولی چې د شخړې نه مخ نیوی وکړي، بیا دا موضوع جرګې یا د کلي شورا ته وړاندې کیږي چې په هغه کې تر ډیره بریده موخه د تاو تریخوالي د کمیدو نه وي تر دې چې د اوبو اړونده قوانین پلي شي. که د یوې فرعي برخې یا د رود خونې په هکله جګړه را منځ ته شي په هغه صورت کې شاید دولتي چارواکي د شخړې د حل لپاره مداخله وکړي. له دې امله ویالې شو چې د حل د لارې ټاکل د اختلاف د ډول سره تړاو لري. رسمي محاکمو ته د اختلاف راجع کول به په ډیرو کمو حالاتو کې واقع کیږي.[548]

د ویالې په سر شخړه، کیدای شي چې د هغه دو ځمکو په اړه وي چې د دو بیلابیلو بزګرانو له لورې کرل کیږي منځ ته راشي. د دو ټولنو تر منځ شخړه کیدای شي د اوبو د ویش دجوړښت(ډول) په اړه وي کوم چې بیلابیلو ټولنو ته اوبه ویښي. د ولایتونو په کچه کیدای شي شخړه د اوبو د ویش د بیلابیلو سیستمونو په سر وي.[549]

**د اوبو د ویښ طرح**

د اوبو د ویش د یو سیستم طراحي کولای شي چې د ټولنې نوکې له ځان سره ولري، او همدا شانته کولی شي چې د شخړو یو لامل هم وي. یو انشعابي سیستم د اوبو د متناسب ویښونکي لرونکي وي چې په اتومات ډول سره هرې برخې ته په کتو سره اوبه ویښي ، هغه سیستم چې د مراتبو سلسله په کې په نظر کې نیول شوي وي، د تدریجي داسې برخو لرونکي وي چې د شرایطو سره سم بدلون مومي. د اوبو ویش د یو انشعابي سیستم پر مټ ددې لپاره ده چې د اوبو د غلا مخه ونیول شي. د مراتبو سلسلو لرونکي سیستم د انعطاف امکانات لري،لدې امله په اساني سره ترې ناوړه ګټه اخیستل کیدای شي ځکه چې په دې سیستم کې د لاس وهنې امکانات شته دي.[550]

[545] د 1388،کال د اوبو د قانون 19 مادۀ.
[546] د 1388،کال د اوبو د قانون (4)21. مادۀ
[547] د 1388،کال د اوبو د قانون 28. مادۀ
[548] Thomas, et al., "Water Rights and Conflict Resolution Processes," 1-2, 108.
[549] Thomas, et al., "Water Rights and Conflict Resolution Processes," 12-13.
[550] *Id.* at 14.

ښی لوری ته  د اوبو د ویش انشعابی سیستم او کیڼ لوری ته د اوبو د ویش د مراتبو سلسلو لرونکی سیستم [551]





په جوزجان ولایت کی د سلمازان دکانال د نهر په اوږدو کی د څو کلو تر منځ یوه جګړه شوی. څو کلی هر یو خپله ویاله لری چی د نوموړی کانال نه بیله شوی ده. ددغو ویالونه یوه یی د قوچین په کلی پوری تړاو لری. تر 2008 کاله پوری هر کلی د خپلی ځمکی د اندازی په تناسب اوبه لاس ته راوړی، د اوبو د ویش وسیله بی کاره او له لرګی نه جوړه وه، پریکړه وشوه چی د قوچین کلي په کافی اندازه اوبه نشی تر لاسه کولی، د قوچین کلی بزګرانو کوښښ کاوه چی هغه د لرګی په وسیله کی سوری وکړی تر څو د اوبو اندازه زیاته شی.

یو غیر دولتی سازمان (NGO) هوکړه کړی چی داسی پروژه تطبیقوی چی د لرګیو جوړښتونه د سیمیټو په جوړښتونو باندی بدل کړی تر څو د ناوړه ګټی اخیستو مخه ونیول شی. د قوچین د کلی مشرانو د پروژی سره شفاهی هوکړه کړی ده خو کوم لیکل شوی قرارداد یی ندی کړی. ټولو کلیو په دی پروژه کی پانګونه کړی ده، په پایله کی د قوچین کلی مشرانو احساس وکړ چی د هغوی د اوبو برخه لږ ده. د قوچین کلی اونورو کلو د مشرانو تر منځ اختلافات پیل شول، د مشرانو تر منځ خبری اتری د حل دیوی لاری د پیدا کیدو لپاره بی پایله شوی، لدی امله هغوی د اوبو د مدیریت ځایی اداری ته مراجعه وکړه، نوموړي  اداری د قوچین کلی خلکو ته اجازه ورکړه، تر څو لږ کوزی خواته د اصلی کانال نه، د اوبو په مسیر کی یوه غیر قانونی  ویاله جوړه کړی. د کوزی سیمو خلک ددی کار نه نا خوښ ول او د لاس وهنی په دلیل یی والی او ولایتی شورا ته مراجعه وکړه، په پایله کی ولایتی شورا لارښونه وکړه، تر څو په قوچین کلی کی د غیر دولتی سازمان له لوری  د اوبو جوړ شوی مسیر وتړل شی، او  غیر قانونی ویاله دی خلاصه وساتل شی. د د ی پریکړی سره د قوچین د خلکو د اوبو برخه پنځه سلنه زیاتیږی.

ددی کیسی نه موخه داده چی د اوبو د ویش د سیاست طرحی په ګوته شی. دا بیلګه ښیی  چی داختلافاتو حل څنګه اوږدیږی. که د حل لپاره  یوه جګړه ستونزمنه ده، خو بیا منځګړیتوب کولی شی چی د کلی نه د ولایت تر کچی او حتی په ملی کچه پراختیا ومومی. لکه څنګه چی د اختلاف، حل کول ستونزمن کیږی، د حل وروستی لاره هم د شخړی د ټولو لوری د خوښی وړ نه وی، دا په دی معنی ده چی دحل دا لاره تر ډیره بریده د ګټلو اویا  بایللو د حالت په څیر دی، نه داسی یوه سوله چی د شخړی ټول لوری پری خوښ وی.

[551] *Id.*

**نتیجه**

د اوبو او کرنی د قوانینو او پالیس ګانو اغیزمنتیا د فوق العاده اهمیت لرونکی دی، دا قوانین باید ددی په هڅه کی وی چی د خلکو لاس رسی طبعی سرچینوته د تولید لپاره لوړی کچی ته ورسیږی. او همدا شانته هغوی باید د نورو نسلونو لپاره د دی طبعی سرچینو د ساتنی لپاره کوښښ وکړی. د 1976 کال نه را په دی خوا نژدی دری لسیزی کیږی چی هر کال کرنیز محصولات څلور سلنه کمیږی، او د 1997 کال نه تر2004 کاله پوری د هیواد د مالداری نیمه برخه له منځه تللی ده .[552] په 2009 کال کی، د هیواد د اوبو نه یواځی 25 سلنه د ښبنلو وړ وی.[553] لکه څنګه چی مخ په زیاتیدو نفوس، ډیری سرچینی غواړی، قوانین او پالیسی ګانی باید د ذینفعو لورو متضادی غوښتنی اوګټی لکه د کور،کرنی او صنعت لپاره د اوبو نه ګټه اخیستنه، او د کلیوالی کرنی ساتنه د ښاری پراختیا په مقابل کی اولولیت بندی کړی. باور داده چی د اوبو د سرچینو او کرنی ښه مدیریت هم کولی شی چی په هیواد کی د سولی لامل شی، او خلکو ته د شغل او تنخوا لاره پرانیزی.[554]

د امید واری لپاره ډیر دلایل وجود لری. په اوس وخت کی دولت د اوبو او کرنی د ښه مدیریت لپاره د سیاسی او حقوقی چوکاټ په جوړیدو کی پر مختګ کړی ده. د بیلګی په توګه، په 2011 کال کی د ځمکوالی د چارو د تنظیم قانون خپور شو که څه هم تر اوسه ندی اجرا شوی. د افغانستان د سوداګریزی ارا ضی استازولی(ACLA) ددولتی ځمکو د دوامداره اجاری او تولید لپاره اسانتیا را منځ ته کړی ده.[555] د افغانستان د ارضی اصلاحاتو پروژی (LARA) د کرنی وزارت او نورو دولتی بنسټو نو سره، د ځمکی د مالکیت د سند، د ځمکی نه د ګټی اخیستنی د نخشی اخیستل او د ځمکی د تصرف د حق د ټیکاو لپاره کار کړی ده .[556] په همدی حال کی لکه څنګه چی تاسو ګوری، لا ډیر کارونه پاتی دی چی باید سرته ورسیږی. د هغی آشنایی په وسیله چی تاسو د کرنی او اوبو د قوانینو او پالیسی ګانو او اختلافاتو په هکله تر لاسه کړه، تاسو په خپل وار سره په دی اړه یو اینده جوړونکی یاست !

---

[552] Rahimi, Mohammad Asif, "Can Afghan Agriculture Grow Peace?," Ministry of Agriculture, Irrigation, and Livestock, http://mail.gov.af/en/page/5190.

[553] USAID, "Afghanistan – Property Rights and Resource Governance Profile," 11.

[554] Rahimi, Mohammad Asif, "Can Afghan Agriculture Grow Peace?," Ministry of Agriculture, Irrigation, and Livestock, http://mail.gov.af/en/page/5190.

[555] Ministry of Agriculture, Irrigation, and Livestock, "Land Lease One Stop Window" (2009), http://mail.gov.af/Content/Media/Documents/Land_Lease_One_Stop_WindowConceptNote04April200926112010224636372.pdf.

[556] USAID, "Land Reform in Afghanistan" (2013), http://www.usaid.gov/news-information/fact-sheets/land-reform-afghanistan-lara.

## اتم څپرکی: کانونه او هایډروکاربونونه

**پیژندنه**

افغانستان له ډېرې مودې راهیسې په داسې یو هیواد پیژندل شوی دی چې د طبیعي زیرمو له خوا غني دی. طبیعي زیرمې هغه مواد دی کله چې له خپل اصلي ځای څخه استخراج شي نو بیا اقتصادي ارزښتونه لري[557]. په افغانستان کې دوه ډوله طبیعي زیرمې شتون لري چې کانونه او هایډروکاربونونه دي. کانې ذخیرې د کانونو یا د هغو ډېرو مرکزونه دي چې په اقتصادي توګه یې د استخراج امکانات وي[558] . د هایډروکاربونونو دخیزې هغه دي چې هلته په طبیعي توګه نفت او طبیعي ګاز موجود وي[559]. په زرګونو کاله مخکې په افغانستان کې د دغو طبیعي زیرمو پرمخ بیول پېل شوي دي او تراوسه لا نه دي درول شوي. د بیلګې په توګه، د شاوخوا ۸،۰۰۰ کاله مخکې څخه سیمییزو خلکو په بدخشان کی د آبی رنګ درلودونکې ډبرې، لاجورد، استخراج کړي دي[560].د لوګر په ولایت کې د مس عینک کان د مځکې لاندې د مسو ډېر کانونه شتون لري[561]. او په جوزجان کې د ۱۹۶۰ را پدیخوا طبیعي ګاز استخراجیږي[562].

که څه هم چې اوسنی جیولوژیکي څیړنې ښیي چې د افغانستان د کانې موادو او هایډروکاربونونو کانونه تر هغه ډېر دي چې تراوسه پورې څېړل شوي دي. په حقیقت کې، په ۲۰۱۰م کال کې جیولوژي پوهانو وړاندوینه وکړه چې دغه زیرمې به شاوخوا یو ټریلیون ډالره ارزښت ولري[563]. دغو څیړنو همدارنګه وښووله چې افغانستان یوازې لاجورد، مس، او طبیعي ګاز نه لري. افغانستان همدارنګه د پام وړ اندازه اوسپنه، سره زر، لیتیم، المونیم، او نورې ارزښت لرونې زیرمې لري[564]. د افغانستان د هرکال د خدمتونو او شیانو په تولید باندې شاوخوا ۲۰ میلیارده ډالره لګښت راځي[565]، د هیواد کانونه او هایډروکاربونونه کولای شي چې د راتلونکو ډېرو کلونو لپاره د اقتصادي پرمختګ لامل وي.

د هیواد د کانې موادو او هایډروکاربونونو د موجودیت له مخې ځینو بهرنیو پانګه اچونکو مخکې لا د افغانستان مارکیټ ته داخل شوي دي. د مثال په توګه، په ۲۰۰۷م کال کې یوې چینایي کمپنی د ۳ میلیاردو ډالرو قرارداد وکاته چې د لوګر په ولایت کې به د عینک د مسو کان ته وده ورکړي[566]. په ۲۰۱۱ کې د هندي او کاناډایي کمپنیو یوه ګروپ تر ده لا غټ قرارداد ترلاسه کړ چې په بامیانو کې به د اوسپنې یو غټ کان ته وده ورکړي[567]. او په ۲۰۱۱م کال کې یوې بلې چینایي کمپنی د دې حق ترلاسه کړ چې د سرپل او فاریاب په ولایتونو کې د تیلو کانونو ته وده ورکړي[568]. خو دغو پانګه اچونکو څنګه دغه جوازونه ترلاسه کړل؟ کوم قوانین دغه قراردادونه کنټرولوي؟ د افغانستان د حکومت ونده د هیواد د طبیعي زیرمو د ودې په کنټرول کې څه دی؟

چې دغو پوښتنو ته ځواب ورکړو، مونږ باید په افغانستان کې د ملکیت قانون ته وګورو. دغه قانون مونږ ته وایي چې د ځمکی خاوند څوک دی او خلک څنګه د هغې ځمکی څخه ګټه پورته کولای شي. د کانې موادو او هایډروکاربونونو د

---

[557] Henry Campbell Black, *Black's Law Dictionary 6th ed.* St. Paul: West, 1027.
[558] 2014 Minerals Law, Article 3(5).
[559] 2009 Hydrocarbons Law, Article 2(1).
[560] Peter Roger Moorey, *Ancient Mesopotamian Materials and Industries: The Archaeological Evidence* (Winona Lake, Indiana: Eisenbraums, 1994), 86-87, accessed November 16, 2013, books.google.com/books/about/Ancient_Mesopotamian_Materals_and_Indus.html?id=P_lxuott4doC.
[561] Bill Carter, *Boom, Bust, Boom: A Story About Copper, the Metal that Runs the World* (New York: Simon & Schuster, 2012), 237.
[562] Afghanistan Chamber of Commerce, "Mining," accessed November 18, 2013. http://www.afghanchamber.com/about/Mining.htm.
[563] James Risen, "U.S. Identifies Vast Mineral Riches in Afghanistan," *New York Times*, June 14, 2010, accessed November 16, 2013, http://www.nytimes.com/2010/06/14/world/asia/14minerals.html.
[564] Ibid.
[565] World Bank, "Afghanistan: Data," accessed November 16, 2013, http://data.worldbank.org/country/afghanistan.
[566] Risen, "U.S. Identifies Vast Mineral Riches in Afghanistan."
[567] Abdul Qaddir Siddiqui, "Indian, Canadian Firms to Develop Hajigak Iron Mine," *Pajhwok*, November 29, 2011, accessed November 16, 2013, http://www.pajhwok.com/en/2011/11/29/indian-canadian-firms-develop-hajigak-iron-mine.
[568] Matthew Green & Leslie Hook, "CNPC Close to Afghanistan Oil Deal," *Financial Times*, September 5, 2011, accessed November 16, 2013, http://www.ft.com/intl/cms/s/0/fd9aeb80-d7d2-11e0-a5d9-00144feabdc0.html#axzz2kqYYdPZn.

ځانګړي اقتصادي اړخ له امله، د ملکیت د قانون یوه ځانګړې برخه د هغو ځمکو په اړه عملي کیږي چې په هغو کې کانونه او هایډروکاربونونه دي، او څنګه دغه زیر مي په افغانستان کي استخراجیدلای شي. دا د قانون هغه برخه ده کومه چې مونږ په دغه څپرکي کې تر بحث لاندې ونیسو. نو مونږ چیرته دغه قوانین ترلاسه کولای شو؟

د افغانستان اساسي قانون د کانونو او هایډروکاربونونو یوازیني قوانین پیژني، نو دا هغه لومړنی سند دی چې مونږ باید هغه ته مراجعه وکړو. لکه څنګه چې به ستاسي په یاد وي چې اساسي قانون د هیواد د ټولو قانوني سندونو څخه د لوړ ارزښت درلودونکی قانوني سند دی، او د کانونو او هایډروکاربونونو په اړه چې اساسي قانون هرڅه لیکي هغه د نورو قوانینو په پرتله د ډیر باور وړ دی.

که تاسي د افغانستان اساسي قانون په دې اړه وڅیړي چې څه یې ویلي دي، تاسي به ووینی چې ۹مه ماده یې مونږ ته د پیل د ټکي په اړه وایي. ۹مه ماده وایي، «کانونه او نور د مځکي لاندې زیرمې ... د دولت ملکیت دی.» او «د ... طبیعي زیرمو ساتنه، اداره، او د سمې استفادې ډول د قانون له لیارې تنظیمیږي.»

د افغانستان د ۲۰۰۴ اساسي قانون د جوړیدو راپدې خوا، ملي شورا د افغانستان د دولت د ملکیت اړوند کانونو او هایډروکاربونونو په اړه دوه قوانین تصویب کړي دي: د ۲۰۱۴ د کانونو قانون او د ۲۰۰۹ د هایډروکاربونونو قانون. دغه دوه یوازیني قوانین نه دي چې په افغانستان کي ربیعي زیرمې اداره کوي. نور قوانین او مقررې دغه دوه قوانین بشپړوي او مرسته ورسره کوي. لکه څنګه چې د دغو ټولو ډول ډول قوانینو او مقررو مطالعه په آسانی سره یو کتاب ډکولای شي، نو مونږ به خپله ډیره توجه د کانونو او هایډروکاربونونو قوانینو ته واړوو، او د څپرکي په پای کي به د ځینو نورو قوانینو، کوم چې د طبیعي زیرمو په وده باندې تاثیر کوي، مطالعي ته هم یو څه ځای ځانګړی کړو.

کله چې د څپرکي پای ته ورسیږو نو تاسي به د کانونو او هایډروکاربونونو د قوانینو په رڼا کې د طبیعي زیرمو سره آشنایي ترلاسه کړي، او په لاندینیو نهو اصلي مفاهیمو به وپوهیږئ: (۱) طبیعي زیرمو ته لنډه کتنه، (۲) د افغانستان د کانونو او هایډروکاربونونو مالکیت، (۳) د افغانستان هغه اداري چې د کانونو او هایډروکاربونونو څخه لیدنه کوي، (۴) هغه جغرافیایي سیمې چې هلته به د کانونو او هایډروکاربونونو عملیات ترسره کیږي، (۵) هغه قراردادونه چې د افغانستان حکومت یې د کانونو او هایډروکاربونونو د عملیاتو لپاره ورکوي، (۶) د دغو قراردادونو د تصویبولو لپاره مقرراتي بهیر، (۷) هغه قانوني شرکتونه چې د کانونو او هایډروکاربونونو عملیات ترسره کولای شي، (۸) هغه مقررې چې د کانونو او هایډروکاربونونو عملیات اداره کوي، او (۹) د هغو مناقشو د حل لارې چې د کانونو او هایډروکاربونونو د عملیاتو پورې اړه لري.

### ۱. طبیعي زیرمې: د استخراج صنعت

د دې دمخه چې د کانونو او هایډروکاربونونو قوانین مطالعه کړو، دا به ښه وي چې د طبیعي زیرمو ځیني تعریفونه دروپیژنو، ترڅو په دې وپوهیږو چې په دغه څپرکي کې مونږ د څه شي په اړه مطالعه کوو. تاسي به په دغه برخه کي دا یاد کړئ چې په طبیعي زیرمو کي د کانونو او هایډروکاربونونو څخه پرته نور ډیر شیان هم شته دی. که څه هم، په حقیقت کې، کانونه او هایډروکاربونونه د طبیعي زیرمو بیلګې دي، د کانونو قانون تر هغه ډیر څه څیړي چې مونږ به یې په دغه څپرکي کې مطالعه کړو. په دې باندې پوهیدل چې د افغانستان د طبیعي زیرمو په قانون کې کوم شیان ګډون لري، تاسي به په دې ښه پوه شئ چې د افغانستان د کانونو او هایډروکاربونونو قوانین د افغانستان د ملکیت د قانون یوه برخه څیړي.

لکه څنګه چې مونږ په لنډیز کې په لنډه توګه په دې اړه بحث وکړ چې، «هر هغه څه چې په خپل اصلي ځای کې وي، او د استخراج وروسته اقتصادي ارزښت ترلاسه کړي،» د طبیعي زیرمو په نوم یادیږي[569]. طبیعي زیرمې هغه مواد دي چې مونږ یې د ځمکی لاندې، د ځمکی پر مخ، او یا هم د اوبو په لارو کې پیدا کوو[570]. لکه څنګه چې د طبیعي زیرمو اصطلاح ښیي، دغه مواد په طبیعي توګه رامینځ ته کیږي، دا په دې معنی چې دا په اصلي توګه، د انساني او ماشیني کارونو پرته، په طبیعي توګه رامینځ ته شوي دي. طبیعي زیرمې کیدای شي چې کلک (جامد) وي لکه، ډبرې او لرګي[571]. د دغه پر ځای،

---

[569] Henry Campbell Black, *Black's Law Dictionary.*
[570] Ibid.
[571] Ibid.

طبيعي زيرمې کيداى شي چې نرم (مايع) وي لکه، تيل او اوبه[572]. مهم شی چې د دغه څپرکې د مطالعې پر وخت يې مونږ بايد په ياد ولرو دا دئ چې طبيعي زيرمې په طبيعي توګه مينځ ته راځي.

خو که چيرته مونږ دغه مواد له خپل اصلي ځاى څخه ليرې کړو، نو بيا خلکو ته ډير ارزښت پيدا کوي. کله چې مونږ دغو موادو ته د «زيرمو» نوم ورکوو، دا په دې معنی چې دغه مواد د خلکو لپاره د استفادې وړ دي، يا په بله اصطلاح د خلکو لپاره د ارزښت وړ دي[573]. دا هغه مواد دي چې مونږ انسانان هغوئ ته اړ يو. د کومې لارې چې مونږ د دغو موادو په ارزښت او اهميت باندې پوهيږو هغه دا ده چې د ځمکی د تل يا سر څخه دغه مواد استخراج کړو[574].

آيا تاسې د هغو طبيعې زيرمو په اړه فکر کولاى شئ چې تاسې يې کاروئ؟ حقيقت دا دئ چې تاسې په خپل ورځني ژوند کې هروخت ورسره مخ کيږئ. د افغانستان سيندونه، کومو چې د هغو خوراکونو په برابرولو کې مرسته کړې ده چې تاسې همدا نن سهار وخوړل، طبيعې زيرمې دي. په هغه تعمير کې چې همدا نن سهار له خوبه راويښ شولاست، ښايي چې د لرګيو او فلزاتو جوړ وي، کوم چې د طبيعې زيرمو، لرګيو او اوسپنې څخه ترلاسه شوي دي. کوم موټرونه چې تاسې نن پر سړک باندې وليدل د پطرولو په واسطه چليږي، کوم چې د نفتو د طبيعي زيرمو څخه په لاس راځي. حقيقت دا دئ چې طبيعې زيرمې تل زمونږ په شاوخوا کې دي. او دا زمونږ د ژوند اساسات دي، د دغو پرته به ژوند امکان ونه لري.

لکه څنګه چې د طبيعي زيرمو ډير ډولونه شته دئ، نو دا به د امکان څخه وتلې وي چې دا ټول په يو څپرکي کې مطالعه کړو. لکه څنګه چې مو د دغې برخې په پيل کې وويل، مونږ به په دغه څپرکي کې د طبيعي زيرمو په يوه کوچنې برخه باندئ بحث وکړو. په ځانګړې توګه به مونږ د افغانستان په استخراجي زيرمو بحث وکړو. زمونږ د هدف لپاره، مونږ په استخراجي زيرمو کې يوازې د کانونو، او نفت او ګازو صنعت شاملوو [575]. له همدې امله مونږ اوبه، کوم چې د تير څپرکي موضوع ده، دلته نه مطالعه کوو، خو په دغه اصطلاح کې به داسې شيان لکه هغه سره زر چې په اوبو کې پيدا کيږي شامل وي. په استخراجي زيرمو کې به ځنګلي ځمکی او وحشي ژوند نه وي شامل.

که څه هم چې په استخراجې زيرمو کې ځينې په نړئ کې نن سبا د ډير اقتصادي ارزښت درلودونکي طبيعي زيرمې هم ګډون لري. لکه څنګه چې مو په پيژندنه کې بحث ورباندې وکړ چې افغانستان د شاوخوا يو ټريليون امريکايي ډالرو په ارزښت د کانونو درلودونکی هيواد دي[576]. لکه څنګه چې په راتلونکې مخ کې نقشه ښيي، دغه کانونه د هيواد په بيلابيلو برخو کې پراته دي. په دغو کانونو کې د اوسپنې د ډبرو کانونه، له کومو څخه چې فلزات په لاس راځي [577]، او د مسو کانونه، کوم چې د ډول ډول نلونو او برقي سيمونو لپاره کاريږي [578]، ګډون لري.

خو د افغانستان د کانونو په شتمنئ کې داسې مواد هم شتون لري چې تاسې به تر اوسه د هغوی په اړه نه وي اوريدلي لکه کوبالت، کوم چې د جيټ د ماشينونو او د ګاز د ټوربينونو لپاره کاريږي[579]، او ليتيم، کوم چې د بريښنايي سامانونو لپاره کوريږي[580].

د دغو موادو تر څنګ، کوم چې په لوړه کچه استخراجيږي، د افغانستان د کانونو په برخه کې نور مواد هم شتون لري لکه ساختماني مواد کوم چې د ورځنيو چارو لپاره کاريږي. په دغه ساختماني موادو کې داسې مواد شتون لري لکه، ريګ،

---

[572] Ibid.
[573] Ibid.
[574] Ibid.
[575] "Afghanistan," Extractive Industries Transparency Initiative, accessed January 24, 2014, http://eiti.org/Afghanistan.
[576] Risen, "U.S. Identifies Vast Mineral Riches in Afghanistan."
[577] "Steel Production, Coking Coal," World Coal Associate, accessed January 24, 2014, http://www.worldcoal.org/coal/uses-of-coal/coal-steel/.
[578] "Copper: Characteristics, Uses, and Problems," General Services Administration, accessed January 24, 2014, http://www.gsa.gov/portal/content/113058.
[579] "Cobalt" Minerals Education Coalition, accessed January 24, 2014, http://www.mineralseducationcoalition.org/minerals/cobalt.
[580] Risen, "U.S. Identifies Vast Mineral Riches in Afghanistan."

کرش، جغل، کوم چې د سړکونو او ودانیو په جوړولو کې کارېږي[581]. په ساده توګه، د افغانستان د کانونو شتمنۍ کې داسې مواد شتون لري چې د دواړو، صنعتي او ورځنیو چارو، لپاره کارېږي.

د افغانستان د استخراجي زیرمو نور مواد نفت او ګاز دي[582]. نفت مایع هایډروکاربونونه دي چې په هغه کې ډیزل، پټرول، تیل خاک، تیک، او نور انرژیکي تولیدات شتون لري[583]. ګاز هغه هایډروکاربونونه دي چې د ګاز، نه د مایع، په شکل پیدا کیږي[584].




د افغانستان د کانونو د زیرمو په خلاف، د افغانستان د نفت او ګازو زیرمې په یوازینۍ سیمه چې د هیواد په شمالي سرحدونو کې پرته ده ترلاسه کیږي[585]. دا ځکه چې د افغانستان د نفت او ګازو زیرمې د هغو نفت او ګازو د زیرمو یوه برخه ده چې په مرکزي آسیا کې شتون لري. په دغه ډنډونو کې د آمو دریاډنډ هم شتون لري، کوم چې د آمو د سیند، هغه سیند چې افغانستان د منځنۍ آسیا د دري ګاونډیو هیوادونو سره نښلوي، په نوم یاد شوی دی. د آمو دریا ډنډ د افغانستان د طبیعي ګازو اصلي زیرمه ده[586]. په افغانستان کې د هایډروکاربونونو بل ډنډ د افغان-تاجک ډنډ دی، کوم چې د هیواد په مرکزي شمال او شمال لویدیز کې د فغانستان او تاجکستان په سرحد کې پروت دی. دغه ډنډ د افغانستان د نفتو اصلي زیرمه ده[587].

---

581 Minerals Law, Article 3(25).
582 "Afghanistan," Extractive Industries Transparency Initiative.
583 "Petroleum & Other Liquids," Energy Information Agency, accessed January 29, 2014, http://www.eia.gov/dnav/pet/tbldefs/pet_pri_spt_tbldef2.asp.
584 "Natural Gas," Energy Information Agency, accessed January 29, 2014, http://www.eia.gov/dnav/ng/TblDefs/ng_prod_ngpl_tbldef2.asp.
585 Alistair Osborne, "War-torn Afghanistan Issues Oil and Gas Tender," *Telegraph*, October 7, 2013, accessed January 25, 2014, http://www.telegraph.co.uk/finance/newsbysector/energy/oilandgas/10362079/War-torn-Afghanistan-issues-oil-and-gas-tender.html
586 "Oil & Gas Resources," Ministry of Mines, accessed January 25, 2014, http://mom.gov.af/en/page/4788.
587 Ibid.

په ټولیزه توګه، د افغاسنتان د کانونو او هایډروکاربونونو زیرمې د ډیر ارزښت درلودونکي دي. دغه استخراجې زیرمې د دوه اساسي دلیلونو له امله د ارزښت وړ دي. لومړی، د دغو زیرمو لپاره ډیره تقاضا موجوده ده، ځکه چې دغه مواد د پرمخ تللې ژوند مهمې اړتیاوې دي[588]. زمونږ په کلیو کې د ودانیو د جوړولو لپاره کاریږي. دا زمونږ د کورونو د تودولو لپاره انرژي برابروي. دا زمونږ د ښارونو د روښانه کولو لپاره مونږ ته بریښنا برابروي. دوهم دلیل یې دا دی چې دغه زیرمې بیا نه نوې کیدونکې زیرمې دي[589]. دا په دې معنی چې یو ځل چې دغه زیرمي استخراج شي، بیا نه ترلاسه کیږي. یا په بله اصطلاح د دغو زیرمو لپاره محدوده عرضه شتون لري.

لاندینۍ نقشه د افغانستان د نفت او ګازو د زیرمو موقعیت مونږ ته راپه ګوته کوي[590].




دغه دوه دلیلونه (۱) اقتصادي ارزښت، او (۲) بیا نه نوي کیدل، زمونږ سره مرسته کوي چې ولې باید د دغو زیرمو د اداره کولو لپاره قوانین ولرو. فکر وکړئ که د دغو زیرمو د اداره کولو لپاره قوانین نه وای څه به پیښ شوي وای. فرض کړي چې د لاجوردو یو غټ کان د بدخشان په ولایت کې شتون لري. تاسې فکر وکړي چې جیولوژي پوهانو د دغه کان ارزښت میلیونونه امریکایې ډالره تخمین کړی دی. د قانون د نه شتون په حالت کې به ستاسې په فکر دغه کان ته څه ورپیښه شوې وای؟

هلته به د لاجوردو د کانونو د ملکیت په اړه رقابت وای. هلته به داسې رقابت وای چې هر یو کانونو ته په نږدې ساحه کې ژوند وکړي او هر څومره ژر چې کیږي دغه کانونه راوباسي، او نورو رقیبانو ته اجازه ورنه کړي چې دغه کانونه استخراج کړي. هلته به د ککړتیا امکانات هم ډیر وې، ځکه چې خلک به د بیکاره موادو د اداره کولو په اړه کوم سم ګام نه پورته کاوه. د دغو ستونزو تر څنګ به د سیمییزو قدرتونو زور د مرکزي حکومت مقررات هم ټکنې کړي وای، او سیمییزو قدرتونو به د کانونو ټول قدرت په خپلو لاسونو کې نیولای وای. دغه کار به د هغو ولایتونو چې د زیرمو له پلوه غني دي او د هغو ولایتونو چې د زیرمو له پلوه خوار دي غیر مساوات رامینځ ته کړی وای. په لنډه توګه، د قوانینو نه شتون په دې معنی چې هلته به اړ او دوړ وای.

588 Henry Campbell Black, *Black's Law Dictionary*.
589 Graham A. Davis, "Trade in Mineral Resources," World Trade Organization Staff Working Paper 1 (2010), http://www.wto.org/english/res_e/reser_e/ersd201001_e.pdf.
590 "Power and Gas Sectors," Afghanistan Reconstruction Trust Fund, accessed January 29, 2014, http://www.artf.af/research/resource-corridor/power-and-gas.

په دغه راتلونکي برخه کې به په دې اړه بحث وکړو چې څنګه افغانستان هڅه وکړه چې د دغه ډول ستونزو مخنيوى وکړي کوم چې د استخراجي زيرمو په ځانګه کې د قانون د نه شتون له امله رامينځ ته کيږي.

### ۱. ۲. د افغانستان د استخراجي زيرمو ملکيت

لکه څنګه چې مونږ اوس دا وپتيله چې مونږ بايد د افغانستان د استخراجي زيرمو د مديريت لپاره قوانين ولرو، مونږ به اوس قانوني چوکاټ تر بحث لاندې ونيسو چې څنګه د افغانستان دغه استخراجي زيرمې اداره کړو. لکه څنګه چې مونږ په پيژندنه کې په دې اړه بحث وکړ چې د استخراجي زيرمو د مديريت په چوکاټ کې اساسي قانون او نور قوانين دغه زيرمې اداره کوي. لکه څنګه چې اساسي قانون د نورو قوانينو څخه لوړ دى، نو مونږ به لومړى اساسي قانون د استخراجي زيرمو د مديريت په اړه مطالعه کړو. بيا به هغه قوانين چې د ملي شورا له خوا تصويب شوي دي، تر بحث لاندې ونيسو.

### ۲.۱ د افغانستان اساسي قانون

د افغانستان اساسي قانون د افغانستان د استخراجي زيرمو لپاره عمومي قانوني چوکاټ جوړوي. اساسي قانون د افغانستان د قانوني چوکاټ تر ټولو لوړه زيرمه ده، او حکومت او وګړي دواړه بايد چې په هغه عمل وکړي. د اساسي قانون ۹مه ماده د هايډرو کاربونونو او کانونو تر ټولو لوړ صلاحيت مونږ ته برابروي. ۹مه ماده کې ليکل شوي دي چې، «کانونه او نور د ځمکې لاندې مواد... د دولت ملکيت دى» او «د طبيعي زيرمو ... ساتنه، مديريت، او سمه کارونه به د قانون له لارې اداره کيږي.»

**د افغانستان اساسي قانون**

**۹مه ماده:** کانونه او نورې د ځمکې لاندې زيرمې او همدارنګه تاريخي آثار د افغانستان د حکومت ملکيت دى. د عامه شتمنيو، او همدارنګه د طبيعي زيرمو ساتنه، مديريت، او سمه کارونه د قانون لا لياري اداره کيږي.

نو له همدې امله د افغانستان اساسي قانون دا وايي چې د افغانستان حکومت تر هغه وخته د استخراجي زيرمو مالک دى تر څو چې د ځمکې څخه نه وي ايستل شوي. دغه اساسي شرط دي، کوم چې به مونږ د دغه څيرکي په اوږدو کې تر بحث لاندې ونيسو. دا په دې معنى چې په هيواد کې هغه ټول استخراجي کانونه، نفت او ګاز چې د ځمکې څخه نه وي استخراج شوي په ټوليزه توګه د افغانستان د حکومت شتمني ده. که چيرته بيرته د لاجوردو د کان په اړه فکر وکړى کوم چې مونږ په لومړي برخه کې پر هغه خبرې وکړې، ۹مه ماده په دې معنى چې هيڅ شخصي ډله دغه کان کې هيڅ ډول حق نه لري. هيڅ بهرنۍ کمپنې د دې حق نه لري چې دغه کان پر مخ يوسي. ۹مه ماده په دې معنى چې د لاجوردو د کان ټول صلاحيت د افغانستان د حکومت پورې اړه لري. لکه څنګه چې د افغانستان کانونه او هايډروکاربونونه شاوخوا د يو ټريليون امريکايي دالرو ارزښت لري، او څنګه چې دغه کانونه د افغانستان په ګوټ ګوټ کې پراته دي[591]، نو ښايي چې تاسې فکر وکړى چې د افغانستان حکومت څنګه دا ټول په يوازې ځان اداره کوي. دغه پوښتنه به د ۹مې مادې د دوهمې برخې په څيړلو ځوابيږي. لکه څنګه چې تاسې وينى، ۹مه ماده کې ليکل شوي دي چې، «د افغانستان د استخراجي زيرمو ساتنه، مديريت، او سمه کارونه د قانون له لارې کنټروليږي.» يا په بله اصطلاح، د ۹مې مادې پر اساس ملي شورا د دې صلاحيت لري چې د قانون په چوکاټ کې د افغانستان د استخراجي زيرمو د مديريت لپاره کولاى شي چې قانون تصويب کړي. داسې قوانين شته دى چې مونږ يې په دقت سره وواريو تر څو د قانون په چوکاټ کې د استخراجي زيرمو په اړه پوره وپوهيږو.

د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون د جوړيدو راپديخوا، ملي جرګې د ۹مې مادې د صلاحيت څخه په استفادې سره دوه مهم قوانين: د کانونو قانون او د هايډروکاربونونو قانون، تصويب کړي دي، چې دغه قوانين په مستقيمه توګه تر اثر لاندې راولي[592]. مونږ به د دغه څيرکي په اوږدو کې دغه دوه قوانين په جزئياتو سره مطالعه کړو. زمونږ د مطالعې له مخې به مونږ په دې پوه شو چې دغه قوانين د افغانستان حکومت ته اجازه ورکوي چې شخصي خلکو ته د کانونو او هايډرو کاربونونو د اکتشاف او کټې اخيستنې اجازه ورکړي[593]. د افغانستان حکومت د استخراجي زيرمو اصلي مالک دى، خو

[591] Risen, "U.S. Identifies Vast Mineral Riches in Afghanistan."
[592] "Market Prospects," Afghanistan Investment Support Agency, accessed January 25, 2014, http://www.aisa.org.af/brochures/Mining1.pdf.
[593] Hydrocarbons Law, Article 3(2); Minerals Law, Article 5.

حکومت کولای شي چې د شخصي سکتور سره د دغو ګټورو زیرمو د اکتشاف او ګټې اخیستنې قراردادونه لاسلیک کولای شي. په دغه توګه به افغانستان وکولای شي چې د خپلو استخراجي زیرمو ارزښت معلوم کړي.

### ۱.۱. د کانونو قانون

د کانونو قانون په افغانستان کې د کانونو د زیرمو لپاره قانوني چوکاټ جوړوي. لکه څنګه چې به تاسې د څېرکي د لومړیو برخو څخه په یاد وي چې د «کانونو» په اصطلاح کې هغه مواد شامل دي چې په غټه پیمانه کانونو کې شتون لري، لکه د اوسپنې کانونه، او د مسو کانونه. خو په هغو کې د ورځنۍ ژوند مواد کوم چې د ودانیو د موادو، لکه ریګ او جغل، په نوم یادیږي هم ګډون لري.

د دې لپاره چې دغه مواد تنظیم کړي، په ۲۰۰۵م کال کې، په ۲۰۰۴م کال کې د اساسي قانون د جوړیدو یو کال وروسته، ملي شورا د کانونو قانون تصویب کړ. په ۲۰۰۹م کال کې د کانونو په قانون کې د پام وړ بدلونونه رامینځ ته شول چې په ۲۰۱۰م کال کې تصویب شول. د هغه دوه کاله وروسته په ۲۰۱۲م کال کې د کانونو د قانون بله طرحه وړاندې شوه چې دغه قانون په ۲۰۱۴م کال کې د ملی شورا لخوا تصویب او ولس مشر هم په همدې کال کې تائید کړ. د ۲۰۱۴م کال د کانونو قانون هغه قانون دی کوم چې به مونږ په دغه څپرکي کې مطالعه کړو.
د ۲۰۱۴م کال د کانونو قانون جامع دی. دغه قانون ټول هغه اړخونه په ځان کې لري چې تاسې یې د کانونو د قانون په ځانګه کې فکر کولای شی، دا د قانون د ۲مې مادې پر اساس تائید شوی دی.

**د کانونو قانون**

**۲مه ماده: هدفونه**

د دغه قانون هدفونه په لاندې توګه دي:

(1) په هیواد کې د کاني سرچینو د پرمختیا او له هغو څخه د اغیزمنې ګټې اخیستنې د اړوندو چارو تنظیمول.
(2) په هیواد کې د کاني سرچینو د تفحصي، اکتشافي او ګټې اخیستنې د فعالیتونو تنظیمول او مدیریت.
(3) د کانونو د سکتور د پرمختګ او د هیواد په خپل ځان اقتصادي بسیاینه.
(4) د نړیوالو ډیرو ښو تګلارو او تجربو مطابق د کاني سرچینو له پرمختګ او مدیریت څخه ډاډ ترلاسه کول
(5) د کانونو له راپستلو او پروسس څخه د اکثر حد ګټې (مفاد) تامینول.
(6) د ژوند چاپیریال او ټولنیزو ناوړو اغیزو د راکمولو له په پام کې نیولو سره د کاني سرچینو دوامداره پرمختګ او د هغو له ضایع کیدو څخه مخنیوی.
(7) د کانونو په ډګر کې د کورنۍ او بهرنۍ پانګې اچونې مناسب چاپیریال را منځته کول.
(8) د کانونو د ساحې په سیمو کې د اقتصادي او ټولنیزو فعالیتونو د پرمختګ له لارې د سولې او امنیت په تامینولو کې مرسته کول.

د اساسي قانون د ۹مې مادې سره په توافق کې، د کانونو په قانون کې هم راغلي دي چې په افغانستان کې کانونه د دولت شتمنې ده او د کانونو ټول فعالیتونه د دولت لخوا کنټرول او تنظیمیږي[594]. یو تر ټولو مهم حکم د کانونو د قانون په ۵(۳) مه ماده کې راغلی دی. دغه حکم وایي چې، «په هیواد کې د کاني فعالیتونو ترسره کول د جواز، اجازه لیک، قرارداد له ترلاسه کولو وروسته د دې قانون او اړوندی مقررې د حکمونو مطابق صورت مومي.»

**د کانونو قانون**

۵ (۳) مه ماده: په هیواد [افغانستان] کې د کاني فعالیتونو ترسره کول د جواز، اجازه لیک، قرارداد له ترلاسه کولو وروسته د دې قانون او اړوندی مقررې د حکمونو مطابق صورت مومي.

[594] Minerals Law, Article 5(1-2).

لکه څنګه چې مو همدا اوس وویل، د کانونو قانون دا تصدیقوي چې شخصي خلک ولو که د افغانستان د حکومت سره نه وي هم کولای شي چې د کانونو په اکتشاف او ګټه اخیستنه کې ګډون وکړي، په دې شرط چې د افغانستان حکومت دوی ته دا صلاحیت ورکړي وی چې دا کار وکړي. د اساسي قانون ۹مه ماده د طبیعي زیرمو ملکیت د افغانستان حکومت ته ورکوي، خو دا په دې معنی نه ده چې د افغانستان حکومت دې پخپله د کانونو اکتشاف او ګټه اخیستنه هم عملي کړي. د دې تر څنګ د اساسي قانون ۱۰مه ماده کې، همدارنګه د کانونو په قانون کې هم، راغلي دي چې د آزاد مارکیټ او د استخراجي زیرمو د سکټور د بریالي پرمختګ لپاره د شخصي سکټور ګډون اړین دی.
د دغه څېرکي په لړ کې به مونږ وواېو چې څنګه شخصي ډلې کولای شي چې د استخراجي زیرمو په عملیاتو کې د ګډون لپاره د اجازې د ترلاسه کولو پروسه پر مخ یوسي، او دغه قانوني حقوق د دغو اجازو سره څنګه تړلي دي، لکه څنګه چې مو په پیژندنه کې وویل.

### ۲.۳. د هایډروکاربونونو قانون

دوهم مهم قانون چې په افغانستان کې استخراجي زیرمې متاثره کوي د ۲۰۰۹م کال د هایډروکاربونونو قانون دی. لکه څنګه چې مو د څېرکي په تېرو برخو کې وویل، د هایډروکاربون اصطلاح کې دواړه نفت او ګاز ګډون لري. نفت هغه مایع هایډروکاربونونه دي چې د پترول او د سون تیل ورڅخه تولیدیږي. طبیعي ګاز هغه هایډروکاربون دی چې د ګاز، نه د مایع، په شکل پیدا کیږي[595]. د هایډروکاربونونو قانون د دغه دواړو موادو په اړه بحث کوي، او همدارنګه ټول هغه د جواز درلودونکي عملیات چې په دې اړوند ترسره کیږي.
د هایډروکاربونونو قانون د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۵م کال کې پلي شو[596]. لکه څنګه چې ملی شورا په ۲۰۰۹م کال کې د کانونو په قانون کې بدلون راوړ، په همدغه کال کې یې د هایډروکاربونونو په قانون کې هم بدلون راوړ. د ۲۰۰۹م کال راپدیخوا د هایډروکاربونونو په قانون کې کوم بدلون نه دی راغلی، نو د ۲۰۰۹م کال د هایډروکاربونونو قانون هغه قانون دی چې مونږ به یې په دغه څېرکي کې تر بحث لاندې ونیسو.
د کانونو د قانون په توګه، د هایډروکاربونونو قانون هم جامع دی. دغه قانون د هایډروکاربونونو تقریباً د ټولو هغو خواوو په اړه احکام لري چې تاسي یې فکر کولای شی.
د کانونو د قانون په څیر، د هایډروکاربونونو قانون هم د افغانستان د اساسي قانون د ۹مې مادې څخه مبنا اخلي. د دغه قانون په ۳(۱) مه ماده کې بیا ځلي ذکر شوي دي چې، «د هیواد په قلمرو کې د ځمکی پر مخ (سطح) یا ژوره کې ټول موجود نفت او ګاز (هایډروکاربونونه) ، د دولت ځانګړی ملکیت دی. » په عین وخت کې، د هایډروکاربونونو د قانون په ۳(۲) مه ماده کې راغلي دي چې،«په هیواد کې د نفتو او ګار عملیات د دولت په اجازه صورت مومي. شخص کولای شي د کانونو او نفت او ګارو د وزارت د جواز لیک پر بنسټ د دې قانون د حکمونو مطابق، د نفتو او ګاز عملیات سرته ورسوي.»

| د هایډروکاربونونو قانون |
|---|
| ۳(۲) مه ماده: په هیواد کې د نفتو او ګاز عملیات د دولت په اجازه صورت مومي. شخص کولای شي د کانونو او نفت او ګازو د وزارت د جواز لیک پر بنسټ د دې قانون د حکمونو مطابق، د نفتو او ګازو عملیات سرته ورسوي. |

له همدې امله، د هایډروکاربونونو قانون د دغې نظریې ملاتړ کوي چې شخصي خلک د دې اجازه لري چې په افغانستان کې د هایډروکاربونونو په عملیاتو کې برخه واخلي، په دې شرط چې د افغانستان حکومت ورته اجازه لیک ورکړی وی. په دغه څېرکي کې به مونږ د دغو جوازونو د ترلاسه کولو د پروسې او د دغو جوازونو د ترلاسه کولو اړوند قانوني حقوق تر بحث لاندې ونیسو.

### ۲.۴ د کانونو د قانون او د هایډروکاربونونو د قانون نښلونه

لکه څنګه چې به تاسي پټیلي وي چې دواړه ، کانونه او هایډروکاربونونه استخراجي زیرمې دي، د کانونو او هایډروکاربونونو قوانین سره ورته موضوعات څیړي. څنګه چې د کانونو او هایډروکاربونونو په قوانینو کې ډیر تداخل شتون لري – او څنګه چې دا په خپله مطالعه کې ډیر جامع دی، او د دغه قوانینو د بشپړولو مقرری چې ډیر جزئیات لري او امکان یې نه شته چې په دغه څېرکي کې مطالعه شي- نو مونږ به په ټولیزه توګه د دغه قوانینو عمومي احکام وڅیړو. یوازې هغه احکام د دغو قوانینو به په جلا توګه مطالعه کړو چې یو له بل سره په صریحه ه توګه توپیر لري.

---

595 "Natural Gas," Energy Information Agency.
596 "Market Prospects," Afghanistan Investment Support Agency.

نو له همدي امله لکه څنګه چې مو په پيژندنه کې وويل، مونږ به د کانونو او هايډروکاربونونو قوانين په ټوليزه توګه وڅيړو چې په څيړنه کې به لانديني مفاهيم ګډون ولري: (۱) حکومتي اداري چې د استخراجي زيرمو کتنه به کوي، (۲) هغه جغرافيوي سيمې چيرته چې په قانوني توګه استخراج صورت مومي، (۳) د زيرمو د استخراج لپاره موجوده قراردادونه، (۴) د دغه زيرمو د استخراج د قراردادونو د مقرراتي پروسو بشپړونه، (۵) هغه قانوني خلک چې د دغو زيرمو د استخراج په برخه کې د افغانستان د حکومت سره قراردادونه کوي، (۶) هغه مقررات چې دغه ګډون کونکي بايد احترام ورته ولري، او (۷) د استخراجي زيرمو اړوند د مناقشو د حل د موجودو لاروچارو پروسه.

**۲.۵ نور هغه قوانين او مقررې چې د زيرمو استخراج متاثره کوي**

که څه هم چې زمونږ بحث به په دغه څېرکي کې د کانونو او هايډروکاربونونو په اړه وي، خو بيا هم دا يوازيني حقوقي زيرمې نه دي چې په افغانستان کې د استخراجي زيرمو پرمختګ متاثره کوي. لکه څنګه چې تاسې پوهيږئ په افغانستان کې د قوانينو سلسله شتون لري، چې په هغه کې اساسي قانون په سر کې ځای لري، ورپسې هغه قوانين دي چې د ملي شورا لخوا تصويب شوي دي. داسې نور قوانين او مقررې هم شتون لري چې حکومت تصويب کړي دي ترڅو هغه قوانين بشپړ کړي کوم چې د ملي شورا لخوا تصويب شوي دي.

د استخراجي زيرمو په ځانګه کې هغه قوانين چې د ملي شورا لخوا تصويب شوي دي، او همدارنګه هغه مقررې چې د حکومتي ادارو لخوا ليکل شوي دي هم بايد چې په نظر کې ونيول شي. دغه قوانين او مقررې ټل په مستقيمه توګه د کانونو او هايډروکاربونونو سره تړاو نه لري. د بيلګې به توګه، ځيني هغه قوانين چې د ملي شورا لخوا تصويب شوي دي داسې شيان متأثره کوي لکه: د سوداګرئ عمليات، د قراردادونو جوړول، د چاپيريال ساتنه، او د کار او کارګرانو موضوعات. خو دغه قوانين د زيرمو استخراج هم متاثره کوي. ځينې مقررې چې په دغه سکټور کې مهمې دي، په مستقيمه توګه د کانونو او هايډروکاربونونو د پرمختګ پورې اړه لري.

لکه څنګه چې د دغو ټولو قوانينو او مقررو څيړنه ډير وخت نيسي، مونږ به دغو شيانو ته د دغه څېرکي په پای کې يو څه ځای ورکړو. خو دا ستاسې لپاره اړينه ده چې په دې اړه معلومات ولرئ چې د کانونو او هايډروکاربونونو قوانين د زيرمو په استخراج پوري يوازيني تړلي قوانين نه دي.

**۳. اداري جوړښت: د کانونو او پټروليمو وزارت**

راځئ چې يوځل بيا د بدخشان د لاجوردو د کان په اړه فکر وکړو. داسې فرض کړئ چې يوه کمپنئ غواړي چې دغه کان ته پرمختګ ورکړي. کمپنئ مطمئنه نه ده چې ښايي چې چا به د دغه کان د استخراج حق خپل کړی وي. په اطمينان سره حکومت د قانون له مخې د لاجوردو کان خپل حق بولي، لکه څنګه چې د افغانستان د اساسي قانون د ۹مې مادې په اساس حکومت د دغه کان اصلي مالک دی. يا په حقيقت کې، حکومت د دې حق لري چې دغه کان شخصي سکټور ته د ګټې اخيستنې لپاره ورکړي، چې دا کار د حکومت په نمايندګۍ باندې د کانونو او پټروليمو د وزارت لخوا کيږي. څنګه کمپنئ بايد اطمينان ترلاسه کړي چې يو چا به د دغه کان د خپلولو حقوق ترلاسه کړي وي؟ په حکومت کې بايد چا ته مراجعه وکړي چې د دغې پوښتنې ځواب ترلاسه کړي؟

دواړه د کانونو او هايډروکاربونونو قوانين د دغو پوښتنو ځوابونه برابروي. لکه څنګه چې مونږ به دوهمه برخه کې په دې اړه بحث وکړ، د افغانستان د استخراجي زيرمو د مديريت قانوني چوکاټ د دې لپاره ډيزاين شوی دی چې شخصي سکټور دې ته وهڅوي چې د دغو زيرمو په اکتشاف او ګټه اخيستنه کې برخه واخلي. نو له همدي امله دواړه د کانونو قانون او د هايډروکاربونونو قانون د هغو اشخاصو لپاره چې غواړي د دغو زيرمو په اکتشاف او ګټه اخيستنې په عملياتو کې برخه واخلي، تر هغه حده وضاحت رامينځ ته کړی دی تر کومه چې امکان وي. د دې لپاره چې دغه ګډون کونکو ته آسانتيا برابره کړي، ا دفغانستان په حکومت کې د استخراجي زيرمو د مديريت په ځانګه کې ډول ډول اداري مرسته کوي. په دغه څېرکي کې به مونږ د دغو ادارو رول په جلا جلا توګه تر بحث لاندې ونيسو. لکه څنګه چې د افغانستان د حکومت يوه اداره د افغانستان د استخراجي زيرمو مديريت په غاړه لري، نو مونږ تر هر څه دمخه د دغې ادارې عملکرد تر بحث لاندې ونيسو. دغه اداره د کانونو او پټروليمو وزارت دی. که څه هم وزارت دلته د کانونو او پټروليمو د وزارت په معنی دی خو بيا به هم په د دغه څېرکي په لړ کې د هغه بشپړ نوم اخلو.

دواړه د کانونو قانون او د هايډروکاربونونو قانون د کانونو او پټروليم وزارت ته ډير صلاحيت ورپه برخه کوي. د بيلګې په توګه، د کانونو د قانون ۶(۱) مه ماده، «د کانونو او پټروليمو وزارت ... با صلاحيته اداره ده چې د کانونو فعاليتونه اداره

کوي.» دي ته ورته، د هایډروکاربونونو د قانون ۵(۱) مه ماده کې لیکل شوي دي چې دا د هایډرو کاربونونو د قانون حکم دی چې د کانونو او پټرولیمو وزارت دا دنده او صلاحیت لري چې، «د نفتو او ګاز او پدې ډګر کې د حقوقي پانګې اچونې په رواجولو پورې د اړوندې پالیسي په شمول د هغو د پرمختیا مربوطې پالیسي طرح او تطبیق کړي.»

د شخصي صنعت سره د کانونو او پټرولیمو د وزارت لیدنه

د هایډروکاربونونو او کانونو پرمختګ ته د ودې ورکوني لپاره د خپلو مسئولیتونو د اداکولو لپاره، د کانونو او پټرولیمو وزارت د شخصي کمپنیو د استازو سره په دوامداره توګه ویني او د هغوي لپاره ورکشاپونه برابروي تر څو د هغوي هغه ستونزې او غوښتنې واوري کوم چې هغوي ورسره مخ کيږي[597].

تاسې څه فکر کوئ چې د هایډرو کاربونونو او کانونو په برخه کې د پانګې اچونې په اړه به د شخصي کمپنیو ستونزې څه وي؟ مقننه قوه څنګه باید دغه ستونزو ته د حل لاره پیدا کړي؟

دغه احکام د کانونو او نفتو ورزارت د یوازیني حکومتي د صلاحیت درلودونکي اداري په توګه پیژني چې کولای شي چې د افغانستان د استخراجي زیرمو د پرمختګ او مدیریت په ځانګه کې کار کوي. خو د کانونو او پټرولیمو وزارت څنګه خپل قانوني مسئولیتونه ادا کوي؟ په هغو دندو کې کوم شیان شامل دي؟

که تاسي د کانونو قانون او د هایډروکاربونونو قانون وڅیړئ، نو تاسي به په دې پوه شئ چې د کانونو او پټرولیمو وزارت د استخراجي زیرمو د سکټور په مختلفو برخو کې بیلابیلې دندې ترسره کوي. په حقیقت کې، د کانونو او پټرولیمو وزارت د استخراجي زیرمو د عملیاتو په مختلفو برخو کې د ټول ژوند په دوران کې بیلا بیلې دندې ترسره کوي. که څه هم چې د کانونو او هایډروکاربونونو د قوانینو پر اساس د کانونو او پټرولیمو وزارت ډیرې دندې لري، خو د دغه وزارت په ابتدائي کارونو کې لاندنۍ دندې شاملې دي. د اصلي دندو د لیدلو لپاره، په راتلونکي مخ کې ۱ چارټ ته وګورئ.

(1) **د استخراجي زیرمو د عملیاتو لپاره د ممنوعه او غیر ممنوعه سیمو ټاکل:** د کانونو او پټرولیمو وزارت د دې صلاحیت لري چې د استخراجي زیرمو د عملیاتو لپاره خلاصې او بندې سیمې په نښه کړي[598]. تاسي به په راتلونکې برخه کې وواست چې د کانونو قانون د دغو سیمو د ټاکلو لپاره کوم ټکي باید په نظر کې ونیسي. د هایډروکاربونونو قانون معلومې سیمې د زیرمو د استخراجي عملیاتو لپاره بندې کړي دي.

(2) **په یو معین ځای کې د کانونو، سمڅو، تیلو، او طبیعي ګازو لپاره د ساحو ټاکل:** د کانونو او پټرولیمو وزارت د استخراجي زیرمو د ساحو مسئولیت لري[599]. تاسې به په ۵ برخه کې زده کړئ چې د استخراجي زیرمو د قرارداد د بشپړولو پروسه د حکومت لخوا د ځمکی لاندې استخراجي زیرمو د ساحې په طبیعت پورې اړه لري. نو له دې امله د کانونو او پټرولیمو د وزارت لخوا د ساحې ټاکل، د مقرراتي تائید پروسه متاثره کوي.

(3) **د استخراجي زیرمو د ساحو د رقابت د پروسې برابرول:** د افغانستان اکثره د کانونو او هایډروکاربونونو ساحې تر اوسه د اکتشاف او کټې اخیستنې څخه بې برخې پاته شوي دي. څنګه چې د اساسي قانون د ۹مې مادې پر اساس د افغانستان حکومت د دغو زیرمو ملکیت لري، نو یوازې د افغانستان حکومت د دې حق لري چې د دغو زیرمو د پرمختګ حقوق په شخصي ډلو باندې وپلوري. په ډیرو مواردو کې دا په دې معنی ده چې دغه د آزاد رقابت د پروسې له لارې ترسره کیږي. د افغانستان د حکومت به استازیتوب د کانونو او پټرولیمو وزارت د دغې پروسې مسئول دی[600].

(4) **د استخراجي زیرمو د قراردادونو تائیدول یا د تائید لپاره نورو حکومتي ادارو ته تسلیمول:** لکه څنګه چې به تاسي په ۶مه برخه کې زده کړئ چې څنګه چې مونږ د مقرراتي تائید په اړه خبرې کوو، بیلابیل حکومتي ادارات د بیلابیلو استخراجي زیرمو د قراردادونو د تائیدولو صلاحیت لري. په ځینو مواردو کې به پخپله د کانونو او پټرولیمو وزارت د ځینو ځانګړو قراردادونو د بشپړولو صلاحیت ولري. خو په ځینو نورو مواردو کې د کانونو

[597] Ministry of Mines and Petroleum, "The Workshop for Encouragement of Investment Held at MoMP," May 26, 2014, accessed September 2, 2014, http://mom.gov.af/en/news/33353.
[598] Hydrocarbons Law, Article 5(2); Minerals Law, Article 12.
[599] Hydrocarbons Law, Article 5(1); Minerals Law, Article 7(7-8).
[600] Hydrocarbons Law, Article 5(23); Minerals Law, Article 7(3, 11).

او پټرولیمو وزارت د دې مسئولیت لري چې د استخراجي زیرمو ځینې ځانګړي قراردادونه نورو لوړو حکومتي ادارو ته راجع کړي، لکه د وزیرانو تر مینځ کمیسیون یا کابینه[601].

( 5 ) **په یوه مرکزي ثبت کې د کانونو او هایډروکاربونونو د حقوقو ثبتول:** د کانونو او پټرولیمو وزارت باید چې دا ثبت کړي چې کومه ډله د دې حق لري چې یو د استخراجي زیرمو ساحه اکتشاف یا ورڅخه ګټه واخلي. دغه کار د استخراجي زیرمو قراردادیانو ته اطمینان ورپه برخه کوي چې وپوهیږي چې په کومه جغرافیوي ساحه کې دوی د زیرمو د استخراج عملیات ترسره کولای شي. یو مرکزي ثبت نور خلک هم په دې خبروي چې هغوي په هغو سیمو کې د کار کولو حق نه لري په کومو کې چې نور قراردادیان مخکې له مخکې کار کوي، کوم چې د مرکزي ثبت اصلي دنده ده.

( 6 ) **د سطحې د کرایې د فیس او د حق الامتیاز معلومول کوم چې د استخراجي زیرمو قراردادیان یې باید حکومت ته ورکړي:** د کانونو او پټرولیمو وزارت د دې مسئول دی چې د سطحې د کرایې فیس او حق الامتیاز معلوم کړي، کوم چې باید د کانونو د حقوقو درلودونکې قراردادیان او هایډروکاربونونو د حقوقو درلونوکي قراردادیان یې باید حکومت ته ورکړي[602]. د سطحې د کرایې فیس هغه فیس دی چې د استخراجي زیرمو قراردادیان یې باید چې په کلنۍ توګه د ځمکې د استعمال له بابته دولت ته ورکړي[603]. حق الامتیاز هغه پیسې دي چې د استخراجي زیرمو قراردادیان یې د خپل خالص عاید څخه یوه تعین شوي برخه باید د افغانستان حکومت ته ورکړي[604]. د حق الامتیاز موضوع یو څه مغلقه موضوع ده ځکه چې دوی دا معلوموي چې د افغانستان حکومت باید چې د استخراجي زیرمو د عوایدو څومره برخه ترلاسه کړي.

( 7 ) **د قراردادونو د غځولو او بندولو سره د ارزونې مطابقت:** د کانونو او هایډروکاربونونو قراردادونه د یوې ځانګړې مودې لپاره د اعتبار وړ دي. که چیرته قراردادیان اړوند قوانین، لکه د کاریګرو قانون، د محافظت قانون، یا د چاپیریال د ساتنې قانون، تر پښو لاندې کړی د کانونو او پټرولیمو وزارت به ځینې قراردادونه فسخه کړي. خو که چیرته د قرارداد موده پای ته ورسیږي او قراردادیان وغواړي چې د قرارداد د د مودې د ختمیدو څخه وروسته خپل عملیاتو ته دوام ورکړي، نو د کانونو او پټرولیمو وزارت به د هغوی قراردادونه نوي کړي[605].

( 8 ) **د هغو موضوعاتو رابرسیره کول کوم چې د کانونو او هایډروکاربونونو د قوانینو لخوا نه دي څیړل شوي:** د کانونو قانون او د هایډروکاربونونو قانون عام دي. او دغه قوانین د کانونو او هایډروکاربونونو د صنعت هره برخه نه څیړي. د کانونو او هایډروکاربونونو دواړه قوانین خپل کمبوتات مني او د کانونو او پټرولیمو وزارت ته د دې صلاحیت ورکوي چې داسې مقررې جوړې کړي د کومو له مخې چې د کانونو او هایډروکاربونونو وزارت وکولای شي چې د استخراجي زیرمو برخه اداره کړي[606].

[601] Hydrocarbons Law, Article 5(5); Minerals Law, Article 7(3, 5).
[602] Hydrocarbons Law, Article 5(8-9); Minerals Law, Articles 82-83
[603] Hydrocarbons Law, Article 65; Minerals Law, Article 3(29).
[604] U.S. Geological Survey, *2012 Minerals Yearbook: Afghanistan* (2013), http://minerals.usgs.gov/minerals/pubs/country/2012/myb3-2012-af.pdf.
[605] Hydrocarbons Law, Article 5(12); Minerals Law, Article 7(4, 6).
[606] Hydrocarbons Law, Article 5(13); Minerals Law, Article 6(1).

لومړي چارټ. د یوې استخراجي زیرمې د عملیاتو د ژوند دوره




لکه څنګه چې تاسې وینئ د کانونو او پټرولیمو وزارت تقریباً د استخراجي زیرمو د پرمختګ په هره برخه کې یوه دنده ترسره کوي. ولې د کانونو او پټرولیمو وزارت ته دا اړینه ده چې د قانون په دغه برخه کې دومره مصروفه وي؟

که تاسې بیرته د دغه څېرکې پیژندنې ته پام وکړئ، نو په یاد به مو وي چې د افغانستان د حکومت د عوایدو لپاره کانونه او هایډروکاربونونه یوه ښه زیرمه ده[607]. که څه هم چې تر اوسه د افغانستان د کانونو او هایډروکاربونونو د ځمکې لاندې زیرمې تراوسه نه دي کشف شوي او ګټې اخیستنې ته نه دي سپارل شوي. د کانونو او پټرولیمو وزارت ته د دې صلاحیت په ورکولو چې د استخراجي زیرمو څانګه پرمخ یوسي او پانګه اچونکي تشویق کړي. افغانستان ښایي چې د خپلو زیرمو پوره ازرښت وپیژني.

لکه څنګه چې د کانونو او پټرولیمو وزارت ډیر فعالیتونه لري، نو دغه وزارت ډیر ریاستونه او دفترونه لري. په راتلونکي مخ کې چې کوم چارټ دی هغه به د دغه وزارت جوړښت مونږ ته راپه ګوته کړي[608]. تاسې به ووینئ چې د کانونو او پټرولیمو وزارت مختلفې برخې لري. د دغو برخو څخه زمونږ لپاره مهمه برخه د قانوني خدمتونو برخه ده، کومه چې د پالیسۍ او پروګرامونو څانګه ده[609]. د قانوني خدمتونو برخه ټولو هغو موضوعاتو ته توجه کوي کوم چې د کانونو او پټرولیمو وزارت متاثره کوي.

د کانونو او پټرولیمو د وزارت تر څنګ، ځینې نورې دولتي اداري هم شتون لري چې د استخراجي زیرمو په پرمختګ کې مهمه ونده لري، لکه ملي شورا، د وزیرانو تر مینځ کمیسیون، او د وزیرانو شورا (کابینه). د دغه څېرکې په راتلونکو برخو کې د دغو ادارو رول تر بحث لاندې نیول شوی دی.

---

607 Risen, "U.S. Identifies Vast Mineral Riches in Afghanistan."

608 "Business Plan 2010-2015: Synopsis," Ministry of Mines, accessed January 28, 2014, http://mom.gov.af/Content/files/Business%20Plan%202010_Synopsis_28Aug_am.pdf

609 Pajhwok Afghan News, "Special Mines Page," accessed September 3, 2014, http://mines.pajhwok.com/ministry-ofmines-and-petroleum

Below: The new organisational structure of the Ministry of Mines




**4 . هغه جغرافیوي سیمې چې د استخراجي زیرمو د عملیاتو لپاره موجودې دي**

مونږ په لومړۍ برخه کې وویل چې د افغانستان د استخراجي زیرمو ساحې په افغانستان کې سره پاشل شوي دي. د افغانستان کاني زیرمې، دواړه په غټه کچه کانونه او په کوچنۍ کچه د سمڅو مواد، د هیواد په هر گوټ کې شتون لري[610]. که څه هم چې د هیواد په هره برخه کې نه دي سره پاشلي، خو بیا هم د هایډروکاربونونو زیرمې د هیواد په شمالي برخه کې شتون لري[611]. آیا ټوله هغه ځمکه چې د هایډروکاربونونو زیرمې لري د قانون له مخې د استخراج لپاره کاریدلای شي؟ داسې دلایل شته چې د افغانستان حکومت دې په ځینو ځمکو کې ، حتی که د هایډروکاربونونو او کانونو زیرمې هم هلته شتون ولري، د استخراج د عملیاتو لپاره اجازه ور نه کړي؟ راځئ چې د بدخشان د لاجوردو د کان په اړه فکر وکړو، کوم چې مونږ په دغه څپرکي کې پر هغه باندې بحث کوو. فرض کړئ چې د لاجوردو کان د یو کلي څخه چې هلته ۲۵۰ نفره ژوند کوي ۲۰ متره لیرې دي. په همدې توگه د دغه کلي د اوبو د زیرمې څخه فقط ۱۰ متره لیرې دي، او د کلي خلک دغه اوبه د څښاک، د کالو د مینځلو، او د ځان مینځلو لپاره کاروي. که دلته د استخراج عملیات ترسره شي نو دا به ډیر بږغ جوړ کړي او بیکاره مواد به یې د کلي د اوبو زیرمه ککړه کړي. آیا قانون دا اجازه ورکوي چې دلته دې د زیرمو د استخراج عملیات ترسره شي؟ آیا د لاجوردو د استخراج عملیات دې ترسره شي؟

ددغې پوښتنې د ځواب ویلو په موخه باید چې یو ځل بیا د کانونو قانون او د هایډروکاربونونو قانون ته مراجعه وکړو. دواړه د کانونو قانون او د هایډروکاربونونو قانون په دې اړه بحث کوي چې په کومو جغرافیوي سیمو کې د استخراجي زیرمو عملیات په قانوني توگه ترسره شي. د قانون په رڼا کې د استخراجي زیرمو ډیرې ساحې د استخراجي عملیاتو لپاره

[610] Risen, "U.S. Identifies Vast Mineral Riches in Afghanistan."
[611] "Oil & Gas Resources," Ministry of Mines.

برابرې دي، خو ځيني داسي سيمي شته چې دواړه د کانونو قانون او د هايډروکاربونونو قانون به هغو سيمو کي د زيرمو استخراجي عمليات بند کړي دي، تر هغه وخته چې ګټي يې قانع کونکي وي. په دغه برخه کي به مونږ د دغو سيمو په اړه بحث وکړو.

### ۴.۱ هغه سيمې چې د دواړو (د کانونو د قانون او د هايډروکاربونونو د قانون) له مخې د عملياتو لپاره بندې شوي دي

لکه څنګه چې تاسي پوهيږي چې د کانونو قانون او د هايډروکاربونونو قانون دوه جلا جلا قوانين دي او د دوه جلاجلا استخراجي زيرمو په اړه بحث کوي. خو بيا هم دواړه قوانين دا وايي چې استخراجي عمليات دې په ټولو ځمکو کي نه ترسره کيږي. ځيني ځمکی داسې ځانګړی اهميت ولري چې هلته به د استخراج عمليات نه ترسره کيږي.

د بيلګي په توګه، د هايډروکاربونونو د قانون ۱۵مه ماده په صراحت سره د ځينو سيمو ليست ښيي چې هلته بايد عمليات ترسره نه شي:

( 1 ) هغه ساحه چې دپاسه يې تاريخي او فرهنګي آثار قرار ولري او د قانون مطابق مشخصه شوي وي.
( 2 ) هغه ساحه چې د دولت ملکيت وداني يا د بولو بند په محدوده يا سل متري واټن کي شامله وي.
( 3 ) هغه ساحه چې د هوايي ډګر يا حضيزې يوه برخه پکې شامله وي.
( 4 ) هغه ساحه چې د ملي دفاع د وزارت ملکيت وي او يا يې تر ګټې اخيستنې لاندې وي.
( 5 ) هغه ساحه چې د عامې لارې لويې لارې، د اوسپني د پټلي، نل ليکي او نورو عامه تاميناتو په منظور ورڅخه ګټه واخيستل شي.
( 6 ) هغه ساحې چې د کانونو وزارت په تشخيص د تر دعوي لاندې سيمو په توګه اعلان شوې وي.
( 7 ) هغه ساحې چې د دولت د فرمان پر بنسټ د ممنوعه يا غير مجاز سيمو په توګه ټاکلې شوې وي.

په ورته توګه، د کانونو د قانون ۳۶(۲) مه ماده کي راغلي دي چې لاندې سمیې د استخراجي عملياتو څخه وتلي دي، مګر په هغه صورت کي چې کابينه په ځانګړې توګه د دغو عملياتو ترسره کول تائيد کړي:

( 1 ) په جواز کي د درج شوې ساحی يوه برخه چې د عامه ګټو په مقصد ځانګړې شوې وي.
( 2 ) هغه ځمکه  چې د پنځوس مترئ په واټن کي يې حضيره، متبرکه ځايونه يا فرهنګي سيمی وي.
( 3 ) هغه ځمکه چې د سل مترئ په واټن کې يې د پټروليمو تاسيسات، پايپ لاين يا نور اړوند تسهيلات قرار ولري.
( 4 ) هغه ځمکی چې د پنځوس متري په واټن کي يې د اوسپني پټلی، لويې لارې يا د اوبو د کانال جوړول په نظر کي نيول شوي وي.
( 5 ) هغه ځمکی چې د دوه سوه مترئ په واټن کي يې ښارګوټی يا کلی وي، خو دا چې د ښار جوړولو يا ښاروالی ليکلې موافقه ئې ترلاسه کړې وي.
( 6 ) هغه ځمکه چې د قانون د حکمونو مطابق د ساتل شوو ساحو د جوړيدو لپاره ځانګړې شوې وي.

تاسي وينی چې ولې دغه سيمې د استخراج د عملياتو څخه ايستل شوي دي؟ داسي فرض کړئ چې د کابل-کندهار د لويې لارې لاندې د استخراجي موادو زيرمه شتون لري. که د استخراجي زيرمو عمليات ترسره شي، هيڅ موټر به ونه شي کولای چې د دغو دوه غټو ښارونو تر مينځ واټن طی کړي. د سفر دغه خنډ به د خوراکي موادو انتقال، رسمي ناستې، يا د کورنيو په  ليدنی باندې منفي تاثيرات ولري. نو له دې امله دا ښه ده چې په دغه شان ځمکو کي د کانونو د استخراج عمليات بند کړل شي.

که څه هم، مونږ بايد په ياد ولرو چې په پورتنيو اووه سيمو کي د استخراجي زيرمو بندول، په جدي توګه بندول نه دي. د کانونو او پټروليمو وزارت کولای شي چې د دغو سيمو څخه په يوه سيمه کي د استخراج اجازه په هغه صورت کي ورکړي چې تر تاوان يې ګټه ډيره وي[612].

---

[612] Ibid.

**ځانګړې دوسیه: د لوګر په ولایت کې د عینک د مسو کان[613]**

کومې سیمې چې د کانونو قانون په هغه کې د کانونو د استخراج عملیات بند کړي وو یوه غټه استخراجي پروژه، چې په ۲۰۰۷ کال کې پیل شوه، ستونزه رامینځ ته کړه. په ۲۰۰۷م کال کې د چین د فلزاتو د ویلې کولو کمپنۍ (**MCC**) د ۳ میلیارده ډالرو په مقابل کې د لوګر په ولایت کې د عینک د مسو د کان د ګټه اخیستنې حق ترلاسه کړ. په هغه وخت کې دغه معامله د افغانستان په تاریخ کې ترټولو غټه بهرنۍ پانګه اچونه وه. که څه هم چې د عینک کان د نړۍ د مسو د ځینې غټو کانونو څخه شمیرل کیږي، خو دغه کان ځینې نور نادر او د ارزښت وړ شیان هم لري: لکه د بودا د دور پاته شوني.

د مس عینک ښار یو تاریخي بودایي ښار دی، او د بودا د دورو د خلکو لخوا په دغه ښار کې بودایي پاته شوني په خاورو کې پټ دي. له همدې امله د افغانستان حکومت او **MCC** د زیرمو د استخراج د قرارداد د بشپړولو وروسته له یوې ستونزې سره مخ شول. لکه څنګه چې تاسې پوهیږئ چې د کانونو قانون دا حکم کوي چې په هغه سیمو کې چې دیني یا فرهنګي مهم شیان شتون ولري، په هغو سیمو کې د زیرمو استخراج منع دی. په دغه دوسیه کې د کانونو او پټرولیمو وزارت اجازه ورکړه چې د کانونو د استخراج عملیاتو ته پرمختګ ورکړي، خو د ځانګړو شرطونو په موجودیت کې. د یوې معاملې په ترڅ کې د **MCC** شرکت ومنله چې د بودا د وختونو د پاته شونو د را ایستلو لپاره به لرغون پیژندونکو ته درې کاله وخت ورکړي.

لکه څنګه چې تاسي د هغو سیمو سره اشنا شوئ په کومو سیمو کې چې د کانونو د استخراج عملیات ترسره کیدلای شي، نو راځئ چې د لاجوردو د هغه کان په اړه فکر وکړو کوم چې په بدخشان کې یوه کلي ته نږدې پروت دی. آیا د دغه کان د پرمختګ لپاره به اجازه ورکړل شي؟ لکه څنګه چې تاسي وویل، د کانونو قانون به د دغه کان د استخراج د عملیاتو اجازه ورنه کړي، ځکه چې دغه کان د کلي په ۲۰۰ متری کې پروت دی. که چیرته د دغه کان وده ورکونکي د کلیو د پراختیا د وزیر یا هم د سیمییز ښاروال څخه جواز ترلاسه کړي، نو وبه شي کولای چې دغه کان ته پرمختګ ورکړي؟

### ۴.۲ د حکومت لخوا څخه د شخصي ځمکواستملاک کول

د استخراجي زیرمو د قانون پورې اړونده یو جالبه موضوع د هغو ځمکو موضوع ده چې شخصي ځمکی دي او د استخراج پرته د نورو هدفونو لپاره کارول کیږي. که څه هم د افغانستان د اساسي قانون ۹مه ماده کانونه او هایدروکاربونونه د حکومت ملکیت بولي، خو دا حکم په دې معنی نه دئ چې د افغانستان حکومت د هغو ځمکو خاوند هم وي کومې چې د دغو زیرمو پر سر پرتې دي. دا بالکل امکان لري چې شخصي خلک دځمکی د سطحې د ملکیت قانوني دعوا وکړي. دا هم په پوره توګه امکان لري چې د شخصي ځمکو خاوندان دې دعوا وکړي چې نه غواړي چې د دوئ په ځمکو کې دې د زیرمو د استخراج عملیات ترسره شي.

دا د قانون یوه پیچلې برخه ده، خو دواړه د کانونو قانون او د هایډروکاربونونو قانون – د افغانستان د اساسي قانون په ګډون- دغو ستونزو ته پاملرنه کړې ده. د افغانستان د اساسي قانون د ۴۰مې مادې، د کانونو د قانون د ۳۵(۲) مې مادې او د هایډروکاربونونو د قانون د ۶۸مې مادې پر اساس، د افغانستان حکومت د دې صلاحیت لري چې د کانونو او هایډروکاربونونو د استخراج لپاره هغه ځمکې استملاک یا واخلي کومې چې د دولت پورې اړه نه لري.

خو د ځمکو د استملاک په څانګه کې د حکومت لپاره ځینې محدودیتونه شته دی. لومړی، استملاک باید د عامو وګړو په ګټه وي[614]. دا په دې معنی چې د استملاک ګټه د تاوان په پرتله ډیره وي، چې په هغه کې د ځمکې د استملاک له امله د ځمکی د اصلي خاوند ناخوښي هم ګډون لري. د مځکې اصلي خاوند باید چې د مځکې په بدل کې جبران ترلاسه کړي[615]. دغه حکم د مځکې د اصلي خاوند لپاره ځینې خوندیتوبونه هم برابروي، ځکه چې دغه شخص به د ځمکی د له لاسه ورکولو په بدل کې یو څه پیسې ترلاسه کړي. د دغه کتاب په وروستیو برخو کې د استملاک په اړه جامع معلومات شته دی.

[613] Hamid Wahed Alikuzai, *A Concise History of Afghanistan in 25 Volumes* (Trafford: Bloomington, 2013), 665.
[614] Ibid.
[615] Ibid.

**د غوښتنليک تمرين**

راځئ هر هغه څه چې مونږ په څلورمه برخه کې زده کړي دي د دغه غوښتنليک په تمرين کې يې عملي کړو. لاندې دوه حالتونه په نظر کې ونيسئ. لومړی،د داسې دلايلو فکر وکړئ چې ولې بايد د استخراجي زيرمو عمليات تر سره شي. بيا د داسې دلايلو په اړه فکر وکړئ چې ولې بايد ترسره نه شي. دلته د داسې حالتونو ډولونه شته دئ چې د کانونو او پټروليمو د وزارت کارکوونکي يې په خپلو دندو کې ترسره کوي.

( 1 ) د طبيعي ګازو زيرمې د يو ډير نفوس درلودونکي کلي لاندې د جوزجان په ولايت کې شتون لري. يوه کمپنۍ په دې فکر کې ده چې هلته به ښه سوداګريز امکانات وي که د طبيعي ګازو د کان د اکتشاف او ګټې اخيستنې حقوق خپل کړي. که په دغه کان کې د ګټې اخيستنې چارې پيل شي، د راتلونکو ۲۰ کلونو لپاره به دغه کلی د انرژۍ زيرمه ولري. که څه هم دلته ۲۵ سلنه د دې امکانات شته دئ چې د دغه ګاز د استخراج له امله به انفجار وشي. که دغه انفجار وشي، د دې وړاندوينه شوې ده چې دلته به ۵ تر ۷ نفرو پورې تېپيان شي. آيا د طبيعي ګازو استخراج بايد ترسره شي او که نه؟

( 2 ) په هرات کې يوه ۱۲ نفريزه کورنۍ په يوه ځمکه باندې ژوند کوي چې د دوی نيکونو د سلو کالو لپاره هلته ژوند کړی دی. خو اوسنيو څيړنو ښودلې ده چې د دغې ځمکې لاندې د ميسو داسې کان شتون لري چې شاوخوا ۲۵ ميليونه امريکايي ډالره ارزښت لري. که دغه کان استخراج شي د دې امکانات شته دئ چې د شاوخوا ۵۰۰ نفرو ته به د کار زمينه برابره کړي. دغه کورنۍ نه غواړي چې د خپلې ځمکې څخه بېځايه شي. آيا د افغانستان حکومت د کانونو د قانون د ۶۵مې مادې صلاحيت چې کولای شي ځمکه استملاک کړي،دلته ګټه پورته کولای شي؟

**د غوښتنليک تمرين: وړانديز شوي ځوابونه**

که څه هم چې دا مشکله ده چې دغه پورتني دوه حالتونه ډير ستونزمن دي، او ښايي چې د دغو پوښتنو لپاره «صحيح» ځواب شتون و نه لري. خو بيا هم دلته مناسب ځوابونه شتون لري.

( 1 ) مونږ کولای شو چې د دلايلو په ويلو سره دا ووايو چې بايد په جوزجان کې بايد چې دغه کان استخراج شي ولې چې د کلي د خلکو لپاره د ۲۵ کلونو لپاره انرژي برابروي. د ګازو د کان په ايستنه کې دغه حقيقت د هغه ممکنه ستونزو څخه ډيره ګټه لري. د دې ترڅنګ يوازې ۲۵ سلنه د خطر امکان شته او ۷۵ سلنه د خطر امکان نشته. همدارنګه کولای شو چې دا دليل ووايو چې هيڅ ګټه د خلکو د ټپي کيدو تر خطر لوړ ارزښت نه لري. حتی که دلته د ټپي کيدو يوازې ۲۵ سلنه چانس شتون لري بيا هم دغه خطر بايد ونه منل شي.

( 2 ) مونږ کولای شو چې دا ووايو چې بايد دغه کان استخراج شي، ځکه د دغه کان د استخراج سره به د شاوخوا سيمو ۵۰۰ خلکو ته د کارکولو زمينه برابره شي. خو په مقابل کې يې په دغه کورنۍ کې يوازې ۱۲ نفره ژوند کوي. څنګه چې د ۵۰۰ خلکو ګټه د ۱۲ نفرو تاوان جبرانولای شي نو بايد چې دغه کان استخراج شي. د دې په خلاف مونږ ويلای شو چې، د دغې ځمکې معنوي ارزښت د کورنۍ لپاره ډير دي او دا په مادي توګه نه شي اندازه کيدلای. دغه ځمکه د نسلونو لپاره د دغې کورنۍ سره وه او د تل لپاره بايد چې همداسې پاته شي.

### 5 . د استخراجي زيرمو قراردادونه

په تيره برخه کې مونږ د هغو ځانګو په اړه ووېل چې د استخراجي زيرمو د قراردادونو پورې يې اړه درلوده. که څه هم تولې هغه ساحې ليرې کړو د کومو په اړه چې مو په څلورمه برخه کې خبرې وکړې، افغانستان اوس هم ډيره داسې ځمکه لري چې په هغه کې د استخراجي زيرمو عمليات وکړي. د کابينې او سيميزو ښاواليو لپاره تل مهمه نده چې په هغو ځمکو کې چې د استخراجي زيرمو عمليات کيږي ځانګړی جواز ورکړي. څنګه چې مو په لومړی برخه کې ووېل،

استخراجي زيرمي د هيواد په بيلابيلو ځانګو کي په پاشلي ډول سره موقعيت لري، او په افغانستان کي ډير د استخراجي زيرمو عمليات موجود دي. ؟

خو د هغو ځمکيو په اړه چي د استخراجي زيرمو د عملياتو لپاره برابري دي دقيقاً د څه کارونو د کولو اجازه لري؟

آيا هغه ډلي چي د استخراج قراردادونه ترلاسه کوي د دي اجازه لري چي هر څه يي زړه وغواړي هغسي وکړي؟ که د هغوي د فعاليتونو لپاره کوم بنديزونه شته، لکه دهغو ځمکو څخه د ګټي د پورته کولو بنديزونه؟

تاسي بيرته د بدخشان د لاجوردو د کانونو په اړه فکر وکړی. داسي فکر وکړی چي حکومت به د استخراجي زيرمو د عملياتو لپاره د ځای د نيولو اجازه ورکړي. داسي فکر وکړئ چي راتلونکي پرمخ بيونکی داسي فکر کوي چي د ځمکی د مخ هغه لاجورد چي ليدل کيږي د هغو لاجوردو د يوي برخي نمايندګي کوي چي تر ځمکه لاندي پټ دي. پرمخ بيونکی داسي دليل هم لري چي باور وکړي چي په سيمه کي به سره زر هم موجود وي. په لومړي سر کي کمپني غواړي چي د کان ابتدايي استخراج وکړي چي يوازی دا معلومه کړي چي په سيمه کي څه شی شته دی. فرض يي کړه چي د لومړنيو کيندنو پايله مثبته وه، پرمخ بيونکی غواړي چي د برمي او کيندني په واسطه ژوره څيړنه وکړي چي په سيمه کي د زيرمو کيفيت ځان ته معلوم کړي. که چيرته کمپنی په سيمه کي د لاجوردو د اندازي او کيفيت څخه خوښه وه، بيا کولای شي چي دغه زيرمي راوسپړي او د ګټي د ترلاسه کولو لپاره يي خرڅي کړي. آيا داسي کوم استخراجي زيرمو قرارداد شته دی چي دغه موخي ترسره کړي؟ يا کوم داسي جلا جواز يا امر ته اړتيا ده چي د څيړنو او راسپړلو دمخه يي کمپنی ترلاسه کړي؟ د خپل فکر په جوړولو کي بيرته د څلورم څپرکي په اړه فکر وکړی، کوم چي د ملکيت د بدلولو په اړه وو.

د هايدرو کاربن قانون او د معادنو قانون به د دغو پوښتنو په ځوابولو کي ستاسي سره مرسته وکړي. که څه هم چي د معادنو او هايدروکاربن د عملياتو موجوده قراردادونه يوه ځانګه ده، په کومه کي چي د معادنو قانون او د هايدروکاربن قانون سره توپير لري. ساده حقيقت دا دی چي بيلابيل قراردادونه موجود دي خو په ډلو پوري اړه لري چي غواړي چي معدنونو ته وده ورکړي او که هايدروکاربنونو ته. موږ به په دغه ځانګه کي پر بيلابلو داسي قراردادونو بحث وکړو چي د استخراجي زيرمو په دغه دوه ځانګو کي شتون لري. مونږ به د هغو قراردادونو په بحث پيل وکړو کوم چي د معدنونو په ځانګه کي شتون لري. بيا به هغه قراردادونه چي د هايدروکاربن په ځانګه کي شتون لري تر بحث لاندي ونيسو.

### ۵.۱ د معدنونو د قانون قراردادونه

د معادنو د قانون موجوده قراردادونه يو له بل سره توپير لري چي د فعاليت د مشخصو ډولونو، هغه چي يو ډله غواړي چي عملي يي کړي، او د معادنو د عملياتو په اندازه پوري اړه لري. لکه څرنګه چي مو د بدخشان د لاجوردو د معدن په مثال کي وويل، يوه ډله چي د يو خاص معدن را ايستلو ته ليواله ده بنايي چي د اصلي استخراج څخه مخکي وغواړي چي لومړنی يا هم په لوړه کچه د زيرمو د معدن استخراج وکړي، تر څو د زيرمو په اړه معلومات ترلاسه کړي. د معادنو قانون دغه شان او داسي نور استخراجونو ته اجازه ورکوي.

په بنسټيزه توګه، د معادنو د قانون په رڼا کي شپږ ډوله د معادنو د عملياتو قراردانونه شتون لري، له کومو څخه چي يي شپږ جوازونه دی: (۱) د تفحص جواز، (۲) د اکتشاف جواز، (۳) د ګټي اخيستني جواز، (۴) په کوچنی کچه د کانونو جواز، او (۵) د صنعت ګری د کانونو جواز[616].

(1) د تفحصص جواز، (2) د اکتشاف جواز او) 3 (د ګټي اخيستنی جواز، (4) د کوچينی کچی کانونو جواز، او (5) د صنعت ګری د کانونو جواز. خو، څنګه چي تاسي پوهيږی د معادنو قانون د استخراج او درغولو د موادو عمليات اداره کوي. دا يو شپږم ډول قرارداد وړاندي کوي چي هغه د معادنو د استخراج او د رغوليو د موادو تصديق کول دي[617]. هغه ډله چي د دغه قراردادونو څخه يو مخ ته وړي د جواز د «درلودونکي» په نوم ياديږي[618].(ددی پراګراف نه خو هيڅ مطلب نه اخيستل کيږی)

---

[616] Minerals Law, Article 13(1).
[617] Minerals Law, Articles 73-79.
[618] Minerals Law, Article 3(16).

نو، په حقيقت کې د دغو قراردادونو تر مينځ توپير په څه کې دی؟ دا هغه موضوع ده چې مونږ به اوس پدې اړه بحث وکړو..

**۵.۱.۱ د تفحص جواز**

د معادنو لومړنۍ قرارداد چې مونږ به بحث وربانديې وکړو د تفحص جواز دی. د معادنو د قانون د ۳ (۲۷) مې مادې پر اساس، تفحص «معنې د معدنونو ابتدايي استخراج د هوايي، ځمکنی فزيکې څيړنو، يا ځمکنی کيمياوي څيړنو، جيولوجيکې نقشو، او د ځمکې د سر د خاورې او ډبرو جزوي نمونوي کتنه، خو برمه کول او کيندل په دې کې نه دي شامل.» يا په بله اصطلاح، تفحص د سپړلو هغه محدوده بڼه ده چې په هغه کې د معادنو مواد په حقيقي توکه نه متاثره کيږي. او د معادنو مواد په خپل طبيعي حالت پاته شوي دي.

که چيرته يوه ډله وغواړي چې د تفحص جواز ترلاسه کړي نو بايد چې د معادنو او پټروليمو وزارت ته غوښتنليک ورکړي[619]. غوښتنليک کې بايد چې ځانګړي معلومات ورکړل شي، لکه د هغه ګروپ نوم کوم چې تفحص ترسره کوي، د هغه تفحص د پروګرام په اړه جزئيات چې دوی غواړي ترسره يې کړي، او نور داسې معلومات[620]. که چيرته د معادنو او پټروليمو وزارت دا غوښتنليک تائيد کړ نو د تفحص جواز د دوه کالو لپاره صحت لري[621]. دا نه شي کولای چې تر دې اوږد شي[622].

د تفحص جواز د نا محدودې ځمکې لپاره نه ورکول کيږي. لکه څنګه چې د معادنو قانون کې ليکل شوي دي، هغه ځمکه چې د تفحص جواز ورته ترلاسه کيږي، نه کيږي چې تر ۲۰،۰۰۰ کيلو متره ډيره وي[623]. ددی ځمکې يوه پراخه ساحه ده، خو اندازه يې د تفحص د قرارداد لپاره ټاکلې ده چې هغه د جيولوجيکې ساحې ابتدايي نقشه ده.

**۵.۱.۲ د معادنو اکتشافي جواز**

د معادنو په قانون کې دوهم جواز د معادنو اکتشافي جواز دی. د معادنو د قانون د ۳ (۱۴) مې مادې پر اساس اکتشاف «معنی د هر هغه فعاليت ترسره کول چې په بالقوه اقتصادي او د استخراج وړ معادن استخراج کړي تر څو په ساحه کې د معادنو اندازه او کيفيت معلوم کړي، او يا هم د هغوی د استخراج امکانات و ارزوي. «په ساده توګه دا په دې معنی چې د جواز درلودونکی د دې حق لري چې د معادنو د موادو، لکه اوسپنه، مس، ليتيم، يا کوبالت، لپاره ژوره څيړنه تر سره کړي، بيا د اکتشاف د جواز لاندې کولای شي چې دا کار وکړي. خو لا تر اوسه د جواز درلودونکی د دې حق نه لري چې د مادې ګټو لپاره دغه معادن استخراج کړي. که يوه ډله د اکتشاف د جواز ترلاسه کولو ته ليوال وی، بايد چې د آزاد رقابت د پروسې له لارې خپل وړانديز تسليم کړي[624]. دغه د عامه رقابت پروسه په دې معنی ده چې ډيرې ډلې کولای شي چې خپل وړانديزونه د يو خاص معدن د څيړلو لپاره وړاندې کړي، او د افغانستان حکومت به بيا تر ټولو غوره وړانديز انتخابوي[625]. د غوره وړانديز د انتخابولو لپاره به د معادنو او پټروليمو وزارت ټول وړانديزونه ګوري او ابتدائي وړانديز به کميسيون ته راجع کوي، دغه کميسيون د حکومت يوه څانګه ده چې وروسته به په همدې څيړکې کې تر بحث لاندې ونيول شي[626]. که دغه کميسيون وړانديز تائيد کړ، کابينه يې حتما بايد تائيد کړي. کله چې کابينې دغه وړانديز تائيد کړ، بيا نو دغه وړاديز کونکي جواز خپل کړی دی[627].

---

619 Minerals Law, Article 42.
620 Ibid.
621 Minerals Law, Article 43.
622 Ibid.
623 Minerals Law, Article 44.
624 Minerals Law, Article 47.
625 Ibid.
626 Ibid.
627 Ibid.

که یوې ډلې وړاندیز وګاټه، د معدن د اکتشاف جواز یې د درې کلونو لپاره د باور وړ دی[628]. د هغو درې کلونو وروسته یې د جواز تاریخ تیرېږي، د اکتشاف جواز د دوه درې-کلنو دورو لپاره د نوي کیدو وړ دي، دا په هغه صورت کې د نوي کیدو وړ دی چې د جواز درلودونکی د اړوندو قوانینو او قراردادي برخو سره په سمون کې وي[629]. نو په دې توګه، په تخنیکي توګه یوه ډله کولای شي چې په مجموعي توګه د نه ۹کلونو لپاره د اکتشاف جواز وساتي. د معادنو او پټرولیمو وزارت د هغو قراردادونو سلسله له ځانه سره ساتلای شي چې د دوی په ویب سایټ کې مخکې له مخکې راجستر شوي وي[630].

د نامحدوده ځمکو لپاره د اکتشاف جواز نه ورکول کیږي. د دغه ځانګړي جواز لپاره تر ټولو ډیره اندازه ځمکه۲۵۰ متره مربع ده[631].

### ۵.۱.۳ د معادنو د ګټې اخیستنې جواز

د معادنو د قانون لاندې دریم جواز د ګټې اخیستنې جواز دی. لکه څنګه چې مو په دې اړه بحث وکړ، نه د تفحص او نه هم د اکتشاف جواز د جواز درلودونکي ته اجازه ورکوي چې د هغو زیرمو څخه ګټه پورته کړي کومې چې دوی د څیړنو په موده کې ترلاسه کړي وي. د دې لپاره چې د دغه استخراج شویو زیرمو څخه ګټه پورته کړي، باید چې جلا جواز ترلاسه کړي.

نو بیا ګټه اخیستنه په څه شي پورې اړه لري؟ د معادنو د قانون د ۳ (۱۵) مې مادې پر اساس، ګټه اخیستنه «معنی هغه عملیات او فعالیتونه چې د معادنو او د معادنو د روانو څیړنو په تخنیکي او اقتصادي استخراج پورې اړه لري.» یا په بله اصطلاح، د ګټې اخیستنې حقوق یوې ډلې ته اجازه ورکوي چې په فزیکي توګه زیرمې د ځمکې د تل څخه را استخراج کړي او په بازار کې یې د فیلټر شویو او یا هم غیر فیلټر شویو موادو په توګه خرڅ کړي.

د اکتشاف د جواز تر څنګ د ګټې اخیستنې جواز هم د آزاد رقابت له لارې ترلاسه کیږي[632]. لکه د اکتشاف د جواز وړاندیز، د معادنو او پټرولیمو وزارت، کمیسیون، او کابینه باید چې ګټونکی وړاندیز تائید کړي[633]. که څه هم چې یو وار د ګټې اخیستنې جواز ترلاسه شي، بیا د اکتشاف د جواز څخه ډیره موده د اعتبار وړ وي. په حقیقت کې د ګټې اخیستنې جواز د ۳۰ کلونو لپاره د باور وړ دی[634]. یو ځل چې د ګټې اخیستنې جواز ترلاسه شو، بیا تر هغه وخت پورې قرارداد نوی کیدای شي چې د معدن زیرمې خلاصې شي، فرض یې کړئ چې د جواز درلودونکي تر دغه اندازې پورې د معادنو او پټرولیمو له وزارت څخه تائیدي ترلاسه کولای شي[635]. د دغه اوږد - مهاله حقوقو د ترلاسه کولو دلیل دا دی چې د ګټې اخیستنې پروسه ډیر وخت ته اړتیا لري. ښایي چې استخراج کیدونکي زیرمې تر ځمکې لاندې ډیرې ژورې وي، او ډیرو سامانونو او مالي زیرمو ته اړتیا ولري. ښایي چې داسې مالي دلایل هم وي چې زیرمې د یو څه مودې لپاره په ځمکه کې پرېښوول شي. د بیلګې په توګه، ښایي چې د هغو زیرمو چې د ځمکې څخه را استل کیږي قیمت یې کښته شي، نو د قیمت کموالی ښایي چې داسې انګیزه کمه کړي چې ټولې زیرمې دې په یو ځل له ځمکې څخه استخراج شي.

د اکتشاف د جواز په خلاف، د ګټې اخیستنې جواز ډیره کوچنۍ ساحه تر پوښښ لاندې راولي. کله چې د اکتشاف جواز ۲۵۰ کیلو متره مربع ساحه تر خپل پوښښ لاندې راولي، خو د ګټې اخیستنې جواز د ۵۰ کیلو متره مربع ځمکې څخه ډیره ساحه په خپل پوښښ کې نه شي راوستلای[636].

---

628 Minerals Law, Article 48.
629 Ibid.
630 Ministry of Mines and Petroleum, "Contracts," accessed September 2, 2014, http://mom.gov.af/en/page/1384.
631 Minerals Law, Article 49.
632 Minerals Law, Article 55.
633 Ibid.
634 Minerals Law, Article 56.
635 Ibid.
636 Minerals Law, Article 57.

**د معادنو د نوي قانون په رڼا کې د اکتشاف او کټې اخیستنې جوازونه**

د ټولو مواردو په ساحه کې د معادنو پخواني قانون د استخراج لپاره د اکتشاف او کټې اخیستنې د جوازونو د ترلاسه کولو بیلې بیلې د رقابت پروسې درلودلې. د معادنو د نوي قانون له مخې دا په بل ډول پلان شوی دی. لکه څنګه چې د دغه نوي قانون ۱۵مه ماده روښانه کوي چې، «د معادنو او پټرولیمو وزارت به، د حقیقي دلیلونو پر اساس، دواړه د اکتشاف او کټې اخیستنې جوازونه په یوازې یو رقابت کې د کمیسیون او د کابینې په تائید سره ورکړي.

که چیرته د افغانستان حکومت دواړه جوازونه یوې ډلې ته ور نه کړي، د اکتشاف د جواز درلودونکی به د کټې اخیستنې د جواز د ترلاسه کولو «غوره» کنټل کیږي. لکه څنګه چې د معادنو د نوي قانون ۵۴مه ماده کې روښانه شوي دي:

« که چیرې د اکتشافي جواز لرونکی ، د کټې اخیستنې د جواز په داوطلبۍ کې ګټونکی نه شي، ترجیحآ د ګټونکي داوطلب د مبلغ د په نظر کې نیولو سره، د کټې اخیستنې د جواز په ترلاسه کولو کې د لومړیتوب حق لري، پرته له دې ګټونکی داوطلب، د اکتشافي جواز لرونکي ته د هغه د لګښت په ورکولو مکلف دی، چې د نوموړي جواز لرونکي یې د اصلي اکتشاف پر وخت، لګولي دي او اړوند رپوټ یې د کانونو او پټرولیمو وزارت ته وړاندې کړی وي. په دې حالت کې ګټونکی داوطلب، هغه ته د اکتشاف د لګښتونو په سلو کې د (۲۵) کټې په ورکولو هم مکلف دی.»

د افغانستان حکومت وړاندیز کړي دي چې دغه بدلون به، د معادنو د قانون د نورو بدلونو سره، پانګه اچونکي دې ته وهڅوي چې د معادنو د استخراج په ځانګه کې د ډېر ډاډ د رامینځ ته کیدو په صورت کې به پانګه اچونکي په دواړو، د معادنو په اکتشاف او کټه اخیستنه، کې پانګه اچونه وکړي[637]. په حقیقت کې، کوم د میلیاردونو ډالرو معامله چې هندي او کاناډایي پانګه اچونکو په ۲۰۱۱ کال کې لاسلیک کړه چې د بامیانو په ولایت کې به د حاجیګک د اوسپنې کان پرمخ یوسي، کوم چې مونږ د پیژندنې په برخه کې تر بحث لاندې ونیوله، په دې سره لاسلیک شوه چې پارلمان به د معادنو د قانون اصلاح شوې نسخه په ملي شورا کې تصویبوي. که څه هم چې ټولنیزو فعالانو دا وړاندیز وکړ چې د کانونو نوي قانون به د افغاني پانګه اچونکو پر ځای بهرني پانګه اچونکي غني کړي[638].

تاسې څه فکر کوئ چې کومه پالیسي به سمه وي؟ باید چې د اکتشاف او کټې اخیستنې قراردادونه یو ځای وي او که جلا جلا؟

## ۵.۱.۴ په کوچنۍ کچه د کانونو د استخراج جواز

د کانونو د قانون په رڼا کې ځلورم جواز په کوچنۍ کچه د کانونو د استخراج جواز دی. د کانونو د قانون د ۳(۹) مې مادې په اساس، «په کوچنۍ کچه استخراج: د استخراج هغه فعالیت دی چې د صنعتي منرالونو (خاک رس، د چونې ډبره، د ګچ ډبره، مالګه، تالک، ګلنازیتونه، باریټ، فلوریټ، ناسوزه پنبه، ګرافیک او کاولین، سلفر او کاربونیتونو) د را ایستلو او کټې اخیستنې په منظور، چې تر یو کیلو متر مربع په ساحه او شپیتو مترو په ژوروالي کې، صورت ومومي.» د دغه تعریف پر اساس، په کوچنۍ کچه استخراج کولای شي چې هغه مرحلې ولري کومې چې د اکتشاف او کټې اخیستنې د جوازونو په درلودلو سره تر سره کیږي، خو عملیات به یې په هغه کچه لوی نه وي.

---

[637] Ministry of Finance, "Wolesi Jirga Approves the New Minerals Law," May 3, 2014, accessed September 3, 2014, http://mof.gov.af/en/news/wolesi-jirga-approves-the-new-minerals-law.

[638] Global Witness, "Gaps in New Afghan Mining Law Pose a Threat to Stability," August 19, 2014, accessed September 3, 2014, http://www.globalwitness.org/library/gaps-new-afghan-mining-law-pose-threat-stability.

د اکتشاف او ګټې اخیستنې د داوطلبۍ په توګه کوم چې مونږ بحث پرې وکړ، دا په کوچنۍ کچه د استخراج جواز د يو آزاد رقابت له لارې ګټونکي ته ورکول کيږي[639]. که څه هم د هغه نورو دوه جوازونو په خلاف، یوازې د معادنو او پټرولیمو د وزارت تائيد ته اړتيا ده[640]، او د کميسيون او کابينې تائيد ته اړتيا نشته. کله چې اړين تائيد ترلاسه شو، په کوچنۍ کچه د استخراج جواز د لس کلونو لپاره د اعتبار وړ دي، او په يقين سره د معادنو او پټروليمو د وزارت په تائيد سره د پنځه کلنې مودې لپاره د نوي کيدو وړ دی[641].

### ۵.۱.۵ د صنعت ګرۍ د کانونو جواز

د کانونو په قانون کې پنځم او آخري جواز د صنعت ګرۍ د کانونو جواز دی. د کانونو د قانون د ۳ (۱۰) مې مادې پر اساس، «حرفه یې صنعت کارۍ: د منرالونو د را ايستلو هغه فعالیتونه دي چې د محدودو اولومړنيو وسايلو په واسطه چې ساحه يې له يو هکټار او ژوروالی يې له ديرشو مترو څخه زيات نه وي، صورت مومي. د سرو زرو مينځل او د قيمتي او نيمه قيمتي ډبرو او د تزئيني ډبرو را ايستل په دې تعريف کې شامل دي.»

دغه ډول استخراج د افغانستان په بيلا بيلو برخو کې رواج دي، او په هيواد کې د پيريو راهيسې ترسره کيږي[642]. د معادنو قانون دغه حقيقت پيژندلی دی او د صنعت کارۍ د جواز د ترلاسه کولو لپاره يې جلا تګلاره په کار اچولې ده. په خاصه توګه، د صنعت کارۍ د معادنو استخراج آزاد رقابت ته نه وړاندې کيږي[643]. د صنعت کارۍ د معدن د استخراج وړانديز د کانونو او پټروليمو وزارت ته وړاندې کيږي، او هغه مکلف دی چې تائيد يې کړي[644]. دغه جوازونه د پنځه کلونو لپاره د اعتبار وړ دي، او په حقيقت کې د معادنو او پټروليمو د وزارت په تائيد سره د پنځه کلنې مودې لپاره د نوي کيدو وړ دي[645].

### ۵.۱.۶ د کان ايستنې د ځای او د ودانيو د موادو صلاحيت

د کانونو د قانون له مخې د کان ايستنې ځای او د ودانيو مواد يو بل ډول قرارداد دی. د هغه نورو پنځه ډوله قراردادونو په خلاف چې د کانونو په قانون کې وو، دغه ډول قراردادونو ته د «صلاحيت» نوم ورکړل شوی دی. لکه څنګه چې تاسې پوهيږئ، د کان ايستنې ځای او د ودانيو د موادو ځای «هغه ځايونه دي چيرته چې د ډبرو، کرش ډبرو، ډولومايټونه (يو نوع مواد دي چې نيمه شفاف وي)، ريګ، جغل او داسې نور ورته د معادنو پاتې شوني چې د ودانيو د موادو په جمله کې راځي ، د معدنونو څخه استخراجيږي، اداره کوي او دغه مواد د ودانيو په جوړولو کې په کار راځي.» [646] نو له همدې امله، دغه ډول قراردادونه د غټو معادنو، لکه د عينک د مسو معدن، کې مهم نه دي. دغه د دې لپاره دي چې هغه مواد اداره کړي چې ډير وخت په ورځنيو چارو کې په کاريږي.

د صنعت کارۍ د معادنو د جواز سره، د کان ايستنې د ځای او د ودانيو د مادو صلاحيت د وړانديز د ډکولو وروسته د معادنو او پټروليمو د وزارت سره ورکول کيږي، او دا وزارت يې بايد چې تائيد کړي[647]. چې يو وار دا جواز ترلاسه شو،

[639] Minerals Law, Article 61.
[640] Minerals Law, Article 61(2).
[641] Minerals Law, Article 62.
[642] Alexandra Lavis, "Excavating a Future in Afghanistan," *L.A. Times*, March 24, 2013, accessed February 1, 2014, http://articles.latimes.com/2013/mar/24/world/la-fg-afghanistan-mines-20130324.
[643] Minerals Law, Article 67.
[644] Ibid.
[645] Minerals Law, Article 68.
[646] Minerals Law, Article 3(25).
[647] Minerals Law, Article 73.

بیا د پنځه کلونو لپاره د باور وړ دی، او کیدای شي چې د معادنو او پترولیمو د وزارت په تائید سره د پنځه کلني مودې لپاره نوی شي[648].

یو ځل بیا د صنعت ګری جواز او د کان د ایستلو او د ودانولو د موادو صلاحیت یو د بل سره د انطباق وړ دي او دواړه په یوه اندازه جغرافیوي ساحه کې عملي کیږي، چې تر یو هکتار ډیره ساحه نه وي او ژوروالی یې د ۳۰ مترو څخه زیات نه وي[649].

### ۵.۲ د هایډرو کاربونیتونو قراردادونه

لکه څنګه چې مو په دې اړه بحث وکړ، د افغانستان د استخراجي زیرمو بله برخه هایډروکاربونونه دي. د هایډروکاربونونو قراردادونه د معادنو د استخراج د قراردادونو سره یو څه توپیر لري. که څه هم د کانونو د قانون له مخې د تیلو او ګازو قراردادونه د نورو استخراجي زیرمو په څیر د آزاد رقابت له لارې ورکول کیږي، د هایډروکاربونونو په قراردادونو کې د ځینو او استخراج سربیره نور قراردادونه هم شته دی[650]. په حقیقت کې، د هایډروکاربونونو قراردادونه په څلورو برخو ویشل شوي دي: (۱) د اکتشاف او د تولیداتو د ویش قراردادونه، (۲) د خدمتونو او د تولیداتو د شریکولو قراردادونه، (۳) د جلولوژیکي، جیوفزیکي، یا کمیاوي خدمتونو قراردادونه، او (۴) د پایپ لاین د عملیاتو قراردادونه. د دغې برخې په راتلونکي کې به مونږ هر قرارداد په جلا جلا توګه تر بحث لاندې ونیسو.

#### ۵.۲.۱ د اکتشاف او د تولیداتو د شریکولو تړونونه

لومړنی قرارداد چې په هایډروکاربونونو کې شتون لري د اکتشاف او د تولیداتو د شریکولو قرارداد دی. د هایډروکاربونونو د قانون د ۲۳مې مادې په اساس، «د اکتشاف او تولیداتو د شریکولو د قرارداد لاندې، قراردادي باید چې د هایډروکاربونونو او، د سوداګریز نوبت په پروګرام کې، ځانګړی حق ولري، چې هایډروکاربونونه پر مخ یوسي او تولید یې کړي.»

په اړینه توګه دغه قرارداد د اکتشاف او ګټې اخیستنې قراردادونه د یو قرارداد په توګه سره یو ځای کوي، کوم چې د کانونو د قانون د تګلارې څخه جلا دی. لومړي، یو قراردادي د دې اجازه لري چې د ځمکې په یوه ځانګړې ساحه کې د هایډروکاربونونو څیړنه وکړي. که د څیړنو په دوره کې دا معلومه شوه چې د هایډروکاربونونو استخراج ګټه کوي، قراردادي به د خاصو شرایطو لاندې دغه هایدروکاربونونه استخراج کړي. لکه څنګه چې یې نوم «د تولیداتو د شریکولو تړون» وړاندیز کوي، قراردادي به تر لاسه شوي هایډروکاربونونه د افغانستان د حکومت سره شریک کړي. د دغه قرارداد سره ضمیمه تر ټولو اړین شرط همدا شرط دی. بل مهم شرط په دغه قراردادونو کې دا دی چې د هایډروکاربونونو صادرول د قرارداد په موده پورې اړه لري. نو کله چې یو قراردادي غواړي چې هغه هایډروکاربونونه چې دی یې استخراجوي صادر کړي، نو د قرارداد د لیکلو په وخت کې باید چې دغه حق په نظر کې ونیسي[651].

دغه قرارداد د یو ځانګړې مودې لپاره د باور وړ دی. د دغه ډول قراردادونو د اکتشاف موده د ۱۰ کلونو څخه نه شي ډیریدلای[652]. که کوم اعلاناتي تفحص هلته وو، د تولیداتو دوره کیدای شي چې د پنځه ویشت کلونو لپاره دوام پیدا کړي[653].

---

[648] Minerals Law, Article 75.
[649] Minerals Law, Article 76.
[650] Hydrocarbons Law, Article 28.
[651] Hydrocarbons Law, Article 23.
[652] Hydrocarbons Law, Article 34(1).
[653] Hydrocarbons Law, Article 34(3).

### ۴.۲.۲ د خدمت او د تولیداتو د شریکولو قراردادونه

د هایډروکاربونونو په قانون کې دوهم ډول قرارداد د خدمت او د تولیداتو د شریکولو قرارداد دی. د هایډروکاربونونو د قانون د ۲۴مې مادې په اساس، د خدمتونو او د تولیداتو د شریکولو د قرارداد په موجودیت کې، قراردادي د دې ځانګړی حق ترلاسه کولای شي چې د هایډروکاربونونو د تولیداتو امکاناتو ته پرمختګ ورکړي او بیا یې ورغوي[654].

دا قرارداد په دې معنی دی چې یو قراردادي کولای شي چې د دې حق ترلاسه کړي چې موجوده وسایل او د هایډروکاربونونو تولیدات به پرمختګ ورپه برخه کړي. که د قراردادي د خدمت کولو کار د هایډروکاربونونو په تولید کې مثبته نتیجه ورکړه، قراردادي به په قانوني توګه د دې حق ولري چې د تولید شویو هایډروکاربونونو خپله برخه ترلاسه کړي. د هایډروکاربونونو نورې برخې به د افغان حکومت پورې اړه ولري. په دغه توګه، د دغه قرارداد د تولیداتو د شریکولو برخه د اکتشاف او د تولیداتو د شریکولو د قرارداد سره تقریباً ورته ده. یوازینی توپیر یې دا دی چې په دغه قرارداد کې د اکتشاف عملیات نه ترسره کیږي.

### ۵.۲.۳ د جیولوژیکي/جیوفزیکي/ او جیوکیمیاوي خدمتونو قراردادونه

د هایډروکاربونونو په قانون کې دریم ډول قراردادونه د جیولوژیکي، جیوفزیکي، یا هم د جیوکیمیاوي خدمتونو قراردادونه دي. دغه قرارداد، کوم چې د هایډروکاربونونو د قانون په ۵۸مه ماده کې په دې اړه بحث شوی دی، قراردادي ته د دې حق ورکوي چې په یوه ځانګړې ساحه کې جیولوژیکي، جیوفزیکي، یا جیوکیمیاوي خدمتونه ترسره کړي. دا صلاحیت په دې معنی دی چې قراردادي کولای شي چې د افغانستان د حکومت سره د سروې ګانو او څیړنو په ځانګه کې مرسته وکړی چې د نفتو په اړه د اکتشاف لپاره پلان جوړ کړي[655]. یا په بله اصطلاح، دلته یو قراردادي په دې کې مرسته کوي چې یوه سیمه په ګوته کړي چې ښایي هلته هایډروکاربونونه موجود وي. که څه هم چې دغه قرارداد د هایډروکاربونو په قانون کې دریم قرارداد دی، خو د هایډروکاربونونو په عملیاتو کې به دا لومړني فعالیت وي چې ترسره کیږي به.

لکه څنګه چې د افغانستان د اساسي قانون په ۹مه ماده کې راغلي دي چې ټول معدنونه او هایډروکاربونونه د افغانستان د حکومت ملکیت دی، هغه لومړني معلومات چې د دغه ډول قراردادونو څخه ترلاسه کیږي هم د دولت ملکیت دی[656]. د معادنو او هایډروکاربونونو د نورو قراردادونو په خلاف دغه قراردادونه په عمومي توګه د لنډې مودې لپاره دي[657].

### ۵.۲.۴ د پایپ لاین د عملیاتو لپاره قرارداد

د هایډروکاربونونو په قانون کې آخرنی قرارداد د پایپ لاین د عملیاتو قرارداد دي. د هایډروکاربونونو د قانون د ۲۶مې مادې په اساس، دغه قرارداد «قراردادي ته دا حق ورکوي چې پایپ لاین او نور اړوندې آسانتیاوې (د پمپ کولو سټیشن، د ذخیرو ټانکرونه، یا لامپونه) جوړې کړي، او د هایډروکاربونونو ذخیری او ټرانسپورټي عملیات پرمخ یوسي[658].

دغه قرارداد په اړینه توګه قراردادي ته اجازه ورکوي چې هایډروکاربونونو ته اړوند ټرانسپورټي او ذخیروي بنسټونو ته پرمختګ ورکړي. د سروې، اکتشاف، او استخراج د عملي کیدو څخه وروسته د هایډروکاربونونو د پرمختګ په پروسه کې د هایډروکابونونو انتقال او ذخیره آخرنی برخه ده.

---

[654] Hydrocarbons Law, Article 24.
[655] Hydrocarbons Law, Article 58.
[656] Ibid.
[657] Hydrocarbons Law, Article 25.
[658] Hydrocarbons Law, Article 26.

**ځانګړې قضیه: د ټاپي پایپ لین**

د ۱۹۹۰ له مینځنیو کلونو څخه راپدې خوا اکثره د تیلو غټې کمپنۍ په لټه کې وو چې یو غټ د طبیعي ګازو د انتقال پایپ لاین جوړ شي چې وکولای شي د ترکمنستان څخه افغانستان، پاکستان، او هندوستان ته طبیعي ګاز انتقال کړي[659]. دغه پروژه د ټاپي د پایپ لاین د پروژې په نوم یادیږي، او دا د هغه څلورو اړوندو هیوادونو د نومونو لومړي توري دي.

که څه هم افغانستان د خپلو نورو ګاونډیو هیوادونو، لکه ترکمنستان او ایران، په څیر ډیر نفت او ګاز نه لري، خو د افغانستان جغرافیوي موقعیت چې مرکزي آسیا د جنوبي آسیا سره نښلوي، نو همدا دی چې افغانستان د هایډروکاربونونو د ټرانسپورټ لپاره ښه ګڼل کیږي. که څه هم چې پروژه یې پرمخ روانه ده لکه هغه قرارداد چې د اړوندو هیوادونو تر مینځ د طبیعي ګازد ویش په اړه دی، خو تر اوسه پورې د ټاپي د پایپ لاین پروژه نده جوړه شوې[660]. که چیرته دغه پروژه پوره شي، نو بیا به د هایډروکاربونونو قانون په کښې په کار وړل کیږي. په ځانګړي توګه، د پایپ لاین د عملیاتو قرارداد به هغه قرارداد وي چې د افغانستان حکومت به یې د دغې پروژې د لا غوره پرمختګ لپاره قراردادیانو ته ورکړي.

**۶. د استخراجي زیرمو د قراردادونو د تائیدولو پروسه**

لکه څنګه چې مو زده کړل، د معادنو او د هایډروکاربونونو قوانین د هدف وړ قراردادیانو ته بیلابیل ډول قراردادونه وړاندې کوي. ځینې قراردادونه په کوچنۍ کچه د استخراج لپاره شتون لري. نور قراردادونه په غټه کچه او د صنعت په اندازه استخراج کولو قراردادونه دي. خو د قرارداد د ترلاسه کولو لپاره څنګه پروسه په کار ده؟ آیا همدا عادي د قرارداد د ترلاسه کولو پروسې ته اړتیا ده، پرته له دې چې د قرارداد په ډول پورې اړه ولري.

تاسې بیرته د بدخشان د لاجوردو د کان د مثال په اړه فکر وکړئ کوم چې مونږ په دغه څپرکي کې بحث پر وکړ. تاسې داسې فکر وکړئ چې یوه کمپنۍ چې د لاجوردو په کان کې یې پانګه اچونه کړې ده او د لاجوردو په کان کې د لاجوردو په اندازه باندې قناعت کوي، او هغه نه غواړي چې نور لاجورد په کان کې وڅیړي. پر ځای یې غواړي چې لدې وروسته لاجورد د خړخلاو لپاره استخراج کړي او ګټه ترې پورته کړي. کمپنۍ به څنګه وپوهیږي چې څه ډول جواز ته اړتیا ده چې د ګټې اخیستنې قرارداد ترلاسه کړي؟ آیا د معادنو او پټرولیمو د وزارت څخه به د قرارداد اجازه بسنه وکړي؟

د معادنو قانون او د هایډروکا ربونونو قانون دغو پوښتنو ته پاملرنه کړې او همدارنګه یې د ممکنه زیرمو پرمختګ ته هم پاملرنه کړې ده. که څه هم چې د کانونو او هایډروکاربونونو د عملیاتو لپاره بیلابیل قراردادونه شته دی، نو د افغان حکومت مختلفې څانګې د مختلفو شته قراردادونو د تائیدولو مسئولیت په غاړه لري.

موږ مخکې په دې اړه بحث وکړ چې څنګه د معادنو او هایډروکاربونونو وزارت د افغانستان په حکومت کې د زیرمو د استخراج تر ټولو مهمه اړونده اداره ده. خو دا یوازینۍ اړونده اداره نه ده. په غټه کچه، درې مهمې دولتي ادارې د زیرمو د استخراج د قراردادونو په تائید پورې تړلې دی: (۱) د معادنو او هایډروکاربونونو وزارت، (۲) د وزارتونو مینځګړی کمیسیون، او (۳) کابینه. د دغه څپرکي په پاته برخه کې به مونږ د هرې ادارې د رول په اړه بحث وکړو.

**۶.۱. د کانونو او هایډروکاربونونو وزارت**

د کانونو او هایډروکاربونونو وزارت یا پخپله د کانونو د استخراج د قراردادونو مسئول دی او یا هم د نورو اړونده دولتي ادارو څخه د معادنو د استخراج په څانګه کې د قراردادونو د تائید غوښتنه کوي. د معادنو او هایډروکاربونونو مسئولیتونه په دغه څانګه کې په دوه شیانو پورې اړه لري. لومړی، د معادنو او هایډروکاربونونو مسئولیتونه په دی پورې اړه لري چې آیا د معادنو استخراج دی او که د هایډروکاربونونو. که چیرته د هایډروکاربونونو استخراج وي، نو بیا د معادنو او هایډروکاربونونو وزارت یې د تائید صلاحیت نه لري. نو باید چې د معادنو او هایډروکاربونونو وزارت د رقابت کونکي سره د یو نا مطمئن قرارداد ته د رسیدو صلاحیت لري، خو وروسته باید چې ددغه قرارداد د معاملې تائید د کمیسیون(دلته

---

[659] Alikuzai, *A Concise History of Afghanistan in 25 Volumes: Volume 1*, 580-81.

[660] "Operational Accord of TAPI Gas Pipeline Project Signed," *Daily Times*, July 19, 2014, accessed September 2, 2014, http://www.dailytimes.com.pk/business/19-Jul-2014/operational-accord-of-tapi-gas-pipeline-project-signed.

يوه کلمه کمه ده چې باید د اصلی ترجمی نه را پیدا شی) کابینې څخه ترلاسه کړي، کوم چې به مونږ په ۶.۲ او ۶.۳ برخو کې تر تحث لاندې ونيسو[661].

د کانونو د زیرمو پروسه هم همدې ته ورته ده، خو د معادنو او هایډروکاربونونو وزارت د دې صلاحیت لري چې د کمیسیون او د کابینې د تائید پرته قرارداد تائید کړي. لکه څنګه چې مونږ په تیره برخه کې په لنډو ټکو کې بحث پر وکړ چې د معادنو او هایډروکاربونونو وزارت د دې صلاحیت لري چې د (۱) تفحص قراردادونه، (۲) په کوچنی کچه د استخراج قراردادونه، (۳) د صنعت ګری قراردادونه، او (۴) د کان ایستنې د ځای او د ودانیو د جوړولو صلاحیتونه، تائید کړي. که څه هم چې د (۱) اکتشاف د جواز او د (۲) ګټې اخیستنې د جواز لپاره د کابینې تائید باید ترلاسه کړي.

**۶.۲ د وزارتونو مینځګړی کمیسیون**

د وزارتو مینځګړی کمیسیون ، یوه کمیټه ده چې د معادنو او هایډروکاربونونو د تائید په پروسه کې مهم رول لري. په دواړو، د معادنو او هایډروکاربونونو په مسائلو کې کمیسیون لاندنی شپږ غړي شاملوي: (۱) د معادنو او هایډروکاربونونو وزیر، (۲) د مالیې وزیر، (۳) د بهرنیو چارو وزیر، (۴) د اقتصاد وزیر، (۵) د سوداګری وزیر، او (۶) د چاپیریال ساتنې د ملي ادارې رئیس[662]. که څه هم د معادنو په قراردادونو کې د ملی امنیت مشاور هم شامليږی[663].

د هایډروکاربونونو د قانون د ۵ (۵)مې مادې پر اساس، کمیسیون باید چې د هایډروکاربونونو هر قرارداد تائید کړي[664]. که څه هم چې موږ به يې به په ۳.۶ برخه کې بحث وربانديې وکړو چې د کمیسیون تائید په دې معنی نه دی چې قرارداد په پوره توګه تائید شو. بلکه د کابینی تائید هم د قرارداد د تکمیلیدو څخه مخکې اړین دی.

د کمیسیون رول د معادنو په قراردادونو کې دومره پراخه نه دی لکه د هایډروکاربونونو په قراردادونو کې چې دی. د کانونو په قراردادونو کې کمیسیون د اکتشاف او ګټې اخیستنې جوازونه تائیدوي[665].

**۶.۳ د وزیرانو شورا**

د حکومت بله اداره چې د زیرمو د استخراج د قراردادونو په تائید کې مهمه ونده لري د وزیرانو شورا یا کابینه ده. په کابینه کې ټول هغه وزیران ګډون لري چې د افغانستان ولسمشر يې د اداري لپاره ټاکي[666]. د ولسمشر کرزي د ولسمشری په دوهمه دوره، د ۲۰۰۹ څخه تر ۲۰۱۵ کاله پورې، د کابینې د غړو په توګه ۲۸ وزیران ټاکل شوي وو[667].

لکه څنګه چې مو مخکې په دې اړه بحث وکړ چې کابینه په دواړو د کانونو او هایډروکاربونونو د قراردادونو په برخه کې مهم رول لري. د هایډروکاربونونو د قانون د ۵ (۲۲) می مادې پر اساس، د هایډروکاربونونو په ټولو قراردادونو کې د وزیرانو د شورا تائید اړین دی.

د کانونو د استخراج په قراردادونو کې د کابینې رول نظر د هایډروکاربونونو د استخراج قراردادونو ته ډير محدود دی، خو هغه لا ډیر مهم دی. کله د کمیسیون په څير، کابینه هم باید چې د اکتشاف او ګټې اخیستنې جوازونه تائید کړي.

---

661 Hydrocarbons Law, Article 5(22).
662 Hydrocarbons Law, Article 4; Minerals Law, Article 9.
663 Minerals Law, Article 9.
664 Hydrocarbons Law, Article 5(5).
665 Minerals Law, Article 7(1(2)).
666 "The Cabinet," The Afghanistan Embassy, Oslo, accessed January 27, 2014, http://www.afghanistanembassy.no/afghanistan/government/the-executive/cabinet.
667 Ibid.

**د استخراجي زیرمو د قراردادونو د تائید د پروسي کتنه**

**د کانونو قراردادونه**

(۷) د تفحص جواز (غوښتنلیک): د کانونو او هایډروکاربونونو وزارت

(۸) د اکتشاف جواز (آزاد رقابت): د کانونو او هایډروکاربونونو وزارت / کمیسیون/ کابینه

(۹) د ګټي اخیستني جواز (آزاد رقابت): د کانونو او هایډروکاربونونو وزارت / کمیسیون/ کابینه

(۱۰) په کوچنۍ کچه د کانونو د استخراج جواز (آزاد رقابت): د کانونو او هایډروکاربونونو وزارت

(۱۱) د صنعت ګرۍ د کانونو د استخراج جواز (غوښتنلیک): د کانونو او هایډروکاربونونو وزارت

(۱۲) د کانونود استخراج د ځای او د ودانیو د موادو صلاحیت (غوښتنلیک): د کانونو او هایډروکابونونو وزارت

**د هایډروکاربونونو قراردادونه:** د هایډروکاربونونو ټول قراردادونه باید چي کمیسیون او د وزیرانو شورا په ګډه سره تائید کړي.

## ۷. قانوني شرکتونه اجازه لري چي د استخراجي زیرمو عملیات ترسره کړي

مونږ همدا اوس د هغو بیلابیلو قراردادو په اړه بحث وکړ کوم چي د هغو لپاره دي چي غواړي چي د کانونو او هایډروکاربونونو عملیات پیل کړي او همدارنګه مو د هغو قراردادونو د تائید د پروسي د بشپړولو په اړه بحث وکړ. خو څوک په قانوني توګه د دې حق لري چي د دغه قراردادونو د ترلاسه کولو لپاره د افغانستان حکومت ته وړاندیز وکړي؟ آیا هر افغان وګړی کولای شي چي د زیرمو د استخراج د قرارداد د ترلاسه کولو لپاره وړاندیز وکړي؟ آیا بهرنیان دزیرمو د استخراج د سکټور په قراردادونو کي د ګډون څخه مخکي د کوم ځانګړي تائید لپاره اړتیا لري؟
راځئ چي یو ځل بیا د بدخشان د لاجوردوو د کانونو څخه لیدنه وکړو. فرض کړئ چي هغه کمپنۍ چي غواړي چي دغه کان پرمخ یوسي، مرکزي دفتر یې په کاناډا کي دی. دغي کمپنۍ تر اوسه په افغانستان کي د معادنو د استخراج کوم هیڅ ډول عملیات نه دی کړی، خو د کمپنۍ رئیس داسي یو سړی دی چي مور او پلار یې د افغانستان اتباع دي. د کمپنۍ رئیس په افغانستان کي ډیر حیلوان لري چي لیرې د کاکا او ماما زامن یې د بدخشان په هغو کلیو کي ژوند کوي چیرته چي د لاجوردو کانونه دي. آیا دغه کمپنۍ د لاجوردو د کان د استخراج لپاره وړ ده؟ آیا دغه کمپنۍ د دغه کان د را استلو په قرارداد کي د برخي اخیستني څخه منع ده؟

د کانونو قانون او د هایډروکاربونونو قانون په دې اړه بحث کوي چي څوک په قانوني توګه کولای شي چي د استخراجي زیرمو په عملیاتو کي برخه واخلي، او څوک نه شي کولاي چي په قانوني توګه په دغو عملیاتو کی برخه واخلی . په دغه برخه کي به مونږ د دغو بندیزونو په اړه بحث وکړو.

### ۷.۱ هغه ډلي چي دغو قراردادونو ته وړاندیز کولای شي

دواړه د کانونو قانون او د هایډروکاربونونو قانون د هغه قانوني شرکتونو په اړه بحث کوي چي د افغانستان د حکومت څخه د قرارداد د ترلاسه کولو اجازه لري. د هایډروکاربونونو د قانون د ۳۱(۱) مي مادې او د کانونو د قانون د ۱۴ (۱) مي مادې پر اساس، څلور خلک د دې حق لري چي د استخراجي زیرمو په قراردادونو کي برخه واخلي:

( 1 ) افغان اتباع چي عمر یې ۱۸ کاله یا تر هغه ډیر وي،
( 2 ) بهرنیاتباع چي عمر یې ۱۸ کاله یا تر هغه ډیر وي او په افغانستان کي د اوسیدني قانوني جواز ولري،
( 3 ) قانوني شرکتونه چي د افغانستان د قوانینو په رڼا کي را منځ ته شوي وي، او

(4) بهرني شرکتونه چي په افغانستان کې د اوسیدني او پانګه اچوني حق ولري[668].

**اضافي عوامل: افغانی همکار**

که څه هم چي په خاصه توګه نه، خو بیا هم د کانونو قانون او د هایډروکاربونونو قانون وړاندیز کوي چي هغه بهرني شرکتونه چي د افغاني همکارانو سره کار کوي په رقابت کې د استخراجي زیرمو د قراردادونو د ترلاسه کولو د لومړیتوب لري. د کانونو د قانون د ۹۸ (۴) مي مادې پر اساس، د جواز د درلودونکو څخه هیله کیږي چي که چیرته یې وړتیا یو شان وي، نو افغانانو ته د نورو په نسبت په کار کی د لومړیتوب حق ورکول کیږی. همدې ته ورته، د هایډروکاربونونو د قانون د ۲۸(۴) مي مادې پر اساس، که چیرته د دوه رقابت کونکو تر مینځ د وړاندیزونو د ارزوني وروسته اړیکي وي، نو د هایډروکاربونونو د استخراج د قرارداد لپاره دې هغه وړاندیز ومنل شي چي افغان همکار ولري[669].

دغه د افغان همکار د درلودلو لومړیتوب د افغانستان د نفتو په لومړني قرارداد کي د لیدلو وړ دی، کوم چي په ۲۰۱۲ کال کي بشپړ شو چي د فاریاب او سرپل په ولایتونو کي به د آمو دریا د نفتو بلاک پرمخ یوسي. دغه قرارداد یوې چینایي کمپنی چي د چین د نفتو د ملي شرکت **(CNPC)** په نوم یادیږي ورکړل شو. څنګه چي **CNPC** د یو افغاني شرکت – وطن ګروپ – سره همکار وو.

تاسي څه فکر کوئ چي ولي د افغانستان حکومت غواړي چي د یو بهرني شرکت سره افغان همکار واوسي؟ تاسي څه فکر کوئ، آیا دا یو ښه انتخاب دئ چي افغان همکاران په کي ګډون ولري؟

### ۷.۲ هغه لوری چي د کانونو او هایډروکاربونونو د قراردادونو په رقابت کي منع شوي دي

لکه څنګه چي په ځینو سیمو کي د کانونو او هایډروکاربونونو استخراج منع شوی دی، د کانونو قانون او د هایډروکاربونونو قانون ځنیي افراد د کانونو د استخراج د جواز د ترلاسه کولو څخه منع کړي دي. د هایډروکاربونونو د ۳۱ (۲) مي مادې او د کانونو د قانون د ۱۶ (۲) مي مادې پر اساس، هغه افراد لړ تر لړه په لاندې ډول دي، که څه هم د هایډروکاربونونو قانون تر دې ډیر پراخه لیست لري:

(1) د دولت لوړپوړي چارواکي،
(2) د ملي شورا غړي،
(3) قاضیان،
(4) څارنوالان،
(5) د معادنو او نفتو د وزارت، د دفاع د وزارت، د کورنیو چارو د وزارت، د بهرنیو چارو د وزارت، یا د ملي امنیت د اداري کارکونکي،
(6) هغه خلک چي قانوني ظرفیت نه لري،
(7) مفلسه کسان، او
(8) په جنایت باندې مجرم کسان[670].

تاسي پوهیږئ چي ولي دغه کسان د زیرمو د استخراج په عملیاتو کی برخه نه شي اخیستلای؟ په لوړ لیست کي اکثره خلک د افغانستان د حکومت غړي دي. د دغو خلکو په بندولو سره د کانونو قانون او د هایډروکاربونونو قانون غواړي چي د ګټو ټکر له مینځه یوسي کوم چي به د آزاد رقابت د پروسي قانوني والی له مینځه یوسي. د ځینو ځانګړو دولتي

[668] Hydrocarbons Law, Article 31(1); Minerals Law, Article 4(1).
[669] Hydrocarbons Law, Article 28(4).
[670] Hydrocarbons Law, Article 31(2); Minerals Law, Article 16(2).

کسانو د بندولو څخه د افغانستان د دولت هدف دا دی چې وښيي چې ټول وړانديزونه د کيفيت پر اساس کتل کيږي او قرارداد هغه چا ته ورکول کيږي چې ترټولو غوره وړانديز يې ورکړی وي.

### ۸. هغه مقررات چې د استخراجي زيرمو عمليات متاثره کوي

مونږ د کانونو يا د هايډروکاربونونو د قراردادونو د بشپړولو د ټولو مهمو ضرورتونو به اړه بحث وکړ. خو آيا کله چې د قرارداد کار بشپړ شو نو بيا د قراردادي او د افغان حکومت تر مينځ اړيکي بنديږي؟ که بيا هم بايد قراردادي بايد چې په ورځنيو عملياتو کې مقررات مراعات کړي لکه څنګه چې عام وګړي په عامه توګه په خپل ورځني ژوند کې د تطبيق وړ قوانين مراعاتوي؟

راځئ چې يو ځل بيا بيرته د بدخشان د لاجوردو د کان په اړه فکر وکړو. فرض يې کړه چې يوې کاناډايي کمپنۍ دا قرارداد ترلاسه کړ چې د لاجوردو د کان څخه به لاجورد استخراجوي. که څه هم چې کمپنۍ په دې پوه شوې ده چې د عملياتو لپاره يې پوره کارکونکي نه دي ګومارلي، او په دې لټه کې ده چې د سيمييز کلي څخه دوه نفره وګوماري. که څه هم چې کمپنۍ دغه دوه نفره وګوماري نو و به نه شي کولای چې د دوی لپاره د حفاظت لوازم برابر کړي لکه څنګه چې يې خپلو اوسنيو کارکونکو ته برابر کړي دي. آيا د کانونو قانون دغه کمپنۍ د دغه شرطونو په صورت کې د کارکونکو د ګومارلو څخه منع کوي؟

د کانونو او د هايډروکاربونونو دواړه قوانينو د دغسې مسائلو په اړه فکر کړی دی. په حقيقت کې، څرنګه چې به تاسې زده کړی چې د زيرمو د استخراج قراردادیان بايد چې د قوانينو او مقررو د يو اوږد ليست سره په توافق کې اوسي تر څو خپل قراردادونه وساتي. که چيرته د قرارداد درلودونکي په دې کې پاته راشي چې د عمومي اړوندو قوانينو سره په سمون کې وي، نو د کانونو او پټروليمو وزارت د دې صلاحيت لري چې د هغوی قرارداد فسخ کړي[671]. نو له دې امله ټولو هغه شرکتونو ته چې د زيرمو د استخراج په عملياتو کې کار کوي دا اړينه ده چې ټول اړوند قوانين په نظر کې ونيسي.

په دغه برخه کې به موږ ځيني هغه قوانين تر څيړني لاندې ونيسو چې د زيرمو د استخراج په ځانګه کې قراردادي شرکتونه هغه بايد په نظر کې ونيسي. په ځانګړي توګه به مونږ د (۱) مالي، (۲) چاپيريال، (۳) دکا ګرانو حفاظت، او (۴) د فساد پر ضد د مبارزې قوانين کوم چې د زيرمو د استخراج په ځانګه کې د قراردادیانو پورې اړه لري، تر څيړنې لاندې ونيسو.

#### ۸.۱ مالي قوانين:

د زيرمو د استخراج عمليات د قيمت پرته ندي. دا کار ډيرو پيسو ته اړتيا لري تر څو برياليٰ اوسي. هغه قراردادیان چې د زيرمو د استخراج په ځانګه کې کار کوي نه يوازې دا چې د خپلو مصارفو لپاره پيسه ورکوی، بايد چې د افغانستان حکومت ته يوه خاصه اندازه فيس او ماليات هم ورکړي. د کانونو او د هايډروکاربونونو د قوانينو سربيره نور قوانين، لکه د ۲۰۰۹ کال د عوايدو د مالياتو قانون په کوم کې چې د استخراج د صنعت د ماليه ورکونکو لپاره يو جلا فصل لري، هم فيسونه او ماليات کنترولوي[672].

د هغو قيمتونو څخه چې د کانونو او هايډروکاربونونو سره تړاو لري، يو هم د ساحي د کرايي فيس دی[673]. دغه فيس د هايډروکاربونونو د قانون په ۶۵مه ماده او د کانونو د قانون په ۸۲مه ماده کې ذکر شوی دی. لکه څنګه چې مونږ په دريمه برخه کې په دې اړه بحث وکړ، د ساحې د کرايي فيس هغه فيس ته ورته دی لکه يو څوک چې د يو بل ډول ملکيت د اجارې لپاره فيس ورکوي. څنګه چې د افغانستان حکومت د ځمکې مالک دی، نو بايد چې قراردادیان د هغې مودې لپاره چې په دغه سيمه کې زيرمې استخراجوي بايد چې حکومت ته د دغې سيمې کرايه د هغومره مودې لپاره ورکړي کومه چې د دوي په قرارداد کې ليکل شوي ده.

---

[671] Hydrocarbons Law, Article 5(7); Minerals Law, Article 33.
[672] Income Tax Law, Chapter 12.
[673] Hydrocarbons Law, Article 65; Minerals Law, Article 82.

هغه قراردادیان چې د هایډروکاربونونو او کانونو د استخراج حق لري، باید چې حق الامتیاز دولت ته تحویل کړي. حق الامتیاز د هایډروکاربونونو د قانون په ۹۵مه ماده او د کانونو د قانون په ۸۳مه ماده کې تر بحث لاندې نیول شوی دی[674]. لکه څنګه چې مو په دریمه برخه کې وویل، د کانونو او پټرولمو وزارت د حق الامتیاز د ټاکلو مسئوله اداره ده چې د کانونو او هایډروکاربونونو د دواړو د استخراج لپاره حق الامتیاز وټاکي. لکه څنګه چې مونږ پوهیږو، د حق الامتیاز فیس د ساحې د کرایې د فیس په څیر نه دی، بلکه د ځمکې د لاندې زیرمو څخه د خالص عاید په سلنه پورې اړه لري[675].

راځئ چې زمونږ د بدخشاند د لاجوردو کان ته وروګرځو. داسې به فرض کړو چې د هغو لاجوردو خالص عاید ۳ میلیونه امریکایي ډالره دی، که د افغانستان حکومت د قراردادي سره ۱۰ سلنه حق الامتیاز لاسلیک کړی وي، نو د افغانستان حکومت به ۳۰،۰۰۰ امریکایي ډالره حق الامتیاز ترلاسه کړي. یا په بله اصطلاح، د حق الامتیاز قیمت د اکتشاف او تولیداتو په خالصو عوایدو کې د حکومت برخه ده.

د جواز درلودونکي په عمومي توګه کښته حق الامتیاز خوښوي، دا په دې معنی چې دوی ته ډیرې روپۍ پاته کیږي[676]. د افغانستان حکومت لوړ حق الامتیاز خوښوي، دا په دې معنی چې حکومت به ډیر عاید ولري. که د افغانستان حکومت ډیر لوړ حق الامتیاز وټاکي، نو پانګه اچونکي به پانګه اچونه و نه کړي، ځکه هغه پیسې چې حکومت یې ورڅخه غواړي هغومره پیسې پانګه اچونکی نه شي ترلاسه کولای.

**چینایي کمپنۍ په دې هڅه کې ده چې د عینک د مسو د کان د پروژې د حق الامتیاز په اړه له سره خبرې وکړي**

د لوګر په ولایت کې د عینک د مسو د کان د حق الامتیاز په اړه د توافق نه شتون په حاضر وخت کې یوه مسئله ده. د ۲۰۱۴ کال په پیل کې د چین د فلزاتو د ویلې کولو کمپنۍ هڅه وکړه چې د افغانستان د حکومت سره د حق الامتیاز په اړه بیا ځلې خبرې وکړي، ځکه چې دغه کمپنۍ په دې باور ده چې هغه حق الامتیاز په اقتصادي توګه د امکان وړ نه وو[677]. د ۲۰۰۸م کال د اصلي قرارداد له مخې به (MCC) د افغانستان حکومت ته ۱۹.۵ سلنه حق الامتیاز ورکوي[678]. خو په ۲۰۱۴ کال کې همدې کمپنۍ هڅه کوله چې دغه قیمت نیمایي ته را کښته کړي[679].

### ۸.۲ د چاپیریال قوانین

د زیرمو د استخراج قراردادیان باید چې د چاپیریال د ټولو قوانینو سره په سمون کې وي. لکه څنګه چې مونږ په دغه څیرکې کې ذکر کړل چې د زیرمو د استخراج صنعت په هغو صنعتونو کې راځي چې تر ډیره بریده به د هوا، اوبو، خاورې، او د ژوند د چاپیریال د سیستم د نورو برخو د ککړتیا لامل وګرځي[680]. نو له دې امله د زیرمو د استخراج ټولو اړوندو خواوو ته لازمه ده چې د چاپیریال د ټولو قوانینو سره په سمون کې وي. خو د زیرمو د استخراج د عملیاتو «د چاپیریال» تاثیرات تر ککړتیا هم اوږي. د زیرمو د استخراج عملیات کولای شي چې په یو چاپیریال کې ټولنیز تاثیرات هم ولري، او همدارنګه په یوه ټولنه کې د خلکو ورځنۍ ژوند هم متاثره کړي[681].

د دوی د مسئولیتونو له مخې چې د چاپیریال د قوانینو سره په سمون کې وي، د زیرمو د استخراج قرارداد کونکي مکلف دي د کانونو او پټرولیمو د وزارت د چاپیریال ساتنې ریاست ته خپل د هغو فعالیتونو وړاندیز وړاندې کړي، د کوم یوه له مخې چې به دغه قرارداد کونکي د چاپیریال د سیستم د ککړتیا او همداراز د دوي د فعالیتونو ټولنیز تاثیرات را کم

---

674 Hydrocarbons Law, Article 95; Minerals Law, Article 83.
675 U.S. Geological Survey, *2012 Minerals Yearbook: Afghanistan* (2013).
676 Alan S. Gutterman, *The Law of Domestic and International Strategic Alliances* (Westport: Quorum, 1995), 203.
677 Lynne O'Donnell, "China's MCC Turns Back on US$3b Mes Aynak Afghanistan Mine Deal," *South China Morning Post*, March 21, 2014, accessed September 3, 2014, http://www.scmp.com/news/world/article/1453375/chinas-mcc-turns-back-us3b-mes-aynak-afghanistan-mine-deal.
678 Ibid.
679 Ibid.
680 David Phillips and Lois Hooge, "Responsible Resource Extraction in Afghanistan: The First Strategy," *The Guardian*, accessed January 30, 2014, http://www.theguardian.com/global-development-professionals-network/adam-smith-international-partner-zone/resource-extraction-in-afghanistan; Hydrocarbons Law, Article 49(8).
681 Hydrocarbons Law, Article 40(9); Minerals Law, Article 89.

کړي[682]. دغه مکلفیتونه د هایډروکاربونونو د قانون په ۵۲ مه ماده او د کانونو د قانون په ۸۹ مه ماده کې ذکر شوي دي. که د قرارداد کونکي غوښتنلیک دا شیان په نظر کې نه وي نیولي، نو هغه ته به قرارداد نه ورکول کیږي. که د دغه قرارداد په موده کې قرارداد کونکي د چاپیریال کوم قانون تر پښو لاندې کړ، نو مونږ پوهیږو چې د کانونو او پټرولیمو وزارت د دې صلاحیت لري چې قرارداد یې لغوه کړي[683].

**ځانګړې دوسیه: د مکسیکو د نفتو د پاشیدلو خلیج**

د کانونو او د هایډروکاربونونو په غښتلي توګه د چاپیریال د ساتنې په اړه فشار راوړي. کله چې د لومړي ځل لپاره قانون مطالعه کړی تاسي به فکر وکړی چې ولې یې د چاپیریاد د ساتنې په اړه دومره ټینګار کړی دي. خو د نورو هیوادونو مثالونو ته په کتلو سره به وپوهیږی چې د زیرمو د استخراج په وخت کې د چاپیریال د ساتنې په اړه ولې دومره ټینګار شوی دی.

په متحده ایالاتو کې، د بیلګې په توګه، په ۲۰۱۰ کال کې د مکسیکو په خلیج کې، د سمندر په څنډه کې د متحده ایالاتو په جنوب ختیځه سیمه کې، د تیلو د پاشیدلو یوه غټه پیښه وشوه. دغه د تیلو پاشیدلو پیښې ۸۷ ورځې دوام وکړ چې په هغه کې ۱۱ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ او په میلیاردونو ډالره تاوان یې ورساوه. د نفتو د صنعت په تاریخ کې دا تر ټولو غټه په سمندر کې د تیلو د پاشیدلو پیښه وه. لکه څنګه چې دغه پیښه ښیي، د زیرمو د استخراج بریالي عملیات د چاپیریال ستونزو ته پاملرنه غواړي.

### ۸.۳ د کاریګرو او محافظت قوانین

باید چې د هایډروکاربونونو او کانونو د عملیاتو شرکتونه په ټولیزه توګه د کاریګرو او د محافظت د قوانینو سره په سمون کې وي[684]. که د قرارداد په موده کې کوم شرکت د کاریګرو او محافظت کوم قانون تر پښو لاندې کړي، د کانونو او پټرولیمو وزارت دا صلاحیت لري چې د استخراج قرارداد یې فسخ کړي[685]. د کاریګری د قانون د عملي کیدو یوه بیلګه داده چې دغه قانون د ځمکی لاندې کاریګرو لپاره د کارکولو معیین وخت ټاکي، کوم چې د کاریګری د قانون په ۳۱(۳)مه ماده کې ذکر شوي دي. د ۳۱(۳)مې مادې پر اساس یو کاریګر دځمکی لاندې په اونی کې یوازې د ۳۰ ساعتونو لپاره کار کولای شي. که د استخراج یو شرکت د کاریګرو څخه وغواړي چې په اونی کې ۵۰ ساعته کار وکړي، نو دغه شرکت به د کاریګرو قانون تر پښو لاندې کړی وي، او د کانونو او پټرولیمو وزارت د دې صلاحیت لري چې د دغه شرکت قرارداد فسخ کړي.

د زیرمو د استخراج قراردادیان باید چې د حفاظت قانون هم عملي کړي. د زیرمو د استخراج عملیات کانونه او هایډروکاربونونه د ځمکی د ژورې برخې څخه استخراجوي او د هغه لپاره درانده ماشینونه کاروی، او په بې ثباته ځمکه باندې کار کوي. نو له دې امله نن سبا دغه کار په نړې کې تر ټولو خطرناکه کار دی. د هایډروکاربونونو د قانون د ۳۹ (۹) مې مادې او د کانونو د قانون د ۵۹ (۱) مې مادې پر اساس، د زیرمو د استخراج قراردادیان باید چې مخکې له مخکې احتیاطي ګام پورته کړي، کوم چې د کانونو او پټرولیمو د وزارت لخوا ارزول کیږي چې د دوی کار د دوي د کاري قوې او د شاوخوا خلکو حفاظت د خطر سره نه مخامخ کوي.

که چیرته تاسي بیا د بدخشان د لاجوردو د کان په اړه فکر وکړي، د کمپنۍ ضرورت د محافظت د قانون سره سمون په دې معنی چې کمپنی نه شي کولای چې خپل کاریګر د محافظتي اړینو لوازمو پرته د کان کیندنې ته ولیږدوي. د دغه

---

[682] Hydrocarbons Law, Article 52; Minerals Law, Article 89.
[683] Minerals Law, Article 33.
[684] Hydrocarbons Law, Article 43(9); Minerals Law, Article 33(1).
[685] Ibid.

قوانینو څخه د سرغړونې په صورت کې د کانونو او پټرولیمو وزارت د دې صلاحیت لري چې د کمپنۍ قرارداد فسخ کړي.

**ځانګړې دوسیه: په سمنګان کې د ډبرو د سکرو د کان رانړیدل**

د ۲۰۱۳ کال د سپټامبر په میاشت کې د زیرمو د استخراج په عملیاتو کې د سمنګان د ولایت د ډبرو د سکرو په کان کې دغه خطر پیښ شو. په دغه کان نړیدنه کې ۲۳ نفر مړه شول[686]. لکه دغه بیلګه چې ښیي، د کارکونکو د محافظت سازمانونو ته توجه نه کول د ګټې پر ځای د خطرونو لامل ګرځي. حتی د ښېړو قراردادونو په جوړولو، د حق الامتیاز د قیمت، د ښه تجارت د پلان د درلودلو په شتون کې هم باید چې قرارداد کونکي د روغتیا او محافظت د قوانینو او تګلارو سره په سمون کې وي.

## ۸.۴ د فساد ضد قوانین

د کانونو او هایډروکاربونونو د عملیاتو شرکتونه د فساد پر ضد د قوانینو سره هم باید په سمون کې وي. لکه څنګه چې مونږ مخکې اوریدلي دي، د افغانستان استخراجي زیرمې د یو ټریلیون ډالرو په شاوخوا کی ارزښت لري. هغه ځیني قراردادونه چې د افغانستان حکومت د ځینو بهرنیو پانګه اچونکو سره لاسلیک کړي دي هر یو یې میلیاردونه ډالره ارزښت لري. د ډیرو پیسو د تړاو له امله ښایي چې ځیني کمپنۍ افغانستان د حکومت لوړ پوړو چارواکو ته رشوت ورکړي چې د زیرمو د استخراج قراردادونه ترلاسه کړي. حال دا چې دغه کار د قانون له مخې جواز نه لري.

په ځانګړي توګه، د کانونو د قانون ۹۹مه ماده وایي چې، «که چیرې غوښتنلیک ورکونکی، د جواز او اجاره لیک لرونکی یا قراردادي او یا د هغوی په استازیتوب بل شخص، وجوه یا بل د مادي یا معنوي ارزښت لرونکی شی د ډالی، بخشش یا حق الزحمې په عنوان په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د افغانستان د دولت کارکوونکو یا ثالث شخص ته د جواز، اجازه لیک یا قرارداد د ورکولو یا نورو آسانتیاوو د برابر ولو په منظور ورکړي، جرم ګڼل کیږي او مرتکب د اداري فساد په تور تر عدلي تعقیب لاندې نیول کیږي.» په ورته توګه، د هایډروکاربونونو د قانون د ۶۹مې مادې په اساس، «هیڅ قراردادي یا هم بل شخص باید چې هیڅ ډول په مستقیم یا غیر مستقیم ډول پیسې یا بل داسې شی چې د مادي یا معنوي ارزښت لرونکی وي د تحفې، سوغات، یا حق الزحمې په توګه د افغانستان د حکومت هیڅ چارواکي او یا هم دریم شخص ته ور نه کړي.چې قرارداد، یا جواز ورته ترلاسه کړي، او یا هم نورې آسانتیاوې ورته برابرې کړي.»

**ځانګړې دوسیه: د استخراجي صنعت د شفافیت نوښت[687]**

د دې لپاره چې د استخراجي زیرمو په برخه کې فساد له مینځه یوسي، په ۲۰۰۹ کال کې د افغانستان حکومت یو نړیوال پروګرام چې د استخراجي صنعت د شفافیت د نوښت (EITI) په نوم یادیږي لاسلیک کړ. د کانونو نوي قانون په ۱۰۰مه ماده کې د EITI په اړه لیکل شوي دي. د EITI اداره په ډیرو هیوادونو کې عملي شوې ده او هدف یې دا دی چې د زیرمو د استخراج د شخصي کمپنیو څخه دولت ته د پیسو په ورکولو کې شفافیت راولي[688]. د دې دلیل چې په دغه پیسو ورکولو کې شفافیت راولي دا دی چې حکومتونه د زیرمو د استخراج د عملیاتو څخه ګټه پورته کړي، ښه حساب ورکونه په کې وي چې حکومتونه ښه عاید ولري[689].

---

686 Kevin Sieff, "In Afghanistan, Villagers and Government Battle Over Blame for Coal Mine Collapse," *Washington Post*, October 8, 2013, accessed January 21, 2014, http://www.washingtonpost.com/world/in-afghanistan-villagers-and-government-battle-over-blame-for-coal-mine-collapse/2013/10/07/805c0564-2631-11e3-b3e9-d97fb087acd6_story.html.

687 "Afghanistan." Extractive Industries Transparency Initiative.

688 "Extractive Industries Transparency Initiative," Ministry of Mines, accessed January 30, 2014, http://mom.gov.af/en/page/1383.

689 Ibid.

تاسي له دې سره موافق یاست چې په افغانستان کې د زیرمو د استخراج په عملیاتو کې شفافیت وي؟ آیا تاسي فکر کوي چې هر څه باید شفاف وي حتي که د زیرمو د استخراج په تاثیراتو کې کمښت هم راولي؟ آیا د شفافیت د میکانیزم او د تیزوالي د مطمئنه کولو د میکانیزم تر مینځ دې موازنه موجوده وي؟

### ۸.۵ نور قوانین

مونږ یوازې په یوه څپرکي کې ډیر قوانین او مقررې څیړلای شو، خو دا مهمه ده چې په دې وپوهیږو چې دغه ټول قوانین او مقررې د زیرمو د استخراج د عملیاتو سره تړلي دي. د بیمې قوانین ورسره تړلي دي. د پانګه اچونې قوانین ورسره تړلي دي. د قراردادونو قانون ورسره تړلی دی. او د رواجونو قانون ورسره تړلی دی. تاسي به تر دې دمه زده کړې وي چې د قانون دغه ټولي څانګې یو له بل څخه جلا دي او یو له بل سره په ټکر کې نه دي. خو، د زیرمو د استخراج څانګې دا په اثبات رسولې ده چې مختلف قوانین یو له بل سره په ټکر کې دي. څومره چې حقوقي اړیکي پیچلي کیږي – د مثال په توګه د میلیاردونو ډالرو قراردادونه- په هغه اندازه د قوانینو د مختلفو څانګو تر مینځ اړیکي ډیره وي.

### ۹. د زیرمو د استخراج په څانګه کې د مناقشو حل لاره

په دغه څپرکي کې آخرنۍ موضوع چې مونږ به په هغه بحث وکړو د مناقشو د حل لاره ده. مناقشې هغه څه دي چې کله دواړه لورې قرارداد نهایي کوي دوی یې توقع نه لري. کله چې دواړه لورې قرارداد لاسلیک کوي دا په دې معنی چې دوی یو له بل سره ښې اړیکې لري، یو پر بل باور لري او مناقشې به نه کوي. مناقشې حتی د فکر څخه وتلي خبره ده.

خو راځئ چې یو ځل بیا هم هغې کاناډایي کمپنۍ ته وروګرځو، کومې چې په بدخشان کې د لاجوردو د استخراج قرارداد ګټلی دی. فرض کړئ چې دغه کمپنی د یو کال لپاره د معدن څخه لاجورد استخراجوي. بیا سمدلاسه د یوې سیمییزې کورنۍ سره په مشکل کې لویږي. کورنۍ دعوا کوي چې د لاجوردو اصلي ملکیت د دوی دی. کورنۍ وایي چې د دوی نیکونو دغه معدن ته پرمختګ ورکړی دی او د حکومت څخه د ۱۹۷۰ مو کلونو د استخراج جواز لري. دغه کورنۍ د کاناډایي کمپنۍ څخه غوښتنه کوي چې هرڅومره ژر کیږي دا ساحه پریږدي. کمپنی باید څه وکړي؟ آیا کمپنی باید خپل پانګه اچونه زر تر زره بنده کړي؟

د کانونو او د هایډروکاربونونو دواړه قوانین د دغه شان مناقشو د حل بهیر  تر بحث لاندې نیسي، او مونږ به په دغه برخه کې دغه پروسې تر بحث لاندې ونیسو. که څه هم چې دواړه د کانونو او د هایډروکاربونو قوانین د مناقشو د حل د پروسو په اړه بحث کوي، خو په دغو قوانینو کې دغه پروسې یو له بل سره توپیر لري. له همدې امله به مونږ د کانونو د قانون له مخې د مناقشو د حل پروسه جلا او د هایډروکاربونونو د قانون له مخې به د مناقشو د حل پروسه په جلا توګه تر بحث لاندې ونیسو.

### ۹.۱ د کانونو مناقشې

د کانونو قانون د مناقشو د حل لپاره ډیر ساده سیستم لري. د کانونو د قانون د ۹۴مې مادې په اساس، د مناقشو د حل لپاره د اړوندو خواوو موافقه اړینه ده چې څنګه مناقشه حل کړي. د دې لپاره چې دغه ساده شي، دواړه لورې کولای شي چې په اصلي قرارداد کې د مناقشو د حل لپاره ځانګړی قرارداد لاسلیک کړي.

که د طرفینو لخوا په اصلي قرارداد کې د مناقشو د حل لپاره  تګلاره نه وي لاسلیک شوې، په دې حالت کې طرفین دوه انتخابه لري چې له هغو څخه یو انتخاب کړي: (۱) منځګړیتوب د یو چا لخوا څخه چې په هغه ځانګړي قرارداد کې مهارت ولري، یا (۲) د مناقشو د حل یو د درې وو څخه د پنځه پورې د بې پرې/ او بې طرفه فني غړو درلودونکې ډله. دغه ماهر یا د ماهرینو ډله به د مناقشې د حل لپاره نهایي تصمیم ونیسي.

که چیرته طرف د ماهر یا ماهرینو تصمیم و نه مني، بیا هم طرفین بل انتخاب لري. دوی ۳۰ ورځې وخت لري چې د لاندینیو څلورو د مناقشو د حل د ادارو څخه یوې ادارې ته مراجعه وکړي: (۱) د مالي شخړو د حلولو کمیسیون کوم چې د افغانستان په بانک کې دي، (۲) د ځانګړی پانګې اچونې د شخړو داخلي مرکز (ICSID)، (۳) د مینځګړیتوب یوه ډله چې په نړیوالو سوداګریو کې د ملګرو ملتونو د سازمان (UNCITRAL)  د مقرراتو په رڼا کې جوړه شوې ده، یا (۴) د

افغانستان یوه با صلاحیته محکمه یا کومه بله محکمه یا هم د منځګړیتوب صلاحیت درلودونکي د کومو په اړه چې ښکیلي خواوې سره موافقي وي. که چیرته طرفینو د دغه څلورو څخه یوې اداري ته مراجعه وکړه او هغې اداري په دې اړه تصمیم ونیوه نو بیا دغه تصمیم آخرنی تصمیم دي او ټولي خواوې د هغه تصمیم په منلو مکلف دي.

### ۹.۲ د هایډروکاربونونو شخړې

د هایډروکاربونونو شخړې په څه نا څه بل ډول حلیږي. هغه شخړې چې د هایډروکاربونونو په اړه را پورته کیږي د قراردادي د هویت پر بنسټ حلیږي، کوم چې د هایډروکاربونونو د قانون په ۷۰مه ماده کې ذکر شوي دي[690]. یو د شخړو د حلولو سیستم افغان قراردادیانو ته استعمالیږي او بل د شخړو د حل سیستم هغو قراردادیانو ته استعمالیږي چې بهرنی دي. که قراردادي افغان شخص وي یا د افغانستان په حکومت کې یو قانوني راجستر شوی شرکت وي، قراردادي به په سیمییزو عدلي محکمو کې بی ستونزی محاکمه شی[691].

که قراردادي بهرنی وي نو بیا د شخړو د حل لاره توپیر لري. که قرارداد کونکی یو بهرنی شخص یا شرکت وي، بیا شخړه د قرارداد د مادو پر اساس حلیږي[692]. نو د دې لپاره باید چې بهرنیان د قرارداد د تسوید په وخت کې د شخړې د حلولو په اړه دقیق اوسي چې دا موضوع په سمه توګه ذکر شوي وي.

دغه پروسي هغه وخت درته با ارزښته معلومیږي چې تاسي د هغه قانوني مراجعو په مراحلو باندې پوه شی کومې چې د طرفینو قراردادونه کنټرولوي. لومړی، د قانون مکلفیتونه به ټل ډلې یو قرارداد ته مکلفوي. که چیرته په قانون کې داسي حتمي شی نه وو کوم چې د دغه حالت سره سمون وخوري، بیا د طرفینو خوښه هغه کنټرولوي. درېیم. که د طرفینو خوښه معلومه نه وه، بیا نو د قرارداد د تفسیر عادې رول، کوم چې تاسي د مسئولیتونو په کتاب کې وواېه، به دا شخړه کنټرول کړي.

**د غوښتنلیک تمرین**

راځي هر هغه څه چې مو په ۹مه برخه کې زده کړي دي په دغه تمرین کې یې وکاروو. لاندې دوه حالتونه په نظر کې ونیسی.

(1) یو قراردادي د معدن د کښې اخیستنې جواز لري چې د لیتیمو کان د غزني په ولایت کې استخراج کړي. قراردادي په ټولیزه توګه ۱۲ میلیونه ډالره پانګونه وکړه. قراردادی خپل د ځنګ د ګاوند د ملکیت د خاوند سره شخړه وکړه، او دوی نه شي کولای چې دا مشخصه کړي چې د دوی دوه وو تر منځ سرحد په کوم ځای کې دی. قرارداد کونکی به په دې خوښ وي چې دغه موضوع د رسمي سیستم له لارې حل کړي، خو دا د اطمینان وړ نه دی چې آیا د دې کار لپاره به پیسي ولري چې دا کار وکړي. قراردادي یوازې ۳،۲۳۳ ډالره په خپل بانکي حساب کې لري. آیا دغه روپی بسنه کوي.

(2) د هایډروکاربونونو د یو پایپ لاین یو قرارداد کونی په کندهار کې میشت دی. د تیرو دري میاشتو لپاره قرارداد کونکي د افغانستان د حکومت څخه د خپلو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره بودیجه نه ده ترلاسه کړي. د افغانستان حکومت وایي چې قرارداد کونکی د تیرو دریو میاشتو په موده کې خپل مکلفیتونه نه دي ترسره کړي، او قراردادي د دې وړ نه دې چې بودیجه ورته ورکړل شي. بیا به څه پیښ شي؟

[690] Hydrocarbons Law, Article 70.
[691] Ibid.
[692] Ibid.

**د وړانديز تمرين: وړاندې شوي ځوابونه**

( 3 ) نه، ۳،۲۳۳ ډالره پوره پيسې نه دي. قرارداد کونکی چې غواړی د شخړې د حل لپاره وړانديز وکړي بايد چې يو مالي ضمانت ورکړي تر څو چې د شخړي حل په رسمي توګه پيل شي. لکه څنګه چې ۱۲ ميليونه امريکايی ډالره پانګونه د قراردادي عمليات په متوسطه- اندازه د استخراج په جمله کی راولي، بايد چې قراردادي ۴،۰۰۰ امريکايي ډالره ورکړي. دی بايد چې د شخړې د حل د پروسې لپاره بله مالي لاره پيدا کړي.

( 4 ) څنګه چې قرارداد کونکی يو افغانی قانوني شرکت دی، نو دغه روغه جوړه بايد چې د کندهار په يوه عدالتي محکمه کی وشي.

**نتيجه**

موږ د دی کورس په دغه څپرکي کې زده کړل چې هغه قانون چې په معادنو او هايډروکاربونونو کې په کار اچول کيږي معلق دی. نو له همدې امله، کله چې تاسې مطمئن نه ياست چې يو قانون د کانونو او هايډروکاربونو په ځانګه کې د پلي کيدو وړ دي، دا تر ټولو ښه ده چې د کانونو او هايډروکاربونونو قوانينو ته مراجعه وکړی. لکه څنګه چې په مسلمه توګه په دغه قوانينو کې تغير راغلی دی، نو دا به ښه وي چې د زيرمو د استخراج په ځانګه کې د پرمختګ د معلوماتو څخه ځان خبر وساتو. بيا د کانونو او پټروليمو وزارت هم د معلوماتو يوه ښه زيرمه ده او هغه ته بايد چې مراجعه وشي.

که څه هم د مالکيت د قانون به دغه برخه کې ځيني اساسات هم شته دی چې ډير آسانه دي. لومړي، د افغانستان حکومت د افغانستان د ټولو کانونو او هايډروکاربونونو مالکيت ځان ته ورکوي. دا د اساسي قانون اصل دي او دا تر هغه وخت پوري د تغير وړ نه دی تر څو چې اساسی قانون تعديل شوی نه وي. دوهم، افغاني قوانين د افغانستان حکومت ته اجازه ورکوي چې د شخصي کمپنيو سره قرارداد وکړي ترڅو د افغانستان معادن او هايډروکاربونونه ،اکتشاف او ګټي اخيستني ته وسپارل شی.

که د افغانستان د استخراجي زيرمو غنا ته وګورو، نو دا به معلومه شي چې د شخصي سکتور سره د افغانستان د حکومت قراردادونه ډير مهم دي. د راتلونکو ډيرو کلونو لپاره د افغانستان د حکومت عوايد کيداي شي چې د استخراجي زيرمو څخه ترلاسه شي. که څه هم، دلته ډيری پيسی دی ، نو دا مهمه ده چې د زيرمو د استخراج په عملياتو کی بايد چې ټول شامل خلک د قانون له خوا څخه منل شوي وي. که د زيرمو اندازه د بدخشان د لاجوردو د استخراج په څير په کوچنۍ اندازه وي او که د لوګر د عينک د مسو په توګه په لوړه اندازه وي، د قانون رول دا دی چې هغه څه ته د ا ستخراج اجازه ورکړي چې اقتصاد لوړ يوسی.